Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

اللهم عجل لولیک الفرج

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهج البلاغه

د عدالت سپېڅلی غږ او د حکمت نه ماتېدونکی ځواک

د **امیرالمؤمنین حضرت علي بن ابي طالب (رض)** د خطبو، لیکونو او ژورو حکمتونو غوره ټولګه

ترتیب کوونکی

أبو الحسن محمد بن الحسین بن موسی الموسوی البغدادی

مشهور په سید شریف الرضي

ژباړه

العبد سید حسن درخشان

2026

1447ه ق

1404ه لمریز

رمضان

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړليک

د نهج البلاغه پېژندنه 15

حضرت علی (رض) په کلام الله او د رسول الله ﷺ په ويناوو کې 17

لومړی: د قرآن کريم آيتونه 17

دويم: د رسول الله ﷺ په ويناوو کې سند صحيح 18

حضرت امام علی عليه السّلام 22

د حضرت امام علي عليه السلام د ولادت مبارکه پېښه 22

حضرت امام علی(ع) او د خداي په لار کښې جهاد 23

د غزاګانو په ډګر کښې د امام علی عليه السلام مېړانه 23

د خندق جنګ 24

د خيبر غزه 25

د حضرت امام علی(ع) علم او پوهه 25

د غدير ورځ او د ولايت اعلان 26

په حقونو کښې برابر والی او انصاف 27

د بي بي سوده شکايت او د امام علی عدالت 27

حضرت امام علی عليه السلام شهادت 28

د شهادت په شپه کښې د امام علی عليه السلام خبرې 29

د امام علی(ع) وروستی خبرې 29

حکمتونه 31

خطبې 90

۱: د اسمان او ځمکې پيدايښت 91

۲: له صفّين له جګړې وروسته 95

۳: شقشقيه؛ د خلافت په اړه 97

۴: له بصرې له فتحې وروسته؛ د اهل بيتو د ځانګړنو په اړه 100

۵: د پېغمبر ﷺ له وفات وروسته؛ د عباس او ابو سفيان په ځواب کې 101

۶:هغه وخت چې له امام څخه وغوښتل شول طلحة او زبير تعقيب نه کړي 101

۷:د شيطان د پيروانو پېژندنه 102

۸:د زبير د بيعت ماتول 102

۹:د طلحة او زبير پېژندنه 102

۱۰:د جمل له اصحابو سره د مقابلې لپاره د امام (ع) خبرتيا 103

۱۱:د جمل په جګړه کې؛ کله چې بيرغ د خپل زوی محمد حنفيه ته سپارې 103

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲:په عملونو کې د نیت رول..... 103
۱۳:د بصري د خلکو غندنه 103
۱۴:د بصري د ښار او د هغه د خلکو غندنه 104
۱۵:د امام (ع) اقتصادي سیاست 105
۱۶:له مدیني د خلکو له بیعت وروسته..... 105
۱۷:د هغو کسانو وصف چې د قضا دعوه کوي خو وړتیا نه لري..... 106
۱۸:د اسلام په قطعي احکامو کې د کارکوونکو د نظر اختلاف غندنه 107
۱۹:اشعث بن قیس ته خطاب 108
۲۰:له مرګ وروسته د رازونو پټوالی..... 109
۲۱:د نجات لاره 109
۲۲:امام (ع) او د ناکثینو پېژندنه..... 110
۲۳:د نعمتونو د وېش تناسب د خلکو له وړتیاوو سره..... 110
۲۴:د جهاد لپاره د چمتووالي اړتیا 112
۲۵:د ۴۰ هجري کال وینا – د یارانو د سستۍ په غندنه 112
۲۶:د جاهلیت د کلتور پېژندنه..... 114
۲۷:د الله ﷻ په لار کې جهاد..... 115
۲۸:د دنیا پېژندنه..... 117
۲۹:د کوفیانو د ماتې سببونه..... 118
۳۰:د دښمن د شایعاتو ځواب 119
۳۱:کله چې ابن عباس یې د نصیحت لپاره زبیر ته ولېږه..... 119
۳۲:د پېغمبر ﷺ وروسته د خلکو او زمانې پېژندنه..... 119
۳۳:د بصري پر لور د تګ پر مهال، د ناکثینو پر ضد جګړې ته..... 120
۳۴:د شامیانو پر ضد د جګړې لپاره د خلکو راټولول 121
۳۵:د حکمیت له پېښې وروسته 122
۳۶:د نهروان خوارجو ته نصیحت او خبرداری..... 122
۳۷:د هغه حضرت ځانګړنې او فضیلتونه..... 123
۳۸:د شبهې پېژندنه 123
۳۹:د کوفیانو غندنه 124
۴۰:د حکومت ضرورت..... 124
۴۱:له چل او دوکې څخه ځان ساتل..... 124
۴۲:له اوږدو هیلو او نفس غوښتنې څخه ډډه 125
۴۳:له شامیانو سره د جګړې په اړه..... 125

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۴:د مصقلة له تېښتې افسوس..... 125
۴۵:د الله تعالی ستاینه او د دنیا غندنه 126
۴۶ ـ د سفر دعا په اړه..... 126
۴۷ 126
ـ د کوفې په اړه 126
۴۸ ـ د شامیانو پر ضد د جګړې پر مهال وینا..... 127
۴۹ ـ د الله تعالی پېژندنه 127
۵۰ ـ د فتنو د پیدا کېدو لاملونه 127
۵۱ ـ د فرات د اوبو د آزادولو فرمان 128
۵۲ ـ د دنیا پېژندنه 128
۵۳ ـ د قربانۍ وصف 129
۵۴ ـ د بیعت د ورځې وصف..... 129
۵۵ ـ د صفّین د جګړې په اړه ځرګندوني..... 129
۵۶ ـ د رسول الله ﷺ د زمانې د جګړو یاد 130
۵۷ ـ د بې باکه ظالم د واک خبر 130
۵۸ ـ د خوارجو د بدې راتلونکې خبر..... 131
۵۹ ـ د خوارجو د وژل کېدو ځای..... 131
۶۰ ـ د خوارجو د فکر د دوام خبر 131
۶۱ ـ نهی از کشتن خوارج 132
۶۲ ـ د ترور د ګوابښ په مقابل کې د امام (ع) دریځ 132
۶۳ ـ د دنیا سره د چلند لاره 132
۶۴ ـ د نېکو عملونو پر لور چټکتیا..... 132
۶۵ ـ د الله ﷻ د صفتونو پېژندنه 133
۶۶ ـ د پوځې تګلارو ښوونه 134
۶۷ ـ په سقیفه کې د خلافت په اړه د انصارو او قریشو د استدلال رد 134
۶۸ ـ د هاشم بن عتبه ستاینه د مصر د ولایت لپاره..... 135
۶۹ ـ د کوفیانو د ملامتولو لامل 135
۷۰ ـ له رسول الله ﷺ سره شکایت..... 136
۷۱ ـ د عراقیانو د ملامتولو علت..... 136
۷۲ ـ پر رسول الله ﷺ د درود ویلو ښوونه 137
۷۳ ـ د مروان بن حکم په اړه..... 138
۷۴ ـ د امام علي (ع) د فضیلتونو بیان د خپل له خولې..... 138

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷۵ ـ د تورونو په وړاندې د امام (ع) دفاع 138
۷۶ ـ د پرهېزګار بنده صفتونه 138
۷۷ ـ خبرداری بنی امیه غاصبانو ته 139
۷۸ ـ د امام (ع) دعا 139
۷۹ ـ د ستورپوهنې له لارې د دروغجنو وړاندوینو څخه منع 139
۸۰ ـ د ښځو او سړیو توپیر 140
۸۱ ـ د زهد او پارسایۍ پېژندنه 140
۸۲ ـ د دنیا پېژندنه 141
۸۳ ـ خطبه غراء 141
۸۴ ـ د عمرو عاص په اړه 145
۸۵ ـ د پند منل او د جنت وصف 146
۸۶ ـ ارزښتناک نصیحتونه 147
۸۷ ـ د پرهېزګارانو او فاسقانو پېژندنه 148
۸۸ ـ د انسانانو د هلاکت لاملونه 150
۸۹ ـ د بعثت د زمانې وصف او د جاهلیت له دورې عبرت 150
۹۰ ـ د الله ﷻ صفتونه او حکیمانه نصیحتونه 151
۹۱ ـ د اشباح خطبه؛ د الله ﷻ او د مخلوقاتو د پیدایښت په اړه 152
۹۲ ـ د خلافت د نه منلو علت 159
۹۳ ـ د امام علي (ع) ځانګړني او د بني امیه د فتنې بیان 160
۹۴ ـ د الله ﷻ، پېغمبرانو او اهل بیتو (ع) وصف او خلکو ته نصیحت 161
۹۵ ـ د جاهلیت دوره او د بعثت نعمت 162
۹۶ ـ خدا پېژندنه او د پېغمبر ﷺ ځانګړني 162
۹۷ ـ د خپلو ملګرو او د رسول الله ﷺ د اصحابو په اړه 163
۹۸ ـ د بني امیه د ظلم او فساد خبر 164
۹۹ ـ له دنیاپالنې څخه ډډه 165
۱۰۰ ـ د الله ﷻ او د پېغمبر ﷺ په اړه 166
۱۰۱ ـ د راتلونکو سختو پېښو په اړه 166
۱۰۲ ـ د قیامت د ورځې وصف او د راتلونکو پېښو خبر 167
۱۰۳ ـ له دنیا سره د چلند طریقه 168
۱۰۴-د پېغمبر ﷺ د بعثت لاسته راوړنه 169
۱۰۵-د پېغمبر ﷺ ځانګړني، د بني امیه ګواښ، او د اهل بیتو لور ته د خلکو پام اړول 169
۱۰۶ ـ د اسلام بشپړ تعریف، د پېغمبر ﷺ لپاره دعا، او د امت د سقوط لاملونه 171

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰۷ ـ د صفین په جګړه کې د یارانو د جګړې وصف 172
۱۰۸ ـ د راتلونکو لویو پېښو خبر 173
۱۰۹ ـ د الله د قدرت بیان، د مرګ او قیامت وصف (خطبه الزهراء) 175
۱۱۰ ـ د عقیدې بنسټونه او د قرآن ارزښت 177
۱۱۱ ـ د دنیا بدوالی 178
۱۱۲ ـ د مرګ فرښته او د روح اخیستلو حالت 179
۱۱۳ ـ له دنیاپرستۍ څخه منع 179
۱۱۴ ـ اندرزونه د خلکو لپاره 180
۱۱۵ ـ د باران غوښتنه 181
۱۱۶ ـ د خپلو یارانو لپاره نصیحتونه 182
۱۱۷ ـ د ځان غوښتونکو انسانانو ملامتول 183
۱۱۸ ـ د نیکو یارانو ستاینه 183
۱۱۹ ـ د جهاد لپاره د خلکو هڅول 183
۱۲۰ ـ د اهل بیتو (ع) د ځانګړنو یادونه او د یارانو نصیحت 184
۱۲۱ ـ د حکمیت د منلو علتونه 184
۱۲۲ ـ خوارجو ته خطاب 185
۱۲۳ ـ په جګړه کې رواني روزنه 186
۱۲۴ ـ یارانو ته د جهاد هڅونه 187
۱۲۵ ـ حکمیت او د کوفیانو او ګمراه خوارجو ملامتول 188
۱۲۶ ـ د بیت المال مساوي وېش 189
۱۲۷ ـ د خوارجو د عقایدو رد او د حکمیت د منلو علت 189
۱۲۸ ـ د بصرې د راتلونکو حالاتو او د غیبو د علم ځای 190
۱۲۹ ـ اندازې او مقیاسونه 191
۱۳۰ ـ د ربذې پر لور د تبعید پر مهال ابوذر ته خطاب 192
۱۳۱ ـ د حکومت د منلو علتونه او د عادل مشر صفتونه 193
۱۳۲ ـ د الله تعالی ستاینه او د مرګ د یادولو اړتیا 193
۱۳۳ ـ د الله تعالی عظمت، د قرآن ځانګړتیاوې، او د دنیا او آخرت حقیقت 194
۱۳۴ ـ نظامي مشوره 195
۱۳۵ ـ مغیره بن اخنس ته خطاب 195

---

۱۳۶ ـ د هغه حضرت سره د بیعت په اړه 195
۱۳۷ ـ د طلحې او زبیر په اړه 196

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۸ ـ د راتلونکو پېښو یادونه 196
۱۳۹ ـ د شورا د جوړېدو پر مهال 197
۱۴۰ ـ له غیبت او بد ویلو څخه منع 197
۱۴۱ ـ له غیبت اوربدو څخه ډډه او د حق او باطل پېژندنه 198
۱۴۲ ـ د بخشش او احسان د ځای پېژندنه 198
۱۴۳ ـ الهي ازموینه او د باران غوښتنه 198
۱۴۴ ـ د پېغمبرانو بعثت او د اهل بیتو ځانګړني 199
۱۴۵ ـ د دنیا پېژندنه او د بدعتونو غندنه 200
۱۴۶ ـ د اسلام د بریا لاملونه 201
۱۴۷ ـ د پېغمبر ﷺ په اړه 201
۱۴۸ ـ د بصري د خلکو، طلحي او زبیر په اړه 203
۱۴۹ ـ له شهادت مخکې د هغه حضرت وصیتونه 203
۱۵۰ ـ د راتلونکو سختو پېښو اشاره 204
۱۵۱ ـ د فتنو په وړاندې د مقابلې لارښوونې 205
۱۵۲ ـ د الله د صفاتو پېژندنه، د اهل بیتو ځانګړني او د قرآن فضیلت 206
۱۵۳ ـ د ګمراهانو وصف 207
۱۵۴ ـ د اهل بیتو فضیلتونه 209
۱۵۵ ـ د خفاش د پیدایښت عجایب 210
۱۵۶ ـ د بصري خلکو ته خطاب او د فتنو یادونه 211
۱۵۷ ـ د تقوا او ځان جوړونې اړتیا 212
۱۵۸ ـ د پېغمبر ﷺ فضیلت، د قرآن مقام، او د بني امیه د راتلونکي په اړه خبر 213
۱۵۹ ـ د خپل حکومتداری ځانګړني 214
۱۶۰ ـ الله پېژندنه، الهي پېغمبران، او د رسول الله ﷺ د ژوند لاره 214
۱۶۱ ـ د پېغمبر ﷺ او اهل بیتو (ع) وصف او د تقوا سپارښتنه 216
۱۶۲ ـ د خلافت د غصب لاملونه او د معاویه له ظلمونو شکایت 217
۱۶۳ ـ الله پېژندنه او د انسان د پیدایښت عجایب 218
۱۶۴ ـ عثمان ته خبرداری 219
۱۶۵ ـ د طاووس د پیدایښت عجایب او د جنت وصف 220
۱۶۶ ـ د متقابل درناوي اړتیا، د بني امیه راتلونکی، او د امتونو د بریا او ماتې لاملونه 223
۱۶۷ ـ وصیت او نصیحت 224
۱۶۸ ـ د عثمان پر ضد د پاڅون کوونکو د سزا غوښتنه او د امام (ع) ځواب 225
۱۶۹ ـ د جمل د اصحابو په اړه او د ناکثینو د توطئې افشا 225

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷۰ ـ د بصري د استازي سره خبري او د امام (ع) د هدايت طريقه 226
۱۷۱ ـ د صفين د جګړې په درشل کې د امام (ع) دعا او د جګړې لپاره د ځواکونو چمتو کول 226
۱۷۲ ـ د قريشو غندنه د خلافت په مسئله کې او د اصحاب جمل څخه شکايت 227
۱۷۳ ـ د رسول الله ﷺ ځانګړني او د اسلامي مشر لپاره د حق له دښمنانو سره د جګړې اړتيا 228
۱۷۴ ـ د جمل د جګړې په درشل کې د طلحه د دروغجنو ادعاوو افشا کول 229
۱۷۵ ـ د يارانو نصيحت 230
۱۷۶ ـ د خلکو نصيحت د خپل خلافت په اړه او د الهي فرمانونو د اطاعت اړتيا 231
۱۷۷ ـ د حکمينو په اړه او د هغوی د خيانت غندنه 234
۱۷۸ ـ د الله د علم او قدرت بيان او د دنيا سره د چلند طريقه 235
۱۷۹ ـ د ذعلب يماني پوښتنې ته د امام (ع) ځواب د الله د ليدلو په اړه 235
۱۸۰ ـ د خپلو يارانو غندنه او د کوفيانو د فکري کمزورۍ علت 236
۱۸۱ ـ د غولېدلو خلکو غندنه او له خوارجو سره د يوځای کېدونکو نکوهش 237
۱۸۲ ـ د الله ستاينه، د خلکو نصيحت او د جګړې ته هڅونه، د شهادت نه لرې مخکې 237
۱۸۳ ـ د الله ستاينه، د قرآن ارزښت، د خلکو نصيحت او د پرهيزګارۍ سپارښتنه 239
۱۸۴ ـ د برج بن مسهر ځواب او د منافق افشا کول 242
۱۸۵ ـ الله پېژندنه، د پېغمبر ځانګړني او د مخلوقاتو د پيدايښت عجايب 242
۱۸۶ ـ د الله تعالى د سمې پېژندنې، د هغه د قدرت، قيامت او د بيا پيدا کولو د راز بيان 244
۱۸۷ ـ له راتلونکو پېښو خبر ورکول او د مشرتابه د اطاعت اړتيا 246
۱۸۸ ـ د تقوا سپارښتنه او د مرګ د ياد ارزښت 247
۱۸۹ ـ ايمان، هجرت او د ربښتيني مهاجر پېژندنه 248
۱۹۰ ـ د تقوا سپارښتنه، د مرګ يادونه او په کړاوونو کې ټينګ پاتې کېدل 248
۱۹۱ ـ له دنيا څخه وېرول او د تقوا پايله 250
۱۹۲ ـ د قاصعه خطبه؛ د شيطان د تکبر غندنه، او خلکو ته د کبر او جاهلي اخلاقو څخه خبرداری 251
۱۹۳ ـ د پرهيزګارانو وصف 255
۱۹۴ ـ د منافقانو وصف 258
۱۹۵ ـ د الله تعالى له وېرې او د قيامت د ياد سپارښتنه 259
۱۹۶ ـ له غفلت څخه خبرداری 260
۱۹۷ ـ د امير المؤمنين فضيلتونه 260
۱۹۸ ـ د الله تعالى علم، د اسلام ځانګړني، او د پېغمبر د بعثت بيان 261
۱۹۹ ـ د لمانځه، زکات او د امانت د ادا کولو ثمره 263
۲۰۰ ـ د معاويه د دروغجن سياست په اړه 264
۲۰۱ ـ د حق د روښانې لارې مزل 265

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰۲ ـ د امت له لوري پر رسول الله ﷺ د شوي ظلم په اړه شکایت، د حضرت بي بي فاطمي زهرا سلام الله علیها د دفن پر مهال 265
۲۰۳ ـ د آخرت پلوی ته د یارانو هڅونه 266
۲۰۴ ـ یارانو ته د وروستي سفر لپاره د چمتووالي نصیحت 266
۲۰۵ ـ د ناکثینو له مشرانو، طلحه او زبیر، سره پرېکنده چلند 266
۲۰۶ ـ په جګړه کې اخلاق او د شامیانو له ښکنځلو منع 267
۲۰۷ ـ د امامت د ساتنې لپاره د امام حسن له جګړې ته د تلو مخنیوی 267
۲۰۸ ـ د حکمیت په قضیه کې د کوفیانو د نافرمانۍ غندنه 268
۲۰۹ ـ علاء بن زیاد ته سپارښتنه، چې ځنګه له دنیا نه سمه ګټه واخلي 268
۲۱۰ ـ له رسول الله ﷺ نه د راغلو حدیثونو ډولونه او د حدیث راویان 269
۲۱۱ ـ د مخلوقاتو د پیدایښت حیرانوونکي نبذې 270
۲۱۲ ـ د شامیانو پر ضد د جګړې لپاره د خلکو بسیج 271
۲۱۳ ـ د الله تعالی او د رسول الله ﷺ وصف 271
۲۱۴ ـ پیغمبر پېژندنه او د الهي عالمانو ارزښت 271
۲۱۵ ـ ستاینه او دعا 272
۲۱۶ ـ د رهبر او د خلکو متقابل حقوق او د هغوی ترمنځ سالمې اړیکې 273
۲۱۷ ـ له قریشو شکایت 275
۲۱۸ ـ د ناکثینو د خیانت افشا کول چې د جګړې لپاره بصرې ته تللي وو 275
۲۱۹ ـ د جمل د جګړې پر وژل شویو افسوس 275
۲۲۰ ـ د الله تعالی د لارې سالک 276
۲۲۱ ـ له غفلت ځخه خبرداری، د «أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُر» له تلاوت وروسته 276
۲۲۲ ـ د ذکر د خلکو صفت، د «رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ...» له تلاوت وروسته 277
۲۲۳ ـ له غرور ځخه خبرداری، د «يَا أَيُّهَا الإِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيم» له تلاوت وروسته 278
۲۲۴ ـ له ظلم ځخه پرهېز او د امام علیه السلام زهد 280
۲۲۵ ـ په اقتصادي ستونزو کې له الله تعالی نه دعا 280
۲۲۶ ـ د دنیا پېژندنه او له دنیا نه عبرت اخیستل 281
۲۲۷ ـ د امام علیه السلام له دعاوو ځخه یوه دعا 281
۲۲۸ ـ د سلمان فارسي رضی الله عنه ځانګړتیاوې 281
۲۲۹ ـ د امام علیه السلام سره د خلکو د بیعت ورځ 282
۲۳۰ ـ د تقوا سپارښتنه او د زاهدانو وصف 282
۲۳۱ ـ په «ذي قار» کې د رسول الله ﷺ د ځانګړنو بیان 283
۲۳۲ ـ د بیت المال د لګښت په باب احتیاط، د عبدالله بن زمعه د غوښتنې په ځواب کې 283

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۳۳ ـ د اهل بيتو فصاحت او بلاغت، او د انساني ټولني د سقوط لاملونه 284
۲۳۴ ـ د انسانانو تر منځ د توپيرونو علتونه 284
۲۳۵ ـ د رسول الله ﷺ په وير کې، د غسل پر مهال 284
۲۳۶ ـ د هجرت ستونزې او له رسول الله ﷺ سره يوځای کېدل 285
۲۳۷ ـ خلکو ته د نېکو کارونو سپارښتنه 285
۲۳۸ ـ د شاميانو وصف او د حکم د ټاکلو غندنه 285
۲۳۹ ـ د اهل بيتو فضيلتونه 286
۲۴۰ ـ د عثمان د ناسمو دريځونو غندنه، د ابن عباس په خطاب کې 286
۲۴۱ ـ د جهاد لپاره هڅونه 287
ليکونه 288
۱ ـ د ناکثينو د رسوا کولو او د کوفې خلکو د جهاد لپاره بلنه 289
۲ ـ د بصرې له جګړې وروسته د کوفې د مجاهدانو مننه 289
۳ ـ له حرامي دنيا څخه خبرداری 289
۴ ـ د کار کوونکو د ټاکلو طريقه 290
۵ ـ د بيت المال د ناسم استعمال څخه خبرداری 290
۶ ـ د امام عليه السلام د حکومت د مشروعيت بيان 291
۷ ـ د معاويه پټه څېره څرګندول 291
۸ ـ د معاويه د بيعت لپاره ټينګار 291
۹ ـ د قريشو د دښمنيو بيان او د رسول الله ﷺ استقامت، او د معاويه رسوا کول 292
۱۰ ـ د معاويه رسوا کول او د هغه د جګړې ګواښ ته ځواب 292
۱۱ ـ د دښمن پر لور تلونکو پوځيانو ته د احتياط سپارښتنه 293
۱۲ ـ د مخکښ پوځ لپاره نظامي احتياطونه 293
۱۳ ـ په پوځ کې د سلسله مراتب ساتل 294
۱۴ ـ د جګړې نه پيلول او د جګړې اخلاقي أصول 294
۱۵ ـ د جګړې دعا 294
۱۶ ـ د جګړې په پيل کې د نظامي تکتيکونو ښوونه 294
۱۷ ـ د بني اميه د څېرې افشا کول او د اهل بيتو ځانګړني بيانول 295
۱۸ ـ د بصرې د حالاتو په اړه خبرداری 295
۱۹ ـ له خلکو سره د بد چلند په اړه خبرداری 296
۲۰ ـ د بيت المال له خيانت څخه خبرداری 296
۲۱ ـ د ميانه‌روی سپارښتنه 296
۲۲ ـ د آخرت غوښتنې سپارښتنه 297

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۳ ـ د امام علي عليه السلام وروستۍ وصيت، لږ مخکې له شهادته 297
۲۴ ـ د شخصي مال په اړه وصيت او د بيت المال په مصرف کې د اعتدال سپارښتنه 297
۲۵ ـ د مالي کارکوونکو اخلاقي اصول او د بيت المال د راټولولو طريقه 298
۲۶ ـ د مالي کارکوونکو اصلاح او د امانتدارۍ اړتيا 299
۲۷ ـ د مديرانو اخلاق، د پرهيزکارانو صفتونه، او د منافقانو له خطره خبرداری 299
۲۸ ـ د معاويه د دروغجنو ادعاوو افشا کول او د بني هاشم د فضيلتونو بيان 300
۲۹ ـ د بصرې خلکو ته خبرداری 302
۳۰ ـ معاويه ته نصيحت او خبرداری 303
۳۱ ـ ځان جوړونه، د زوی روزنه، د دنياپالو پېژندنه او نور نصيحتونه 303
۳۲ .د معاويه د استعماري سياست افشا 309
۳۳ .د مسخ شوو شاميانو وصف او د مکې والي ته لازمي سپارښتنې 310
۳۴ .له ګوښه شوي والي سره د زړه سواندۍ طرز، او د مالک اشتر د ځانګړنو بيان 310
۳۵ .د محمد بن أبي بکر رحمه الله ځانګړني او د مصر د سقوط علتونه 311
۳۶ .د جګړې لپاره چمتووالی او د امام عليه السلام تېنګ دريځ 311
۳۷ .د معاويه د دروغو دعوې افشا 312
۳۸ .د مصر سياسي حالت او د مالک اشتر ځانګړنې 312
۳۹ .عمرو بن عاص ته ليک او د هغه د دنياپرستۍ افشا 313
۴۰ .د يوه کارګزار ملامتول 313
۴۱ .د خاين مدير غندنه او د بيت المال د ناوړه کارولو نکوهش 314
۴۲ .د عزل او نصب پر مهال د ډډ ورکولو طريقه 315
۴۳ .د بيت المال په ساتنه کې سختي او د خاين مدير د سزا طريقه 315
۴۴ .زياد ته خبرداری د معاويه له دسيسې او د ابوسفيان د دعوې رد 316
۴۵ .د کارګزارانو لپاره د ساده ژوند اړتيا، د امام عليه السلام زهد، او د حرامې دنيا رد 316
۴۷ .اخلاقي وصيتونه او د قصاص عدالت 319
۴۸ .د انسان د رسوايۍ سببونه او معاويه ته نصيحت 319
۴۹ .معاويه ته خبرداری د دنياپرستۍ څخه 319
۵۰ .د غرور نه ځان ساتل او د مشرانو او پوځ مسؤليتونه 320
۵۱ .د بيت المال او خراج راټولولو ارزښت او د اقتصادي کارګزارانو اخلاق 320
۵۲ .د ښارونو اميرانو ته د پنځه وخته لمونځونو د وختونو يادونه 321
۵۳ -د مالک اشتر ټرون 321
۵۴ -د خلکو د بيعت ځانګړني له امام سره او د طلحې او زبير د ادعاوو ځواب 330
۵۵ -د ازموينو فلسفه او معاويه ته نصيحت 330

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۶ -د قوماندان اخلاق 331
۵۷ -د جهاد لپاره د خلکو د راټولولو طریقه 331
۵۸ -د یووالي عوامل او د مسلمانانو تر منځ د جګړې د پیدا کېدو سببونه 331
۵۹ -له نفس غوښتنې څخه ځان ساتل او له دنیا سره د چلند طریقه 332
۶۰ -د لښکر د خوځولو طریقه او د لښکر او خلکو د بې‌نظمۍ مخنیوی 332
۶۱ -د مات شوي قوماندان غندنه 332
۶۲ -د فتنو سببونه، د مظلومیت بیان، د دښمن پېژندنه او د امام زړورتیا 333
۶۳ -د ابو موسی اشعري له فتنه جوړولو څخه منع کول او پر هغه د حجّت تمامول 334
۶۴ -د بني امیه او بني هاشم تر منځ اختلاف 334
۶۵ -د معاویه د ګمراهۍ سببونه او د هغه د دروغجنو ادعاوو ځواب 335
۶۶ -د واقع‌بینۍ اړتیا 336
۶۷ -د حاجیانو چارو ته د رسېدني ضرورت او د هغوی د اړتیاوو پوره کول 336
۶۸ -د دنیا سره د چلند طریقه 336
۶۹ -د مؤمنانو صفتونه او د نفس د نېکۍ لپاره کارول 337
۷۰ -د تښتېدلو کسانو سره د چلند طریقه 338
۷۱ -د یو کارګزار د لېرې کولو سبب او د اقتصادي خیانت غندنه 338
۷۲ -انسان او الهي تقدیر 339
۷۳ -د معاویه د دروغجن څېرې څرګندول 339
۷۴ -د مسلمانانو د سولې او جوړجاړي بنسټونه 339
۷۵ -معاویه ته د اطاعت امر 340
۷۶ -د قوماندان اخلاق 340
۷۷ -د دښمنانو سره د مناظرې طریقه (له خوارجو سره) 340
۷۸ -د ټولنې د سقوط سببونه او د یووالي د ټینګښت هڅه 340
۷۹ -د ملتونو د نابودۍ سببونه 341

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهج البلاغه یوازې یو کتاب نه دی؛ دا د فکر یوه ژوره سمندرګاه ده، د روح یو روښانه اسمان دی، او د عدالت، تقوا او انساني کرامت یوه تلپاتې ناره ده. دا هغه اثر دی چې د اسلامي تمدن په فکري تاریخ کې ځانګړی مقام لري او د انسان د وجدان، عقل او زړه دروازې پرانیزي. که څوک د حق، عدالت، حکمت او ربښتینولۍ تږی وي، نو نهج البلاغه د هغه لپاره یو نه ختمېدونکی چینه ده.

په دې کتاب کې خطبې، لیکونه او لنډ حکمتونه راغلي دي؛ خو دا یوازې الفاظ نه دي، بلکې ژوندی فکر، ژوره تجربه او د ژوند د هر ډګر لپاره لارښوونه ده. کله چې لوستونکی د نهج البلاغه پاڼې پرانیزي، داسې احساس کوي لکه د تاریخ له ژورو څخه یو ځواکمن، ربښتینی او بیدار غږ ورسره خبرې کوي. دا غږ د واک او قدرت په اړه خبرې کوي، خو د ظلم او استبداد پر ضد درپېږي؛ د عبادت یادونه کوي، خو له ټولنیز مسؤلیت څخه نه تښتي؛ د تقوا بلنه ورکوي، خو له عقل او بصیرت سره یوځای.

نهج البلاغه د عدالت فلسفه ده. په دې کې عدالت یوازې یو شعار نه دی، بلکې یو عملي اصل دی. دلته واکمن ته ویل کېږي چې واک امانت دی، نه امتیاز؛ دلته مال او قدرت د ازموینې وسیلې بلل کېږي، نه د برترۍ نښه. دا کتاب انسان ته ورزده کوي چې عزت په تقوا کې دی، ځواک په حق کې دی، او تلپاتې بریا په صداقت کې ده.

د دې کتاب ژبه بې ساري ده. ادبي ښکلا، بلاغت، ژورتیا او معنوي قوت یې داسې دی چې لوستونکی حیرانوي. هره خطبه لکه یوه روښانه مشعل ده، هر لیک لکه یو حکیمانه منشور، او هر حکمت لکه یو لنډ خو ژور درس. کله چې د دنیا بې‌ثباتي بیانوي، زړه نرموي؛ کله چې د آخرت یادونه کوي، وجدان بیداروي؛ او کله چې د انسان مسؤلیت تشریح کوي، اراده پیاوړې کوي.

نهج البلاغه یوازې د یوې زمانې لپاره نه دی. دا د ټولو زمانو لپاره دی. که څوک د رهبرۍ په لټه کې وي، دلته د عادلانه مشرتابه اصول مومي؛ که څوک د اخلاقو ښوونه غواړي، دلته د کرامت، حلم، صبر او تواضع بېلګې لولي؛ که څوک د ټولنیز عدالت فکر کوي، دلته د انساني مساوات او حق غوښتنې ژور بنسټونه ویني. دا کتاب انسان ته ورښیي چې څنګه په واک کې عاجزي وساتي، په شتمنۍ کې انصاف وکړي، او په فقر کې عزت وساتي.

په نهج البلاغه کې د انسان پېژندنه ځانګړې ده. انسان یو مسؤل مخلوق دی؛ د عقل خاوند دی؛ د انتخاب واک لري؛ او د خپلو اعمالو حساب ورکوونکی دی. دا کتاب انسان ته د خپل نفس د کنټرول درس ورکوي، د دنیا د فریبونو په وړاندې یې خبروي، او د حقیقت لور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې رابولي. دلته نفساني خواهشات افشا کېږي، د غرور خطر بيانېږي، او د اخلاص ارزښت روښانه کېږي.

هغه څوک چې نهج البلاغه په ژوره توګه لولي، يوازې معلومات نه ترلاسه کوي؛ بلکې يو فکري انقلاب تجربه کوي. د هغه د فکر زاويه بدلېږي، د ارزښتونو معيارونه يې سمېږي، او د ژوند هدف يې روښانه کېږي. دا کتاب د زړه زنګ لرې کوي، عقل ته صفا ورکوي، او روح ته سکون وربخښي.

نهج البلاغه د سياست او معنويت تر منځ پُل جوړوي. دلته سياست له اخلاقو بېل نه دی؛ واک له تقوا جلا نه دی؛ او عدالت له عبادت څخه بېاړخ نه دی. دا هغه فکر دی چې انسان ته وايي: که ته پر خلکو واک لرې، نو تر هر څه وړاندې پر خپل نفس واکمن شه. که ته د عدالت دعوه کوې، نو لومړی په خپل چلند کې عدالت پلي کړه.

دا کتاب د زړونو لپاره ژوندی پيغام دی. هر څوک چې يې ولولي، ځان پکې وينې: کله د نصيحت محتاج بنده، کله د مسؤليت لرونکی مشر، کله د دنيا په شور کې حيران انسان، او کله د حقيقت په لټه کې سالک. **نهج البلاغه انسان ته دا احساس ورکوي چې ژوند لنډ دی، خو مسؤليت ستر دی؛ دنيا فاني ده، خو عمل تلپاتې دی.**

که ته غواړې چې د ځواک او نرمۍ توازن زده کړې، که ته غواړې چې د عدالت او رحمت يوځای ژوندی مثال ووينې، که ته غواړې چې د فکر، ايمان او عمل تر منځ ژوره همغږي تجربه کړې، نو نهج البلاغه ولوله. دا کتاب يوازې د لوستلو لپاره نه دی؛ دا د ژوند کولو لپاره دی.

نهج البلاغه يو تلپاتې ميراث دی — د وجدان لپاره رڼا، د عقل لپاره لار، او د روح لپاره سکون. هره پاڼه يې يو درس دی، هره جمله يې يو فکر دی، او هره وينا يې يو ژور پيغام دی. څوک چې ورسره اشنا شي، له حکمت سره اشنا کېږي؛ څوک چې يې درک کړي، له عدالت سره مينه پيدا کوي؛ او څوک چې يې ژوند ته راوړي، په خپل وجود کې بدلون وينې.

همدا وجه ده چې نهج البلاغه د کتابونو په منځ کې ځانګړی ځای لري. دا د کلماتو يو عادي ټولګه نه ده، بلکې د انسانيت د لوړ ارزښتونو يو ژوندی منشور دی. که زړه دې د حقيقت تږی وي، که عقل دې د ژور فکر غوښتونکی وي، او که روح دې د سکون په لټه کې وي، نو نهج البلاغه به ستا لپاره يوازې يو کتاب نه، بلکې يو ملګری، يو لارښود او يو الهام وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت علی (رض) په کلام الله او د رسول الله ﷺ په ویناوو کې

لومړی: د قرآن کریم آیتونه

آية المباهلة سورة آل عمران

فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا وَنِسَاءَكُمْ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَتَ اللَّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ ﴿٦١﴾

ژباړه: نو (اې پېغمبره!) ووایه: راشئ، موږ به خپل زامن او ستاسو زامن، خپلې ښځې او ستاسو ښځې، او خپل ځانونه او ستاسو ځانونه راوبولو؛ بیا به په زاړه (مباهله) دعا وکړو، او د الله لعنت به پر دروغجنو واچوو.

- یادونه: مفسرین لکه مسلم بن حجاج په *صحیح مسلم* کې روایت کړی چې د مباهلې پر مهال رسول الله ﷺ حضرت علي، فاطمه، حسن او حسین (رض) له ځانه سره بوتلل.

آية الولاية سورة المائدة

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ ﴿٥٥﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: بېشکه ستاسي دوست او سرپرست يوازې الله دی، او د هغه رسول، او هغه مؤمنان دي چې لمونځ قائموي او زکات ورکوي په داسې حال کې چې رکوع کوونکي وي.

- ځينو مفسرينو لکه الطبری او الواحدی د دې آيت د شان نزول په اړه روايتونه نقل کړي چې دا آيت د حضرت علي (رض) په اړه نازل شوی و کله چې هغه په رکوع کې صدقه ورکړه.

آيات الاطعام سورة الإنسان

وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ﴿٨﴾ إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا ﴿٩﴾

ژباړه: او دوی (مؤمنان) د الله د مينې له امله مسکين، يتيم او بنديي ته خواړه ورکوي. (او وايي:) موږ خو تاسي ته يوازې د الله د رضا لپاره خواړه درکوو؛ له تاسې نه نه کومه بدله غواړو او نه مننه.

- ځينو مفسرينو لکه ابن کثير او القرطبی نقل کړي چې دا آيتونه د حضرت علي، فاطمې او د هغوی د کورنۍ په اړه نازل شوي دي.

آية التطهير سورة الأحزاب

إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴿٣٣﴾

ژباړه: بېشکه الله غواړي چې له تاسو څخه (ای اهل البيت "حضرت علی «رض» بی بی فاطمة حسن او حسين") ناپاکي لرې کړي او تاسو په بشپړه توګه پاک کړي.

- ډېر مفسرين لکه مسلم بن حجاج په *صحيح مسلم* کې د «حديث الكساء» روايت کړی چې رسول الله ﷺ حضرت علي، فاطمه، حسن او حسين (رض) تر خپل څادر لاندې راټول کړل او ويې فرمايل: «اللهم هؤلاء أهل بيتي....»
- همدارنګه ابن کثير او الطبری د دې آيت په تفسير کې د اهل بيتو په اړه بېلابېل اقوال ذکر کړي دي.

دويم: د رسول الله ﷺ په ويناوو کې سند صحيح

حديثُ المحبة (د محبت حديث)

لَا يُحِبُّكَ إِلَّا مُؤْمِنٌ، وَلَا يُبْغِضُكَ إِلَّا مُنَافِقٌ

پښتو ژباړه: له تا سره يوازې مؤمن مينه کوي، او يوازې منافق دې دښمني کوي.

منبع:

- مسلم بن حجاج، *صحيح مسلم*، كتاب الإيمان، باب الدليل على أن حب الأنصار وعلى من الإيمان (حديث 78)

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دا حديث د حضرت علي (رض) د ايماني مقام څرګندونه کوي.

حديث «هذا وشيعته هم الفائزون»

عن جابر بن عبد الله قال:
كنا عند النبي ﷺ فأقبل علي بن أبي طالب
فقال النبي ﷺ:
والذي نفسي بيده إن هذا (على) وشيعته لهم الفائزون يوم القيامة
فأنزل الله:
إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ سوره البينة ـــ ۷-آيه

ه جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی:

مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست ووچې علي بن أبي طالب رضي الله عنه راغی

نو رسول الله ﷺ وفرمايل:قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په لاس کې دی دا سړی (علي) او د هغه پيروان قيامت په ورځ کامياب دي

بيا الله دا آيت نازل کړ:

بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی او نېک عملونه کوي
همدوی تر ټولو غوره مخلوق دي. سوره البينة ـــ آيه-۷

منبع :

- الدر المنثور للسيوطي ج 8 ص 589
- تفسير الطبري ج 30 ص 146
- شواهد التنزيل للحسكاني ج 2 ص 459

حديث على مع الحق

عن أم سلمة رضي الله عنها قالت
قال رسول الله ﷺ:علي مع الحق والحق مع عليولن يفترقا حتى يردا علي الحوض

له ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دی:رسول الله ﷺ وفرمايل:

علي د حق سره دی او حق د علي سره دی او دا دواړه به جلا نه شيتر هغه چې د حوض کوثر پر غاړه ما ته راشي

حواله : المستدرك على الصحيحين ج 3 ص 134، قال الحاكم: صحيح الإسناد ووافقه الذهبي

حديثُ المنزلة (حديث د منزلت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

أَنْتَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى، إِلَّا أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي

پښتو ژباړه: ته زما لپاره داسې يې لکه هارون چې د موسى لپاره و، خو له ما وروسته هېڅ نبي نشته.

منبع:

- البخارى، *صحيح البخاري*، كتاب المغازي، باب غزوة تبوك (حديث نمبر 4416 په ډېرو نسخو کې)
- مسلم بن حجاج، *صحيح مسلم*، كتاب فضائل الصحابة، باب من فضائل علي (حديث نمبر 2404)
- دا حديث د تبوک د غزا پر مهال ويل شوى و کله چې رسول الله ﷺ حضرت علي (رض) په مدينه کې خپل ځای ناستى پرېښود.

حديثُ الراية يوم خيبر

لَأُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلًا يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ، وَيُحِبُّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ، يَفْتَحُ اللَّهُ عَلَى يَدَيْهِ

پښتو ژباړه: سبا به بيرغ داسې سړي ته ورکړم چې له الله او د هغه له رسول سره مينه لري، او الله او رسول يې هم سره مينه لري، او الله به فتح د هغه په لاس وکړي.

منبع:

- البخارى، *صحيح البخاري*، كتاب الجهاد والسير، **باب مناقب على** (حديث 3701)
- مسلم بن حجاج، *صحيح مسلم*، كتاب فضائل الصحابة (حديث 2406)
- دا حديث د خيبر د فتحې پر مهال ويل شوى او بيرغ حضرت علي (رض) ته وسپارل شو.

حديثُ الغدير

مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ

پښتو ژباړه: چې زه د هغه مولا يم، نو علي هم د هغه مولا دى.

منبع:

- الترمذى، *سنن الترمذي*، كتاب المناقب، باب مناقب علي (حديث 3713 – حسن صحيح)
- احمد بن حنبل، *مسند أحمد*، ج 4، ص 281 (په څو سندونو)
- محدثينو دا حديث حسن صحيح بللى، او په ګڼو طريقو روايت شوى دى.

حديث «أقضاكم علي» (په قضاوت کې غوره)

أَقْضَاكُمْ عَلِيٌّ

پښتو ژباړه: په تاسې کې تر ټولو غوره قاضي علي دى.

منبع:

- الترمذى، *سنن الترمذي*، كتاب المناقب (حديث 3791)
- ابن ماجه، *سنن ابن ماجه*، المقدمة (حديث 154)

(c) ketabton.com: The Digital Library

حديث د وروروليِ (مؤاخات)

كله چې رسول الله ﷺ د مهاجرينو او انصارو تر منځ وروروليِ وکړه، حضرت علي (رض) يې خپل ورور وګرځاوه.

أَنْتَ أَخِي فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ

پښتو ژباړه: ته زما ورور يې په دنيا او آخرت کې.

منبع:

- الترمذی، *سنن الترمذي* (حديث حسن صحيح)
- اصل واقعه په سيرت او حديثي کتابونو کې په صحيح سندونو راغلې ده.

حديث د دروازې تړل (سدّ الأبواب)

رسول الله ﷺ امر وکړ چې مسجد ته خلاصې تولې دروازې وتړل شي پرته له د علي (رض) له دروازې.

سُدُّوا كُلَّ بَابٍ فِي الْمَسْجِدِ إِلَّا بَابَ عَلِيٍّ

پښتو ژباړه: په مسجد کې تولې دروازې وتړئ مګر د علي دروازه پرېږدئ.

منبع:

- البخاری، په تعليقي ډول روايت
- احمد بن حنبل، *مسند أحمد* (په صحيح سندونو)

د قرآن او عترت حديث (حديث الثقلين)

حضرت محمد ﷺ له خپلو وروستيو خطبو څخه په يوه کې يو مهم حديث بيان کړ چې د «حديث الثقلين» په نوم مشهور دی.

أَمَّا بَعْدُ، أَلَا أَيُّهَا النَّاسُ، فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ رَسُولُ رَبِّي فَأُجِيبَ، وَأَنَا تَارِكٌ فِيكُمْ ثَقَلَيْنِ: أَوَّلُهُمَا كِتَابُ اللَّهِ فِيهِ الْهُدَى وَالنُّورُ، فَخُذُوا بِكِتَابِ اللَّهِ وَاسْتَمْسِكُوا بِهِ... وَأَهْلُ بَيْتِي، أُذَكِّرُكُمُ اللَّهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي، أُذَكِّرُكُمُ اللَّهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي، أُذَكِّرُكُمُ اللَّهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي.

پښتو ژباړه: خبردار اوسئ، اې خلکو! زه يوازې يو بشر يم، نږدې ده چې زما د رب استازی (ملک الموت) راشي او زه يې بلنه ومنم. زه په تاسې کې دوه درانه شيان پرېږدم: لومړی د الله کتاب دی، چې پکې هدايت او رڼا ده؛ نو د الله کتاب ونيسئ او کلک پرې منګولې ولګوئ... او (بل) زما اهل بيت دي. زه تاسې ته د الله په نوم وصيت کوم چې زما د اهل بيتو حق وساتئ، زه تاسې ته د الله په نوم وصيت کوم چې زما د اهل بيتو حق وساتئ، زه تاسې ته د الله په نوم وصيت کوم چې زما د اهل بيتو حق وساتئ. مسلم بن حجاج، *صحيح مسلم*، کتاب فضائل الصحابة، حديث نمبر 2408 همدارنګه په: الترمذی، *سنن الترمذي*، احمد بن حنبل، *مسند أحمد*.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت امام علی علیه السّلام

حضرت امام علی علیه السّلام

د حضرت امام علي علیه السلام د ولادت مبارکه پېښه

د اسلام په تاریخ کې د حضرت امام علي علیه السلام ولادت یوه ډېره ستره او بې ساري پېښه ده، ځکه چې هغه یوازینی انسان دی چې د کعبې شریفې په دننه کې نړۍ ته راغلی. دا لوی افتخار د هغه لوړ مقام، پاک نسب او ځانګړي الهي انتخاب څرګندونه کوي.

حضرت علي علیه السلام د عام الفیل له پېښې شاوخوا دېرش کاله وروسته، د رجب د میاشتې په دیارلسمه نېټه، په مکه مکرمه کې وزېږېد. د هغه پلار حضرت ابو طالب علیه السلام د قریشو له مشرانو او د رسول الله ﷺ تر ټولو نږدې ملاتړی و، او مور یې بي بي فاطمه بنت اسد سلام الله علیها له بافضیلته او پاکو ښځو څخه وه.

روایتونو کې راغلي چې کله د ولادت وخت راورسېد، بي بي فاطمه بنت اسد سلام الله علیها د کعبې خواته ولاړه او له الله تعالی څخه یې مرسته وغوښته. د الله په قدرت د کعبې دیوال پرانستل شو او هغه دننه ولاړه، او هلته یې حضرت علي علیه السلام وزېږاوه. دا پېښه د هغه لوړ مقام او الهي کرامت ښکاره ښه ده.

حضرت علي علیه السلام له کوچنیوالي څخه د رسول الله ﷺ تر روزنې لاندې لوی شو، او له لومړیو کسانو څخه و چې پر اسلام یې ایمان راوړ. هغه د علم، شجاعت، عدالت، تقوا او عبادت نمونه وه، او د رسول الله ﷺ تر ټولو نږدې ملګری او د اهل بیتو له ستر شخصیتونو څخه شمېرل کېږي.

د امام علي علیه السلام ولادت د حق، عدالت او هدایت د یوې نوې دورې پیل و، او د هغه ژوند د انسانیت لپاره د زړورتیا، پوهې، تقوا او وفادارۍ روښانه مثال پاتې شوی دی.

د پیغمبر اکرم (ص) سره وفاداري، د هجرت شپه او امانت ساتنه

هغه بزرګوار د پیغمبر اکرم (ص) په سختو وختونو کې ریښتونی ملګری او ساتونکی ړ تر دي چې کله پیغمبر اکرم مدیني ته هجرت کاوۀ نو په مکي کې د هغه په کټ کې د خدا ي په امر حصرت امام علی ځملاستۀ او پّه دغه کار سره ئې له پیغمبر اکرم سره د ریښتوني ملګري مثال نندار ي ته وړاندې کړ کله چې حضرت محمد مصطفی صلی ا... علیه وآله وسلم اسلام څرګند کړ،نودا خبره قریشو ته ډېره خطرناکه ښکاره شوه. د قریشو مشران په "دارالندوة" کښې غونډ او د پیغمبراکرم په شهیدولو سره صلاح شول او وې ټاکله چې له هري قبیلې یو یو کس یوځائې شي ،د شپې مهال د پیغمبر(ص) په کور یرغل وکړي او هغه یزرګوار شهید کړي. خداي پاک خپل پیغمبرله دغې دسیسې خبر کړ او حکم یې ورکړ چې په هغه شپه هجرت وکړي. پیغمبر(ص) حضرت امام علی(ع) ته د خداي حکم واوروۀ او هغه ته ئې حکم ورکړ چې د هجرت په شپه د هغوي په کټ کښې ځملي، خو داسې چې څوک پوه نه شي چې څوک ملاست دی. حضرت امام علی(ع) په خپلې سرښیندنې سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیغمبر(ص) د ژوند او سر حفاظت وکړ او دا لویه خطره یې په خپل ځان واخسته. دا کار دومره په زړۀ پورې او لوې ؤ چې خداي پاک په دې حکله دا ایت نازل کړ"وَمِنَ النَاسِ مَنْ يَشْرِىْ نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرَضَاةِ اللهِ وَ اللهُ رَؤُفٌ بِالعِبادْ . سوره بقره اية 207. "په خلقو کښې ځینې داسې کسان شته چې د خداي په لار کښې خپل سر او ژوند خرڅوي او خداي په خپلو بندګانو مهربان دی" شپه راغله او د تیارې لمن خوره شوه. په قتل ګمارل شویو کسانو د پیغمبراکرم کور کلابند کړ. د خداي رسول(ص) د سوره یسین ځینې ایتونه له ځان سره وویل، له کوره ووتۀ او له مکې بهر د ثور د غار په خوا روان شو. قاتلانو په وتلو تورو سره د پیغمبراکرم په کور یرغل وکړ.نو حضرت امام علی(ع) د هغه بزرګوار له کټه پاڅید او په بسترې کښې کښیناست، قاتلانو په حیرانتیا سره وپوښتل "محمد چرته لاړ؟" حضرت امام علی(ع) ورته وفرمایل "ولې تاسو زۀ په هغه څوکیدار کړی ؤم چې له ما یې پوښتنه کوئ؟ د مکې کافرانو په رسول ا... بزرګوار پسې ډیر تکل وکړ خو نهیلي شول. حصرت امام علی(ع) د پیغمبر اکرم امین هم وّ ګران رسول حضرت محمد(ص) د قریشو امانت ساتوونکی ؤ ، ټولو به ورسره خپل امانتونه کیښودل خو کله چې هجرت ته مجبور شو نو په خپلې کورینۍ کښې ورته تر حضرت امام علی (ع) زیات امانت ساتونکی او امین څوک ښکاره نۀ شو نو هغه یې خپل ځاي ناستی وټاکۀ چې د خلقو امانتونه هغوي ته ورسوي، یورونه یې ورکړي او بیا د هغوي ښځې او ماشومان مدینې ته راولي. حضرت امام علی(ع) له دغو ټولو کارونو وروسته له خپل مور یې بي فاطمې، د پیغمبر(ص) له لور یې بي فاطمې، د زبیر له لور چې د هغې نوم هم یې بي فاطمه ؤ او له نورو ښځو او ماشومانو سره د مدینې په لور روان شو. په لاره کښې یې د مکې اتو کافرانو لاره ونیوله خو حضرت امام علی(ع) له ټولو سره مقابله وکړه هغوي یې پسې واخستل او چې کله مدینې ته ورسید ، نو ګران رسول (ص) دوي ټول خپل کور ته بوتلل.

حضرت امام علی(ع) او د خداي په لار کښې جهاد

حضرت امام علی(ع) او د خداي په لار کښې جهاد اسلام د سولې، پخلاینې او امنیت دین دی او له انسان وژنې او مرګ ژوبلې سره موافق نۀ دی او د دې لپاره چې په لوي لاس او قصدا او بې دلیله کوم ایماندار کس ووژني ، د همیشني عذاب سزا مقرره کړې ده. خوله دې سره سره ، اسلام د خپل هر اړخیزوالي او بشپړتیا له امله یو نړیوال دین دی نو پکار ده چې ټول یې ومني.

څرګنده ده هماغه کسان چې د اسلام له سپیڅلو اصولو او سمو طریقو څخه یې ګټو ته خطره وه، له اسلام سره ئې مقابلې ته مخه کړه او خداي پاک همدغو ظالمانو، ښکیلاک ګرو او زبیښاک ګرو سره د مقابلې لپاره د جهاد حکم ورکړ، چې له هغو کسانو سره چې له اسلام سره دښمني لري او اسلام له منځه وړل غواړي مقابله وشي. همداراز عقل هم وایی چې کله په چا تیری ګیږی نو پکار ده چې د ځان دفاع وکړې او دا هم د جهاد یوه څانګه ده چې عقل، فطرت او انصاف پرې حکم کوي.

د غزاګانو په ډګر کښې د امام علی علیه السلام مېړانه

د خداي د رسول(ص)په اکثره غزاګانو کې حضرت امام علی(ع) ورسره شریک ؤ او امام بزرګوار تل له خدایه پرته له بل چا نۀ ویریدۀ. هغه به په جنګونو کښې بیرغوال، مخکښ، نۀ ستړی کیدونکی، بې ساری او بې مثاله ؤ.او پر دښمن به ئې داسې وار کاوه چې د دوهم وار ضرورت به نه پیدا کیدۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دښمن په لښکر کې به ئې زلزله راوستله .حضرت امام علی علیه سلام په شا باندې هیڅکله زغره نه لرله ځکه چې هیڅکله به یې دښمن ته نۀ شا کوله او نه به له جنګه تښتیدۀ. اوس هم په تاریخ کښې په ځینو غزاګانو کښې د امام بزرګوار رول ته یوه ځغلنده کتنه کوو.

د خندق جنګ

د خندق جنګ د اسلام دښمنان له بیلا بیلو ګوندونو ډلو او قومونو غونډ شول ټولو یو بل ته لاسونه ورکړل او فیصله یې وکړه چې په مدینې حمله وکړي او اسلام له منیځه یوسي.

ګران رسول حضرت محمد مصطفی (صلی الله علیه و اله وسلم) د حضرت سلمان فارسی په وړاندیز حکم ورکړو چې له مدینې ګیر چاپیره خندق وکنئ.

دواړه لښکري یوه بل ته مخامخ ودریدې. د عربو یو مشهور او نامتو جنګیالي عمرو بن عبدود چې اتیا کلن ؤ او ډیر لوي پهلوان ؤ او په یوازې سر به له دیرشو تر څلویښتو کسانو سره جنګیدۀ. د کافرانو له لښکره راووت، غوریدۀ او ویل یې چې په تاسو کښې داسې نر شته چې زما مقابلې ته راووځي ؟

حضرت امام علی(ع) راوړاندې شو.

عمرو ورته وویل "ستون شه، نه غواړم چې ودې وژنم" حضرت امام علی(ع) ورته وویل ،تا له خپل خداي سره ژمنه کړې وه چې په قریشو کښې درنه څوک دوه حاجتونه وغواړي نو یو حاجت به ئې مني. عمرو ووئیل: "هؤ! نو وایه حاجت دې څۀ دی؟" امام علي(ع)ورته ووئیل : "لومړی دا چې اسلام ومنه، خداي ته راوګرځه او په پیغمبر حضرت محمد(ص) ایمان راوړه" عمروووئیل : "دغو ته حاجت نۀ لرم" حضرت امام علي علیه السلام بیا وفرمایل : " ښه نو بیا جنګ ته تیار شه" عمرو په کبرجن اناز سره بیا وویل : "ګوره ستون شه، پلار دې زما د پلار دوست ؤ، ځکه نۀ غواړم چې ستا په وینو لاس رنګ کړم.، امام علي علیه السلام ورته بیا په ځواب ګې وویل : "خو ما له خداي سره ژمنه کړې، ترڅو چې تۀ خداي او حق ونۀ منې ، نو تا وژنم" عمر له اسه کوز شو او په کبر سره مخکې شو او پر حضرت امام علی(ع) یې د توري ګوزار وکړ. حضرت امام علی(ع) د هغۀ ګوزار په خپل ډال سره ستون کړ او بیا یې په یو ګوزار سره هغه له کاره وویست او پر مځګې پریوتۀ او وې واژۀ.

نورو چې کله دا حالت ولیدۀ نو وتښتیدل. حضرت امام علی(ع) بریالی راستون شو، پیغمبر(ص) په شا وټپولو، شاباسۀ یې ورکړ او وې فرمایل: "ستا ننني ګوزار د ثقلینو یعني د ټولو مخلوقاتو له عبادته غوره دی ځکه چې ددې له امله د کافرانو حوصلې او روحیّې سستې شوې، سپک شول او د مسلمانانو لپاره یې سر لوړي او عزت ډالۍ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خيبر غزه

د خيبر غزه پيغمبر حضرت محمد صلى الله عليه و اله وسلم له خپلو اصحابو سره د يهوديانو د مرکز خيبر په لور راوان شو په دې جنګ کښې د حضرت على عليه السلام سترګې ناروغي درلوده او جنګ ته نۀ شو تللى. د خداي رسول(ص)حضرت ابوبکر راوغوښت او د جنګ بيرغ (جنډه) يې هغۀ ته ورکړ. ابوبکر له ځينو سپايانو سره جنګ ته لاړ خو ناکامه شو. صبا يې بيا حضرت عمر ته د جنګ بيرغ ورکړو خو هغه هم ناکامه راستون شو.

پيغمبر(ص) وفرمايل "صبا به زۀ بيرغ داسي کس ته ورکوم چې له خداي او رسول(ص) سره مينه لري.او خداي او د هغه رسول هم له هغۀ سره مينه لري او هغه به بريالى او سرلوړى کيږي. بيا يې وفرمايل حضرت على عليه السلام راوالئ ورته وويل شول چې هغه د سترګو ناروغي لري ، هغه بزرګوار و فرمايل: فرق نه کوي او راؤې غوښتو. حضرت امام على عليه السلام راغى د خداي رسول(ص) ترې وپوښتل چې څۀ خبره ده ؟ امام على عليه السلام وويل يار سول ا... په هرڅه تاسو خبر ياست . د خداي رسول(ص) ورته دعا وکړه د هغه په سترګو کښى يې د خپلې مبارکې خلې لعاب واچول او په سر يې ورته لاس راکاړۀ، د حضرت على عليه السلام د سترګو او سر دردختم شو، بيا يې سپين بيرغ ورکړ. حضرت على عليه السلام بيرغ اوچت کړ او چې کله راوانيدۀ نو پيغمبر(ص) ورته وفرمايل " خداي پاک درسره جبراييل ملګرى کړى او انشاءالله کاميابي ستا ده، خداي پاک د دښمنانو په زړونو ويره اچولې ده او هغوي په خپل کتاب کښې لوستي دي ، هغه کس چې دوي ته به ماتې ورکوي نوم يې (ايليا) على دى. نو کله چې هغوي ته ورسيدې ورته ووايه چې زما نوم على دى. انشاءالله چې خوار او ذليل به شي. خضرت علي عليه السلام ميدان ته روان شو . تر ټولو مخکښې د يهوديانو له يو لوئي پهلوان مرحب سره مخامخ شو او هغه يې د تورې په يو ګوزار سره جهنم ته واستوۀ . يهوديانو چې کله د خپل مشر وژله وليده نو کلا ته دننه وتښتيدل او ور يې ځان پسې پورې کړ حضرت على عليه السلام د ورۀ خوا ته ورغى او هغه ور، چې شلو کسانو به بنداوۀ او خلاصوۀ ، په يوازې سر يې له خپل ځايه راوکندلو او په هغه خندق يې کيښود چې يهوديانو له کلا ګير چاپير کندلى ؤ. مسلمانان ددغه ور په وسيله له خندقه تير شول ، کلا يې ونيوله او سر لوړي راستانۀ شول.

د حضرت امام على(ع) علم او پوهه

د حضرت امام على(ع) علم او پوهه ابن عباس د پيغمبر(ص) له مبارکې خلې وائې " على زما په امت کښې تر ټولو پوهه او په فيصلې او قضاوت کښې تر ټولو لوړ دى."او دا هم د پيغمبر (ص) د خولې خبره ده چې:"اَنَا مَدِيْنَةُ العِلمِ وَ عَلىٌ بَابُهَا فَمَن اَرَادَ العِلمَ فَلْيَقْتبسه مِن عَلى" " زه د علم ښار يم او على يې ور دى ځوک چې علم زده کول غواړي له على يې زده کړي" ابن مسعود هم وايي: " ګران رسول (ص) على عليه السلام راوغوښت او له ځان سره يې کيښولو. کله چې على(ع) له پيغمبر(ص) راستون شو نو ومې پوښتل د خداي رسول(ص) درته څۀ ويل؟ وې فرمايل: "پيغمبر(ص) ما ته د علم زر ورونه پرانستل چې له هر وره زر نور ورونه پرانستل کيږي.

يوه ورځ حضرت على عليه السلام په منبر باندې وويل "يَامَعْشَرَالنَاسِ سَلونِى سَلونِى قَبْلَ اَن تَفقِدُونِى"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای خلقو! له ما چه څۀ پوښتل غواړئ، وې پوښتئ، مخکښې تر دې چه زه مو له لاسه اوځم ځکه چه زه د تیرو او راتلونکو کسانو علم لرم. په خداې قسم که د قضاوت او فیصلې ټغر خور شي، یهودیانو ته به د هغوی د خپلو کتابونو، د انجیل منوونکو ته به له انجیله، د زبور منوونکو ته به له زبوره او قران منوونکو ته به له قرانه فیصله او قضاوت وکړم. په خداې قسم زه تر تاسو ټولو په قران او د هغۀ په تاویل پوه یم.

بیا یې په دویم ځل وویل "سلونی قبل ان تفقدونی" تر دې مخکښې چې زۀ مو له منیځه لاړ شم له ما پوښتنه وکړئ. د قران د هر ایت پوښتنه کوئ، د هغه د نزول په باره کښې، د شان نزول او په دې هکله چې د چا په باب نازل شوی دی او هم د راز د ناسخ منسوخ، محکم او متشابه او مکي والي او مدني والي، غرض دا چې هر ډول پوښتنه که لرئ، کولی یې شئ زه به یې ځواب درکړم.(ارشاد مفید ص 16 ، 15، طبقات ابن سعد جلد 2 ص 101 جلد 4 ص 270 استعاب جلد 1 ص 463)

د غدیر ورځ او د ولایت اعلان

د خداې ګران رسول(ص) ته د حضرت علی علیه السلام فضایلو ته په پام سره حکم وشو چې خلقو ته د حضرت علی علیه السلام ولایت او جانشیني څرګنده کړي او پیغمبر(ص) په بیلا بیلو ځایونو او موقعو کښې دا کار کړی دی منجمله د غدیر په ورځ.

رسول(ص)د هجرت په لسم کال مکې ته د حج د فریضې لپاره لاړ. په دې سفر کښې له پیغمبر(ص) سره د ملګرو شمېر یو لک شل زره تنه ؤ. له حجه د راستنیدو په وخت هم دومره کسان د پیغمبر(ص) ملګری وؤ. د ذي الحجې په اتلسمه نیټه د غرمې په وخت دوی په "جحفه" نومې دښتې کښې غدیر خم ته ورسیدل. چې کله د لمانځۀ وخت شو او بانګ وویل شو، نو خلق له خپلو سورلو کوز شول، ټول غونډ شول او په جماعت یې لمونځ اداکړ.

بیا د اوښانو له کجاوو منبر جوړ کړای شو، د خداې رسول(ص) په منبر بره اوخت او د خداې پاک تر ثنا وروسته یې وفرمایل "ما ته او تا سو ته د خداې له خوا دنده او مسؤلیت راکړل شوی دی، ایا داسې نۀ ده.

خلقو په یوه خولۀ ووئیل ګواهي ورکوؤ چې مونږ ته دې تبلیغ وکړ او په دې لاره کښې دې ډیرې سختۍ زغملې، خداې درته د ددې ښه بدله درکړه.

رسول مبارک (ص)وفرمایت آیا د خداې پاک په یووالي او د هغۀ د بنده محمد په پیغمبرۍ او د دوزخ او جنت ،مرګ او په بیا راپاڅیدو ګواهي نه ورکوئ؟

خلقو بیا په یوه خولۀ ووئیل ، هو ګواهي ورکوؤ. رسول مبارک(ص یسا وفرمایل، خدایه! ته ګواه اوسه. بیا د خداې رسول (ص) خلقو ته مخ کړو او وې فرمایل :ای خلقو! زه او تاسو به د کوثر په غاړه له یو بل سره کتنه کوؤ. نو اوښیار او خبر دار ووسئ. زه تاسو ته دوه ګران بیه ملغلرې پرېږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلقو بيا ووئيل اى د خداي رسوله (ص) هغه دوه ملغلري كومي دى؟ رسول مبارک(ص) وفرمايل د خداي تعالى كتاب او د زما اهلبيت(ع). خداي ما ته فرمايلي دي چې داوړاده به تر هغه وخته له يو بله نۀ جلا كيږي چې د كوثر په غاړه ما ته راورسي. له دغو مه مخكښې كيږئ او مۀ تېريږئ ګڼي هلاک به شئ.بيا يې د اميرالمومنين حضرت على عليه السلام لاس اوچت كړ چې ټول يې وويني او وې پيژني. نو په همدي حالت سره يې وفرمايل " اَيُهَاالنَاسْ! مَن اَولَى النَاسَ بِاالمُومِنِينَ مِنْ اَنفُسِهِمْ" "اى خلقو! هغه څوک دي چې په مومنانو باندې تر هغوي زيات حق لري او د مومنانو ولايت او مشري دهغوي په لاس كښې ده؟ خلقو وويل ، خداي او د هغه رسول (ص).

د خداي رسول (ص) وفرمايل خداي پاک زما مولا دي او زۀ په مومنانو مولا يم،زۀ په مومنانو باندې تر هغوي زيات حق لرم نو "مَنْ كُنْتُ مَوْلاهُ فَهَذَا عَلىٌ مَولاهُ" د چا چې زه مولا او سرپرست يم دا "على" د هغوي مولا او مشر دي. اي خدايه! د على له دوستانو سره مينه ولره او ددۀ له دښمنانو سره دښمني. له هغه چا سره چې له على سره مرسته وكړي، مدد وكړه او څوک چې ددۀ مقابلې ته پاڅې او تيري پرې وكړي هغوي ته سزا وركړه. نو اى خلقو! كوم كسان چې موجود دي. دوي دې دا خبره دې هغو كسانو ته چې پّ دغه ځاي كې نشته ، ورسوي" خلق له خوارۀ شوي نۀ وو چې دا ايت نازل شو "اَلَيومَ اَكمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُم وَ اَتْمَمْتُ عَلَيكُمْ نِعْمَتْى وَ رَضِيتُ لَكمُ الاسْلامَ دِينا" "نن مې ستاسو دين مكمل كړ او په تاسو مې نعمتونه تمام كړل او تاسو ته د اسلام په دين راضي شوم" (. الغدير جلد 1 صحفه 9 تا 11)

په حقونو كښې برابر والى او انصاف

په حقونو كښې برابر والى او انصاف حضرت امام على عليه السلام چې كله د اسلامي حكومت مشر شو نو منبر ته وخوت او د خداي پاک له حمد او ثنا وروسته يې وفرمايل: "په خداي قسم كه په مدينه كښې زما د كجورې يوه ونه هم وى، له بيت المال به څۀ وانۀ خلم نو اوس لږ سوچ وكړئ چې كله زه د ځان لپاره له بيت الماله څۀ نۀ اخلم نو ايا تاسو ته به يې په ناجايزه دركړم؟" د على ورور عقيل پاڅيد او وې ويل تۀ ما ته او د مدينې يو تور پوستكى (حبش) ته په يوه سترګه ګورې او ما له هغه سره برابروې؟ نو حضرت على عليه السلام ورته وفرمايل " اى وروره كښينه! تۀ په دغه تور پوستكى هيڅ لوړ والى نۀ لري او لوړوالى او فضيلت يوازې په پرهيزګارى او ايمان كښې دى.(وسائل ج 11 ص 9) د امام بزرګوار ځنيو ملګرو هغوي ته وويل ، اى اميرالمومنينه ؛كه له بيت الماله دي اول لويو او غټو خلقو ته څۀ وركړې وى چې حكومت د ټينګ شوئ وئ ،نو بيا دې په عدالت سره په نورو حكومت كړى وئ نو دا به ښه نه وه؟ امام وفرمايل "افسوس چې تاسو له ما غواړئ خپل بنيادونه په ظلم او زياتي او له مسلمانانو سره په بې عدالتى او بې انصافى ودروم، نه، په خداي قسم زه به هيڅكله داسې ونۀ كړم په خداي مې دې قسم وي كه د مسلمانانو مالونه زما خپل هم وى ، بيا به مى به هم په هغوي كښې برابري او عدالت كوؤ پاتې لا راشه دا چې دا د دوي خپل مال دى.(وسائل جلد 11ص 80)

د بي بي سوده شكايت او د امام على عدالت

د حضرت امام على بن ابي طالب عليه السلام له شهادته وروسته يوه ورځ د همدان د قبيلې د عمار لور بي بي سوده معاويه ته ورغله، معاويه ته د دغې بى بى هغه سختى او فعاليتونه ياد شول چې د صفين په جنګ كښې يې د حضرت امام على عليه السلام او د دوي د سپايانو په خدمت كښې كړي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاویه ورته دا سختۍ وریادي کړي او هغه یې ورتله . بیا یې تري وپوښتل چې دلته د څۀ لپاره راغلې ئې؟ هغې ورته وویل: "ای معاویه! خداي به درنه زمونږ د واجبو او ضروري حقونو د تروړلو غصبولو پوښتنه کوي، تا تل په مونږ داسې ګورنران ګمارلي دي چې په مونږ ظلمونه کوي، زمونږ مالونه او حقونه چخنې کوي او سړي مو وژني.اوس دې دا "بسر بن ارطاة" په مونږ ګمارلی دی چې زمونږ سړي وژني او مالونه مو چور کوي. ، که ستا له حکومته مو پیروي نۀ کولۀ نو اوس به ښۀ په عزت کښې وو، که دی دې لرې کړ خو ښه په ښه، ګڼي مونږ پخپله راپاڅو." معاویه وقهریدۀ او وې ویل: "ما له خپلې قبیلې ویروې، تا به په ډیر بد حالت کښې هماغه بسر ته ورولیږم چې څۀ یې د زړۀ خوښه وي هغه درسره وکړي" سوده بی بی یو څو شیبې غلې شوه او په ذهن کښې یې د تیرو وختونو عدالت او انصاف یاد کړ بیا یې دا شعر ووئیې: "د خداي سلام دې وي په هغه روح ، چې د هغوي په تللو د عدالت او انصاف ټغر هم ټول شو. هغه په حق او صداقت ژمن ؤ او حق به یې له هیڅه سره نه بدلولو، حق او ایمان په هغه کښې یو ځائې شوي ؤ" معاویه تري تپوس وکړ چې دا د چا خبره کوې؟ بې بې سوده ورته وویل د حضرت علی بن ابیطالب علیه السلام اوس مې هم هغه یاد دي چې هغۀ ته ورغلم چې د زکات د راغونډونکي افسر شکایت وکړم، کله چې امام ته ورسیدم نو هغوي د لمانځۀ نیت تړلو خو چې زه یې ولیدم، مونځ یې پریښود او په مسکا سره یې له ما وپوښتل: " له ما سره دې څه کار ؤ؟" ومې ویل "هؤ" او بیا مې ورته خپل شکایت ورسولو. امام بزرګوارچې د لمانځۀ لپاره دریدلی ؤ، په ژړا شو او خداي پاک ته مخاطب شو "ای خدایه! ګواه اوسه چې ما هیڅ کله حکم نه دی ورکړی چې دغه افسر په خلقو ظلم وکړي." بیا یې د څرمنې یوه ټوټه راوباسله او د خداي له نامې او د قران له یوه آیته وروسته یې ولیکل "څنګه چې زما لیک در ورسي نو خپل ټغر دې ټول کړه چې په ځائې دې بل څوک در ولیږم" بیا یې لیک ماته راکړو خو په داسي حال کښې چې پرانستي ؤ او ټاپه یې پرې نه وۀ لګولې. لیک مې افسر ته ورکړ او هغه له خپل مقامه څنګ ته شو" معاویه د دې قیصې تر اوریدو وروسته مجبورا حکم ورکړ چې څۀ غواړي، ورته وې لیکئ.

حضرت امام علی علیه السلام شهادت

حضرت امام علی علیه السلام شهادت د هجرت په څلویښتم کال په مکې کښې ځینې خوارج راغونډ شول او غوښته یې وکړه چې حضرت امام علی علیه السلام معاویه او عمر عاص په کوفې شام او مصر کښې په ټاکلو وختونو کښې ووژني. دوي د روژې د مبارکې میاشتې نولسمه شپه د وژلې وخت وټاکۀ. د عبدالرحمن ځوي ملجم د حضرت امام علی علیه السلام په شهیدولو، د صریمي ځوي حجاج د معاویه په وژلو او د بکر تمیمي ځوي عمرو د عمرو عاص په وژلو وګمارل شول . ابن ملجم په همدې خاطر کوفې ته راغی خو څوک یې له خپل سپیرۀ او پلیت نیته خبر نۀ کړل. تر دې چې یوه ورځ د یو خوارج په کور کښې له یوې ښائسته جینۍ "قطامه" سره مخامخ شو په هغې یې زړه وبائیله او ځان له یې وغوښته، قطامه ورته وویل زما مهر دې زره درهمه، یو مرئې او د حضرت امام علی علیه السلام شهیدول دي. قطامه چې پلار او ورونه یې د نهروان په جنګ کښې مړۀ شوي ؤ، خیال کوؤ چې حضرت امام علی یې پلار او ورونه وژلي دی. خو حقیقت داسي نۀ ؤ، غرض دا چې ابن ملجم قطامه ته وویل چې زۀ هم د همدې کار لپاره کوفې ته راغلی ؤم. او اوس په خپله ارادې کې لا کلک شوم بالاخره هغه سپیره شپه راورسیده، ابن ملجم له خپلو دوؤ ملګرو سره د روژې نولسمه شپه د کوفې په جماعت کښې تیره کړه. قابو دیرش او څو کاله مخکښې حضرت امام علی(ع) له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګران رسول حضرت محمد مصطفی صلی ... علیه و آله وسلم څخه اوریدلي وؤ چې د روژې په میاشتې کښې به له دنیا سترګې پټې کړې . (نو نوره قیصه به د حضرت علی علیه السلام له خولې واورو) او چې کله پیغمبر(ص) د روژې د مبارکې میاشتې په باب هغه مشهوره خطبه ولوسته نو زهٔ پاڅیدم او تپوس مې تري وکړ چې ای د خداي رسوله! په دې میاشتې کښې ډیر ارزښتناک عمل او کار کوم دی؟ وې فرمایل "له ګناهانو ځان ساتل، بیا پیغمبر(ص) سخت وژړل او ماته یې ووئې چې تهٔ به هم په دې میاشتې کښې شهیدیږې. د امام علی علیه السلام له کړو او ویناوو هم دا څرګندیده چې امام یزرګوار په دې میاشتې کښې شهیدیږي، ځکه چې په همدې کال یې وئیلی وو چې دا ځل به د حج په وخت کښې زهٔ ستاسو په منځ کښې نهٔ یم. همدا شان کله به چې خلقو له امامه پوښتنه کوله چې په دې میاشتې کښې ولې کمه ډوډۍ خوري نو امام به فرمایل: "غواړم چې په تشه خیټه د خداي کتنې ته ورشم" د روژې نولسمه شپه یې ټوله رونه کړه او فرمایل به یې "په خداي قسم دروغ نهٔ وایم او ما ته دروغ نهٔ دي ویل شوي، نن هماغه شپه ده."(. ارشاد مفید ص 10.) او بالاخره د هغې شپې په سهار مهال کله چې د متقیانو مولا جمات ته لاړ ، نو سهار د لمانځه په وخت د نړۍ تر ټولو د پلیت سړي ابن ملجم خونړۍ او زهرجنه توره د حضرت امام علی علیه السلام په مبارک سر ولګیده او دا نمر د عبادت په مهراب کښې په وینو کښې رنګین شو او دوه ورځې وروسته د روژې د مبارکې میاشتې په یوویشتمه شپه د هجرت په څلویښتم کال دغه لمر پریوتهاو نړۍ په تورتم کې پاتې شوه (. ارشاد مفید ص 5 بحار ج 42، ص281.) د حضرت امام علی علیه السلام مبارک بدن د عراق په نجف اشرف ښار کښې خاورو ته وسپارل شو چې اوس هم د مسلمانانو او د هغوي د لیوالو د زړونوتنده ماتوي ؟

د شهادت په شپبه کښې د امام علی علیه السلام خبرې

حضرت امام علی علیه السلام لکه څنګه چې ټول عمر ئې د خداي پاک په یاد کښې تیر کړ. ددغې پیښې په وخت هم د خداي پاک په یاد کښې ډوب ؤ ځکه چې کله ابن ملجم خونړۍ توره د هغه په مبارک تندي ولګیده نو لومړۍ جمله یې دا وه "فُزْتُ وَ رَبِ الکَعبه" د کعبې په رب قسم چې کامیاب او بریالی شوم" بیا امامبزرګوار هماغه شان په وینو کې ککړ کور ته بوتلل شو ، حضرنت امام امام علی علیه السلام په دغه مودې کې خپلو بچیانو ته وفرمائیل چې زما قاتل په ما یوازې یو ګوزار کړی دی ، نو پکار ده چې یوازې یو ګوزار پرې وکړئ شي اوله هغه سره دې ښهٔ سلوک وشي. امام یزرګوار دوه ورځې د شهادت په بستر پروت ؤ او بیا هم هره شیبه د خلقو د نیکمرغۍ او ښیګڼې په فکر کښې ؤ او سره له دې چې حضرت محمدمصطفی صلی الله علیه و اله وسلم او پخپله حضرت امام علی علیه السلام تر دې مخکښې هم ډیر ځله د امام حسن، امام حسین او ورپسې تر دولسو امامانو پورې د ټولو د امامت یادونه کړې وه خو بیا هم امام علی علیه السلام د خپل عمر په وروستو شیبو کښې د حجت د تمامولو لپاره خلقو ته د دوي د امامت خبره بیا وکړه.

د امام علی(ع) وروستۍ خبرې

د امام علی(ع) وروستۍ خبرې حضرت امام علیه سلام د ژوند په وروستیو شیبو کښې خپلو بچیانو، خپلوانو او ټولو مسلمانانو ته وصیت وکړ چې ".....تاسو تقوی او له خدایه ویرې ته رابولم، خپل کارونه او چارې منظمې او سرڅنډه ساتئ او تل د مسلمانانو تر مینځ د اصلاح او رغاونې په فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې اوسئ، يتيمان مۀ هيروئ او د ګاونډيانو د حقونو خيال ساتئ، قران د ځان لپاره يو عملی پروګرام وګرځوئ "اَللّٰه اَللّٰه فِی الصَلواةِ فَاِنَهَا عَمودُ دِينِکُم" د لمانځه ډير خيال ساتئ او درنښت يې کوئ ځکه چې دا مو د دين ستنې ده. د خداي پاک په لاره کښې په خپل سر، مال او ژبې سره جهاد کو ئ، له يوه بل سره غږ مله اوسئ، ښو ته رابلل اؤ له بدو منع کول مۀ پريږدئ ځکه چې که د خداي فرض او دنده مو پريښودله نو ستاسو د ټولنې پلیت او ظالم کسان به په تاسو واکمن شي او بيا چې هغوي ته هر څومره هم ښيرې وکړئ ، نو خداي يې نۀ قبلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نهج‌البلاغه د «حکمتونو» برخه د امام علي (رض)لنډې، خو ژورې ويناوې رانغاړي. هره حکمت په څو کلمو کې لويه معنا لري او انسان فکر کولو ته رابولي. پکې د تقوا، عدالت، صبر او د نفس پېژندنې خبرې شوې دي، چې زړه راويښوي او عقل پياوړی کوي.

په دې حکمتونو کې د ژوند عملي لارښوونې شته. امام علي (رض) انسان له غرور څخه ژغوري، د علم ارزښت بيانوي او د انصاف سپارښتنه کوي. دا خبرې لکه رڼا په تياره کې دي؛ سړی سمې لارې ته بيايي او په زړونو کې ډاډ او هيله پيدا کوي.

د حکمتونو لوستل يوازې پوهه نه زياتوي، بلکې عمل ته الهام ورکوي. هره وينا پيغام لري چې انسان ښه اخلاق، پاک نيت او ربښتينی ژوند غوره کړي. ځکه نو دا برخه د فکر او عمل ترمنځ پُل جوړوي او انسان د باوقاره او بامعنا ژوند پر لور بيايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1) د الله درود دې پر هغه وي، وفرمايل:د فتنو په وخت کې د دوه کلن اوښ په شان واوسه؛نه داسې ملا ولره چې څوک درباندې سپاره شي،او نه داسې تي ولره چې څوک دې وشيدي.

2) وفرمايل: څوک چې خپل نفس په طمع وپوښي، ځان يې سپک کړی دی؛ او څوک چې د خپلو سختيو راز ښکاره کړي، ځان يې خوار کړی دی؛ او څوک چې خپله ژبه پر ځان واکمنه کړي، ځان يې بې ارزښته کړی دی.

3) وفرمايل: بخل ننګ دی، او ويره نيمګړتيا ده. او بېوزلي هوښيار سړی په دليل کې ګونګ کوي، او بېوزله انسان په خپل ښار کې هم پردی وي.

4) وفرمايل: ناتواني آفت دی، او زغم مېړانه ده، او زهد شتمني ده، او پرهېزګاري ساتونکې ډال دی، او قناعت او خوښي څومره ښه ملګری دی.

5) وفرمايل: پوهه ارزښتمن ميراث دی، او ادبونه تل تازه سينګار دی، او فکر رون هنداره ده.

6) وفرمايل: د هوښيار سړي سينه د هغه د راز صندوق دی، او خوشخويي د ملګرو پيدا کولو وسيله ده، او زغم د عيبونو پټوونکی قبر دی. او يا يې وفرمايل: پوښتنه کول د عيبونو د پټولو وسيله ده، او د ځانخوښ انسان دښمنان ډېر وي.

7) وفرمايل: صدقه ورکول ګټور درمل دي، او د بندګانو کړنې په دنيا کې، سبا به د هغوی مخې ته څرګندې شي.

8) وفرمايل: د انسان په ځانګړنو حيران شئ، چې په يوې ټوټې وازدې وينې، او په غوښه خبرې کوي، او په هډوکي اوري، او له يوه سوري ساه اخلي.

9) چې دنيا پر چا مخه کړي، د نورو نيکۍ هم هغه ته په عاريت ورکوي، او چې کله تري مخ واړوي، خپلې نيکۍ هم تري اخلي.

10) وفرمايل: له خلکو سره داسې چلند وکړئ، چې که مړه شئ، پر تاسو اوښکې تويې کړي، او که ژوندي وئ، په شوق درته راشي.

11) وفرمايل: که پر خپل دښمن برلاسی شوې، نو د هغه ښېنه د خپلې بريا شکرانه وګرځوه.

12) وفرمايل: تر ټولو ناتوانه خلک هغه دی چې د دوست پيدا کولو توان نه لري، او تر هغه هم ناتوانه هغه دی چې خپل دوستان له لاسه ورکړي.

13) وفرمايل: کله چې د پالونکي نښې څرګندې شي، نو د نعمتونو په ناسپاسۍ سره هغه له ځانه مه لرې کوئ.

14) وفرمايل: څوک چې خپلوان يې پرېږدي، پردي يې هرکلی کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

15) وفرمايل: هر دوکه خوړلی کس د ملامتی وړ نه وي.

16) وفرمايل: چاري داسي د تقدير تر واک لاندې دي، چې کله ناکله تدبير هم مرګ ته رسيږي.

17) له امام څخه وپوښتل شول چې د رسول خدا صلی الله علیه وآله دا وينا څه معنا لري چې فرمايي: خپل ويښتان رنګ کړئ او ځانونه د يهودو په څېر مه جوړوئ؟ هغه وفرمايل: پيغمبر صلی الله علیه وآله دا خبره هغه مهال کړې وه چې د اسلام پيروان لږ وو؛ خو نن چې اسلام خپور شوی او اسلامي نظام ټينګ شوی دی، نو هر څوک دې هغه څه وکړي چې خوښوي يې.

18) وفرمايل: حق يې سپک کړ، او د باطل مرسته يې هم ونه کړه.

19) وفرمايل: څوک چې د خپلو هيلو تر شا په بيړه ځغلي، مرګ به يې راپرځوي.

20) د ځوانمردانو له تېروتنو تېر شئ،ځکه ځوانمردي نه بنويږي، مګر دا چې د خدای د لطف لاس يې ببرته راپورته کوي.

21) ويره له نهيلۍ سره مل ده، او حِرص له محرومۍ سره يوځای دی؛ او فرصتونه د وريځو په شان تېرېږي، نو ښې فرصتونه غنيمت وګڼئ.

22) موږ يو حق لرو؛ که موږ ته راکړل شي، ښه، او که نه، نو د خپل حق د ترلاسه کولو لپاره به د اوښ پر شا سپاره شو او روان به شو، که څه هم زموږ د شپې مزل اوږد شي).*دا له نازکو او فصيح ويناوو څخه ده؛ يعنې که زموږ حق را نه کړل شي، نو موږ به خوار شو او اړ به شو چې د بنده په څېر د اوښ پر شا کښېنو*).

23) څوک چې خپل عمل يې کوم مقام ته ونه رسوي، د خپل ټبر ويارونه به يې هم کوم ځای ته ونه رسوي.

24) د لويو ګناهونو له کفارو څخه دا هم ده چې د خلکو فرياد ته ورسيږي او د مصيبت ځپلو زړونه ارام کړي.

25) ای د آدم زويه! کله چې ووينې الله درته ډول ډول نعمتونه در رسوي، حال دا چې ته ګناه کوې، نو وډار شه.

26) هېڅا هم څه په زړه کې پټ نه کړل، مګر دا چې د ژبې په لغزشونو او د څېرې په رنګ کې به يې ښکاره شي.

27) له خپل درد سره تر هغه وخته جوړ اوسه، څو چې له تا سره جوړ وي.

28) تر ټولو غوره زهد دا دی چې خپل زهد پټ وساتې.

29) کله چې ته ژوند شاته پرېږدې، مرګ درته مخامخ راځي؛ نو له مرګ سره لېدنه به څومره ژر وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

30) خبر اوسئ! خبر اوسئ! پر الله قسم، الله دومره پرده‌پوشي کړې چې ته ګومان کوې، بخښل شوی يې.

31) (له ایمان څخه وپوښتل شول، نو ویې ویل):

ایمان پر څلورو ستنو ولاړ دی :**صبر، یقین، عدل، او جهاد.**

صبر هم پر څلورو بنسټونو ولاړ دی :**شوق، ویره، زهد، او انتظار.**
نو څوک چې د جنت شوق ولري، شهوتونه يې کمپړي؛
او څوک چې د دوزخ له اوره وېرپړي، له حرامو ځان ساتي؛
او څوک چې په دنیا کې زهد غوره کړي، مصیبتونه ورته سپک ښکاري؛
او څوک چې د مرګ انتظار باسي، په نېکیو کې بیړه کوي.

یقین هم پر څلورو بنسټونو ولاړ دی :**ځیرک بصیرت، د حقیقتونو حکیمانه درک، د زمانې له پېښو عبرت اخیستل، او د پخوانیانو سمه لاره تعقیبول.**
نو څوک چې حقیقتونو ته په هوښیارۍ وګوري، حکمت په ښکاره وینې؛
او څوک چې حکمت په ښکاره وویني، عبرت پېژني؛
او څوک چې عبرت وپېژني، داسې دی لکه له تېرو خلکو سره چې يې ژوند کړی وي.

عدل هم پر څلورو بنسټونو ولاړ دی :**ژور فکر، ژوره او حقیقت ته رسېدلې پوهه، ښه قضاوت، او په زغم کې ټینګوالی.**
نو څوک چې سم فکر وکړي، د پوهې ژورو ته رسېږي؛
او څوک چې د پوهې حقیقت ته ورسېږي، د شریعت له صافې چینې څښي؛
او څوک چې صبرناک شي، په خپلو چارو کې به له حده نه اوړي؛
او د خلکو په منځ کې به په ښه نوم ژوند کوي.

جهاد هم پر څلورو بنسټونو ولاړ دی :**په نېکۍ امر کول، له بدۍ منع کول، په هر حال کې رښتینولي، او له فاسقانو سره دښمني.**
نو څوک چې په نېکۍ امر وکړي، د مؤمنانو پیاوړی ملاتړ دی؛
او څوک چې له بدیو منع وکړي، د منافقانو پوزه په خاورو لګوي؛
او څوک چې د جګړې په ډګر کې په رښتیا ټینګ ودریږي، هغه حق يې ادا کړی چې پر غاړه يې و؛
او څوک چې له فاسقانو سره د الله لپاره دښمني وکړي او د الله لپاره غوسه شي، الله به هم د هغه لپاره په قهر شي، او د قیامت په ورځ به يې خوشحال کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او **کفر** پر څلورو ستنو ولاړ دی :**دروغجنه پلټنه، جګړه او جدل، له حقه انحراف، او دښمني.**

نو څوک چې د وهم او دروغجني پلټنې پسې ولاړ شي، حق ته نه رسيږي؛

او څوک چې په شخړه او جګړه کې اخته شي، د حق له لیدو پرونديږي؛

او څوک چې د حق له لارې واوړي، نېکي به بده او بدي به نېکي وبولي، او په ګمراهۍ کې به ډوب شي؛

او څوک چې دښمني غوره کړي، د حق لاره پرې سخته کيږي، کارونه يې سختيږي، او له ستونزو خلاصون يې ګرانيږي.

او **شک** څلور برخې لري :**په خبرو کې جدل، ويره، دوه‌زړي کېدل، او د زمانې پېښو ته تسليمېدل.**

نو څوک چې جدل او شخړه خپل عادت وګرځوي، د هغه د تيارې شپې سهار نه راځي)*يعنې د شبهاتو له تيارو به ونه وځي*(؛

او څوک چې له هر څه وېرېږي، تل به شاته ځي؛

او څوک چې په شک او دوه‌زړتوب کې وي، د شيطان تر پښو لاندې به وځپل شي؛

او څوک چې د زمانې پېښو ته تسليم شي او د دنيا او آخرت تباهي ومني، دواړه جهانونه به له لاسه ورکړي.

32) نېک انسان له خپل نېک کاره هم غوره وي، او بد انسان له خپل بد کاره هم بدتر وي.

33) سخي اوسه، خو اسراف مه کوه؛ په ژوند کې حساب‌کوونکی اوسه، خو سخت‌ګير مه اوسه.

34) تر ټولو غوره بې‌نيازي د هيلو پرېښودل دي.

35) څوک چې د داسې کار په ترسره کولو کې بېړه وکړي چې خلک يې نه خوښوي، نو د هغه په اړه به داسې خبرې وشي چې هغوی پرې نه پوهيږي.

36) څوک چې هيلې يې اوږدې وي، کړنې يې هم ناپسندې وي.

37) امام چې روان و، د انبار د ښار خلک يې چې وليد، له خپلو اسونو ښکته شول او د هغه مخې ته منډې وهلې. امام ورته وويل: ولې داسې کوئ؟

هغوی وويل: دا مو عادت دی، پاچاهانو ته همداسې احترام کوو.

امام ورته وويل: قسم په خداي! د شام مشران له دې کار نه کومه ګټه نه اخلي، او دا کار يې په دنيا کې هم هېڅ نه زياتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه تکلیف ډېر بد دی چې وروسته يې عذاب وي، او هغه راحت ښه دی چې له هغه سره د دوزخ له اوره خلاصون وي.

38(امام خپل زوی حسن ته وویل: زویه! څلور خبرې له ما زده کړه (د ښه‌والي په اړه)، او څلور خبرې تل په یاد ولره (خبرتیاوې)، چې تر هغو پورې چې پرې عمل کوې، زیان به ونه ویني:

۱ ـ تر ټولو غوره شتمني عقل دی.
۲ ـ تر ټولو بده بې‌وزلي ناپوهي ده.
۳ ـ تر ټولو وېرونکې یوازیتوب ځان‌پسندي ده.
۴ ـ تر ټولو غوره د کورنۍ ارزښت ښه اخلاق دي.

بیا يې وویل:

۱ ـ له احمق سره ملګرتیا مه کوه، ځکه غواړي تا ته ګټه ورسوي، خو په پای کې تا ته زیان اړوي.
۲ ـ له بخیل سره ملګرتیا مه کوه، ځکه هغه به هغه شی هم درنه منع کړي چې ډېر ورته اړتیا لري.
۳ ـ له بدکار انسان سره ملګرتیا مه کوه، ځکه هغه به تا د ډېر لږ په بدل کې وپلوري.
۴ ـ او له دروغجن سره ملګرتیا مه کوه، ځکه هغه د سراب غوندې دی؛ لرې شیان به درته نږدې وښیي، او نږدې شیان به درته لرې ښکاره کړي.

39) هغه مستحب عمل چې د خداي قرب ته نږدې کوي،او واجب کار دلاسه ورکړي، نو ارزښت نه لري.

40) د عاقل ژبه د هغه د زړه تر شا وي، او د احمق زړه د هغه د ژبې تر شا وي.

41) د احمق زړه په خوله کې وي، او د عاقل ژبه په زړه کې وي.یعنې احمق بې‌فکره خبرې کوي، خو عاقل مخکې له زړه او فکر نه اجازه اخلي.

42(امام خپل یوه ملګري ته چې ناروغ و، وویل: الله دې دا ناروغي د دې سبب وګرځوي چې ستا ګناوې وبخښل شي. په خپله ناروغي کې ثواب نشته، خو دا د ګناهونو د کمېدو وسیله ګرځي.
ثواب (اجر) په هغو کارونو کې دی چې د انسان په ژبه، په لاس او په قدم ترسره کېږي. او خدای پاک د هر هغه بنده بې‌پروا بهشت ته داخلوي چې نیت يې ښه او دننه يې پاک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوی وایي: امام علي ـ رښتیا یې ویلي ـ چې ناروغي پاداش نه لري، بلکې ناروغي هغه شی دی چې انسان د خدای له خوا د بدلې (عوَض) وړ ګرځي. دا بدله د خدای د مهربانۍ له مخې وي، د هغو تکلیفونو په بدل کې چې بنده پرې اخته کیږي لکه ناروغي او مشکلات.
خو اجر او ثواب د هغه عمل په بدل کې دی چې بنده په خپله ترسره کوي. نو د دې دواړو ترمنځ توپیر شته، او امام په خپل ژور علم او پخې رایې سره دا حقیقت بیان کړی دی.

43(خدا دې خباب بن اَرت وبخښي او رحم پرې وکړي؛ هغه په خوښه مسلمان شو، په اطاعت او فرمانبرداریِ سره یې هجرت وکړ، په قناعت یې ژوند تېر کړ، له خدایه راضي و، او د مجاهد په شان یې ژوند وکړ.
44(خوشحال دې وي هغه څوک چې د قیامت یاد په زړه ساتي، د حساب‌ونې لپاره عمل کوي، په قناعت ژوند کوي، او له خدایه راضي وي.
45(امام وفرمایل: که زه په خپله توره د مؤمن پر پوزه ضربه هم وکړم چې له ما سره دښمني وکړي، بیا به هم زما دښمن نه شي.
او که د دنیا ټول مال منافق ته ورکړم چې زما دوست شي، بیا به هم زما دوست نه شي.
دا ځکه چې د خدای حکم داسې شوی، او د هغه د پیغمبر (ص) په ژبه دا خبره تېره شوې چې وې ویل:
»ای علي! مؤمن به هېڅکله له تا سره دښمني نه کوي، او منافق به هېڅکله له تا سره مینه نه لري«.

کلیک کړی او حدیث ته مراجعه وکړی د کتاب په لومړی برخه کې !

46(هغه ګناه چې وروسته دې پښېمانه کړي، تر هغه نېک کار ښه دی چې انسان پخپله ځان‌پسندیِ او غرور ته اړ کړي.
47(د انسان ارزښت د هغه د همت او لوړې ارادې په اندازه دی؛ د هغه رښتینولی د هغه د مروت او انسانیت په کچې معلومېږي؛ د هغه زړورتیا په دې اندازه ده چې څومره د ناموس او عزت دفاع احساس کوي؛ او د هغه پاک‌دامني د هغه د غیرت په اندازه ده.
48(بریا په ښه فکر کولو کې ده، او ښه فکر د سمه استفادې په پوهېدو کې دی، او د سم فکر بنسټ د راز ساتل دي.
49(د لوړي پر وخت د سخي (بزرګوار) له یرغل څخه ځان وساته، او د مړې شوې لوړي پر وخت د بد انسان له تېري څخه هم ځان وساته.
50(د خلکو زړونه تېښته کوي، خو هغه چا ته مخه کوي چې له هغوی سره نرمي او مهرباني وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

51) ستا عیبونه هغه وخت پټ وي چې دنیا له تا سره سمون ولري او پر تا ښه چلیږي.
52) تر ټولو ډېر د بخښنې مستحق هغه څوک دی چې د سزا ورکولو توان هم لري.
53) صبر دوه ډوله دی: صبر په هغه څه چې نه دې خوښیږي، او صبر په هغه څه چې خوښیږي.

54. هېڅ شتمني د عقل په شان نه ده، او هېڅ فقر د ناپوهۍ په شان نه دی. هېڅ میراث د ادب په شان نه دی، او هېڅ مرسته د مشورې په شان نه ده.
55. سخاوت هغه دی چې ته خپله لومړی ورکړه؛ ځکه هغه څه چې د غوښتنې په مقابل کې ورکول کیږي، یا د شرم له امله وي او یا د بدې خبرې د وېرې له امله.
56. شتمن سړی که په پردي وطن کې وي، لکه په خپل وطن کې وي؛ او بېوزلی که په خپل وطن کې وي، لکه پردی وي.
57. قناعت داسې شتمني ده چې هېڅکله نه ختمیږي.
58. مال او شتمني د شهوتونو ریښه ده.
59. هغه څوک چې تا ته خبرداری درکوي، لکه هغه دی چې تا ته خوشحالۍ درکوي.
60. هغه ژبه چې روزل شوې نه وي، د ناارامه حیوان په شان ده؛ که یې خلاص پرېږدې، نو تا به وچیچي.
61. عربی کتاب ته مراجعه وکړی!
62. کله چې خلک ستا ستاینه وکړي، ته یې لا ډېره ستاینه وکړه. او چې کله تا ته نیکي وکړي، ته ورته تر هغوی لا ډېره ښه وکړه.
په هر حال، اصلي او لوی اجر د هغه چا دی چې په نېکي او بخښش کې لومړی قدم واخلي.
63. شفاعت کوونکی د غوښتونکي لپاره لکه وزر دی.
64. د دنیا خلک داسې سپاره دي چې ویده دي، خو بیا هم روان دي.
65. چې دوستان له لاسه ورکړي، هماغه پردیوالی دی.
66. دا چې حاجت دې پوره نه شي، تر دې ښه ده چې له نااهله چا نه څه وغواړې.
67. په لږه بخښنه مه شرمیږه، ځکه ببخي نه ورکول تر دې هم بد دي.
68. پاکدامني د غریبۍ ښایست دی، او شکر د بېنیازۍ ښایست دی.
69. که هغه څه درنه پاتې شول چې غوښتل دې، نو په دې مه خپه کیږه چې څنګه یې.
70. ناپوه یا ډېر تیز وي، یا ډېر سست.
71. چې عقل پوره شي، خبرې کمې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

72. دنيا بدنونه زاړه کوي، خو ارمانونه تازه ساتي؛ مرګ نږدې کوي، خو هيلې اوږدوي. ځوک چې دنيا ته ورسيږي ستړی کيږي، او ځوک چې ور و نه رسيږي، په غم او تکليف کې وي.

73. ځوک چې ځان د خلکو لارښود جوړوي، هغه ته پکار ده چې تر نورو مخکې خپل ځان جوړ کړي، او د خبرو نه مخکې په عمل سره زده کړه ورکړي. ځکه ځوک چې خپل ځان ته ادب او زده کړه ورکوي، هغه د هغه چا نه ډېر د احترام وړ دی چې نورو ته ادب او زده کړه ورکوي.

74. انسان په هر سا سره چې اخلي، مرګ ته يو قدم نږدې کيږي.

75. هر څه چې شمېرل کيږي، يوه ورځ ختميږي، او هر څه چې ته يې په تمه يې، خامخا به راځي.

76. که ټولې پېښې يو شان واى، نو اخرنى به له لومړنى سره پرتله کېدله.

77.)ضرار بن ضمره ضبايي، چې د امام له يارانو څخه و، شام ته ولاړ او پر معاويه ورننوت.
معاويه ترې وغوښتل چې د امام د حالاتو په اړه څه ووايي. هغه وويل: علي مې داسې وليد چې شپه خپلې پردې غوړولې وې، او هغه په محراب کې ولاړ و، ږيره يې په لاس کې نيولې وه، لکه مارچيچى خپل ځان تاوولو، او په غمجن زړه يې ژړل او ويل يې(:اى دنيا!!
اى حرامې دنيا! له ما څخه لرې شه، ايا ته راته ځان سينګاروې؟
او که پر ما مين شوې يې، څو يوه ورځ زما په زړه کې ځاى ونيسې؟ هېڅکله دې داسې نه وي!
بل ځوک وغولوې، ځکه زه په تا کې هېڅ اړتيا نه لرم. ما ته ته دري طلاقه کړې يې، داسې طلاق چې بېرته ستنېدنه پکې نشته.
ستا د ژوند موده لنډه ده، ستا ارزښت لږ دى، او ستا هيله ټيټه ده.
آه! د توښې له کموالي، د لارې له اوږدوالي، د منزل له لېرېوالي، او د قيامت د ورځې له ستر عظمت څخه!

78. او د شامي سړي د پوښتنې په ځواب کې يې وفرمايل: (شامي سړي وپوښتل: آيا شام ته زمونږ تلل د الهي قضا او قدر له مخې دي؟ امام هغه ته په اوږده او فصيحه وينا ځواب ورکړ، چې مونږ يې يوه برخه غوره کړې ده(:

افسوس پر تا! ښايي ته لازمي قضا او حتمي قدر ګومان کړى وي؟
که داسې واى، نو ثواب او عقاب، الهي زېرى او خبردارى، ټول به عبث وو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله سبحانه وتعالی خپلو بندګانو ته امر کړی، په داسې حال کې چې هغوی اختیار لري،
او له بدیو یې منع کړي، څو ووپرېږي.
اسان احکام یې واجب کړي، او سخت څه یې پر هغوی نه دي لازم کړي.
د لږو اعمالو لپاره یې ډېر اجر ټاکلی دی.

الله د بندګانو په نافرمانۍ نه مغلوبېږي،
او په زور او جبر اطاعت نه تر لاسه کېږي.
پیغمبران یې د لوبې او ټوکې لپاره نه دي رالېږلي،
او آسماني کتابونه یې بندګانو ته بېځایه نه دي نازل کړي.
او آسمان، ځمکه، او هغه څه چې د دواړو تر منځ دي، بې موخې نه دي پیدا کړي.

دا د هغو کسانو ګومان دی چې کافران شوي دي؛
نو هلاکت دی د هغه اور له پاره چې کافرانو ته تیار شوی دی.

79. حکمت هر چېرې وي، هغه زده کړه؛کله ناکله حکمت د منافق په سینه کې وي، او هغه بې قراره وي،تر هغه چې حکمت تري ووځي او د مؤمن په سینه کې له خپلو همرازانو سره آرام ومومي.
80. حکمت د مؤمن ورکه شوې شتمني ده؛ حکمت زده کړه، که څه هم د منافقانو له خوا وي.
81. د هر انسان ارزښت د هغه د پوهې او تخصص په اندازه دی(.دا له هغو ویناوو څخه ده چې هېڅ بیه ورته نه شي اټکل کېدای، هېڅ حکمت یې سیال نه دی، او هېڅ خبره یې لوړې مرتبې ته نه رسېږي)
82. تاسو ته په پنځو شیانو سپارښتنه کوم؛ که د دغو لپاره خپل اوښان په تېزۍ وچلوئ او د سفر سختي وزغمئ، هم وړ دي:
له تاسو څخه دې هېڅوک له خپل پالونکي پرته پر بل چا هیله ونه ټړي،
او له خپلې ګناه پرته دې له بل څه ونه وېرېږي.
که له چا څه وپوښتل شي او هغه نه پوهېږي، نو شرم دې نه کوي او و دې وایي:
«نه پوهېږم.»
او هېڅوک دې د هغه څه په زده کړه کې چې نه یې پوهېږي، شرم ونه کړي.
او پر تاسو دې صبر وي؛ ځکه صبر د ایمان لپاره داسې دی لکه سر د بدن لپاره،
او ایمان بې له صبره داسې دی لکه بېسره بدن، چې هېڅ ارزښت نه لري.
83. (هغه چاته چې د امام په ستاینه کې یې مبالغه وکړه، او هغه څه یې چې په زړه کې وو، ونه ویل)، وفرمایل:
زه له هغه څه کم یم چې تا په ژبه وویل، او له هغه څه لوړ یم چې ته یې په زړه کې لرې.
84. هغه کسان چې د توري او جګړې له ډګره پاتې کېږي، شمېر یې ډېر پایدار وي او اولادونه یې زیات وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

85. څوک چې د «نه پوهيږم» له ويلو مخ اړوي، هلاکت او تباهۍ ته رسيږي.

86. د بوډا اند او تدبير ماته د ځوان له هڅې او زور څخه ډېر خوښ دی.
(او دا هم روايت شوی چې: د زړو تجربه د ځوانانو له جنګي چمتووالي غوره ده)

87. زه د هغه چا په حال حيران يم چې استغفار کولای شي، خو بيا هم نااميده وي.

88. (امام باقر له حضرت اميرالمؤمنين څخه روايت کړی دی)
په ځمکه کې دوه شيان د خدای له عذابه د امان سبب وو: له هغو څخه يو پورته کړل شو، نو بل پاتې شوی ومومئ او هغه ته منګولې ولګوئ.
هغه امان چې پورته کړل شو، رسول الله و؛ او پاتې امان استغفار کول دي.
ځکه لوی خدای رسول الله ته وفرمايل: «الله هغوی ته عذاب نه ورکوي، څو ته د هغوی په منځ کې يې، او نه هغوی ته عذاب ورکوي تر هغه چې هغوی استغفار کوي)«.د معنا دا ډول راايستل د قرآن له آيتونو څخه د معنا له تر ټولو ښکلو لطافتونو او د وينا له نازکو ظرافتونو څخه دي(.

89. څوک چې خپل او د خدای ترمنځ اړيکه سمه کړي، خدای به د هغه او د خلکو ترمنځ چارې سمې کړي.
او څوک چې د آخرت چارې سمې کړي، خدای به يې د دنيا چارې سمې کړي.
او څوک چې د خپل نفس په دننه کې يو نصيحت کوونکی ولري، خدای به پر هغه يو ساتونکی مقرر کړي.

90. بشپړ فقيه هغه دی چې خلک د خدای له ښښنې نه ناهيلي کوي،او نه يې د هغه له رحمت څخه ناهيلي کوي،او نه يې د خدای له ناڅاپي عذابه خوندي ګڼي.

91. دا زړونه هم د بدنونو په څېر ستړي او مړاوي کيږي؛نو د زړونو د تازه‌والي لپاره د حکمت له ښکلو ويناوو لټه وکړئ.

92. تر ټولو بې‌ارزښته پوهه هغه ده چې يوازې پر ژبه وي،او تر ټولو غوره علم هغه دی چې د انسان په وجود او اعمال کې وی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

93. له تاسو دې هېڅوک داسې ونه وايي: «خدايه! زه تا ته له فتنې پناه درورم»؛
ځکه هېڅوک نشته چې په کومه فتنه کې نه وي.
خو څوک چې غواړي خدای ته پناه يوسي، نو له هغو ازموينو دې پناه يوسي چې
ګمراه کوونکې وي.
ځکه الله سبحانه وتعالی فرمايي: «پوه شئ چې ستاسو مالونه او ستاسو اولادونه
فتنه دي».
د دې آيت معنا دا ده چې خدای انسانان د هغوی په مالونو او اولادونو ازمېيي،
تر څو هغه څوک وپېژندل شي چې له خپلې روزی ناخوښ وي، او هغه څوک هم
چې خوښ وي؛
سره له دې چې خدای د هغوی له حاله تر هغوی ډېر ښه خبر دی؛
خو دا ځکه چې هغه کړنې څرګندې شي چې د ثواب يا عذاب وړ ګرځي.
ځکه ځينې خلک زوی خوښوي او لور نه خوښوي،
او ځينې نور د مال ډېروالی خوښوي او د پانګې له کموالي اندېښمن وي.
»زه وايم: دا له هغو ژورو او پېچلو تفسيرونو څخه دی چې له هغه حضرت څخه
اورېدل شوی دی«.

94.)له امام څخه وپوښتل شول: «خير» څه شی دی؟ هغه وفرمايل(:
خير دا نه دی چې ستا مال او اولاد ډېر شي، بلکې خير دا دی چې ستا پوهه زياته
شي، او ستا زغم او بردباري لوی او درونده ارزښت ولري، او د خپل پالونکي په
عبادت کې د خلکو په منځ کې سرفراز واوسې.
نو که نېک کار وکړې، د خدای شکر پر ځای کړې، او که بد دې وکړل، له خدايه
بښنه وغواړې.
په دنيا کې خير يوازې د دوو کسانو لپاره دی:يو هغه ګناهکار چې په توبه سره
جبران وکړي،او بل هغه نېککار چې په نېکو چارو کې بېړه وکړي.

95. له تقوا سره هېڅ عمل لږ نه دی؛او څنګه به لږ وي هغه څه چې قبول شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

96. پیغمبر ته تر ټولو نږدې خلک هغه دي چې د هغه څه په اړه ډېر پوه وي چې پیغمبر راوړي دي.

بیا یې دا آیت تلاوت کړ:

»بېشکه ابراهیم ته تر ټولو نږدې خلک هغه دي چې د هغه پیروي یې کړې ده، او همدا مؤمنان چې له دې وروستي پیغمبر سره یوځای شوي دي) «.بیا یې وفرمایل(:

د محمد (ص) دوست هغه څوک دی چې د خدای اطاعت وکړي، که څه هم د هغه د خپلوی تړاو لرې وي؛

او د محمد (ص) دښمن هغه څوک دی چې د خدای نافرماني وکړي، که څه هم نږدې خپلوان یې وي.

97. (په حروراء کی د یوه سړي غږ یې واورېد چې د شپې لمونځ یې کاوه او قرآن یې تلاوت کاوه؛) وفرمایل:

له یقین سره ویده کېدل، له شک او تردید سره تر لمانځه غوره دي.

98. کله چې کوم روایت واورئ، هغه درک کړئ او پرې عمل وکړئ، نه دا چې یوازې یې واورئ او نقل یې کړئ؛ځکه د علم روایت کوونکي ډېر دي، خو عمل کوونکي یې لږ دي.

99. (واورېدل یې چې یو کس وایي: «إنّا لله وإنّا إليه راجعون») وفرمایل:دا زمونږ دا وینا چې وایو: «مونږ ټول د خدای یو» د بندګۍ اقرار دی،او دا چې وایو: «زمونږ ببرته ورتګ د هغه لورې ته دی«دا د خپل فنا او له منځه تلو اعتراف دی.

100. ته ما تر هغوی ښه پېژنې، او زه خپل ځان تر هغوی ډېر ښه پېژنم؛خدایه! ما له هغه څه څخه غوره وګرځوه چې دوی یې ګومان کوي، او هغه څه چې دوی نه پوهېږي، ما ته وبښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(101) د خلکو د اړتياوو پوره کول په درښيو شيانو پرته نه پايداريږي:هغه وړوکی ګڼل، تر څو پخپله لوی ښکاره شي؛پټ ساتل، تر څو پخپله څرګند شي؛او په پوره کولو کې يې بيړه کول، تر څو خوندور او ګوارا وي.

(102) پر خلکو به داسې زمانه راشي چې بې له سخن‌چين څخه بل څوک محترم ونه ګڼل شي،او بې له فاسق او هرزه بدکاره څخه له بل چا سره خوښي ونه شي،او بې له عادل څخه بل څوک بې‌وسه ونه ګڼل شي.په هغه زمانه کښله اړمنو سره مرسته تاوان ګڼل کيږي،او له خپلوانو سره اړيکه د منت اېښودلو وسيله ګرځي،او عبادت پر خلکو د برتري غوښتلو يو ډول بلل کيږي.په هغه وخت کې به حکومتد ښځو په مشوره،د کوچنيانو په قومنده،او د خواجه‌ګانو په تدبير اداره کيږي.

(103) (امام پر خپل بدن وصله‌لرونکي«بخيه لرونکی» کمېس اغوستی و، يو چا وپوښتل: ولې وصله‌لرونکي کمېس اغوندې؟) او پر هغه دې د خدای درود وي، وفرمايل:زړه په هغه سره عاجز او فروتن کيږي، او نفس رامېږي،او مؤمنان ترې د ځان لپاره بېلګه اخلي.حرامه دنيا او آخرت دوه بېلابېل دښمنان دي، او دوه له يو بل څخه جلا لارې دي.نو څوک چې دنياپال وي او له هغې سره مينه وکړي، له آخرت سره به کينه ولري او دښمني به ورسره وکړي.او دغه دواړه د ختيځ او لوېديځ په څېر له يو بل څخه لرې دي؛او څوک چې د دې دواړو پر لوري روان وي، هر کله چې يوې ته نږدې شي، له بلې څخه ليرې کيږي.او دغه دواړه تل يو بل ته زيان رسوي.

(104

(له نوف بکّالي څخه روايت شوی: د يوې شپې په ترڅ کې مې امام علي وليد چې د عبادت لپاره له بستر څخه راپاڅېد، ستورو ته يې وکتل، او ماته يې وفرمايل: ويده يې که ويښ؟ ما وويل: ويښ يم. امام وفرمايل(:ای نوف! خوشالي دې وي د هغو کسانو په حال چې له حرامې دنيا يې سترګې پټې کړې دي، او زړونه يې آخرت ته ټرلي دي؛ هغوی داسې خلک دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ځمکه يې خپل تخت ګرځولې،
خاوره يې بستر،
اوبه يې خوشبويي،
او قرآن يې خپل لاندې پوښ،
او دعا يې خپل برنی لباس ګرځولی دی؛
او له دنيا سره يې د عيسی مسيح په طريقه چلند کړی دی.

ای نوف! بېشکه داوود پيغمبر (چې د خدای درود دې پرې وي) هم د شپې په همدې وخت کې راپاڅېده، او ويل به يې:
»دا هغه وخت دی چې د هر بنده دعا پکې قبليږي، مګر د مالياتو اخيستونکي، جاسوس، د شپې ګرځېدونکي، او د ظالم حکومت د ساتونکو او انتظامي ځواکونو، يا د طنبور او ډول وهونکي«.

»او ويل شوي دي: عرطبه ډول دی، او کوبه طنبور دی«.

(105) بېشکه الله پر تاسو ځينې واجبات لازم کړي دي، نو هغه مه ضايع کوئ؛او ستاسو لپاره يې پولې ټاکلې دي، نو له هغو مه اوړئ.او له ځينو شيانو يې منع کړي ياست، نو د هغو حرمت وساتئ.او ځينوشيانوپه اړه چوپ پاتې شوی دی، خو نه د هېرېدنې له امله؛نو خپل ځانونه د هغو په باب په سختۍ او تکليف کې مه اچوئ.

(106) خلک هېڅکله د دنيا د سمون لپاره د دين کوم څه نه پرېږدي،مګر دا چې الله به هغوی په تر هغه ډېر زيانمن څه کې راګير کړي.

(107) څومره ډېر داسې عالمان شته چې خپله ناپوهي يې له پښو غورځوي،حال دا چې پوهه يې ورسره وي، خو هېڅ ګټه ورته نه رسوي.

(108) د انسان په دننه رګونو کې د غوښې يوه ټوټه ځوړنده ده، چې د هغه له ټولو دنننيو غړيو تر ټولو عجيبه غړی دی، او هغه زړه دی؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه کې د حکمت ځینې چارې شته، او داسې نور څه هم پکې شته چې له هغه سره توپیر لري.

نو که په زړه کې هیله پیدا شي، طمع یې سپک او خوار کړي؛

او که طمع پرې یرغل وکړي، حرص یې تباه کړي؛

او که ناامیدي پرې غالبه شي، حسرت یې له پښو وغورځوي.

که غوسه شي، کینه یې زیاته شي او آرام نه شي؛

او که خوښۍ ته ورسیږي، ځان ساتنه هېره کړي.

او که ویره پرې راخوره شي، د ځان ژغورنې هڅه یې بوخت وساتي.

او که پراخي او اساني ورپه برخه شي، غفلت پرې برلاسی شي؛

او که مال تر لاسه کړي، بېنیازي یې سرکښۍ ته وباسي.

او که کومه ناوړه مصیبت پرې راشي، بېصبري یې رسوا کړي؛

او که په ببوزلۍ اخته شي، بلاوې یې بوخت وساتي.

او که لوږه یې بېتابه کړي، کمزوري یې له پښو وغورځوي؛

او که ډېر مور شي، همدا مړښت یې تاوانمن کړي.

نو هر ډول سستي او کُندوالی هغه ته زیان رسوي،

او هر ډول تندي او تېزي ورته فساد زیږوي.

(109) مورِ منځنۍ تکیهگاه یو؛ هغه کسان چې شاته پاتې شي مورِ ته رارسیږي، او هغه کسان چې مخکې تللي وي ببرته مورِ ته راګرځي.

(110) د خدای امر نه شي ټینګېدای مګر د هغه چا له خوا چې د حق په پلي کولو کې نرمي او سستي ونه کړي، سازشکار نه وي، او د خپلو هوسونو پیروي ونه کړي.

(111) (کله چې د صفین له جګړې څخه راستون شول، د امام له ګرانو ملګرو څخه یو، سهل بن حنیف وفات شو.) او هغه ته د خدای درود وي، وفرمایل: که یو غر زما سره مینه وکړي، نو ټوټې ټوټې به شي. (یعنې مصیبتونه به ژر هغه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راورسيږي، ځکه دا د پرهيزګارانو او د خدای د غوره بندګانو سرنوشت دی.
همدا مطلب په حکمت ۱۱۲ کې هم راغلی دی.)

(112 هر څوک چې زمور، د پيغمبر د اهل بيتو سره مينه لري، نو بايد فقر د زغرو په څېر د ځان جامه وګرځوي. (يعنې بايد د بېلابېلو محروميتونو لپاره چمتو وي.) «د دې وينا نور تفسيرونه هم شوي دي چې دلته د يادولو ځای نه لري».

(113 له عقل څخه ګټوره پانګه نشته، له ځان خوښونې څخه وپروونکې يوازيتوب نشته، له لېرې انديشې څخه غوره عقل نشته، له تقوا څخه لوړه بزرګي نشته، له ښه اخلاقو څخه ښه ملګرتيا نشته، له ادب څخه غوره ميراث نشته، له الهي توفيق څخه غوره لارښود نشته، له نېکو اعمالو څخه غوره سوداګري نشته، له الهي ثواب څخه لويه ګټه نشته، له فکر کولو څخه غوره پارسايي نشته، له واجباتو د ادا کولو څخه غوره عبادت نشته، له حيا او صبر څخه غوره ايمان نشته، له تواضع څخه غوره خپلوي نشته، له پوهې څخه لوړه شرافت نشته، له زغم څخه لوړه عزت نشته، او له مشورې څخه ډاډمن ملاتړ نشته.

(114 او هغه ته د خدای درود وي، وفرمايل: کله چې نېکي پر زمانه او خلکو غالبه شي، که څوک پر بل بد ګومان وکړي، په داسې حال کې چې له هغه څخه کوم بد کار نه وي ښکاره شوی، نو هغه ظالم دی؛ او کله چې بدي پر زمانه او خلکو غالبه شي، که څوک پر بل ښه ګومان وکړي، نو خپل ځان يې غولولی دی.

(115 (يو کس له امام څخه وپوښتل: ستاسو حال څنګه دی؟) حضرت وفرمايل: د هغه حال به څنګه وي چې په خپل بقا کې ناپايدار دی، په روغتيا کې د آفتونو تر ګوابښ لاندې دی، او هلته چې ځان هوسا ګڼي، مرګ يې را رسېږي!

(116 ډېر داسې کسان دي چې د ورکړل شويو نعمتونو له امله په دام کې لوېږي، د ګناهونو د پټولو له امله غولېږي، او د ستاينې له امله ازمايل کېږي؛ او خدای هېڅ څوک د مهلت ورکولو په څېر نه دي ازمويلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(117) دوه کسان زما له امله هلاک شول: یو افراطي دوست او بل بد ویونکی دښمن.

(118) د فرصت له لاسه ورکول د پښېمانۍ سبب ګرځي.

(119) حرامه دنیا د زهرجن مار په څېر ده؛ پوستکی یې نرم دی خو دننه وژونکي زهر لري؛ ناپوه غولېدلی انسان هغې ته ورماتېږي، خو هوښیار او عاقل تري ځان ساتي.

(120) (له قریشو څخه پوښتنه وشوه) او هغه ته د خدای درود وي، وفرمایل: بنی مخزوم د قریشو خوشبویه ګل دی؛ مور د هغوی د سړیو خبري اورېدل خوښو، او د هغوی له ښځو سره واده کول هم خوښو. خو بنی عبد شمس ډېر لېرې اندیښونکي دي او د مال او اولاد په ساتنه کې ډېر پیاوړي دي؛ له همدې امله بدګومانه او بخیل دي. او مور (بنی هاشم) هغه څه چې لرو ډېر ورکوونکي یو او د دین په لار کې د ځان قربانولو لپاره ډېر سخاوتمند یو. هغوی شمېر کې زیات دي خو ډېر مکار او بدرنګه دي، او مور ډېر فصیح، خیر غوښتونکي او خوش رویه یو.

(121) د دوو عملونو ترمنځ څومره لوی واټن دی: هغه عمل چې خوند یې له منځه ځي خو سزا یې پاتې کېږي، او هغه عمل چې کړاو یې تېرېږي خو ثواب یې تلپاتې وي!

(122) (کله چې د جنازې تر شا روان و او واورېدل چې یو سړی خاندي) وفرمایل: ګواکي مرګ یوازې پر نورو لیکل شوی او حق یوازې پر مور واجب شوی دی؛ او داسې ښکاري لکه دا مړي چې مسافر وي او ژر به بېرته راستانه شي، حال دا چې مور یې بدنونه قبرونو ته سپارو او میراث یې خورو. ګواکي مور د هغوی له مرګ وروسته تلپاتې یو! آیا داسې ده چې د هر نصیحت کوونکي، که ښځه وي که سړی، نصیحت هېر کړو او ځان د بلاوو او آفتونو د غشو هدف وګرځوو؟

(123) نېکمرغه دی هغه څوک چې ځان کوچنی ګڼي، کسب او کار یې پاک وي، روح یې پاک وي او اخلاق یې ښه وي؛ د خپل ژوند له اړتیاوو څخه زیات مال د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای په لار کې ورکوي، ژبه له زیاتې خبرې ساتي، خلک د هغه له ازاره خوندي وي، د پیغمبر سنت ورته بسنه کوي او د خدای په دین کې بدعت نه راولي. (ځینې کسان حکمت ۱۲۲ او ۱۲۳ له پیغمبر څخه هم نقل کړي دي.)

(124) د ښځې غیرت د کفر سبب ګرځي، او د سړي غیرت د هغه د ایمان نښه ده.

(125) اسلام داسې درپېژنم چې له ما مخکې هیڅا داسې نه دی پېژندلی. اسلام د خدای پر وړاندې تسلیمېدل دي؛ تسلیمېدل یقین دی؛ یقین رښتینی باور دی؛ رښتینی باور سمه اقرار دی؛ سمه اقرار د مسؤلیتونو ادا کول دي؛ او د مسؤلیتونو ادا کول د دین د احکامو عملي کول دي.

(126) زه د بخیل له حاله حیران یم؛ هغه د هغه فقر پر لور منډه وهي چې تري تښتي، په دنیا کې د ببوزلو په شان ژوند کوي خو په آخرت کې د شتمنو په شان محاسبه کېږي. او زه د متکبر له حاله حیران یم چې پرون بې ارزښته نطفه وه او سبا به بدبویه مړی شي. او زه د هغه چا له حاله حیران یم چې د مخلوقاتو پیدایښت ویني خو د خدای په وجود کې شک کوي! او زه د هغه چا له حاله حیران یم چې مړي ویني خو مرګ یې هېر کړی دی. او زه د هغه چا له حاله حیران یم چې بیا راژوندي کېدل انکاروي، حال دا چې لومړنی پیدایښت ویني. او زه د هغه چا له حاله حیران یم چې فنا کېدونکی کور ابادوي خو تلپاتې ځای یې هېر کړی دی.

(127) څوک چې په عمل کې کوتاهي وکړي، په غم اخته کېږي؛ او هغه څوک چې له خپل مال او ځان څخه د خدای په لار کې برخه نه لري، خدای ته یې اړتیا نشته.

(128) په پیل کې ځانونه پټ کړئ او په پای کې یې څرګند کړئ؛ ځکه له بدنونو سره به هماغه وکړي لکه له د ونو له پانو سره: پیل یې سوځوي او پای یې بیا راشنه کوي.

(129) د پروردګار سترتیا ستا په نظر کې مخلوقات کوچني ښکاره کوي.

(130) (کله چې امام د صفین له جګړې راستون شو او د کوفې د دروازې شاته هدیرې ته ورسېد، مړو ته یې مخ کړ) وفرمایل: ای د وحشتناکو کورونو اوسېدونکو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای د تشو محلّو او تیارو قبرونو اوسېدونکو! ای د خاورې ویده کسانو! ای پردیو، ای یوازیتوب ته پرېښودل شوو، ای وېرېدلو! تاسې زمونږ نه مخکې لاړئ او مونږ به هم ستاسو پسې راشو او درسره به یوځای شو. خو ستاسو کورونه نور خلک پکې اوسېږي؛ ستاسو ښځو له نورو سره واده وکړ؛ او ستاسو مالونه د نورو ترمنځ ووېشل شول. دا هغه خبر دی چې مونږ یې لرو؛ نو تاسو څه خبر لرئ؟ (بیا خپلو ملګرو ته مخ کړ او ویې فرمایل:) پوه شئ، که هغوی ته د خبرو اجازه ورکړل شوې وای، تاسو ته به یې ویل چې تر ټولو غوره توښه تقوا ده.

(131 (یو سړی یې واورېد چې دنیا بدوي) وفرمایل: ای د دنیا بد ویونکي! ته پخپله د دنیا په فریب غولېدلی یې او د هغې په باطلونو تېر ایستل شوی یې! ته خپله د دنیا فریفته یې او بیا یې بدوې؟ آیا ته په دنیا کې جرم کړی دی که دنیا درسره ظلم کړی دی؟ دنیا کله تا ګمراه کړ او په کوم وخت کې یې تا وغولول؟ آیا د خپلو پلارونو په قبرونو چې خاورې شوي دي، یا د خپلو میندو په آرام ځایونو چې تر خاورو لاندې دي؟ آیا ته په خپلو لاسونو ناروغان درمل کړي او پالنه دې یې کړې ده او پر بستر دې ویده کړي دي؟ آیا د هغوی د شفا غوښتنه دې کړې او له طبیبانو دې ورته دوا غوښتې ده؟ هغه سهار چې ستا دوا هغوی ته ګټه ونه کړه، ستا ژړا یې هم ګټه ونه کړه، ستا وېره یې هم مرسته ونه کړه، او هغه څه چې ته یې غوښتل تر لاسه نه شول، او په خپل ځواک دې ونه شو کړای چې مرګ تر یې لرې کړې. دنیا تا ته د هغوی حال مثال وګرځاوه او د هغوی په قبرونو یې ستا خپل قبر در وښود. دنیا د ربښتینو لپاره د ربښتینولې کور دی، د دنیا پېژندونکو لپاره د روغتیا کور دی، د توښې راټولوونکو لپاره د بې اړتیاې کور دی، او د پند اخیستونکو لپاره د عبرت ځای دی. دنیا د خدای د دوستانو د سجدو ځای دی، د الهي ملایکو د لمانځه ځای دی، د خدای د وحي د نازلېدو ځای دی، او د خدای د دوستانو د سوداګرۍ ځای دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پکې يې د خدای رحمت تر لاسه کړ او جنت يې وګاټه. نو څوک دنيا بدوي؟ حال دا چې هغې خپله د بې ثباتۍ اعلان کړی او ويلي يې دي چې پاتې کېدونکې نه ده، او د خپل او د خپلو اوسېدونکو د فنا خبر يې ورکړی دی. هغې د خپلو بلاوو له لارې بلاوې ښکاره کړې او د خپلو خوشاليو له لارې خوشالي ورکړه. شپه په سلامتۍ تېره شوه خو سهار يې له دردناکې پېښې سره راښکاره شو، څو خلک هيله مند کړي، وويروي او خبرداری ورکړي. نو ځينې خلک د سهار په وخت د پښېمانۍ له امله دنيا بدوي، او ځينې نور د قيامت په ورځ يې ستايي. دنيا هغوی ته حقايق ور په ياد کړل او هغوی هم ياد کړل؛ د پېښو کيسې يې ورته وکړې او هغوی يې تصديق کړې؛ نصيحت يې وکړ او هغوی ترې پند واخيست.

(132) د خدای يوه فرښته ده چې هره ورځ غږ کوي: وزېرئ د مړينې لپاره، راټول کړئ د فنا کېدو لپاره، او جوړ کړئ د ورانېدو لپاره.

(133) دنيا د تېرېدو ځای دی، نه د پاتې کېدو؛ او خلک پکې دوه ډلې دي: يوه هغه چې ځان يې وپلوره او تباه شو، او بله هغه چې ځان يې وپېره او آزاد شو.

(134) دوست هغه وخت ربښتينی دوست دی چې د خپل ورور حقونه په درې حالاتو کې وساتي: د ستونزو په وخت کې، د هغه د نه حضور پر مهال، او د هغه له مرګ وروسته.

(135) چا ته چې ځلور شيان ورکړل شي، له ځلورو شيانو به بې برخې نه شي: د دعا سره د قبوليت ځخه، د توبې سره د منل کېدو ځخه، د استغفار سره د ګناه د بښنې ځخه، او د شکر سره د نعمت د زياتوالي ځخه.

(136) لمونځ د هر پرهيزګار د خدای ته د نږدې کېدو وسيله ده، حج د هر ناتوان جهاد دی. هر څه زکات لري او د بدن زکات روژه ده، او د ښځې جهاد ښه مېړه پالنه ده.

(137) روزي د صدقې په ورکولو راښکته کړئ.

(138) څوک چې د خدای په ثواب باور ولري، په بخښش کې سخاوتمند وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(139) الهي مرسته د اړتيا په اندازه نازليږي.

(140) څوک چې منځلاري وکړي، بېوزله نه کيږي.

(141) د ښځو او اولادونو کمښت له دوو آراميتا د ژوند څخه يوه ده.

(142) ملګرتيا کول، نيمه د پوهی نشه ده.

(143) ډېر غم خوړل د زړښت نشه دی.

(144) صبر د مصيبت په اندازه نازليږي؛ او څوک چې د مصيبت پر مهال بې تابي وکړي او خپل ځان ووهي، اجر يې له منځه ځي.

(145) ډېر داسې روژه نيوونکي دي چې له خپلې روژې پرته له لوږې او تندې بل څه نه ترلاسه کوي، او ډېر داسې د شپې عبادت کوونکي دي چې له خپل عبادت پرته له ستړيا او بې خوبی بل څه نه ترلاسه کوي! نو د هوښيارانو خوب او د هغوی افطار څومره ښه دی!

(146) خپل ايمان د صدقې په ورکولو وساتئ، خپل مالونه د زکات په ورکولو خوندي کړئ، او د بلاوو څپې په دعا سره له ځانه لرې کړئ.

(147) (کمېل بن زياد وايي: امام زما لاس ونيو او د کوفې هديرې ته يې بوتلم، بيا يې ژوره آه وکړه او ويې فرمايل:) ای کمېل بن زياد! دا زړونه د لوښو په څېر دي، غوره يې هغه دي چې ډېر څه پکې ځايېږي. هغه څه وساته چې درته وايم: خلک درې ډلې دي: الهي عالم، د خلاصون پر لار زده کوونکی، او داسې خلک لکه مچان چې د باد او طوفان له مخې ګرځي او سرګردانه وي، د هر غږ پسې ځي او د هر باد سره خوځېږي؛ نه يې د علم له رڼا څخه نور اخيستی او نه يې ټينګې پناه ته پناه وړې ده.

ای کمېل! علم له مال څخه غوره دی، ځکه علم ستا ساتونکی دی خو مال ته ته ساتونکی يې؛ مال د ورکړې سره کمېږي خو علم د ورکړې سره زياتېږي؛ او هغه مقام چې د مال له لارې تر لاسه شي د مال په له منځه تلو سره له منځه ځي.

ای کمېل بن زياد! د ربښتيني علم پېژندنه يو دين دی چې انسان پرې ثواب تر لاسه کوي؛ په ژوند کې پرې د خدای اطاعت کوي او له مرګ وروسته ښه نوم پرې پاتې کيږي. علم حاکم دی او مال محکوم. ای کمېل! د مال راټولوونکي بې تقوا خلک مړه دي که څه هم په ظاهره ژوندي وي؛ خو عالمان تر هغه وخته ژوندي وي چې دنيا پاتې وي. بدنونه يې که څه هم په خاورو کې پټ دي خو ياد يې په زړونو کې ژوندی دی. پوه شه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته (خپل مبارک سینه ته یې اشاره وکړه) ډېر علم نغښتی دی؛ کاش داسې کسان مې موندلی وای چې دا یې زده کړی وای. هو، ځینې تیزهوشه کسان پیدا کیږي خو د باور وړ نه وي؛ دین د دنیا وسیله ګرځوي او د خدای نعمتونه د بندګانو پر وړاندې او الهي برهانونه د خدای د دوستانو پر وړاندې د فخر وسیله ګرځوي. یا داسې خلک چې د حق د وړونکو تابع وي خو د حقیقت په پېژندنه کې ژوره پوهه نه لري، نو د لومړي شک په راپیدا کېدو سره یې زړونه په شک اخته کیږي؛ نو نه دا او نه هغه د ډېر علم د زده کړې وړ دي. یا داسې څوک چې د لذتونو پسې ډېر ځغلي او ځان یې شهوت ته سپارلی وي، یا داسې څوک چې د مال راټولولو په حرص کې ډوب وي؛ له دې کسانو هېڅ یو د دین ساتنه نه شي کولای او ډېر د څرېدونکو څارویو په څېر دي. همداسې علم د عالمانو په مرګ سره مري.

هو، ای خدایه! ځمکه هېڅکله د خدای له حجته تشه نه وي؛ داسې څوک چې د خدای لپاره په څرګند دلیل ودریږي، یا ښکاره او پېژندل شوی وي او یا د وېرې له امله پټ، څو د خدای حجت باطل نه شي او نښې یې له منځه ولاړې نه شي. هغوی څو تنه دي او چېرته دي؟ په خدای قسم چې شمېر یې لږ دی خو د خدای په نزد ډېر ستر دي. خدای د هغوی له لارې خپل حجتونه او نښې ساتي، څو یې هغو کسانو ته وسپاري چې د هغوی په څېر وي او د هغوی په زړونو کې یې وکري. علم د حقیقت لیدلو رڼا د هغوی پر زړونو تابان کړي ده او د یقین روح یې موندلی دی. هغه څه چې د عیاشانو لپاره سخت ښکاري هغوی ته آسانه دي، او له هغه څه سره چې ناپوهان تري وېرېږي هغوی انس لري. په دنیا کې له داسې بدنونو سره ژوند کوي چې روحونه یې له لوړې نړۍ سره تړلي دي. هغوی د خدای استازي په ځمکه کې دي او خلک د خدای دین ته رابولي. آه! آه! څومره مې د هغوی لیدلو ته سخته هیله ده! کمېل! هر وخت چې وغواړې، ببرته لاړ شه.

(148 انسان د خپلې ژبې تر لاندې پټ دی.

(149 هلاک شو هغه څوک چې خپل ارزښت یې و نه پېژاند.

(150 (یو سړي له امام څخه نصیحت وغوښت) او هغه ته د خدای درود وي، وفرمایل: د هغه چا په څېر مه اوسه چې بې له نېک عمل څخه د آخرت هیلې لري، او توبه د اوږدو هیلو له امله ځنډوي؛ په دنیا کې د زاهدانو خبرې کوي خو په کړنو کې د دنیاپرستانو په شان دی؛ که نعمتونه ورسېږي نه مړېږي، او که محروم شي قناعت نه لري؛ له هغه څه چې ور رسېدلي شکر نه باسي، او له پاتې شونو لا زیات غواړي. نور له پرهیز څخه منع کوي خو خپله پروا نه کوي؛ د اطاعت امر کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو خپله اطاعت نه کوي؛ نېک خلک خوښوي خو د هغوی په شان عمل نه لري؛ ګناهکاران بد ګڼي خو خپله هم له ګناهکارانو دی؛ د ډېرو ګناهونو سره مرګ نه خوښوي خو پر هغو کارونو ټینګ ولاړ وي چې مرګ يې ناخوښ کړی دی؛ که ناروغ شي پښېمانه کېږي، او که روغ وي په خوشګذرانیو بوخت وي؛ په روغتیا کې مغرور او په ستونزه کې ناامېد دی؛ که مصیبت پرې راشي په زارۍ خدای بولي، او که پراخي ومومي په غرور له خدای مخ اړوي. نفس يې د بد ګومان په زور پرې غالب دی، او دی د یقین په ځواک پر خپل نفس غالب نه شي کېدای. د هغو لپاره چې تر ده لږ ګناه لري اندېښمن وي، او تر خپل عمل زیات هیله مند وي. که بې نیازه شي مست او مغرور شي، او که ببوزله شي مأیوس او سست شي. چې کار وکړي پکې کوتاهي کوي، او چې څه غواړي پکې زیاتی کوي؛ چې د شهوت مخې ته راشي ګناه غوره کوي، توبه ځنډوي؛ او چې کړاو ور ورسېږي د اسلام له لارې لرې کېږي. عبرت بیانوي خو خپله عبرت نه اخلي؛ په نصیحت کې مبالغه کوي خو خپله نصیحت نه مني؛ ډېرې خبرې کوي خو ښه عمل يې لږ دی! د فاني دنیا لپاره هڅه او سیالي کوي، خو د تلپاتې آخرت کار اسان ټېر باسي؛ ګټه تاوان او تاوان ګټه ګڼي؛ له مرګ وېرېږي خو فرصت له لاسه ورکوي؛ د بل ګناه لویه ګڼي خو خپلې لویې ګناهونه کوچنی شمېري؛ د نورو اطاعت کوچنی او خپل اطاعت لوی ګڼي؛ خلک ملامتوي خو ځان نه ملامتوي او له ځان سره ریاکارانه چلند کوي؛ له شتمنو سره خوشګذراني تر دې ډېره خوښوي چې له ببوزلو سره د خدای یاد وکړي؛ د خپل ګټې لپاره د نورو پر زیان حکم کوي، خو هېڅکله د نورو د ګټې لپاره د خپل پر زیان حکم نه کوي؛ نور هدایتوي خو خپل ځان ګمراه کوي؛ خلک يې اطاعت کوي او دی مخالفت کوي؛ خپل حق پوره اخلي خو د نورو حق پوره نه ورکوي؛ له غیر خدایه وېرېږي خو له خپل پروردګار نه وېرېږي!

(151 هر انسان یو انجام لري؛ یا خوږ وي یا تریخ.

(152 هغه څه چې راځي، ببرته ځي؛ او هغه څه چې ببرته ولاړ شي، داسې وي لکه هېڅ چې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(153 صابر انسان بری نه له لاسه ورکوي، که څه هم وخت يې اوږد شي.

(154 څوک چې د يوې ډلې له کاره خوښ وي، لکه هغه دی چې ورسره حاضر وي؛ او څوک چې باطل ته مخه کړي، پر ده دوه ګناهونه دي: د باطل د عمل ګناه، او د باطل په کار د خوښۍ ګناه.

(155 عهدونه او ژمنې وساتئ، په ځانګړي ډول له وفادارانو سره.

(156 د خدای اطاعت وکړئ؛ ځکه د خدای په نه پېژندلو کې ستاسو لپاره عذر نشته.

(157 که د لیدلو سترګې ولرئ، حقیقت درته ښودل شوی دی؛ که هدایت غواړئ، هدایت درته شوی دی؛ او که اوربدونکې غوږونه ولرئ، حق درته اورول شوی دی.

(158 خپل ورور د هغه احسان په وسیله ملامت کړه چې ده ته يې کوې، او د هغه شر په بخښش سره ېږته وګرځوه.

(159 څوک چې ځان د تورنولو په ځای کې کېږدي، له ځان پرته بل څوک دې نه ملامتوي.

(160 هر څوک چې ځواک تر لاسه کړي (بې دینه ځواک)، زور زیاتی کوي.

(161 هر څوک چې ځان رأی والا شي هلاک شو؛ او هر څوک چې له نورو سره مشوره وکړي، د هغوی په عقلونو کې شریک شو.

(162 څوک چې خپل راز پټ وساتي، واک يې د هغه په لاس کې وي.

(163 فقر لوی مرګ دی!

(164 د هغه چا حق ساتل چې خپل حق ته درناوی نه کوي، د هغه د غلامۍ یو ډول دی.

(165 د مخلوق هېڅ اطاعت د الله په نافرمانۍ کې روا نه دی!

(166 سړی دې ځکه نه ملامتېږي چې خپل حق په ځنډ اخلي؛ ملامتي هلته ده چې هغه څه واخلي چې حق يې نه دی.

(167 ځان خوښونه د ودې او زیاتوالي مخه نیسي.

(168 آخرت نږدې دی، او په دنیا کې د پاتې کېدو وخت لږ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(169 سهار د هغه لپاره روښانه دی چې دوه بینا سترګې ولري.

(170 د ګناه پرېښودل تر توبه غوښتلو اسانه دي.

(171 ډېر کله داسې مړی وي چې په ستونې کې بندېږي او د ډېرو مړیو څخه محروموي.

(172 خلک د هغه څه دښمنان دي چې نه یې پېژني.

(173 څوک چې د بېلابېلو فکرونو او رأیو هرکلی وکړي، سمه خبره له خطا بنه پېژني.

(174 څوک چې د خدای په لار کې د غضب غاښونه سره ټینګ کړي، د باطل پر ضد د جګړې توان پیدا کوي.

(175 چې له څه وېرېږي، ځان پکې واچوه؛ ځکه کله ناکله د یو شي وېره له خپله هغه شي څخه سخته وي.

(176 زغم او د سختیو تحمل د مشرتوب وسیله ده.

(177 بدکار د نېککار په انعامولو سره وځوروه!

(178 د نورو له سینو بدی د خپلې سینې له ایستلو سره وباسه او جړه یې وباسه!

(179 لجاجت تدبیر کمزوری کوي.

(180 طمع، تلپاتې غلامي ده.

(181 د لنډفکرۍ پایله پښېماني ده، او د لېرې اندیشې پایله سلامتیا ده.

(182 هلته چې باید سمه خبره وشي، په چوپتیا کې خیر نشته؛ لکه څنګه چې په ناپوهانه خبرو کې هم خیر نشته.

(183 دوه بلنې اختلاف ته نه رسېږي، مګر دا چې یوه یې باطله وي!

(184 له هغې ورځې چې حق راته څرګند شو، هېڅکله شکمن نه شوم!

(185 ما هېڅکله دروغ نه دي ویلي، او ما ته هم دروغ نه دي ویل شوي؛ او زه هېڅکله ګمراه نه شوم، او د ما په وسیله هم څوک ګمراه شوی نه دی.

(186 د ظلم پیل کوونکی په قیامت کې غاښ په ګوته نیسي.

(187 د نرۍ پای نژدی دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

(188 هر څوک چې له حق سره جګړه وکړي، هلاک کېږي.

(189 څوک چې صبر يې ونه ژغوري، بې تابي يې هلاکوي.

(190 عجيبه ده! آيا د خلافت معيار د پيغمبر صحابي کېدل دي؟ خو صحابي توب او خپلوي معيار نه ده؟ (په همدې اړه له امام څخه شعر نقل شوی چې ابوبکر ته يې وويل:) «که ته ادعا کوې چې د مسلمانانو د شورا له لارې خلافت ته رسېدلی يې، نو کومه شورا وه چې رايه ورکوونکي پکې حاضر نه وو؟ او که خپلوي حجت نيسي، نو نور له تا پيغمبر ته نږدې او ډېر وړ دي«.

(191 ربنتيا انسان په دنيا کې د مرګ د غشو نښه ده، او داسې شتمني ده چې د مصيبتونو د لوټ لاس ته ورغلې وي؛ د هرې څښناک ګوټ سره يو ستوني نيوونکی غم دی، او په هره مړۍ کې د مات هډوکي امکان شته. بنده هېڅ نعمت نه تر لاسه کوي مګر دا چې يو بل نعمت له لاسه ورکوي؛ او عمر ته يوه ورځ نه زياتېږي مګر دا چې بله ورځ تري کمېږي. نو مور د مرګ ملګري يو او زمور روحونه د فنا نښه دي؛ نو څنګه د تل پاتې کېدو هيله وکړو؟ حال دا چې د شپې او ورځې تېرېدل هېڅ ودانۍ لوړه نه پرېږدي مګر دا چې ورانوي يې او توتې توتې يې شاوخوا خوروي.

(192 ای د آدم زويه! هغه څه چې له خپلې اړتيا زيات راټولوې، د نورو لپاره يې زېرمه کړې ده.

(193 زړونه مخ اړونه او شا اړونه لري؛ نو زړونه هغه وخت په کار واچوئ چې ميلان او مخ اړونه ولري، ځکه که زړه په زور کار ته اړ کړې، ړوندېږي.

(194 کله چې زه په غوسه شم، څه وخت يې مهار کړم؟ هغه وخت چې د غچ اخيستو ځواک ونه لرم، څو راته وويل شي: «که صبر وکړې ښه ده»، او که هغه وخت چې د غچ اخيستو توان ولرم، څو راته وويل شي: «که ښښنه وکړې ښه ده.«

(195 (د لارې په سر د کثافاتو له ځايه تېرېده) او هغه ته د خدای درود وي، وفرمايل: دا هماغه څه دي چې بخيلان پرې بخل کوي! (او په بل روايت کې راغلي:) دا هماغه څه دي چې پرون مو پرې سيالي کوله!

(196 هغه مال چې د له منځه تلو يې تا ته پند درکړي، له لاسه نه دی تللی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(197 دا زړونه لکه بدنونه ستړي کيږي؛ نو د هغوی د تازه کېدو لپاره د حکيمانه نوو خبرو لور ته مخه کړئ.

(198 (کله چې يې واورېدل چې خوارج وايي: حکومت يوازې د خدای دی) او هغه ته د خدای درود وي، وفرمايل: دا د حق خبره ده، خو له هغې څخه باطل اراده کيږي.

(199 د اوباشو د يوې ډلې په وصف کې وفرمايل:) کله چې سره راټول شي بريالي کيږي، او کله چې خپاره شي نه پېژندل کيږي. (او ويل شوي چې امام وفرمايل:) کله چې سره راټول شي زيان رسوي، او کله چې خپاره شي ګټه رسوي. (له امام څخه وپوښتل شول: دا مو پوه شو چې کله راټول شي زيان رسوي، خو د خپرېدو ګټه يې څه ده؟ ويې فرمايل:) د کسب او کار خاوندان او کسبګر خپلو کارونو ته بېرته ګرځي، او خلک د هغوی له هڅو ګټه اخلي؛ بنا د ودانۍ جوړولو ته، اوبدونکی د اوبدلو کار ته، او نانوا خپلې نانوايۍ ته مخه کوي.

(200 (يو مجرم د امام حضور ته راوستل شو چې څو اوباش ورسره وو) او هغه ته د خدای درود وي، وفرمايل: مبارک نه دې وي هغه څېرې چې يوازې د بديو پر وخت ښکاري.

(201 له هر انسان سره دوه فرښتې دي چې هغه ساتي؛ او کله چې الهي تقدير راورسېږي، هغه يوازې پرېږدي، ځکه د انسان عمر د هغه ساتونکی ډال دی.

(202 (طلحه او زبير د امام حضور ته راغلل او ويې ويل: موږ له تا سره بيعت کړی چې په حکومت کې ستا شريکان شو.) هغه ته د خدای درود وي، وفرمايل: نه، هېڅکله! بلکې تاسې د ځواک په پياوړتيا او د مرستې په غوښتلو کې شريکان ياست، او د کمزورۍ او سختيو په وخت کې دوه مرستندويان ياست.

(203 ای خلکو! له هغه خدايه ووېرېږئ چې که خبرې وکړئ اوري يې، او که يې پټې کړئ پوهيږي پرې؛ او د داسې مرګ لپاره چمتو اوسئ چې که ترې وتښتئ درته رسيږي، او که پر خپل ځای پاتې شئ درباندې راګېرېږي، او که يې هېر کړئ، هغه مو نه هېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(204 د خلکو ناشکري دې له نېک کاره مه منع کوي، ځکه داسې کسان شته چې بې له دې چې له تا ګټه واخلي ستا ستاینه کوي، او ډېر ځله د هغوی لږه ستاینه د ناشکرو د ناشکرۍ څخه تا ته ډېر ګټوره وي. (الله نېکوکاران خوښوي.)

(205 هر لوښی چې څه پکې واچول شي ډکېږي، خو د علم لوښی داسې نه دی، هر څومره چې پکې واچوې پراخېږي.

(206 د زغم لومړۍ بدله دا ده چې خلک د ناپوه پر وړاندې د زغم لرونکي ملاتړي شي.

(207 که زغمناک نه یې، ځان زغمناک وښیه، ځکه لږ داسې څوک وي چې ځان د خلکو په شان کړي او د هغوی له ډلې حساب نه شي.

(208 څوک چې له خپل ځان سره حساب وکړي ګټه کوي، او څوک چې له ځانه غافل شي تاوان وینې؛ څوک چې له خدایه ووېرېږي خوندي وي، او څوک چې عبرت واخلي پوهېږي، او څوک چې پوه شي درک کوي، او څوک چې درک وکړي علم یې زده کړی دی.

(209 دنیا له سرکښۍ وروسته مور ته مخ رااړوي، لکه بدخویه اوښه چې پر خپل بچي مهربانه شي. «او مور اراده کړې ده چې د ځمکې پر کمزورو منت کېږدو، هغوی امامان او د حکومتونو وارثان وګرځوو.«

(210 له خدایه داسې ووېرېږئ لکه پاک انسان چې ځان چمتو کړی وي، ملا یې تړلې وي، له فرصتونو څخه د ګټې اخیستلو هڅه کوي، په اطاعت کې کوښښ کوي، او د تېرېدونکي دنیا، د ژوند پای او د کار د انجام په اړه سم فکر کوي.

(211 سخاوت د عزت ساتونکی دی، صبر د ناپوهانو خوله بندوي، ښېنه د بریا زکات دی، لرې کېدل د خیانتکار سزا ده، مشوره د هدایت سترګه ده. څوک چې خپل نظر ته بسنه وکړي په خطر کې لوېږي. صبر د ورځې او شپې له مصیبتونو سره جګړه کوي، بې صبري د انسان په هلاکت کې له وخت سره مرسته کوي. تر ټولو لوی بې نیازي د هیلو پرېښودل دي. ډېر عقلونه د هوس د واکمنۍ بندیان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تجربې ساتل او کارول د بریا راز دی. دوستي یوه ترلاسه شوې خپلوي ده، او په هغه چا باور مه کوه چې ستړی شوی او د زغم توان نه لري.

(212 ځان خوښي د عقل له حسد کوونکو څخه ده.

(213 له اغزو، ستونزو او کړاوونو سترګې پټې کړه تر څو تل خوشاله اوسې.

(214 څوک چې د شخصیت ونه یې نرمه او بې عیبه وي، څانګې او پانې یې ډېرې وي.

(215 اختلاف د فکر له منځه وړونکی دی.

(216 څوک چې شتمن شو، تېری کوونکی شو.

(217 د زمانې په بدلون کې د خلکو د شخصیت جوهر پېژندل کېږي.

(218 پر دوست حسد کول د دوستۍ له آفتونو څخه دي.

(219 د فکرونو د قربانۍ ځای د طمع تر برق لاندې دی.

(220 پر باوري کسانو د ګومان له مخې قضاوت کول له عدالته لرې دي.

(221 د قیامت تر ټولو بد توښه پر بندګانو ظلم دی.

(222 ځان ناخبره ښودل او تېرېدل د بزرګانو له غوره کارونو څخه دي.

(223 څوک چې د حیا کالي واغوندي، عیب یې نه ښکاري.

(224 په ډېر چوپتیا سره د انسان وقار زیاتېږي، په انصاف سره دوستان ډېرېږي، په سخاوت سره قدر او مقام لوړېږي، په تواضع سره نعمت بشپړېږي، په لګښت کولو سره بزرګي ثابته کېږي، په عدالت سره دښمنان ماتېږي، او د ناپوه پر وړاندې په صبر سره ملګري زیاتېږي.

(225 عجیبه ده چې حسودان له خپلې روغتیا غافل پاتې دي.

(226 طمع کار تل خوار او ذلیل وي.

(227 ایمان پر دې ولاړ دی: د زړه پېژندنه، د ژبې اقرار، او د اندامونو عمل.

(228 څوک چې د دنیا له امله غمجن وي، د الهي قضا څخه ناراضه دی؛ څوک چې له مصیبته شکایت وکړي له خدایه شکایت کوي؛ څوک چې شتمن ته د هغه د مال له امله تواضع وکړي، د خپل دین دوه برخې له لاسه ورکوي؛ څوک چې قرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولولي او بيا د دوزخ اور ته داخل شي، حتماً له هغو څخه دی چې د خدای آيتونه يې لوبه ګرځولي؛ او څوک چې زړه يې له دنيا سره وتړل شي، تل به په درې ستونزو اخته وي: نه ختمېدونکی غم، نه جلا کېدونکی حرص، او نه پوره کېدونکې هيله.

(229 د انسان لپاره قناعت د شتمنۍ لپاره بس دی، او ښه اخلاق د نعمت د زياتوالي لپاره کافي دي. پاک ژوند هماغه د قناعت ژوند دی.

(230 له هغه چا سره شريک شئ چې روزي ورمخه شوې وي، ځکه هغه د شتمنۍ لپاره ډېر وړ دی او د نېکمرغه وخت د راتلو لايق دی.

(231 عدل هماغه انصاف دی، او احسان هماغه بخشش دی.

(232 هغه څوک چې په لنډ لاس ورکړه وکړي، د اوږد لاس بدله به واخلي. هغه څه چې انسان له خپل مال څخه د خير او نېکۍ په لاره کې ورکوي، که څه هم لږ وي، الله يې بدله ډېره ورکوي. د دوو لاسونو مطلب دوه نعمتونه دي: د بنده نعمت لنډ دی او د الله نعمت اوږد دی، ځکه د الله نعمت تلپاتې او څو برابره دی، او ټول نعمتونه د الله له نعمت څخه سرچينه اخلي.

(233 هيڅوک جګړې ته مه رابله، خو که تا جګړې ته راوبلل شي نو ومنه، ځکه جګړه پيل کوونکی تېری کوونکی دی، او تېری کوونکی ماتې خوړونکی وي.

(234 د ښځو ځينې غوره خويونه د سړيو لپاره بد خويونه دي، لکه تکبر، ويره او بخل. که ښځه متکبره وي، پردی سړی خپل حريم ته نه پرېږدي، که بخيله وي د خپل او د ميړه مال ساتي، او که وپرېږدونکې وي له هغه څه لرې کېږي چې د هغې آبرو ته زيان رسوي.

(235 عاقل هغه دی چې هر شی په خپل ځای کې ږدي. او جاهل هغه دی چې هر شی په خپل ځای کې نه ږدي.

(236 په الله قسم، ستاسو دا دنيا چې په حرامو ککړه ده، زما په نظر کې د هغه د خنزير له هډوکي هم ټيټه ده چې د جذامي په لاس کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

237) ځینې خلک الله د ثواب په هیله عبادت کوي، دا د سوداګرو عبادت دی؛ ځینې یې د وېرې له امله عبادت کوي، دا د بندګانو عبادت دی؛ او ځینې یې د شکر له امله عبادت کوي، دا د ازادانو عبادت دی.

238) ښځه او ژوند ټول زحمت او درد دی، او تر ټولو سخت دا چې له هغې سره له اوسېدو پرته بله لاره نشته.

239) څوک چې سستي وکړي حقونه ضایع کوي، او څوک چې د سخن چین خبره ومني دوستي له منځه وړي.

240) په کور کې د غصب شوې ډبرې ایښودل د هغه د نړېدو سبب کېږي. دا وینا د رسول الله څخه هم نقل شوې ده، او د دواړو خبرې له یوې سرچینې دي.

241) هغه ورځ چې مظلوم له ظالم څخه بدل واخلي، تر هغې ورځې سخته ده چې ظالم پرې ظلم کاوه.

242) له الله ووېرېږه که څه هم لږ وي، او د ځان او الله تر منځ پرده ونیسه که څه هم نرۍ وي.

243) کله چې ځوابونه ډېر او یو شان شي، سمه خبره پټه شي.

244) په هر نعمت کې د الله حق شته، که څوک یې ادا کړي نعمت به زیات شي، او که یې ادا نه کړي د له منځه تلو په خطر کې وي.

245) کله چې توان زیات شي، شهوت کمېږي.

246) د نعمت له تښتېدو ځان وساته، ځکه چې تښتېدلی نعمت بېرته نه راګرځي.

247) بخښش له خپلولۍ څخه هم زیات محبت راولي.

248) کله چې څوک پر تا ښه ګومان وکړي، د هغه خوشبیني ربښتیا وګرځوه.

249) غوره کار هغه دی چې انسان یې په کولو کې د ناخوښۍ سره هم کوښښ وکړي.

250) ما الله د قوي ارادو له کمزوري کېدو، د سختو غوټو له خلاصېدو، او د ټینګو پرېکړو له ماتېدو وپېژاند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(251 د دنيا تريخوالی د آخرت خوږوالی دی، او د حرامي دنيا خوږوالی د آخرت تريخوالی دی.

(252 الله ايمان د زړه د شرک څخه د پاکوالي لپاره فرض کړ، او لمونځ د تکبر او ځان خوښۍ څخه د پاکېدو لپاره، او زکات د روزۍ د زياتېدو سبب وګرځاوه، او روژه يې د بندګانو د اخلاص د ازموينې لپاره، او حج يې د مسلمانانو د نږدېوالي او يووالي لپاره، او جهاد يې د اسلام د عزت لپاره، او د نېکۍ امر کول يې د ناپوه خلکو د اصلاح لپاره، او له بدۍ منع کول يې د بې عقلانو د بديو د مخنيوي لپاره، او صله رحم يې د خپلوانو د زياتوالي لپاره، او قصاص يې د وينو د ساتنې لپاره، او د حدودو جاري کول يې د الهي حرامو د درناوي لپاره، او د شرابو پرېښودل يې د عقل د سلامتۍ لپاره، او له غلا څخه ځان ساتل يې د عفت د ټينګښت لپاره، او د زنا پرېښودل يې د نسل د سلامتۍ لپاره، او د لواط پرېښودل يې د اولاد د زياتوالي لپاره، او شاهدي ورکول يې د انکار شوو حقونو د ترلاسه کولو لپاره، او دروغ پرېښودل يې د ربښتيا د حرمت د ساتلو لپاره، او سلام کول يې د وړې څخه د امن لپاره، او امامت يې د امت د چارو د سمون لپاره، او د امام اطاعت يې د رهبرۍ د مقام د درناوي لپاره واجب کړل.

(253 کله چې وغواړئ پر ظالم قسم واخلئ، ترې وغواړئ چې ووايي: «له الهي ځواک او قوته بيزار دی»، ځکه که په دروغو قسم وخوري، له بيزارۍ وروسته به ژر سزا وويني، خو که ووايي: «قسم په هغه خدای چې له هغه پرته بل معبود نشته»، سزا به يې ژر نه شي، ځکه هغه د خدای يووالی ياد کړ.

(254 ای د آدم زويه! د خپل مال وصي خپله اوسه، نن داسې عمل وکړه لکه څنګه چې خوښوې له مرګ وروسته دې درسره وشي.

(255 بې ځايه تندخويي يو ډول لېونتوب دی، ځکه تندخو وروسته پښېمانه کېږي، او که پښېمانه نه شي نو لېونتوب يې ثابت دی.

(256 د بدن سلامتيا په حسد پرېښودلو کې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

257) ای کمیل! خپلې کورنۍ ته امر وکړه چې د ورځې د عزت او نېکۍ د ترلاسه کولو لپاره هڅه وکړي، او د شپې د ویده خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره کوښښ وکړي. قسم په هغه خدای چې ټول غږونه اوري! څوک چې یو زړه خوشحال کړي، الله به د همدې خوشحالۍ له امله ورته داسې لطف ورکړي چې د مصیبت پر مهال به لکه صافې اوبه ورباندې وریږي او د مصیبت تریخوالی به تږې لرې کړي، لکه څنګه چې پردۍ اوښه له څرځای څخه شړل کېږي.

258) کله چې بې وزله شئ، په صدقه ورکولو سره له خدای سره تجارت وکړئ.

259) له خاینانو سره وفاداري د خدای په نزد خیانت دی، او له خاینانو سره خیانت د خدای په نزد وفاداري ده.

260) ډېر ځله د الله پرلهپسې احسان ګناهکار په دام کې اچوي، او د الله پرده پوشي هغه مغرور کوي، او د خلکو ستاینه یې غولوي، او الله هېڅوک د مهلت ورکولو په شان نه دي ازمویلي.

261) کله چې د معاویې د لښکرو د انبار پر ښار د برید او د هغه د لوټ کولو خبر ورسېد، هغه یوازې او په پښو د کوفې د «نخیله» لښکرځای ته روان شو. خلکو ځانونه وروړسول او ویې ویل: ای امیرالمؤمنین! مور به هغوی بس کړو. ویې ویل: تاسو د خپل کار له ترسره کولو عاجز یاست، نو زما کار به څنګه بس کړئ؟ که د ما نه مخکې رعیت د واکمنانو له ظلم څخه شکایت کاوه، نن زه له خپل رعیت څخه شکایت کوم. داسې ښکاري لکه زه تابع یم او هغوی واکمنان دي، یا زه محکوم یم او هغوی فرمانروایان دي. کله چې خبرې دې ځای ته ورسېدې، دوه کسان وړاندې شول، یو یې وویل: زه له خپل ځان او ورور پرته بل څوک نه لرم، امر وکړه هر څه چې غواړې ترسره به یې کړم. ویې ویل: هغه څه چې زه یې غواړم، له دې سره ډېر واټن لري.

262) ای حارثه! ته یوازې تر خپلو پښو لاندې وکتل، خو شاوخوا ته دې ونه کتل، نو سرګردانه شوې. ته حق ونه پېژانده تر څو پوه شې چې د حق خلک څوک دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او باطل دي هم ونه پېژاند تر څو د باطل خلک وپېژني. سعيد او عبدالله بن عمر نه د حق مرسته وکړه او نه يې باطل کمزورى کړ.

(263 د پاچا ملګرى د هغه چا په شان دى چې پر زمري سپور وي، خلک د هغه مقام ته حسرت کوي، خو دى پوهيږي چې په خطرناک ځاى کې دى.

(264 د نورو د پاتې شويو سره نېکي وکړئ، تر څو ستاسې د پاتې شويو درناوى وشي.

(265 د حکيمانو خبره که سمه وي درمل دى، او که ناسمه وي د روح درد دى.

(266 يو سرى له امام څخه وغوښتل چې ايمان توصيف کړي:

»سبا ما ته راشه تر څو د خلکو په منځ کې ځواب درکړم، ځکه که ته زما خبرې هېرې کړې، بل څوک به يې په ياد وساتي؛ ځکه خبره د ښکار په څېر ده، تېښته کوونکي ده، يو څوک يې ونيسي او بل يې له لاسه ورکړي«.د امام ځواب په حکمت ۳۱ کې تېر شوى، چې ايمان يې پر څلورو برخو وېشلى دى.کليک کړى!

(267 اى د آدم زويه! د راتلونکې ورځې غم پر نن مه ورزياتوه، ځکه که هغه ورځ ستا له عمر څخه وي، الله به ستا روزي درورسوي.

(268 له دوست سره په دوستۍ کې نرمي کوه، کېداى شي يوه ورځ ستا دښمن شي، او له دښمن سره هم په دښمنۍ کې نرمي کوه، کېداى شي يوه ورځ ستا دوست شي.

(269 خلک په دنيا کې دوه ډوله دي: يو هغه چې د دنيا لپاره کار کوي، او دنيا يې له آخرته منع کوي، د خپلو پاتې شويو لپاره د فقر وېره لري خو د خپل فقر څخه په امان وي، نو خپل ژوند د نورو د ګټې لپاره له لاسه ورکوي. بل هغه چې د آخرت لپاره کار کوي، او د دنيا نعمتونه هم بې له هڅې ورته راځي، نو د دواړو جهانونو برخه اخلي، او د دواړو مالک ګرځي، او د الله په وړاندې په عزت سره سهار کوي، او له الله څخه هېڅ شى نه غواړي مګر دا چې ورکول کېږي.

(270 قرآن پر پېغمبر هغه وخت نازل شو چې مالونه په څلورو برخو وو: د مسلمانانو مالونه چې د وارثانو تر منځ ويشل کېدل، د جګړې غنيمت چې مستحقينو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته رسېده، خمس چې الله يې د لګولو ځای ټاکلی، او صدقات چې د مصرف لاري يې الله بيان کړې دي. د کعبې زيورات هم له هغو مالونو څخه وو چې الله همداسې پرېښي دي، نه يې له هېروالي پرېښي او نه تري پټ وو. ته هم هغه همداسې پرېږده لکه څنګه چې الله او د هغه رسول پرېښي وو. عمر وويل: که ته نه واى، مور به رسوا شوي وو، نو د کعبې زيورو ته يې لاس ونه کړ.

271(دوه تنه غله د امام حضور ته راوستل شول، چې له بيت المال څخه يې غلا کړې وه. يو د خلکو مملوک (غلام) و، او بل داسې غلام و چې د بيت المال له ډلې څخه شمېرل کېده. امام وفرمايل: هغه غلام چې د بيت المال پورې اړه لري، پر هغه حد نشته، ځکه د الله له مال څخه يې د الله د مال يوه برخه خوړلې ده. خو پر بل بايد د غلا حد په سختۍ سره جاري شي. وروسته يې د هغه لاس پرې کړ(.

272(که زه له دې فتنو او د لغزش له ځايونو په ځواک تېر شم، ډېر بدلونونه به رامنځته کړم.

273(په يقين سره پوه شئ چې الله د خپل بنده لپاره، که هر څو هوښيار، سخت کوښښ کوونکى او په تدبير او نقشه کې قوي هم وي، له هغه څه زيات نه ټاکي چې په الهي علم کې ورته مقرر شوي وي، او د بنده او د هغه څه تر منځ چې الله ورته ليکلي وي، که هر څو کمزورى او کم تدبيره هم وي، خنډ نه جوړوي. څوک چې دا حقيقت وپېژني او عمل پرې وکړي، له ټولو خلکو به ډېر آرام او ډېر ګټور وي، او څوک چې دا پرېږدي او شک پکې وکړي، له ټولو خلکو به ډېر په تکليف او تاوان کې وي. ډېر ځله داسې وي چې پر نعمت ورکړل شوي کس عذاب راشي، او ډېر ځله داسې وي چې يو انسان په سختۍ کې جوړ شي او ازمويل شي. نو اى هغه څوک چې له دې وينا ګټه اخلي، شکر زيات کړه، له بې ځايه بېړې لاس واخله، او په هغه روزى قانع اوسه چې دررسېدلې ده.

274(خپل علم ناپوهي مه ګڼئ او خپل يقين شک مه بولئ، نو کله چې پوه شوئ عمل وکړئ، او کله چې يقين ته ورسېدئ اقدام وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(275 طمع انسان هلاکت ته رسوي او ژغورنه نه ورکوي، او په هغه څه وفادار نه وي چې ضمانت يې کوي، ډېر ځله داسې وي چې د اوبو څښونکی تر دې مخکې چې ماړه شي، اوبه يې په ستوني کې بندې شي. د هغه څه ارزښت چې خلک پرې سيالي کوي هر څومره ډېر وي، د له لاسه ورکولو غم يې هم ډېر وي. هيلې د بصيرت سترګې رېندوي، او د هر چا روزي به بې له لټونه ورسېږي.

(276 ای الله! تا ته پناه دروړم له دې چې زما ظاهر د خلکو په وړاندې ښايسته وي، خو باطن مې په هغه څه کې چې له تا يې پټوم بد وي، او وغواړم په داسې عمل او چلند چې ته پرې خبر يې د خلکو پام ځان ته واړوم، خپل ظاهر ښکلی وښيم خو په بدو کارونو چې باطن مې خراب کړی وي تا ته راشم، تر څو ستا بندګانو ته نږدې او ستا له خوښۍ لرې شم.

(277 نه، قسم په هغه خدای چې د هغه په قدرت مو توره شپه تېره کړه او سپينه ورځ يې وروسته راوستله، داسې نه وه.

(278 لږ کار چې دوام ولري تر ډېر کار ښه دی چې انسان تري ستړی شي.

(279 کله چې مستحب کارونه واجب ته زيان رسوي، هغه پرېږدئ.

(280 څوک چې د آخرت اوږد سفر په ياد ولري ځان ورته چمتو کوي.

(281 فکر کول د ليدلو په شان نه دي، ځکه کله کله سترګې دروغ ښيي، خو څوک چې له عقل څخه نصيحت وغواړي، عقل ورسره خيانت نه کوي.

(282 ستاسو او د نصيحت منلو تر منځ د غرور او ځان خوښۍ پرده پرته ده.

(283 ستاسو ناپوهان هڅاند دي، او پوهان مو سست او لنډي کوي.

(284 علم د پلمې کوونکو د عذر لار تړلې ده.

(285 هغه کسان چې وخت يې پای ته رسېدلی د مهلت غوښتنه کوي، او هغه چې مهلت لري سستي کوي.

(286 خلک د چا په اړه نه وايي «بختور دی» مګر دا چې زمانه ورته بده ورځ چمتو کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(287 تقدیر یوه تیاره لاره ده، مه یې لټوئ؛ ژور سمندر دی، مه ورننوزئ؛ او د الله راز دی، ځان مه په زحمت اچوئ.

(288 کله چې الله وغواړي یو بنده خوار کړي، علم تري لرې کوي.

(289 په پخوا کې مې یو ديني ورور درلود چې زما په نظر ډېر ستر و، ځکه حرامه دنیا د هغه په نظر بې ارزښته وه، له ډېر خوړلو لرې و. څه چې یې نه موندل، هیله یې نه کوله، او څه چې یې موندل پکې زیاتی نه کوله. ډېر وخت به چوپ و، خو کله چې به یې خبرې کولې، پر نورو ویناوالو به برلاسی و، او د پوښتونکو تنده به یې ماتوله. په ظاهر کمزورې ښکارېده، خو د جدي کار پر مهال به د ځنګل د زمري په شان غږېده، یا د دښتې د مار په شان خوځېده. تر قاضي مخکې به یې دلیل نه راوړ، او څوک چې به یې عذر درلود ملامت به یې نه کاوه تر څو یې عذر نه وای اورېدلی. له درد څخه به یې شکایت نه کاوه مګر د ښه کېدو وروسته. څه چې به یې کول هماغه به یې ویل، او څه چې به یې نه کول هغه به یې نه ویل. که په خبرو کې پرې څوک مخکې شول، په چوپتیا کې به نه ماتېده، او اورېدو ته تر خبرو ډېر لېواله و. که د دوو کارونو تر منځ به پاتې شو، فکر به یې کاوه چې کوم یو د نفس غوښتنې ته نږدې دی، هماغه به یې پرېښود. نو تاسو ته پکار ده چې دې اخلاقو ته مخه کړئ، او په ترلاسه کولو کې یې سیالي وکړئ، او که ټول نه شئ کولای، نو پوه شئ چې د ځینو تر لاسه کول د ټولو له پرېښودلو ښه دي.

(290 که الله د ګناهونو لپاره د عذاب ژمنه هم نه وای کړې، بیا هم د نعمتونو د شکر له امله باید نافرماني ونه شي.

(291 ای اشعثه! که د زوی لپاره غم کوې، د خپلولې له امله حق لرې، خو که صبر وکړې نو هر مصیبت ته د الله له خوا اجر شته. که صبر وکړې، تقدیر به پر تا جاري شي او اجر به درکړل شي، او که بې صبرې وکړې هم تقدیر به جاري شي خو ګناه به وي. ستا زوی تا خوشحالوه او ستا لپاره ازموینه و، او د هغه مرګ تا غمجن کړ، خو ستا لپاره اجر او رحمت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(292 د رسوال الله د مرګ په فراق و فرمایل : صبر ښه دی، خو ستا په فراق کې نه، او بې صبري بده ده، خو ستا په مرګ کې نه. ستا مصیبت لوی دی، او له تا مخکې او وروسته نور مصیبتونه واړه دي.

(293 له ناپوه سره مه کېنه، ځکه خپل بد کار ښکلی درته ښیي او غواړي ته هم د هغه په شان شې.

(294 د ختیځ او لویدیځ تر منځ واټن د لمر د یوې ورځې د تګ اندازه دی.

(295 ستا دوستان دري ډلې دي، او ستا دښمنان هم دري ډلې دي. ستا دوستان دا دي: ستا دوست، د ستا د دوست دوست، او د ستا د دښمن دښمن. او ستا دښمنان دا دي: ستا دښمن، د ستا د دوست دښمن، او د ستا د دښمن دوست.

(296 ته د هغه چا په شان یې چې نېزه په خپل بدن ننباسي تر څو هغه څوک ووژني چې د هغه تر څنګ ولاړ وي.

(297 عبرتونه ډېر دي، خو عبرت اخستونکي لږ دي.

(298 څوک چې په دښمنۍ کې زیاتوالی وکړي ګناهکار دی، او څوک چې په دښمنۍ کې کمزورۍ وکړي ظالم دی، او څوک چې بې دلیله دښمني وکړي متقي کېدای نه شي.

(299 هغه څه چې زما او د الله تر منځ ناروا وي، که یې وکړم او دومره مهلت ولرم چې دوه رکعته لمونځ وکړم او له الله څخه عافیت وغواړم، ما به اندېښمن نه کړي.

(300 لکه څنګه چې الله د خلکو د ډېروالي سره سره هغوی ته روزي ورکوي، هماغسې د هغوی حساب هم کوي. او لکه څنګه چې هغوی ته روزي ورکوي حال دا چې هغه نه وینې، هماغسې حساب ورسره کوي حال دا چې هغه نه وینې.

(301 ستا استازی ستا د عقل اندازه ښیي، او ستا لیک تر ټولو روښانه ویاند دی.

(302 هغه څوک چې په سخت درد اخته وي، دعا ته یې اړتیا تر هغه روغ انسان زیاته نه ده چې له بلا خوندي وي.

(303 خلک د دنیا اولاد دي، او هېڅوک د خپلې مور په مینه نه ملامتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(304 هغه اړتیا لرونکی چې تا ته راشي د الله استازی دی، څوک چې مرسته ترې منع کړي له الله یې منع کړې، او څوک چې هغه ته ورکړه وکړي الله ته یې ورکړه کړې ده.

(305 غیرتمند انسان،زنا نکوی!

(306 مرګ ښه ساتونکی دی.

(307 غمجن انسان ویده کیږي، خو هغه څوک چې مال یې لوټ شوی وي نه ویده کیږي.

(308 د پلرونو دوستي د اولادونو خپلوي پیدا کوي، او خپلوي دوستۍ ته تر دوستۍ زیات اړتیا لري.

(309 له مؤمنانو بدګومانی مه کوئ، ځکه الله حق د هغوی پر ژبه اینسی دی.

(310 د بنده ایمان سم نه وي تر څو یې باور په هغه څه ډېر نه وي چې د الله په لاس کې دي تر هغه څه چې د ده په لاس کې دي.

(311 کله چې هغه د بصرې بنار ته ورسېد، وغوښتل چې انس بن مالک د طلحې او زبیر لور ته ولیږي، څو هغه څه ورپه یاد کړي چې د پیغمبر ﷺ څخه یې د هغوی په اړه اورېدلي وو.
انس انکار وکړ او ویې ویل: ما د پیغمبر ﷺ هغه خبره هیره کړې ده.
حضرت وفرمایل: که ته دروغ وایې، الله دې په داسي ناروغۍ (برص ـ سپین داغونه) اخته کړي چې عامه دستار یې پټ نه کړای شي.

)نو د امام د دعا وروسته، انس د برص په ناروغۍ اخته شو چې د هغه په سر او مخ کې څرګنده شوه، او هغه به تل مخ پټاوه(.

(312 د زړونو لپاره مخ رااړول او نشاط شته، او شا ګرځېدل او تښتېدل هم لري؛ نو کله چې زړونه خوشحال او چمتو وي، هغه د مستحباتو په ترسره کولو بوخت کړئ، او کله چې شا واړوي او بې‌نشاطه وي، نو یوازې په واجباتو بسنه وکړئ.

(313 په قرآن کې د تېر شوو او راتلونکو خلکو خبرونه، او ستاسې د ژوند د اړتیا وړ احکام موجود دي.

(314 ډېره له هماغه ځایه ښېرته واچوئ چې دښمن درباندې غورځولې ده، ځکه بدۍ ته بې له بدۍ بل ځواب نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(315 (خپل لیکوال عبیدالله بن ابي رافع ته یې امر وکړ:) په دوات کې لیقه واچوه، د قلم څوکه اوږده ونیسه، د کرښو ترمنځ فاصله پرپرده، او توري یو بل ته نږدې ولیکه، ځکه دا طریقه د لیک د ښکلا لپاره غوره ده.

(316 زه د مؤمنانو مشر یم، او مال د بدکارانو مشر دی.

وایم: (د امام د وینا مطلب دا دی چې مؤمنان زما پیروي کوي، او بدکاران د مال پیروي کوي، لکه څنګه چې د شاتو مچۍ د خپل مشر اطاعت کوي.)

(317)یو یهودي امام ته وویل: تاسي لا خپل پیغمبر نه و خاورو ته سپارلی چې د هغه په اړه مو اختلاف وکړ. امام وفرمایل(:

مور د هغه څه په اړه اختلاف وکړ چې له هغه څخه مور ته رسېدلي وو، نه د هغه په ذات کې.

خو تاسي یهودیان، لا مو پښې د نیل له سمندر څخه د ژغورل کېدو وروسته نه وې وچې شوې چې خپل پیغمبر ته مو وویل:

»زمور لپاره هم یو خدا جوړ کړه لکه څنګه چې بت پرستان خدا لري«!

او ستاسي پیغمبر وویل: »تاسي ناپوه قوم یاست«.

(318)له امام څخه وپوښتل شول: په کوم ځواک دې پر خپلو سیالانو بری موند؟

ویې فرمایل(:

ما له هیڅا سره مخامخ نه شوم مګر دا چې هغه خپله زما په بری کې مرسته کوله.

وایم: (امام دې ته اشاره وکړه چې د هغه هیبت او ویره د خلکو په زړونو کې کېناسته.)

(319 او پر هغه دې د خدای درود وي، محمد حنفیه ته یې وصیت وکړ:

ای زویه! زه پر تا له ببوزلۍ څخه وپرېږم، له فقره الله ته پناه یوسه، ځکه فقر د انسان دین نیمګړی کوي، عقل ګډوډوي، او د دښمنۍ سبب ګرځي.

(320)یوه کس پېچلې پوښتنه وکړه، حضرت وفرمایل(:

د پوهېدو لپاره پوښتنه وکړه، نه د ازار لپاره؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه هغه ناپوه چې زده کړه کوي، د عالم په شان دی،

او هغه عالم چې انصاف نه لري، د پلمې لټوونکي ناپوه په شان دی.

321( )عبدالله بن عباس په یوه مسئله کې داسې نظر ورکړ چې امام ورسره موافق نه و، نو ویې فرمایل(:

ستا دنده دا ده چې خپل نظر راته ووایې، او زما دنده دا ده چې پر هغه فکر وکړم؛ نو که وروسته ما ستا د نظر خلاف حکم وکړ، بیا پر تا اطاعت لازم دی.

322( )کله چې امام د صفین له جګړې راستنېده او د شبامیانو کوڅې ته ورسېد، د جګړې پر وژل شویو د ښځو د ژړا غږ یې واورېد. هماغه مهال د شبامیانو مشر حرب بن شرحبیل امام ته راغی. امام وفرمایل(:

ایا لکه څنګه چې اورم، ستاسې ښځې پر تاسې غالبه شوې دي؟ ولې یې له ژړا او فریاد نه منع کوئ؟

(حرب پلې روان و او امام پر آس سپور و، نو ورته ویې فرمایل:) ببرته وګرځه، ځکه د داسې قبیلې د مشر په شان ستا پلې تګ زما تر شا د واکمن لپاره د کږوالي او د مؤمن لپاره د سپکاوي سبب کېږي.

323( )د نهروان په جګړه کې، کله چې امام د خوارجو د مړو تر څنګ تېرېده، ویې فرمایل(:

هلاک شئ تاسې! هغه څوک چې تاسې یې وغولول، تاوان یې درته ورسوه.

پوښتنه وشوه: ای د مؤمنانو امیره، چا هغوی وغولول؟

ویې فرمایل: ګمراه کوونکي شیطان او هغه نفس چې بدۍ ته امر کوي، هغوی په هیلو وغولول، د ګناه لار یې ورته اسانه کړه، د بریا وعده یې ورکړه، او په پای کې یې د دوزخ اور ته وغورځول.

324( ) له پټو ځایونو کې د الله له نافرمانۍ ځان وساتئ، ځکه هماغه څوک چې شاهد دی، هماغه به فیصله کوونکی وي.

325( )کله چې امام ته د محمد بن ابي بکر د وژل کېدو خبر ورکړل شو، ویې فرمایل(:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر هغه زمور غم د شامیانو د خوشحالی هومره دی، خو توپیر دا دی چې له هغوی یو دښمن کم شو او له مور یو دوست کم شو.

326) هغه عمر چې الله د آدم د زوی عذر پکې مني، شپیته کاله دی.

327) هغه څوک بریالی نه شو چې ګناه پرې غالبه شوه، او هغه څوک چې په بدۍ سره بری ومومي، په حقیقت کې مات شوی دی.

328) الله تعالی د فقیرانو روزي د شتمنو په مالونو کې ایښې ده، نو هېڅ فقیر به وږی پاتې نشي مګر د شتمنو د زیاتو اخستنو له امله، او الله به له هغوی څخه د وږو د لوږې پوښتنه وکړي.

329) بې‌نیازي له عذر غوښتلو څخه، له ربښتیني عذر څخه هم ډېره درنه ده.

330) د الله تر ټولو لږ حق پر تاسو دا دی چې د هغه له نعمتونو څخه په ګناه کې مرسته وانخلئ.

331) الله سبحانه طاعت د هوښیارانو غنیمت ګرځولی دی، په هغه وخت کې چې کمزوري خلک سستي کوي.

332) اسلامي حاکم د الله ساتونکی دی پر ځمکه.

333) د مؤمن خوشحالي په څېره کې وي او غم یې په زړه کې پټ وي؛ سینه یې له هر څه پراخه او نفس یې له هر څه ټیټ وي. برتري غوښتل بد ګڼي او ریاکاري دښمنه بولي. غم یې اوږد، همت یې لوړ، چوپتیا یې زیاته او وخت یې په کار بوخت وي. شکر کوونکی، صابر او ژور اندی دی. له چا څه نه غواړي، نرم خویه او متواضع وي. نفس یې له کاڼي سخت، خو په دینداری کې له بنده هم عاجز وي.

334) که د الله بنده خپل اجل او د کار پای وویني، له هیلو او دوکې سره به دښمني وکړي.

335) د هر انسان په مال کې دوه شریکان دي: وارث او پېښې.

336) څوک چې تر وعدې ورکولو مخکې تري څه وغوښتل شي، تر هغه وخته ازاد دی چې وعده نه وي ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(337 هغه څوک چې بې له عمله بلنه ورکوي، د هغه غوندې دی لکه غشی ویشتونکی بې له کمانه.

(338 علم دوه ډوله دی: فطري علم او اکتسابي علم؛ اکتسابي علم که له فطري علم سره برابر نه وي، ګټه نه لري.

(339 ثابت نظر له هغه سره وي چې ځواک او مال ولري؛ کله چې ځواک ورسره وي، خلک ورسره مخ کوي، او چې ځواک تري ولاړ شي، خلک هم تري مخ اړوي.

(340 پاکدامني د ښوزلۍ زینت دی، او شکر د شتمنۍ زینت دی.

(341 د ظالم د سزا ورځ تر هغه سخته ده چې هغه پر مظلوم ظلم کوي.

(342 تر ټولو لویه شتمني دا ده چې د خلکو له لاسه څخه هیله پرې شي.

(343 خبرې لیکل کېږي، پټ رازونه ښکاره کېږي، او هر انسان د خپلو عملونو په بند کې دی. خلک له کمښتونو او آفتونو ډک دي، پرته له هغه چا چې الله یې وساتي. غوښتونکي خلک ستړي کوونکي وي، او ځواب ورکوونکي په زحمت کې وي. تر ټولو هوښیار هم کله د لږ خوښۍ یا لږ غوسې له امله له خپل نظره اوړي، او تر ټولو ټینګ انسان هم کله د یوې خبرې یا یو نظر له امله بدلیږي.

(344 ای خلکو! له الله ووپرېږئ؛ ډېر هیله من داسې وي چې خپلې هیلې ته نه رسېږي، ډېر جوړوونکی داسې وي چې په خپل جوړ کړي کې نه اوسي، او ډېر راټولوونکی داسې وي چې ژر به هغه څه پرېږدي چې راټول کړي یې دي. کېدای شي له باطل لارې یې راټول کړي وي، یا یې د نورو حق بند کړی وي، او له حرامو سره یې ګډ کړي وي؛ نو ګناه یې پر غاړه وي، د ګناه له درانه بار سره ځي، او له پښېمانۍ سره د الله حضور ته ورځي، داسې چې په دنیا او آخرت کې تاوانې شوی وي، او همدا ښکاره تاوان دی.

(345 ګناه ته نه رسېدل خپله یوه ساتنه ده.

(346 ستاسې آبرو لکه یخ دی، غوښتنه یې ورو ورو ویلې کوي؛ نو وګورئ چې د چا مخې ته یې ویلوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(347 له اندازې زیات ستاینه چاپلوسي ده، او له اندازې کمه ستاینه یا ناتواني ده یا حسد.

(348 تر ټولو سخت ګناه هغه ده چې ګناهکار یې وړه وبولي.

(349 څوک چې د خپل عیب ته وګوري، د نورو له عیب لټولو پاتې کیږي. څوک چې د الله په روزي راضي وي، د لاسه وتلي شي باندې نه خپه کیږي. څوک چې د ظلم توره راوباسي، په هماغه به ووژل شي. څوک چې ځان په کارونو کې ډېر ستړی کړي، ځان به هلاک کړي. څوک چې ځان د بلاوو په څپو کې وغورځوي، ډوب به شي. څوک چې بدنامو ځایونو ته ولاړ شي، متهم به شي. څوک چې ډېرې خبرې کوي، ډېرې تېروتنې کوي، او چې تېروتنې ډېرې شي، حیا کمیږي؛ چې حیا کمه شي، تقوا کمه شي؛ چې تقوا کمه شي، زړه مري؛ او چې زړه مړ شي، دوزخ ته لوېږي. څوک چې د خلکو بدې بدې وبولي او بیا هماغه بدې پخپله وکړي، هغه ربنتینی احمق دی. قناعت داسې مال دی چې پای نه لري. څوک چې مرګ ډېر یادوي، په دنیا کې په لږ څه راضي وي. څوک چې پوه شي چې خبرې یې هم د عملونو په حساب کې راځي، بې له اړتیا خبرې نه کوي.

(350 د ظالم انسان درې نښې دي: پر خپل مشر د سرکښۍ له لارې ظلم کوي، پر خپل لاندې کسانو په زور ظلم کوي، او د ظالمانو مرسته کوي.

(351 کله چې سختي وروستي حد ته ورسېږي، اساني راځي، او کله چې د بلا حلقه تنګه شي، راحت را نږدې کیږي.

(352 حضرت خپلو ځینو یارانو ته وفرمایل: د خپل ژوند ډېره برخه ښځې او اولاد ته مه ځانګړې کوه؛ ځکه که ستا ښځه او اولاد د الله له دوستانو څخه وي، نو الله به هغوی پخپله تر خپل ساتنې لاندې راولي، او که د الله له دښمنانو څخه وي، نو بیا ولې د الله د دښمنانو غم خوري؟

(353 تر ټولو لوی عیب دا دی چې انسان هغه څه چې په خپله کې لري، په نورو کې عیب وشمېري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(354 د امام په حضور کې یو کس د نوي ماشوم د زېږېدو مبارکي داسې ورکړه: «د اتل سپاره زوی دې مبارک شه». امام وفرمایل: داسې مه وایه، بلکې ووایه: د الله شکر وباسه چې دا ماشوم یې درکړ، دا درته مبارک شه، هیله ده لوی شي او ته د هغه له نېکۍ څخه ګټه واخلې.

(355 کله چې د امام له کارکوونکو څخه یوه شاندارہ مانۍ جوړه کړه، امام ورته وفرمایل: د سرو او سپینو زرو سکې خپل سرونه راپورته کړل؛ دا لوړه مانۍ ستا شتمني او بېنیازي څرګندوي.

(356 له امام څخه وپوښتل شول: که د یو سړي د کور دروازه پرې وتړل شي، نو روزي به یې له کومه راځي؟

ویې فرمایل: له هماغه ځایه چې مرګ ورته راځي.

(357 یو کس ته چې د خپل خپلوان په مرګ غمجن و، داسې تسلیت ورکړل شو: مرګ له تاسو نه دی پیل شوی او پر تاسو به هم پای ته ونه رسېږي. دا ستاسې ملګری به سفر ته تللو، نو داسې وګڼئ لکه یو له سفرونو څخه چې تللی وي؛ که هغه بېرته رانشي، تاسو به ورپسې ورشئ.

(358 ای خلکو! الله باید تاسو د نعمت پر وخت هم داسې وویني لکه د سزا پر وخت چې وېرېږئ؛ ځکه څوک چې د پراخۍ او اسانتیا په وخت کې ځان خوندي ګڼي، له ناڅاپي پېښو څخه به هم بېپروا شي، او څوک چې تنګدستي ازموینه ونه ګڼي، هغه ثواب له لاسه ورکوي چې تمه یې درلوده.

(359 ای د هیلو بندیانو! بس وکړئ؛ د دنیا د مقام خاوندان یوازې د زماني د پېښو له غابنونو وېرېږي. ای خلکو! د خپل نفس روزنه پخپله پر غاړه واخلئ او نفس له هغو عادتونو راوګرځوئ چې پرې حریص وي.

(360 د هغه خبرې په اړه چې د یو چا له خولې ووځي، بد ګمان مه کوئ، ځکه کېدای شي ښه مانا هم ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(361 کله چې له الله څخه څه غواړئ، لومړی پر پیغمبر ﷺ درود ووایئ، بیا خپله غوښتنه وکړئ؛ ځکه الله تر دې ډېر کریم دی چې له دوو غوښتنو یوه قبوله کړي او بله رد کړي.

(362 څوک چې د خپل آبرو ساتنه غواړي، له شخړې دې ځان وساتي.

(363 له توان مخکې بیړه کول، او د فرصت له لاسه وروسته سستي کول، د بې‌عقلي نښه ده.

(364 له هغه څه پوښتنه مه کوئ چې لا نه دي پېښ شوي؛ هغه څه چې پېښ شوي، ستا د پند لپاره بس دي.

(365 فکر روښانه هنداره ده، او د پېښو عبرت خیر غوښتونکی خبرداری دی. د نفس د ادب لپاره همدومره بس ده چې هغه کار مه کوه چې د نورو لپاره یې نه خوښوې.

(366 علم او عمل یو له بل سره تړلي دي؛ څوک چې پوه شي باید عمل وکړي، ځکه علم عمل ته بلنه ورکوي، که ځواب ورکړل شي پاتې کېږي، او که نه نو ځي.

(367 د دنیا حرام مال د وچو پانو په شان دی چې د ناروغۍ باد یې خوځوي؛ نو له دې څرځایه لرې اوسئ. له دنیا څخه زړه ایستل تر هغې ډېر خوږ دي چې پر هغې ډاډ وشي، او د اړتیا په اندازه اخیستل تر ډېر راټولولو غوره دي. څوک چې له دنیا ډېر اخلي، په فقر محکومېږي، او څوک چې ځان تر بې‌نیازه کړي، په آرام کې وي. څوک چې د دنیا ښکلا ته ګوري، ړوند زړه کېږي، او څوک چې له حرامې دنیا سره مینه وکړي، زړه یې له غمونو ډک شي، تر دې چې مرګ ورته ورسېږي، رګونه یې پرې شي، او له منځه وړل یې پر الله اسانه وي، او ښخول یې د ملګرو په لاس وي.

خو مؤمن دنیا ته د عبرت په سترګه ګوري، د اړتیا په اندازه تر اخلي، او خبرې یې د دښمنۍ په ډول اوري؛ ځکه چې کله وایي شتمن شو، بیا وایي بېوزلی شو، او کله چې خوشحاله شي، مرګ ورته غم راولي، او لا د سختې ورځې وخت نه دی راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

368) الله ثواب د اطاعت پر سر او سزا د نافرمانۍ پر سر ټاکلې ده، څو بندګان له عذابه وژغوري او جنت ته يې راوبولي.

369) پر خلکو به داسې زمانه راشي چې له قرآنه به يوازې نوم پاتې وي او له اسلامه به يوازې نامه. جوماتونه به آباد وي خو له هدايت څخه به خالي وي. جومات ته ناست او د لوړو جوماتونو جوړوونکي به د ځمکې تر ټولو بد خلک وي، د هرې فتنې مرکز به وي. څوک چې له فتنې لرې وي، بېرته به يې فتنې ته راکاږي، او څوک چې شاته پاتې وي، ور به يې کش کړي. الله فرمايي: پر خپل ځان قسم، زه به پر هغوی داسې فتنه راولېږم چې حليم انسان به پکې حيران شي.

370) اميرالمؤمنين به ډېر کم منبر ته خوت، مګر دا چې لومړی به يې ويل: ای خلکو! له الله ووېرېږئ؛ هېڅوک عبث نه دی پيدا شوی چې لوبې وکړي، او نه پرېښودل شوی چې بې‌ارزښته کارونو کې ځان بوخت کړي. هغه دنيا چې په سترګو ښکلي ښکاري، د هغه آخرت بديل نه شي کېدای چې تاسو يې بد ګڼئ. مغرور انسان چې په دنيا کې لوړې درجې ته رسېدلی وي، داسې دی لکه څوک چې په آخرت کې تر ټولو لږ نصيب لري.

371) له اسلامه لوړه شرافت نشته، له تقوا لوړه عزت نشته، له پرهېزګارۍ ښه کلا نشته، له توبې ښه شفاعت نشته، له قناعت لويه خزانه نشته، او د فقر د ختمولو لپاره له رزق باندې راضي کېدل تر هر مال غوره دي. څوک چې د کفايت په اندازه واخلي، آرام ته رسېږي، خو دنيا غوښتنه د سختۍ کيلي ده، او حرص، تکبر او حسد انسان ګناه ته بې‌باکه کوي، او بدۍ د ټولو عيبونو مجموعه ده.

372) ای جابر! د دين او دنيا ټينګښت په څلورو شيانو دی: عالم چې پر خپل علم عمل وکړي، جاهل چې له زده کړې مخ وانهړوي، شتمن چې بخل ونه کړي، او فقير چې آخرت په دنيا ونه پلوري. که عالم علم ضايع کړي، جاهل به زده کړه ونه کړي؛ که شتمن بخل وکړي، فقير به آخرت په دنيا وپلوري.

ای جابر! کله چې د الله نعمتونه پر يو چا ډېر شي، د خلکو اړتياوې هم ورپسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې شي. که هغه د نعمت حق ادا کړي، الله به نعمت ورته پاتې کړي، او که حق ادا نه کړي، نعمت به ترې واخلي.

(373 عبدالرحمن بن ابي ليلى وايي: کله چې مونږ د شاميانو پر وړاندې ودرېدو، له علي عليه السلام مې واورېدل چې ويل يې:

ای مؤمنانو! څوک چې ظلم وويني او د بد کار بلنه واوري، او په زړه کې يې بد وبولي، ځان يې له ګناه څخه خوندي کړ. څوک چې په ژبه يې بد وبولي، هغه ته ثواب ورکول کېږي او له لومړي څخه غوره دی. او څوک چې په توره د بدۍ پر ضد راپورته شي څو د الله کلمه لوړه او د ظالمانو خبره ټيټه شي، هغه د نجات لار موندلې او د يقين رڼا يې په زړه کې ځليدلې ده.

(374 ځينې خلک بد کار په لاس، ژبه او زړه ردوي، دا هغه کسان دي چې ټولې ښې ځانګړنې يې راټولې کړې دي. ځينې نور بد کار په ژبه او زړه ردوي خو په لاس اقدام نه کوي، نو دوی دوه نېکۍ لري او يوه يې ضايع کړې ده. ځينې نور يوازې په زړه بد بولي او په ژبه او لاس څه نه کوي، نو دوی له دريو څخه دوه غوره ځانګړنې له لاسه ورکړې او يوه يې ساتلې ده. او ځينې داسې دي چې نه په زړه، نه په ژبه او نه په لاس بد ردوي، نو دا د ژوندیو تر منځ مړه دي. ټول نېک کارونه او د الله په لار کې جهاد، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په پرتله د سمندر پر مخ د څاڅکي په شان دي. امر بالمعروف او نهی عن المنکر نه مرګ نږدې کوي او نه روزي کموي، او تر ټولو غوره خبره دا ده چې د ظالم حاکم مخې ته د حق خبره وشي.

(375 له ابو جحيفه روايت دی چې ما له اميرالمؤمنين څخه واورېدل چې ويې فرمايل: د جهاد لومړی پړاو چې تاسې ترې پاتې کېږئ، په لاس جهاد دی، بيا په ژبه، او بيا په زړه. نو څوک چې په زړه نېکي ونه مني او بد رد نه کړي، زړه يې چپه کېږي، پورته يې ښکته او ښکته يې پورته ګرځي.

(376 حق دروند دی خو خوږ دی، او باطل سپک دی خو وژونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(377 د دې امت پر غوره خلکو هم د الله له عذابه ځان خوندي مه ګڼئ، ځکه الله فرمايي: له د الله له مکره خوندي نه وي مګر تاوانيان. او د دې امت پر بدو خلکو هم د الله له رحمته مه ناهيلي کيږئ، ځکه الله فرمايي: د الله له رحمته نه ناهيلي کيږي مګر کافران.

(378 بخل د ټولو عيبونو مرکز دی او هغه مهار دی چې انسان هرې بدۍ ته راکاږي.

(379 ای د آدم زويه! روزي دوه ډوله ده: يوه هغه چې ته يې لټوې، او بله هغه چې تا لټوي؛ که ته ورپسې ولاړ نه شې، هغه به درپسې راشي. د راتلونکي کال غم پر نن مه اچوه، ځکه د هرې ورځې غم د هماغې ورځې لپاره بس دی. که راتلونکی کال ستا په عمر کې وي، الله به هره ورځ ستا برخه درکړي، او که نه وي، نو د هغه غم درسره څه کار لري؟ هېڅوک به ستا د روزۍ په اخستلو کې درځخه مخکې نه شي، او هېڅ غالب به پر تا غالب نه شي، او هغه څه چې درته مقدر شوي، بې له کمښت به درته ورسېږي.

(380 ډېر داسې کسان وو چې سهار ژوندي وو خو مابنام ته ونه رسېدل، او ډېر داسې کسان وو چې د شپې په پيل کې خلک پرې حسد کاوه، خو د شپې تر پايه پرې ماتم کېده.

(381 ژبه ستا تر واک لاندې وي تر هغه چې نه وي ويلي، خو کله چې دې وويل، ته د هماغه بندي کيږې. نو خپله ژبه داسې وساته لکه څنګه چې خپل زر او سپين زر ساتې، ځکه ډېر ځله يوه خبره نعمت ليرې کوي او بله خبره نعمت راجلبوي.

(382 هغه څه چې نه پوهيږې مه يې وايه، بلکې هر څه چې پوهيږې هغه هم مه وايه؛ ځکه الله تعالی د بدن پر غړو داسې واجبات ايښي چې د قيامت په ورځ به پرې پر تا دليل ونيول شي.

(383 ووپرېږه چې الله دې د ګناه پر وخت ووينې او په خپل اطاعت کې دې و نه مومي، نو بيا به ته له تاوانيانو څخه يې. کله چې قوي شې، خپله ځواک د الله په طاعت کې ولګوه، او کله چې کمزوری شې، کمزوري دې د الله په نافرمانۍ کې وکاروه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(384 په دنيا کې آرام موندل، سره له دې چې د هغې ناپايداري ښکاره ده، ناپوهي ده؛ او په نيکو عملونو کې سستي کول، سره له دې چې د ثواب يقين شته، تاوان دی؛ او د خلکو له ازموينې مخکې پرې باور کول، کمزوري ده.

(385 د دنيا د سپکاوي لپاره د الله په نزد همدومره بس ده چې له دنيا پرته په بل ځای کې د الله نافرماني نه کيږي، او د الله ثواب ته له دنيا پرېښودو پرته نه رسيږي.

(386 څوک چې د څه په لټه کې وي، يا به ټول هغه وموميي يا به يې يوه برخه وموميي.

(387 هغه خير چې وروسته يې اور وي، خير نه دی، او هغه شر چې وروسته يې جنت وي، شر نه دی. هر نعمت چې جنت ونه لري، ناچيز دی، او هره بلا چې دوزخ ونه لري، عافيت دی.

(388 خبر اوسئ چې فقر يو ډول بلا ده، او له ښوزلۍ سخته د بدن ناروغي ده، او له د بدن ناروغۍ سخته د زړه ناروغي ده. پوه شئ چې د بدن روغتيا د زړه په تقوا کې ده.

(389 هغه څوک چې خپل عمل يې مخکې نه وړي، د کورنۍ شرافت به يې هم مخکې ونه وړي؛ او څوک چې خپل ارزښت له لاسه ورکړي، د کورنۍ لويي به ورته ګټه ونه رسوي.

(390 مؤمن بايد خپل شپه او ورځ په دري برخو ووېشي: يوه برخه د الله عبادت ته، يوه برخه د ژوند د اړتياوو پوره کولو ته، او يوه برخه د حلالو خوښيو لپاره. هوښيار ته نه ښايي مګر دا چې د دري شيانو لپاره هڅه وکړي: د حلال رزق ګټل، د آخرت لپاره کار کول، او يا حلاله خوښي تر لاسه کول.

(391 له حرامي دنيا سترګې پټې کړه، څو الله يې بدۍ درته ښکاره کړي، او غافل مه اوسه، ځکه له تا څخه يوه لحظه هم غفلت نه کيږي.

(392 خبرې وکړئ څو وپېژندل شئ، ځکه انسان د خپلې ژبې لاندې پټ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(393 له دنيا هغه اندازه واخله چې دررسيږي، او له هغه څه مخ واړوه چې درنه مخ اړوي؛ او که دا نشې کولی، نو د دنيا په لټه کې ښه هڅه وکړه.

(394 ډېر ځله يوه خبره له وسله وال برید څخه هم ډېره اغېزمنه وي.

(395 څومره چې قناعت وکړې، هماغه درته بس دی.

(396 مرګ تر دې ښه دی چې انسان ځان ذلیل کړي، او لږ درلودل تر دې ښه دي چې د خلکو پر وړاندې د سوال لاس وغځوي. که انسان ته په خپل ځای کې څه ورنه کړل شي، په منډه او هڅه به هم ورنه کړل شي. زمانه دوه ورځې ده: يوه ستا په ګټه او بله ستا په تاوان؛ کله چې په ګټه دې وي، سرکشي مه کوه، او کله چې په تاوان دې وي، صبر وکړه.

(397 د مشک خوشبويي ښه ده، وړل يې اسانه دي او بوی يې خوږ او خوشبويه دی.

(398 فخر پرېږده، تکبر پرېږده، او مرګ په یاد لره.

(399 پر زوی د پلار حق دی او پر پلار د زوی حق دی. د پلار حق پر زوی دا دی چې له هغه اطاعت وکړي، پرته له دې چې د الله نافرماني وي؛ او د زوی حق پر پلار دا دی چې ښه نوم پرې کښېږدي، ښه روزنه ورکړي، او قرآن ور وښيي.

(400 بد نظر حق دی، د طبیعت پټې اغېزې حق دي، سحر شته، او نېک فال سم دی؛ خو بد فال نیول سم نه دي، او دا عقیده چې ناروغي پخپله له یو چا بل ته رسېږي سمه نه ده. خوشبويي درمل ده او نشاط راولي، شات شفا ده او قوت ورکوي، سپرلۍ روغتیا راولي، او شنو ته کتل د زړه آرام او درمل دي.

(401 همغږي له خلکو سره په اخلاقو او دودونو کې، د هغوی له دښمنۍ او کینې څخه د خوندي پاتې کېدو سبب کېږي.

(402 یو کس د امام په حضور کې له خپل شأن څخه لوړه خبره وکړه، نو امام وفرمایل: لا دې وزرې نه دي راټوکېدلې او الوتنه کوې، او د کوچنیوالي په عمر کې د لویانو غږ کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

403) څوک چې په بېلابېلو کارونو کې ځان بوخت کړي، سپک کېږي او بری نه مومي.

404) د «لا حول ولا قوة الا بالله» د معنا په اړه وپوښتل شول، ویې فرمایل: مور د الله پر وړاندې د هېڅ شي مالک نه یو، او د هېڅ شي مالک نه کېږو مګر هغه څه چې هغه یې راکوي. کله چې الله مور ته څه راکړي، چې هغه پخپله تر مور پرې ډېر حق لري، نو دندې هم پر مور واجبوي، او کله چې یې بېرته واخلي، هغه دندې هم تري لرې کوي.

405) کله چې عمار بن یاسر له مغیرة بن شعبه سره بحث کاوه، امام ورته وفرمایل: ای عمار! مغیره پرېږده، ځکه هغه له دین څخه هماغومره اخلي چې هغه دنیا ته نږدې کړي، او په قصد سره حقایق پر ځان پټوي څو شکونه د خپلو لغزشونو پلمه وګرځوي.

406) د شتمنو نرمي د بېوزلو پر وړاندې د ثواب لپاره ښه ده، او تر دې هم غوره د بېوزلو ځان ساتنه ده د شتمنو پر وړاندې، د الله پر توکل سره.

407) الله هېڅا ته عقل نه دی ورکړی مګر دا چې یوه ورځ به یې د عقل په وسیله وژغوري.

408) څوک چې له حق سره ټکر وکړي، هلاک به شي.

409) زړه د سترګو کتاب دی؛ څه چې سترګه وویني، په زړه کې کېښي.

410) تقوا د ټولو اخلاقي ارزښتونو سر دی.

411) له هغه چا سره چې تا ته یې خبرې در زده کړې، په سختۍ خبرې مه کوه، او له هغه چا سره چې تا ته یې د ښه وینا لار ښودلې، د فصاحت دعوه مه کوه.

412) د خپل نفس د روزنې لپاره همدومره بس دی چې هغه څه پرېږدې چې د نورو لپاره یې نه خوښوې.

413) په مصیبتونو کې یا د آزادو خلکو په شان صبر وکړه، او یا د ناپوهانو په شان ځان هېر کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(414 امام اشعث بن قیس ته د خپل زوی په مرګ کې تسلیت ورکړ او ویې فرمایل: یا د عزتمنو خلکو په شان صبر وکړه، یا د څارویو په شان بېپروا اوسه.

(415 د حرامې دنیا په اړه وفرمایل: دنیا غولوي، زیان رسوي او ژر تېرېږي؛ له همدې امله الله دا د خپلو دوستانو د ثواب ځای ونه ګرځاوه، بلکې د خپلو دښمنانو د سزا ځای یې وګرځاوه. د دنیا خلک د هغه کاروان په شان دي چې لا یې بار نه وي ایښی، خو د کاروان مشر د کوچ غږ وکړي، نو بار تړي او روانېږي.

(416 امیرالمؤمنین خپل زوی حسن ته وفرمایل: له دنیا څخه حرام شی د خپل مرګ وروسته مه پرېږده، ځکه هغه څه چې تر تا وروسته پاتې کېږي د دوو کسانو له نصیب څخه یو ته رسېږي: یا به داسې کس وي چې هغه د الله په طاعت کې ولګوي او د هغه څه په وسیله نېکمرغه شي چې تا هلاک کړی و، یا به داسې کس وي چې په ګناه کې یې وکاروي او د هغه څه په وسیله هلاک شي چې تا راټول کړي وو، نو ته به د هغه په ګناه کې مرسته کړې وي، او هېڅ یو له دې دواړو څخه دومره ارزښت نه لري چې ته یې پر ځان مقدم کړې.

او په بل روایت کې: دا مال چې اوس ستا په لاس کې دی، مخکې د بل چا په لاس کې و او وروسته به د بل چا په لاس کې وي. ته د دوو کسانو لپاره مال راټولوې: یا د داسې چا لپاره چې په طاعت کې یې وکاروي او نېکمرغه شي، یا د داسې چا لپاره چې په ګناه کې یې وکاروي او هلاک شي؛ نو د هغوی بار پر ځان مه اخله.

پر تېر شوو د الله رحمت وغواړه او د پاتې شوو لپاره د الله رزق ته هیله ولره.

(417 یو کس د امام په حضور کې بې له توجه وویل: استغفر الله. امام وفرمایل: ستا مور دې پر تا وژاړي! پوهېږې استغفار څه معنا لري؟ استغفار د لوړو مقامونو درجه ده او شپږ معناوې لري:

لومړی، د تېر کار پښېمانې.

دوهم، د بېرته نه ګرځېدو کلک هوډ.

دریېم، د خلکو حقونه ادا کول څو الله ته پاک ورشې.

څلورم، هغه واجبات چې ضایع شوي بېرته ادا کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم، هغه غوښه چې له حرامه پیدا شوې وي د غم او ریاضت په وسیله له منځه وړل څو نوې غوښه پیدا شي.

شپږم، بدن ته د طاعت سختي ورځکول لکه څنګه چې دې د ګناه خوږوالی ورځکولی و؛ نو بیا ووایه: استغفر الله.

418) حلم او زغم د خپلوانو په شان نږدې اړیکه لري.

419) بېچاره د آدم زوی! اجل یې پټ دی، ناروغۍ یې پټې دي، عملونه یې ټول لیکل شوي دي؛ یو مچ یې ځوروي، یوه غوړپه یې ساه بندوي، او لږ خوله یې بدبویه کوي.

420) اصحاب د امام شاوخوا ناست وو چې یوه ښکلې ښځه تېره شوه، نو خلکو ورته وکتل. امام وفرمایل: د دې خلکو سترګې د شهوت منظرې ته نیول شوې او نفسونه یې خوځېدلي دي؛ که له تاسو څخه څوک د یوې ښځې په لیدلو حیران شي، له خپلې مېرمنې سره دې یوځای شي، ځکه هغه هم د ده په شان ښځه ده. یو خارجي وویل: الله دې دا کافر ووژني، څومره فقیه دی! خلک د هغه د وژلو لپاره پورته شول، امام وفرمایل: آرام اوسئ، ښکنځل یا په ښکنځل ځوابېرې او یا په ښېنه.

421) همدومره عقل درته بس دی چې د ګمراهۍ او هدایت لاره در وښیي.

422) ښه کار کوئ او هغه کوچنی مه ګڼئ، ځکه لږ یې ډېر کېږي او کوچنی یې لوی کېږي، او له تاسو دې څوک دا نه وایي چې بل څوک تر ما د نېکۍ ډېر وړ دی؛ په الله قسم، ښه او بد دواړه پلویان لري، که تاسو یې پرېږدئ، نور به یې کوي.

423) څوک چې خپل باطن سم کړي، الله به یې ظاهر سم کړي؛ څوک چې د دین لپاره کار وکړي، الله به یې دنیا بس کړي؛ او څوک چې خپل کار له الله سره سم کړي، الله به یې کار له خلکو سره سم کړي.

424) حلم او زغم پرده ده، او عقل تېره توره ده؛ نو خپل اخلاقي کمښتونه په حلم پټ کړه او خپل نفس د عقل په توره ووژنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(425 الله ځينو بندګانو ته ځانګړي نعمتونه ورکوي چې د خلکو په ګټه يې ولګوي؛ تر څو چې بخښنه کوي، نعمت ورسره پاتې کېږي، او چې بخل وکړي، نعمت ترې اخلي او بل ته يې ورکوي.

(426 د الله بنده ته نه ښايي چې پر دوو شيانو باور وکړي: روغتيا او شتمني؛ ځکه روغ سړی ناڅاپه ناروغ شي او شتمن ناڅاپه بېوزلی شي.

(427 څوک چې خپله اړتيا مؤمن ته ووايي، داسې ده لکه الله ته يې ويلي وي؛ او څوک چې خپله اړتيا کافر ته ووايي، داسې ده لکه له الله يې شکايت کړی وي.

(428 دا اختر د هغه چا دی چې الله يې روژه قبوله کړې او لمونځ يې منلی دی، او هره ورځ چې پکې د الله نافرماني ونه شي، هماغه ورځ اختر دی.

(429 د قيامت تر ټولو لويه حسرت دا ده چې يو سړی مال په ګناه راټول کړي، بيا بل کس يې په ميراث واخلي او د الله په طاعت کې يې ولګوي او جنت ته ولاړ شي، او راټولوونکی يې جهنم ته ولاړ شي.

(430 تر ټولو تاواني انسان هغه دی چې ځان د مال په راټولولو ستړی کړي خو تقدير ورسره برابر نه شي، نو له دنيا په حسرت ووځي او آخرت ته د ګناه بار يوسي.

(431 روزي دوه ډوله ده: يوه چې تا لټوي او بله چې ته يې لټوې؛ څوک چې دنيا غواړي، مرګ يې لټوي څو ترې يې وباسي، او څوک چې آخرت غواړي، دنيا ورپسې راځي څو روزي يې پوره کړي.

(432 د الله دوستان هغه دي چې د دنيا باطن ته يې وکتل، کله چې خلکو ظاهر ته کتل؛ هغوی د آخرت لپاره بوخت شول، کله چې خلک د دنيا په چارو بوخت وو. هغوی هغه څه ووژل چې دوی يې هلاکول، او هغه يې پرېښودل چې دوی پرېښودل. د دنيا ګټه يې سپکه وګڼله او قرآن د هغوی په وسيله پېژندل کېږي، او هغوی په قرآن ولاړ دي. له هغه څه پورته هيله نه لري چې ورته ټاکل شوي، او له هغه څه پرته نه وېرېږي چې بايد ترې وېرېږي.

(433 د خوندونو پای او د ترخو پاتې کېدل په ياد ولرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(434 خلک وازمويه، دښمن به درته معلوم شي.

(435 الله د شکر دروازه پر بنده نه پرانيزي مګر دا چې د نعمت د زياتېدو دروازه هم پرانيزي، او د دعا دروازه نه پرانيزي مګر دا چې د قبلېدو دروازه هم پرانيزي، او د توبې دروازه نه پرانيزي مګر دا چې د ښښې دروازه هم ورسره پرانيزي.

(436 تر ټولو د بزرګواریٔ وړ هغه دی چې بزرګان ورسره پرتله شي.

(437 وپوښتل شول: عدالت غوره دی که بخشش؟ ويې فرمايل: عدالت هر څه په خپل ځای ږدي، خو بخشش يې له ځايه باسي. عدالت د ټولو لپاره دی، خو بخشش د ځانګړو کسانو لپاره؛ نو عدالت غوره دی.

(438 خلک د هغه څه دښمنان دي چې نه يې پېژني.

(439 زهد د قرآن په دوو جملو کې دی: پر هغه څه مه خپه کېږئ چې له لاسه ووت، او پر هغه څه مه خوشحالېږئ چې درته درورسېد. څوک چې نه پر تېر افسوس کوي او نه پر راتلونکي غرور، هغه زاهد دی.

(440 ډېر وخت خوب د ورځې پرېکړې له منځه وړي.

(441 حکومت د سړيو د سيالیٔ ميدان دی.

(442 ستا لپاره هېڅ ښار له بل ښار نه غوره نه دی؛ غوره ښار هغه دی چې تا پکې ځای درکړي.

(443 کله چې د مالک اشتر د شهادت خبر ورسېد، امام وفرمايل: مالک! څه مالک! که غر وای، يوازينی لوړ غر به و، او که ډبره وای، کلکه ډبره به وه چې هېڅوک يې سر ته نه رسېدل او هېڅ مرغه پرې نه الوتل.

(444 لږ کار چې په دوام سره وي، له ډېر کار څخه غوره دی چې ستړی کوونکی وي.

(445 که په چا کې يوه عجيبه خصلت ووينې، د هغې په شان نورې هم ترې تمه ولره.

(446 امام د غالب بن صعصعه څخه وپوښتل: ډېر اوښان دي څه شول؟ ويې ويل: د حقونو ورکولو خپاره کړل. امام وفرمايل: دا يې تر ټولو ښه لګښت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(447 څوک چې بې له فقهې سوداګري وکړي، ربا ته به ولوېږي.

(448 څوک چې وړو مصيبتونو ته غټ وګوري، الله به يې په لويو مصيبتونو اخته کړي.

(449 څوک چې ځان محترم ګڼي، خواهشات به سپک وګڼي.

(450 هيڅوک بې ځايه ټوکې نه کوي مګر دا چې د عقل يوه برخه له لاسه ورکوي.

(451 له هغه چا څخه ستا لرېوالی چې تا غواړي، په دوستۍ کې د ستا د برخې د کمښت نښه ده، او د هغه چا پر لور ستا ميلان چې تا نه غواړي، ستا د سپکاوي سبب ګرځي.

(452 فقر او شتمني به زمور، هغه وخت به څرګند شي کله چې د الله پر وړاندې ودرېږو.

(453 زبير تل زمور سره و، تر هغه وخته چې د هغه بد زوی عبدالله لوی شو.

(454 د آدم زوی ته له فخر کولو څه پکار دي؟ حال دا چې پيل يې بدبويه نطفه ده او پای يې بدبويه مړی دی؛ نه خپله روزي برابرولی شي او نه مرګ له ځانه لرې کولی شي.

(455 له امام څخه وپوښتل شول: د عربو تر ټولو لوی شاعر څوک دی؟ ويې فرمايل: شاعرانو په يوه لار نه دي منډې وهلې چې پای يې معلوم شي، خو که حتمي وي، نو د ګمراهانو پاچا تر ټولو لوی شاعر دی.

(456 ايا کوم ازاد انسان نشته چې دا د حرامي دنيا ژول شوې مړۍ خپل اهل ته پرېږدي؟ ستاسې د نفس بيه له جنت پرته بله نه ده، نو له هغه نه په کمه مه يې پلورئ.

(457 دوه وړي هيڅکله نه مړېږي: د علم غوښتونکی او د مال غوښتونکی.

(458 د ايمان نښه دا ده چې رښتيا ووايي که څه هم تا ته زيان ورسوي، او دروغ ونه وايي که څه هم تا ته ګټه ورسوي؛ او دا چې تر خپل عمل زياتې خبرې ونه کړي، او کله چې د نورو په اړه خبرې کوي، له الله ووېرېږه.

(459 کله کله د الله تقدير زمور پر حسابونو داسې برلاسی شي چې تدبير خپله د آفت سبب شي.

(460 بردباري او درنګ يو له بل سره مل دي، او پايله يې لوړ همت دی.

(461 غيبت د کمزوري انسان هڅه ده.

(462 ډېر کسان د خلکو په ستاينې وغولول شول.

(463 دنيا د آخرت لپاره پيدا شوې ده، نه دا چې انسان ورته ورسېږي.

(464 بني اميه ته يو مهلت ورکړل شوی چې پکې به ځغلي؛ خو کله چې په خپلو کې اختلاف وکړي، نو درندګان به پرې راتوپ کړي او پرې به برلاسي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

465) په انصارو د ستاینې په اړه وفرمایل: په الله قسم! هغوی اسلام داسې وروزه لکه مور چې خپل ماشوم روزي، په مال، په بخښونکو لاسونو، او په تیزو او ربښتینو ژبو.

466) سترګه د پېښو د لوبې ټرون دی.
یعنې تر هغه چې سترګه بنده وي، دننه حالت پټ وي، خو کله چې اوښکې راوځي، نو د زړه پټ رازونه ښکاره شي.

467) پر خلکو داسې واکمن حاکم شو چې کارونه یې سمبال کړل او ټینګ ودرېد، تر دې چې دین ټینګ شو.

468) پر خلکو به داسې سخت وخت راشي چې شتمن به خپل مال سخت نیسي، حال دا چې د بخل امر نه دی شوی. الله فرمایي: خپلمنځي احسان مه هېروئ. په هغه وخت کې به بد خلک لوړ شي او نېکان به خوار شي، او خلک به له مجبورانو سره راکړه ورکړه کوي، حال دا چې رسول ﷺ له مجبور سره له معاملې کولو منع کړې ده.

469) زما په اړه به دوه کسان هلاک شي: یو هغه دوست چې له حده زیات مینه وکړي، او بل هغه دروغجن چې حق نه وایي. او همدارنګه وفرمایل: دوه کسان به زما په اړه هلاک شي، یو زیات مینه کوونکی او بل بېځایه دښمني کوونکی.

470) توحید دا دی چې الله په وهم کې رانۀ وړې، او عدل دا دی چې الله ملامت نه کړې.

471) هلته چې باید خبرې وشي، چوپتیا ګټه نه لري، او هلته چې باید چوپ پاتې شي، خبرې کول خیر نه لري.

472) د باران غوښتلو په دعا کې وفرمایل: ای الله! مورِ په نرم او ارام ورېځو اوبه کړه، نه په سرکشو ورېځو.

473) ورته وویل شول: ولې خپل ویښتان نه رنګوې؟ ویې فرمایل: د ویښتانو رنګول زینت دی، خو مورِ د رسول ﷺ په ویر کې یو.

474) د الله په لاره کې د شهید مجاهد ثواب تر هغه ډېر نه دی لکه د هغه پاکدامن انسان چې د ګناه توان لري خو ځان ساتي؛ پاکدامن انسان د فرښتو په شان دی.

475) قناعت داسې مال دی چې هېڅکله پای نه لري.

476) کله چې زیاد بن ابیه فارس ته ولېږل شو، ورته یې ولیکل: عدالت خپور کړه او له ظلم څخه ځان وساته، ځکه ظلم خلک کډوال کوي او بیداد جګړې ته رسوي.

477) تر ټولو سخت ګناه هغه ده چې ګناهکار یې سپکه وګڼي.

478) الله له ناپوهانو ژمنه نه ده اخیستې چې زده کړه وکړي، تر څو یې له عالمانو ژمنه نه وي اخیستې چې تعلیم به ورکوي.

479) تر ټولو بد دوست هغه دی چې ته یې له امله په تکلیف کې ولوېږې.

480) کله چې مؤمن خپل ورور په غوسه کړي، نو له هغه څخه بېل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نهج البلاغې خطبې يوازې د ديني نصيحت خبرې نه دي، بلکې پکې د توحيد، عدالت، انسانيت، سياست، اخلاق، دنيا او آخرت په اړه ژور فکرونه بيان شوي دي.په دې خطبو کې انسان خپل خالق پېژني، خپل نفس پېژني، او د ژوند سمه لاره زده کوي.

د نهج البلاغې خطبې د انسان د بيدارولو لپاره دي.په دې خطبو کې د الله پېژندنه، د دنيا حقيقت، د مرګ يادونه، د قيامت حساب، د ظلم خطر، د عدالت ارزښت، د تقوا اهميت او د انسان د اصلاح لار بيان شوې ده.
امام علي عليه السلام په خپلو خطبو کې انسان ته يادونه کوي چې دنيا لنډه ده، عمل مهم دی، او عزت يوازې د تقوا په وسيله ترلاسه کېږي.

د نهج البلاغې خطبې يوازې د يو وخت لپاره نه دي، بلکې د هر وخت لپاره دي.په دې خطبو کې د واکمن لپاره عدالت، د عالم لپاره مسؤليت، د شتمن لپاره انفاق، د فقير لپاره صبر، او د هر انسان لپاره تقوا بيان شوې ده.
ځوک چې دا خطبې ولولي، د زړه نرمي، د عقل روښانتيا او د ايمان ځواک احساسوي.

د نهج البلاغې خطبې د زړه لپاره درمل، د عقل لپاره رڼا، او د ژوند لپاره لار ده.په دې خطبو کې د دنيا حقيقت داسې بيان شوی چې انسان له غرور څخه راکوزوي، او د آخرت ياد داسې کوي چې زړه بيدار شي.
که ځوک غواړي ځان وپېژني، الله وپېژني، او د ژوند مقصد درک کړي، نو د نهج البلاغې خطبې بايد ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱: د اسمان او ځمکې پیدایښت

)امام په دې وینا کې د اسمان او ځمکې د پیدایښت او د انسان د پیدایښت یادونه کوي(.

ستاینه د هغه خداي لره چې ویناوال د هغه له ستاینې عاجز دي، او حساب کوونکي د هغه د نعمتونو له شمېرلو ناتوانه دي، او کوښښ کوونکي د هغه د حق له ادا کولو پاتې راځي.
هغه خدای چې ژور فکرونه یې ذات نه شي درک کولای، او د پوهې د سمندر غوټه وهونکي لاسونه هم هغه ته نه رسېږي. داسې پروردګار چې د هغه د صفتونو لپاره حد او پوله نشته، بشپړه پېژندنه یې نه موندل کېږي، او د هغه لپاره ټاکلی وخت او پای نه شي ټاکل کېدای.

مخلوقات یې په خپل قدرت پیدا کړل، او په خپل رحمت یې بادونه په حرکت راوستل، او د غرونو په وسیله یې د ځمکې لړزه او اضطراب ارام کړ.

د دین پیل د خدای پېژندنه ده؛ او د خدای د پېژندنې کمال په هغه باور کول دي؛ او د باور کمال د هغه پر یووالي شهادت ورکول دي؛ او د توحید کمال اخلاص دی؛ او د اخلاص کمال دا دی چې خدای د مخلوقاتو له صفتونو څخه جلا وپېژندل شي؛ ځکه هر صفت دا ښیي چې له موصوفه جلا دی، او هر موصوف دا ښیي چې له صفته جلا دی؛ نو څوک چې خدای د مخلوقاتو په صفتونو بیان کړي، هغه یې له څه شي سره نږدې کړی دی، او چې کله یې نږدې کړي نو دوه یې ګرځولي دي، او چې دوه وګرځي نو د هغه لپاره یې برخې تصور کړي دي، او چې برخې ورته تصور شي نو هغه یې نه دی پېژندلی.

او څوک چې خدای ونه پېژني، هغه ته اشاره کوي، او څوک چې خدای ته اشاره وکړي، هغه محدود کړی دی او شمېر ته یې راوستی دی. او څوک چې ووایي: «خدای په څه کې دی؟» هغه یې په بل شي کې ګڼلی دی، او څوک چې ووایي: «خدای پر څه باندې ولاړ دی؟» نو بېشکه داسې ځای یې خالي ګڼلی چې هلته خدای نشته.

په داسې حال کې چې خدای تل و، او له هېڅ شي نه دی پیدا شوی. له هر څه سره دی، خو نه داسې چې ملګری یې وي؛ او له هر څه جلا دی، خو نه داسې چې پردی وي. د هر کار کوونکی دی، بې له حرکته، بې له وسیلې او بې له آلې. لیدونکی دی حتی هغه وخت چې هېڅ مخلوق نه و. یواځې دی، ځکه هېڅوک نه و چې ورسره انس ونیسي یا د نه شتون له امله تري ووېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلقت يې پيل کړ او موجودات يې پيدا کړل، بې له دې چې فکر ته اړتيا ولري، يا له تجربې کار واخلي، بې له دې چې حرکت وکړي يا پربکړه کې اضطراب ولري. د موجوداتو د پيدايښت لپاره يې مناسب وخت وټاکه، او بېلابېل موجودات يې سره برابر کړل، او په هر يو کې يې ځانګړې غريزه کېښوده او غريزې يې ورسره مل کړې. خداى له دې مخکې چې مخلوقات پيدا کړي، د هغوى له ټولو جزئياتو او اړخونو خبر و، د هغوى حد او پاى يې پېژانده، او د پټو او ښکاره رازونو څخه يې خبر و.

بيا پاک خداى د فضا طبقې وشکولې، شاوخوا يې پراخې کړې، او هغه هوا يې پيدا کړه چې اسمان او ځمکې ته رسېږي، او په هغې کې يې بهېدونکې اوبه جاري کړې، داسې اوبه چې څپې يې سره ټکرېدلې، يوې پر بلې پورته کېدلې. اوبه يې پر تند او ماتونکي باد باندې کېښودې، او باد ته يې امر وکړ چې هغه بېرته وګرځوي، او د اوبو ساتنه يې ورته وسپارله، او د هغې حد او پوله يې وټاکله. فضا د تند باد لاندې وه او اوبه د هغې له پاسه په حرکت کې وې.

بيا خداى يو توپان راپاڅاوه چې اوبه يې سختې خوځولې، او څپې يې پرله پسې سره ټکرولې. توپان په زور چلېده او له لرې ځايه بيا پيل شو. بيا يې توپان ته امر وکړ چې د سمندر څپې هر لور ته رواني کړي او سره يې وټکوي، او هماغسې چې په فضا کې چلېده، د اوبو پر څپو برېد وکړي، له پيله يې اخلي او پاى ته يې ور غورځوي، او ولاړې اوبه يې سرکښو څپو ته واړولې. تر دې چې اوبه پر يو بل پورته شوې او د لوړو غرونو د څوکو په شان جګې شوې. تېزو څپو هغه ځګونه چې له اوبو راوتلې وو، خلاصې فضا ته پورته کړل، او له هغو يې اوه اسمانونه جوړ کړل، لاندې اسمانونه لکه مهار شوې څپې، او پورته اسمانونه لکه ټينګ او لوړ چت، بې له دې چې ستن يا مېخ ته اړتيا ولري.

بيا يې د ټيټ اسمان فضا د ځلېدونکو ستورو په رڼا ښکلې کړه، او په هغه کې يې روښانه څراغ (لمر) او ځلنده سپوږمۍ په خپل مدار کې روانه کړه، په داسې چت کې چې خوځېدونکى دى او په داسې صفحه کې چې ارام نه لري.

بيا يې پورته اسمانونه پرانيستل او له بېلابېلو فرښتو يې ډک کړل. ځينې تل په سجده کې دي او رکوع نه کوي، ځينې په رکوع کې دي او د درېدو توان نه لري، ځينې په قطارونو کې ولاړ دي چې نه خپرېږي، او ځينې تل تسبيح وايي او نه ستړي کېږي، خوب د هغوى سترګو ته نه ورځي، عقلونه يې خطا نه کېږي، بدنونه يې کمزوري نه کېږي، او د هېرېدو له امله بې خبره نه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې فرښتې د الهي وحي امانت داران دي، او د پیغمبرانو لپاره د وحي ژبه ده، چې د خدای د حکم د رسولو لپاره تل په تګ راتګ کې وي. ځینې د بندګانو ساتونکي دي، او ځینې د جنت دربانان دي.

ځینې داسې دي چې پښې یې د ځمکې په ټیټو طبقو کې دي، او غاړې یې له اسمانه پورته دي، د وجود ستنې یې د نړۍ له غاړو اوښتې دي، او د خدای عرش یې پر اوږو ولاړ دی، د عرش پر وړاندې یې سترګې ټیټې کړې دي او وزرونه یې تر ځان را تاو کړي دي. د دې فرښتو او هغو تر منځ چې په ټیټو درجو کې دي، د عزت پردې او د قدرت حجابونه حایل شوي دي. هېڅکله خدای په وهم او خیال کې په کوم شکل نه ګڼي، او د مخلوقاتو صفتونه پرې نه لګوي، نه یې په کوم ځای کې محدودوي او نه ورته د ورته والي اشاره کوي.

بیا لوی خدای د ځمکې له بېلابېلو برخو خاوره راټوله کړه، له سختو او نرمو، مالګو او خوږو ځایونو څخه، او پر هغې یې اوبه واچولې تر څو خالصه خټه جوړه شوه، بیا یې رطوبت زیات کړ تر څو سرېښه شوه، او له هغې یې داسې اندام جوړ کړ چې مناسب و، غړي یې یو له بله جلا او سره ټرلي وو. بیا یې وچ کړ تر څو کلک شو، او همداسې یې وچاوه تر څو سخت شو، تر ټاکلي وخت پورې، تر څو د انسان بدن بشپړ شو.

بیا یې له هغه روح څخه چې پیدا کړی و، په هغه کې پو کړ، نو ژوندی انسان شو، داسې انسان چې د فکر ځواک لري چې هغه کار ته هڅوي، او داسې اندونه لري چې په نورو مخلوقاتو کې تصرف کوي. انسان ته یې غړي ورکړل چې د هغه په خدمت کې وي، او وسایل یې ورکړل چې په ژوند کې ترې کار واخلي. د پېژندنې توان یې ورکړ چې حق او باطل وپېژني، او د خوند، بوی، رنګونو او بېلابېلو جنسونو د پېژندلو حواس یې ورکړل. انسان یې د بېلابېلو رنګونو، موافقو شیانو، متضادو قوو او بېلابېلو مزاجونو (تودوخه، یخوالی، لمدوالی او وچوالی) څخه جوړ کړ.

بیا یې له فرښتو وغوښتل چې هغه څه ترسره کړي چې د هغوی پر غاړه دي، او هغه عهد پوره کړي چې منلی یې و، چې آدم ته سجده وکړي او هغه درونده وبولي، او و یې ویل: «آدم ته سجده وکړئ» نو ټولو فرښتو سجده وکړه، مګر شیطان. غرور او تکبر هغه ونیولو، بدبختي پرې غالبه شوه، او د اور له پیدایښت یې ویاړ وکړ او د انسان د خټې پیدایښت یې ټیټ وبالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای د دې لپاره چې شیطان د خپل غضب وړ وګرځي، او ازموینه بشپړه شي، او وعده پوره شي، هغه ته مهلت ورکړ او ویې ویل: «تر قیامت ورځې پورې مهلت درکړل شو.»

بیا خدای آدم په داسې کور کې مېشت کړ چې ژوند پکې خوږ و، او ځای یې خوندي کړ، او هغه یې د شیطان او د هغه له دښمنۍ ووېرواوه. خو شیطان هغه وغولاوه، ځکه چې د آدم د جنت ژوند او له نېکانو سره د هغه ملګرتیا ته یې حسد کاوه. آدم یقین په شک بدل کړ، او ټینګ عزم یې د شیطان په بې ثباته خبرو وپلوره، او خپله خوښي یې په وېرې بدله کړه، او د فریب له امله پښېمانه شو.

بیا پاک خدای د توبې دروازه د آدم پر مخ خلاصه کړه، د رحمت کلمه یې د هغه پر ژبه جاري کړه، او د جنت د بېرته ورګرځېدو وعده یې ورکړه. بیا یې آدم ځمکې ته راکوز کړ، چې د ازموینو او ستونزو کور دی، تر څو واده وکړي او اولادونه پیدا کړي.

او پاک خدای د هغه له اولادونو څخه پیغمبران وټاکل، له هغوی څخه یې د وحي عهد واخیست چې د رسالت امانت خلکو ته ورسوي، هغه وخت چې ډېرو خلکو د خدای عهد هېر کړی و، د پروردګار حق یې نه پېژانده، او د هغه پر ځای یې دروغجن خدایان نیولي وو، او شیطانانو خلک د خدای له پېژندنې لېرې کړي وو.

نو خدای خپل پیغمبران راولېږل، او یو په بل پسې یې رسولان واستول، تر څو د فطرت عهد ور یاد کړي، هېر شوي نعمتونه ور په یاد کړي، د الهي احکامو په رسولو حجت پرې تمام کړي، د عقل پټ توانونه ښکاره کړي، او د خدای د قدرت نښې وښیي؛ لکه د اسمان لوړ چت، د ځمکې پراخ بستر، د ژوند وسایل، د مرګ لارې، د زړښت ستونزې، او پرله پسې پېښې چې د انسان په لاره کې وي.

خدای هېڅکله انسانان بې له پیغمبر، یا آسماني کتاب، یا څرګند دلیل، یا روښانه لارې نه دي پرې ایښي. پیغمبرانو که څه هم یاران لږ وو او منکران ډېر، خو هېڅکله یې خپله دنده پرې نه ښوده.

ځینو پیغمبرانو د راتلونکي پیغمبر زېرې ورکړ، او ځینو پخواني معرفي کړل، تر دې چې پېړۍ تېرې شوې، پلرونه ولاړل او زامن راغلل، تر دې چې پاک خدای د خپلې وعدې د پوره کولو لپاره، او د نبوت د دورې د بشپړولو لپاره، محمد راولېږه؛ هغه پیغمبر چې له ټولو پیغمبرانو څخه د هغه د نبوت عهد اخیستل شوی و، نښې یې مشهوره وې، او زېږېدنه یې مبارکه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه وخت کې چې د ځمکې خلک بېلابېل مذهبونه، بېلابېل غوښتنې او بېلابېلې لارې لرلې، ځینو خدای له مخلوقاتو سره تشبیه کاوه، ځینو د خدای نومونه انکارول او بتانو ته يې منسوبول، او ځینو بل ته اشاره کوله. نو خدای د محمد په وسیله خلک له ګمراهۍ خلاص کړل او هدایت يې کړل، او له ناپوهۍ يې وژغورل.

بیا خدای د خپل لیدلو لپاره خپل پیغمبر غوره کړ، هغه څه يې چې له ځان سره وو د هغه لپاره خوښ کړل، او له دنیا څخه د هغه په کوچولو يې درناوی وکړ، او له ستونزو يې خلاص کړ، او په عزت يې روح واخیست. رسول اکرم د خلکو په منځ کې داسې جانشینان وټاکل لکه پخوانیو پیغمبرانو چې ټاکل، ځکه هغوی هېڅکله خلک بې لارې نه پرېښودل او بې له ځرګندې لارې نه تلل.

د خدای کتاب ستاسې په منځ کې دی، چې حلال او حرام، واجب او مستحب، ناسخ او منسوخ، مباح او منع، خاص او عام، مثالونه او نصیحتونه، مطلق او مقید، محکم او متشابه بیانوي، خپل مجمل بیانوي، او خپل پېچلي روښانه کوي.

خدای پر تاسو د خپل محترم کور حج واجب کړ، هغه کور چې قبله يې ګرځولی، خلک لکه تږي ور روانېږي او لکه کوترې ورته پناه وړي. کعبه يې د بندګانو د تواضع نښه وګرځوله، او د خپل عظمت د اعتراف علامه، او له خلکو يې داسې کسان غوره کړل چې د حج بلنه ومني.

خدای کعبه د اسلام ځرګنده نښه وګرځوله، او د پناه غوښتونکو لپاره يې د امن کور وګرځاوه، د هغې حق ادا کول يې واجب کړل، او د بیت الله حج يې فرض کړ، او ویې ویل:

»چا چې د خدای کور ته د تلو وس ولرې، حج پرې واجب دی، او څوک چې انکار وکړي، نو خدای له ټولو جهانیانو بې نیازه دی«.

۲: له صفّین له جګړې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

)له صفّين جګړې څخه تر راستنېدو وروسته په ۳۸ هجري کال کې وفرمايل(.

ستاينه کوم د هغه خدای، د هغه د نعمتونو د بشپړېدو لپاره، او د هغه د لويۍ پر وړاندې د تسليمېدو لپاره، او د هغه له نافرمانۍ څخه د خوندي پاتې کېدو لپاره. او د خپلو اړتياوو په پوره کولو کې له هغه مرسته غواړم؛ ځکه هغه څوک چې خدای هدايت کړي، هېڅکله به ګمراه نه شي، او هغه چې خدای ورسره دښمني وکړي، هېڅکله به خلاصون ونه مومي، او هغه چې خدای بې نيازه کړي، هېڅکله به اړمن نه شي.

نو د خدای ستاينه تر ټولو درنه شتمني ده، او تر ټولو غوره خزانه ده چې د ساتلو ارزښت لري.

او ګواهي ورکوم چې له يو او يکتا، بې شريکه خدای پرته بل معبود نشته، داسې ګواهي چې اخلاص يې ازمېيل شوی، او پاکوالی او صفاوالی يې منو، او تر هغه چې ژوندي يو پر همدې عقيده ټينګ ولاړ يو، او دا عقيده د قيامت د سختو صحنو لپاره زېرمه کوو؛ ځکه د خدای پر يووالي شهادت د ايمان د ټينګښت نښه ده، د احسان دروازې پرانيزي، د رحمن خدای د خوښۍ سبب ګرځي، او شيطان لېرې کوي.

او ګواهي ورکوم چې محمد د خدای بنده او د هغه استازی دی. خدای هغه له څرګند دين سره، له تلپاتې نښې سره، له ليکل شوي او ټينګ قرآن سره، له ځلنده رڼا سره، له روښانه څراغ سره، او له څرګندو احکامو سره راولېږه، تر څو شکونه له منځه يوسي، په روښانه دليل استدلال وکړي، خلک د الهي آيتونو په وسيله ووېروي، او د خدای له عذابه يې وډار کړي.خدای د اسلام پېغمبر هغه وخت راولېږه چې خلک په فتنو کې اخته وو، د دين رسۍ پرې شوې وې، د ايمان او يقين ستنې بې ثباته شوې وې، د دين په بنسټونو کې اختلاف و، د خلکو چارې ګډې وډې وې، د خلاصون لاره سخته وه او هېڅ پناه ځای نه و؛ د هدايت څراغ بې نوره شوی و، او ړوند زړه په ټولو خپور شوی و. د رحمن خدای نافرماني کېده، او شيطان ته مرسته ورکول کېده؛ ايمان بې ملاتړه پاتې و، ستنې يې نړېدلې وې، نښې يې انکار شوې وې، لارې يې ورانې شوې وې، او لارې چارې يې زړې او هېرې شوې وې.

د جاهليت خلکو د شيطان اطاعت کاوه، د هغه په لارو روان وو، او د شيطان له چينې څخه يې ځان خړوباوه. د خلکو په لاسونو د شيطان نښې څرګندې شوې، او بيرغ يې پورته شو. فتنو خلک تر پښو لاندې کړل، په خپلو کلکو سمو يې هغوی له منځه يوړل او ټينګې ولاړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو خلک حیران او سرګردان، بې خبره او غولېدلي، د تر ټولو غوره کور (کعبې) تر څنګ او د تر ټولو بدو ګاونډیانو (بت پرستانو) سره اوسېدل. خوب يې ويښه وه، او د سترګو سرمه يې اوښکې وې؛ په داسې خاوره کې چې عالم پکې چوپ و او جاهل پکې درناوی کېده.

د پېغمبر اهل بيت د خدای د رازونو ځای دی، د الهي فرمان پناه ده، د خدای د علم خزانه ده، د اسلامي احکامو مرجع ده، د آسماني کتابونو ساتونکي دي، او د خدای د دين تلپاتې غرونه دي. خدای د اهل بيتو په وسيله د دين کره ملا سمه کړه، او د هغه لړزه او اضطراب يې له منځه يووړ.

د هغو فاسدانو په مقابل کې چې د ګناه تخم يې وکاره، او د غرور او فريب په اوبو يې خړوب کړ، او د هغې حاصل يې واخست چې بې له عذابه او بدبختۍ بل څه نه وو.

هيڅوک د رسالت له کورنۍ سره نه شي برابرېدای، او هغه کسان چې د اهل بيتو د هدايت په نعمت روزل شوي، له هغوی سره برابر نه دي. د پېغمبر عترت د دين بنسټ او د يقين ټينګې ستنې دي. تېز تلونکی بايد هغوی ته ښه ورته را وګرځي، او وروسته پاتې بايد ورسره يو ځای شي؛ ځکه د حق د ولايت ځانګړتياوې يوازې هغوی ته ځانګړې دي، او د مسلمانانو د خلافت وصيت او د رسالت ميراث هغوی پورې تړلی دی.

اوس چې خلافت ماته وسپارل شو، حق خپل اهل ته ښه راوګرځېد، او ښه ورته هغه ځای ته ورستون شو چې ترې لېرې شوی و.

۳: شقشقيه؛ د خلافت په اړه

(په شقشقيه خطبه مشهور ده چې پکې د امام د زړه درد د سقيفې او د خلافت د غصب له پېښې سره بيان شوی دی.)

پوه شئ! په خدای قسم! ابوبکر د خلافت جامه پر تن کړه، په داسې حال کې چې ښه پوهېده زما مقام د اسلامي حکومت په نسبت د ژرندې د محور په شان دی چې ژرنده پرې څرخي.

هغه پوهېده چې د علم سېلاب زما د غره له لمنې بهېږي، او د فکر لوړې الوتونکي مرغان زما د مقام تر لوړوالي نه شي رسېدای. نو ما د خلافت څادر پرېښود او لمن مې راټوله کړه او له هغې مې ځان لرې کړ، او په دې فکر کې شوم چې ايا يوازې په خپل لاس د خپل حق د اخيستلو لپاره پاڅم، که په دې تورو او ساه بندوونکو حالاتو کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی پیدا کړي وو صبر غوره کړم؟ داسې حالت چې زاړه زړې کوي، ځوانان زاړه کوي، او د ایمان خاوندان تر قیامته او د پروردګار تر ملاقات پورې په غم کې ساتي.

نو له ښه فکر وروسته مې صبر او زغم تر ټولو هوښیارانه وموند. نو صبر مې وکړ، داسې لکه خار چې په سترګه کې وي او هډوکی چې په ستوني کې بند وي، او په خپلو سترګو مې کتل چې زما میراث لوټل کیږي. تر دې چې لومړي خلیفه خپله لاره ونیوله او خلافت یې د خطاب زوی ته وسپاره.بیا امام □ د اعشی د شعر مثال یاد کړ:

زما او د جابر د ورور «حیان» تر منځ څه ورته والی دی؟
زه ټوله ورځ د سختې ګرمې په کار کې وم، او هغه په کور کې ارام او هوسا و.

عجیبه ده! ابوبکر چې په خپل ژوند کې له خلکو غوښتل چې عذر یې ومني، څنګه د مرګ پر وخت خلافت د بل په نکاح کړ؟ دواړو د خلافت له اوښ څخه سختې شیدې ودوې او له هغې ګټه یې واخیسته.

بالاخره لومړي حکومت داسې لارې ته واچاوه او هغه یې داسې چا ته وسپاره (عمر) چې د سختۍ، تندۍ، تېروتنې او ښېنې غوښتنې مجموعه وه. واکمن لکه هغه څوک دی چې پر سرکښه اوښ سپور وي، که مهار سخت کش کړي د اوښ د پوزې پردې څیرې کیږي، او که یې خوشې کړي نو په کندې کې لوېږي.

په خدای قسم! خلک د دویم په حکومت کې په سختو کړاوونو کې وو، او له دوه مخې او اعتراضونو سره مخ شول. او ما په دې اوږده او دردناکه موده کې پرته له صبر بله لار نه لرله، تر دې چې د عمر وخت هم تېر شو.

بیا عمر خلافت په داسې ډله کې کېښود چې ګومان یې کاوه زه هم د هغوی په شان یم! پناه په خدای له دې شورا څخه! زه به کله د لومړي کس په وړاندې د خلافت په اړه د شک وړ وم، چې نن له دې کسانو سره برابر شم؟ چې اوس مې د هغوی په شان وګڼي او په قطار کې مې ودروي؟

بیا هم مجبور شوم چې نرم شم او له هغوی سره یو ځای شوم. له هغوی څخه یو د کینې له امله له ما مخ واړاوه، بل خپل زوم پر حق غوره کړ، او دوه نور داسې وو چې نوم اخیستل یې ښه نه دي.

تر دې چې درېیم خلافت ته ورسېد. دواړه اړخونه یې له ډېر خوراکه پرسیدلي وو، تل د پخلنځي او تشناب تر منځ ګرځېده، او د هغه خپلوانو له بني امیه څخه پاڅون وکړ او له هغه سره یې بیت المال وخوړ او ضایع یې کړ، لکه وږی اوښ چې د پسرلي پر وابنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور ولوېږي. عثمان دومره اسراف وکړ چې خپله اوبدلې رسۍ يې وشلېده، او کارونو يې خلک را وپارول، او ډېرخورۍ يې هلاک کړ.

د بيعت په ورځ خلک لکه د کفتار د ګڼو وېښتانو له هر لوري پر ما راټول شول، تر دې چې نږدې وو حسن او حسين تر پښو لاندې شي، او زما ځادر له دواړو غاړو وشلېد. خلک لکه د پسونو ګڼ رمه زما پر شاوخوا راټول شول.

خو کله چې پاڅېدم او حکومت مې واخيست، يوې ډلې بيعت مات کړ، بلې ډلې له اطاعته ووتله او له دينه وګرځېده، او ځينو له حقه مخ واړاوه، ګواکې د خدای دا وينا يې نه وه اورېدلې:

»د آخرت کور مونږ د هغو لپاره ټاکلی چې په ځمکه کې د سرکښۍ او فساد غوښتونکي نه وي، او ښه پايله د پرهېزګارانو ده«.

هو، په خدای قسم! دا يې ښه اورېدلې او ياد کړې وه، خو دنيا د هغوی په نظر ښکلې شوه او د هغې زينت يې سترګې ړندې کړې.

په هغه خدای قسم چې دانه يې وشکوله او روح يې پيدا کړ، که د بيعت کوونکو ډېر حضور نه وای، او يارانو پر ما حجت نه وای پوره کړی، او که خدای له علماوو دا عهد نه وای اخيستی چې د ظالمانو د ډېرخورۍ او د مظلومانو د لوږې پر وړاندې چوپ پاتې نه شي، نو د خلافت مهار به مې د هغه پر کوهان غورځولی وای او پرېښی به مې وای، او د خلافت پای به مې د هغې د پيل په جام خړوباوه.

بيا به مو ليدلي وای چې ستاسې دنيا زما په نظر د وزې د پزې له اوبو هم ارزښت نه لري.

وايي: په دې وخت کې د عراق يو سړی پاڅېد او امام ته يې يو ليک ورکړ، او امام هغه لوست. ويل کيږي په هغه کې داسې مسئلې وې چې ځواب ته اړتيا وه.

کله چې لوستل پای ته ورسېدل، ابن عباس وويل:
ای اميرالمؤمنينه! ښه به وه چې له هماغه ځايه مو خبرې ته دوام ورکړی وای.

امام وفرمايل:
هيڅکله، ای د عباس زويه! دا د زړه د اور يوه لمبه وه چې راووتله او بېرته سړه شوه.

ابن عباس وايي:
په خدای قسم! زه د هېڅ خبرې په پرې کېدو دومره خپه نه شوم لکه د امام د دې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پرې کېدو، ځکه امام ونه توانېد چې تر هغه ځایه پورې خبرې ته دوام ورکړي چې غوښتل یې.

)د امام د دې خبرې معنا چې وفرمایل: «لکه د سرکښ اوښ سپور»، دا ده چې که سپور د سرکښ اوښ مهار سخت کش کړي او اوښ سرکشي وکړي، پوزه یې څیري کېږي، او که مهار خوشې کړي نو په کندې کې لوېږي او سپور یې د کنټرول توان نه لري. وایي «اشنق الناقه» یعني د مهار په وسیله د اوښ سر پورته کول، او «شنقها» هم همدا معنا لري، لکه ابن سکیت په کتاب اصلاح المنطق کې ویلي دي. دا چې وفرمایل «اشنق لها» او ونه ویل «اشنقها» ځکه چې دا یې د «اسلس لها» په مقابل کې راوړه، یعني که سر یې پورته کړي نو داسې ده لکه پرېږدي چې خپله سر لوړ ونیسي(.

۴: له بصرې له فتحې وروسته؛ د اهل بیتو د ځانګړنو په اړه

(ویل شوي چې دا وینا د بصرې له فتحې وروسته په ۳۶ هجري کال کې، د طلحې او زبیر له وژل کېدو وروسته وفرمایل شوه)

تاسې خلک زموږ په وسیله د ناپوهۍ له تیارو څخه خلاص شوئ او هدایت مو وموند، او زموږ په مرسته د لوړتیا څوکې ته ورسېدئ. ستاسې د نېکمرغۍ سهار زموږ په رڼا روښانه شو.

هغه غوږ کانې دی چې د نصیحت لوړ غږ نه اوري، او هغه څوک چې په لوړ فریاد کانې شي، د حقیقت نرم غږ به څنګه پکې اغېز وکړي؟ هغه زړه چې د خدای له ویرې لړزېږي، تل دې ټینګ او ډاډه وي.

زه تل د بصرې د خلکو د چل او فریب د پایلې په تمه وم، او د غولېدنې نښې مې په تاسې کې لیدلې. ستاسې د دینداری څرګندونه زموږ تر منځ پرده شوه، خو ما د باطن په صفا سره ستاسې دننه لوستل.

زه د دې لپاره پاڅېدم چې تاسې د حق لارو ته راوبولم، هغو لارو ته چې د ګمراه کوونکو لارو تر منځ وې، په داسې حال کې چې تاسې سرګردان وئ او لاربنود مو نه درلود. تږي وئ، هر څومره چې مو ځمکه کېندله، د اوبو یوه څاڅکی مو نه موند.

نن چوپه ژبه خبرې ته راولم. لرې دې وي د هغه نظر چې له ما سره مخالفت کوي! له هغې ورځې چې حق راته وښودل شو، هېڅکله مې پکې شک او تردید ونه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما کناره کېدل د حضرت موسی د جادوګرو پر وړاندې د دریدو په شان و؛ هغه پر ځان نه و وېرېدلی، بلکې وېره یې دا وه چې ناپوهان بریالي نه شي او د ګمراهانو حکومت ټینګ نه شي.

نن مور او تاسي د حق او باطل پر دوه لارو ولاړ یو؛ هغه څوک چې د اوبو په شتون باور لري، تږی نه پاتې کېږي.

۵: د پېغمبر له وفات وروسته؛ د عباس او ابو سفیان په ځواب کې

(د پېغمبر له وفات وروسته او د سقیفې د پېښې پر مهال، عباس او ابو سفیان وړاندیز وکړ چې له امام سره بیعت وکړي.)

ای خلکو! د فتنو څپې د نجات په کښتیو سره ماتې کړئ، او د اختلاف او تفرقې له لارو ځان وساتئ، او د فخر او برتری تاجونه پر ځمکه کښېږدئ.

بریالی شو هغه څوک چې له یارانو سره پاڅېد، یا کناره شو او خلک یې ارام پرېښودل. دا ډول واکمني لکه بد خوند اوبه دي او لکه داسې مړی چې په ستوني کې بند شي، او هغه څوک چې مېوه له پخېدو مخکې وشکوي، د هغه بزګر په شان دی چې د بل په ځمکه کې کښت وکړي.

زه په داسې حال کې یم چې که خبرې وکړم، وایي د حکومت حریص دی، او که چوپ پاتې شم، وایي له مرګه وېرېږي! هېڅکله! زه او له مرګه وېره؟! له دومره جګړو او سختو پېښو وروسته؟!

په خدای قسم! د ابي طالب د زوی مینه له مرګ سره د خدای په لار کې تر هغه هم زیاته ده چې ماشوم د خپلې مور له تي سره لري.

دا چې چوپ پاتې شوم، د هغو پټو علومو او پېښو له امله دي چې پرې خبر یم، که یې بیان کړم نو تاسي به ګډوډ شئ، لکه رسی چې په ژورو کوهیونو کې لړزېږي.

۶:هغه وخت چې له امام څخه وغوښتل شول طلحة او زبیر تعقیب نه کړي

(په ۳۶ هجري کال کې په مدینه ښار کې، کله چې له امام (ع) وغوښتل شول چې طلحة او زبیر تعقیب نه کړي، وفرمایل:)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په الله ﷻ قسم! زه له لازمي پوهې برخمن يم او هېڅکله به ناڅاپه ونه نيول شم، چې دښمنان راباندې ناڅاپه را چاپېر شي او په چل مې ونيسي. زه تل د حق غوښتونکي انسان په مرسته پر هغه څوک ګوزار کوم چې له حقه مخ اړوي، او د فرمانبردار مطيع په مرسته د شکمن نافرمان ملا ماتوم، تر هغې ورځې پورې چې زما د ژوند موده پای ته ورسېږي.

نو، په الله ﷻ قسم! زه تل له خپل حق څخه محروم پاتې شوی يم، او د رسول الله ﷺ له وفات څخه تر نن ورځې پورې زما حق له ما څخه ګرځول شوی او بل ته سپارل شوی دی.

۷:د شيطان د پيروانو پېژندنه

بېلارې خلکو شيطان د خپل کار معيار وګرځاوه، او شيطان هم هغوی خپل ښکار وګرځول، د هغوی په زړونو کې يې هګۍ کېښودې، او خپل بچي يې د هغوی په لمنو کې وروزل. د هغوی په سترګو يې کتل، او د هغوی په ژبو يې خبرې کولې. نو د هغوی په مرسته د ګمراهۍ پر سپرلۍ سپور شو، او بد عملونه يې د هغوی په نظر ښکلي وښودل؛ لکه د هغه چا چلند چې ځان د شيطان په حکومت کې شريک ښيي او د شيطان په ژبه د باطل خبرې کوي.

۸:د زبير د بيعت ماتول

په دې ارزښتناکو ويناوو کې چې په ۳۶ هجري کال کې شوې، د زبير بيعت ته اشاره ده(.

زبير ګومان کوي چې له لاسه يې بيعت کړی و، نه له زړه. نو له ما سره د بيعت اقرار کوي، خو ادعا کوي چې په زړه کې يې بيعت نه و منلی.

پر هغه لازمه ده چې د دې ادعا لپاره روښانه دليل راوړي، يا ېبرته خپل تېر بيعت ته راوګرځي.

۹:د طلحة او زبير پېژندنه

لکه تندر وغرځېدل او لکه برېښنا وځلېدل، خو هېڅ کار يې پر مخ يو نه وړ، او په پای کې سست شول!

خو مور داسې نه يو؛ تر څو عمل ونه کړو، تندر او برېښنا نه کوو، او تر څو باران ونه کړو، سېلاب نه جاري کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰:د جمل له اصحابو سره د مقابلې لپاره د امام (ع) خبرتیا

پوه شئ چې شیطان خپل ګوند راټول کړی، او خپل سپاره او پیاده لښکر یې را بللی دی! خو زه په چارو پوره خبر یم، نه مې حق پټ کړی، او نه حق له ما پټ شوی دی.

په الله ﷻ قسم! داسې ګرداب به ورته جوړ کړم چې بې له ما به هېڅوک د هغه د سمولو توان ونه لري؛ څوک چې پکې ډوب شي، هېڅکله به را ونه وځي، او څوک چې وتښتي، د ښېرته راتلو خیال دې نه کوي.

۱۱:د جمل په جګړه کې؛ کله چې بیرغ د خپل زوی محمد حنفیه ته سپاري

د جمل په جګړه کې، په ۳۶ هجري کال، د جمادی الاخر د میاشتې په ۱۵ نېټه، د پنجشنبې په ورځ، کله چې یې بیرغ خپل زوی محمد حنفیه ته ورکاوه، وفرمایل(:

که غرونه له خپلو ځایونو وشکېږي، ته ثابت او ټینګ ودرېږه. غاښونه سره کلک کړه، خپل سر الله ﷻ ته عاریه ورکړه، پښې په ځمکه کې ټینګې ټوټبه، د دښمن د لښکر وروستیو قطارونو ته وګوره، د دښمن د ډېرښت پروا مه کوه، او پوه شه چې بریا د الله ﷻ له لورې ده.

۱۲:په عملونو کې د نیت رول

د بصرې له جګړې وروسته په ۳۶ هجري کال، د امام (ع) یو ملګري وویل: کاشکې زما ورور هم له موږ سره وای او لیدلې یې وای چې الله ﷻ څنګه ته پر خپلو دښمنانو بریالی کړې(!

امام (ع) وپوښتل:
ایا ستا د ورور فکر او زړه له موږ سره و؟

هغه وویل: هو.

امام (ع) وفرمایل:
نو هغه هم له موږ سره په دې جګړه کې و، بلکې له موږ سره په دې نښته کې هغه کسان هم شریک دي چې حاضر نه دي، خو د پلرونو په صلبونو او د میندو په رحمونو کې دي، خو له موږ سره هم عقیده دي. ژر به وزېږي، او دین او ایمان به د هغوی په وسیله پیاوړی شي.

۱۳:د بصرې د خلکو غندنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

)د ۳۶ هجري کال د جمعې په ورځ، د جګړې له پای وروسته، د ښار په جامع جومات کې د بصرې د خلکو په غندنه وفرمایل(:

تاسې د یوې ښځې لښکر وئ، او د یو حیوان (د عایشې د اوښ) پیروان وئ؛ تر هغه چې اوښ غږ کاوه، جنګېدئ، او کله چې د هغه لاس او پښې پرې شوې، وتښتېدئ.
ستاسې اخلاق ټیټ دي، ستاسې عهد مات شوی، ستاسې دین دوه مخې دی، او ستاسې د ځښلو اوبه مالګینې او ناوړې دي.
ځوک چې ستاسې په منځ کې ژوند وکړي، د خپل ګناه په سزا اخته کېږي، او ځوک چې له تاسې لرې شي، د پروردګار د ښپنې وړ ګرځي.

لکه چې ستاسې جومات وینم چې د ډوبېدونکې کښتۍ د سینې په شان دی، چې د الله ﷻ عذاب له پاسه او له ښکته پرې را چاپېر شوی، او ټول اوسېدونکي یې ډوبېږي.

په بل روایت کې راغلي:
په الله ﷻ قسم! ستاسې خاوره به اوبو ډوبه کړي، داسې لکه ستاسې جومات چې د کښتۍ د سینې په شان پر اوبو پاتې وي، یا لکه شترمرغ چې پر سینه ناست وي.

او په بل روایت کې:
لکه د مرغه سینه د سمندر پر اوبو.

او په بل روایت کې راغلي:
ستاسې د ښار خاوره تر ټولو بد بوی لري، له هر ځایه اوبو ته نږدې او له اسمانه لرې ده، او د شر او فساد نهه برخې په ستاسې ښار کې دي.
ځوک چې پکې وي په ګناه اخته دی، او ځوک چې تري ووځي د الله ﷻ د ښپنې په پناه کې دی.
لکه چې ستاسې ښار وینم چې ډوب شوی، او اوبو را نیولی، او هېڅ نه تري ښکاري مګر د جومات لوړې برخې، لکه د مرغه سینه د سمندر پر څپو.

۱۴:د بصرې د ښار او د هغه د خلکو غندنه

)د جمل له جګړې مخکې، د بصرې د ښار او خلکو په غندنه، د پخوانۍ خطبې په شان وفرمایل(:

ستاسې خاوره اوبو ته نږدې او له اسمانه لرې ده،
ستاسې عقلونه کمزوري او فکرونه مو سپک دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو تاسې د غشي لپاره نښه یاست، د خوړونکي لپاره مړۍ یاست، او د ښکار لپاره ښکار یاست.

۱۵:د امام (ع) اقتصادي سیاست

)د بیت المال د هغو مالونو په اړه چې عثمان خپلو خپلوانو ته ورکړي وو. ابن عباس وایي: د خلافت په دویمه ورځ، په ۳۵ هجري کال کې دا وینا وفرمایل(:

په الله ﷻ قسم! د بیت المال لوټل شوي مالونه چې هر چېرې پیدا کړم، خپلو اصلي خاوندانو ته به یې بېرته ورکړم، که څه هم له هغو سره نکاح شوې وي، یا پرې کنیزانې اخیستل شوې وي؛
ځکه په عدالت کې د ټولو لپاره پراخي ده، او څوک چې عدالت درونه وبولي، ظلم ورته تر هغه هم درونه دی.

۱۶:له مدینې د خلکو له بیعت وروسته

)د مدینې د خلکو له بیعت وروسته، دا د امام (ع) لومړۍ وینا ده، په ۳۵ هجري کال کې(:

هغه څه چې وایم، د هغه مسوولیت اخلم، او پخپله پرې ولاړ یم.
چا ته چې عبرتونه ښکاره شي، او له سزا یې پند واخلي، تقوا او ځان ساتنه یې له شبهاتو څخه ژغوري.

پوه شئ! سختۍ او ازموینې بیا درته راغلې، لکه د پیغمبر ﷺ د بعثت په وخت کې.
په هغه الله ﷻ قسم چې پیغمبر ﷺ یې په حق راولېږه، سخت به وازمېل شئ، لکه دانه چې په غربال کې واچول شي، یا خواړه چې په دیګ کې واچول شي.
تاسې به ګډ وډ شئ، پورته به ښکته شي او ښکته به پورته شي؛
هغه کسان چې په اسلام کې مخکښ وو خو ګوښه وو، پر کار به راشي، او هغه چې په ناحقه مخکې شوي وو، شاته به وغورځول شي.

په الله ﷻ قسم! ما هېڅ د حق خبره نه ده پټه کړې، او هېڅکله مې دروغ نه دي ویلي.
له لومړۍ ورځې څخه ما ته د دې خلافت او د دې ورځې خبر راکړل شوی و.

پوه شئ! ګناهونه د سرکښو سپرلیو په شان دي چې سپاره یې د مهار له خلاصېدو سره د دوزخ اور ته غورځوي.
او تقوا د فرمانبردارو سپرلیو په شان ده چې سپاره یې د مهار په لاس جنت ته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حق او باطل تل په جګړه کې دي، او هر یو خپل پیروان لري.
که باطل بریالی شي، حیرانتیا نه ده، له پخوا همداسې و؛
او که د حق پیروان لږ وي، ښایي یوه ورځ ډېر شي او بریالي شي، خو لږ پېښېږي چې تللی شی بېرته را وګرځي.

هغه څوک چې جنت او دوزخ د ځان مخې ته ویني، په هڅه کې وي.
ځینې خلک په تېزۍ د حق پر لور ځي، هغوی نجات مومي؛
ځینې ورو ځي او هیله لري؛
او ځینې پاتې کېږي او په دوزخ کې لوېږي.

چپ او راست ګمراهي ده، او منځنۍ لار د الله ﷻ نېغه لار ده، چې قرآن او د نبوت آثار یې سپارښتنه کوي، او د پېغمبر ﷺ سنت ورته لار ده، او پای یې هم هماغه لور ته دی.

د باطل دعوه کوونکی هلاک شو، دروغجن زیانمن شو، او څوک چې له حق سره جګړه وکړي، تباه کېږي.
د انسان لپاره همدا ناپوهي بس ده چې خپل قدر ونه پېژني.

هغه څه چې د تقوا پر بنسټ جوړ شي، له منځه نه ځي.
هغه کروندې چې په تقوا خړوبې شي، تږي نه کېږي.

خلکو! خپلو کورونو ته وګرځئ، خپلمنځي چارې سمې کړئ، توبه د بدو کارونو وروسته شوني ده.
له خپل پروردګار پرته بل مه ستایئ، او له خپل ځان پرته بل مه ملامتوئ.

۱۷: د هغو کسانو وصف چې د قضا دعوه کوي خو وړتیا نه لري

)په دې خطبه کې هغه کسان پېژندل کېږي چې د قضاوت دعوه لري خو د هغه وړ نه دي(.

د الله ﷻ په نزد تر ټولو بد مخلوق دوه کسان دي:
یو هغه سړی چې الله ﷻ هغه خپل حال ته پرېښی وي او له نېغې لارې اوښتی وي؛ زړه یې په بدعت مین شوی، خلک یې ګمراه کړي، فتنې ته یې راکاږي، د پخوانیو د هدایت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاره يې ورکه کړې، او خپل پيروان او راتلونکي هم ګمراه کوي. د نورو د ګناه بار پر اوږو وړي، او د خپلو بدو کارونو هم بندي دی.

او بل هغه سړی دی چې ناپوهي يې سره راټوله کړې، او د امت د ناپوهانو په منځ کې يې ځان ته ځای پيدا کړی دی؛ د فتنو په تيارو کې ډوب دی، او د سولې او صفا له لیدلو وروند دی. خلک يې عالم بولي حال دا چې نه دی. داسې څه ډېر راټولوي چې لږ يې تر ډېرو غوره وي، تر دې چې له خوسا اوبو ځان مړوي، او بې ګټې معلومات راټولوي.

د خلکو په منځ کې د قاضي په نوم کښېني، او د نورو د ستونزو د حل مسوولیت پر غاړه اخلي. که کومه ستونزه ورته راشي، په تشو خبرو، دروغجن نظر او بې بنسټه رأي سره د حل لپاره چمتو کېږي، بيا پر خپلو تشو خبرو باور هم کوي.

د هغه مثال د عنکبوت په شان دی چې د شکونو په تارونو کې نښتی وي؛ نه پوهېږي چې سمه فيصله يې کړې که غلطه. که سمه وي، وېرېږي چې ښايي خطا وي، او که خطا وي، هيله لري چې ښايي سمه وي.

ناپوه دی چې د ناپوهۍ لار نيسي؛ وروند دی چې په تياره کې خپل ورک شوی شی لټوي؛ له علم او يقين پرته خبرې کوي؛ روايتونه بې له پوهې نقلوي، لکه تېز باد چې وچ بوټي الوت کړي. روايتونه اړوي را اړوي، خو هېڅ ګټه نه لري.

په الله ﷻ قسم! نه د ستونزو د حل لاره پېژني، او نه د قضاوت د مقام وړتيا لري. څه چې نه مني، علم يې نه ګڼي، او له خپلې لارې پرته بله لار حق نه بولي. که په کوم حکم نه پوهېږي، پټوي يې تر څو يې ناپوهي ښکاره نه شي. د بې ګناه خلکو وينه د هغه د ظالمانه حکم له املې په جوش کې ده، او د له منځه تللو ميراثونو فرياد پورته دی.

زه الله ﷻ ته شکايت کوم له داسې خلکو چې په ناپوهۍ کې ژوند کوي او په ګمراهۍ مړي.
د دوی په منځ کې هېڅ شی تر قرآن سپک نه دی که هغه سم ولولي، او هېڅ شی تر قرآن ګټور او قيمتي نه دی که هغه تحريف کړي.
د دوی په نزد هېڅ شی تر نېکۍ بدتر او تر بدۍ ښه نه ښکاري.

۱۸: د اسلام په قطعي احکامو کې د کارکوونکو د نظر اختلاف غندنه

(د اسلام په قطعي احکامو کې د عاملانو د نظر اختلاف غندنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه دعوه د ټولنیزو احکامو له جملې څخه یو عامل ته وړي، هغه د خپل نظر له مخې حکم کوي. بیا هماغه دعوه بل ته وړي، هغه د لومړي د حکم پر خلاف حکم کوي. بیا ټول قاضیان د خپل مشر مخې ته راټولېږي، هغه چې دوی یې قضاوت ته ټاکلي دي، او هغه د ټولو رأیې سمې بولي!

حال دا چې خدای یې یو دی، پېغمبر ﷺ یې یو دی، او کتاب یې یو دی.
ایا الله ﷻ هغوی اختلاف ته امر کړی و، او هغوی اطاعت کړی؟
که یې له اختلاف څخه منع کړي وو، او هغوی نافرماني وکړه؟

ایا الله ﷻ نیمګړی دین رالېږلی و او د هغه د بشپړولو لپاره یې له دوی مرسته غوښتې؟
ایا دوی د الله ﷻ شریکان دي چې د دین په احکامو کې هر څه وغواړي ووایي او الله ﷻ پرې راضي شي؟
ایا الله ﷻ بشپړ دین رالېږلی و، خو پېغمبر ﷺ د هغه په رسولو کې کوتاهي کړې؟

حال دا چې الله ﷻ فرمایي:
»موږ په قرآن کې هېڅ شی نه دی پرېښی«.
او فرمایي:
»په قرآن کې د هر څه بیان شته«.
او یادونه کوي چې:
»د قرآن یوه برخه د بلې برخې شاهده ده، او یې اختلاف نشته«.

او الله ﷻ فرمایي:
»که قرآن د الله پرته د بل چا له لوري وای، نو یې به ډېر اختلاف موندل کېده«.

قرآن ښکلی ظاهر لري او ژور باطن، عجایب یې نه پای ته رسېږي، او پټ رازونه یې ختمېږي نه، او تیاري له قرآن پرته نه لرې کېږي.

۱۹:اشعث بن قیس ته خطاب

)امام (ع) په ۳۸ هجري کال کې د کوفې په جومات کې وینا کوله، اشعث بن قیس د وینا په یوه برخه اعتراض وکړ او ویې ویل: دا خبره ستا په زیان ده نه په ګټه. امام (ع) ورته وکتل او وفرمایل(:

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک تا خبر کړ چې څه زما په ګټه دي او څه زما په زيان؟
د الله ﷻ لعنت او د لعنت کوونکو لعنت پر تا وي، ای متکبر د متکبر زويه، ای د منافق د کافر زويه!

په الله ﷻ قسم! ته يو ځل د کفر په وخت کې بندي شوې، او يو ځل د اسلام په حکومت کې. نه دې مال او نه دې خپلوان په دواړو ځلونو کې ستا مرسته وکړای شوه.

هغه څوک چې خپل خپلوان د تورو مخې ته سپاري، او مرګ او تباهي پر هغوی راولي، وړ دی چې خپلوان پرې غوسه شي او پردي پرې باور ونه کړي.

)د امام (ع) مطلب دا دی چې اشعث بن قيس يو ځل د کفر په حال کې اسير شو، او بيا وروسته چې مسلمان شو، خپلې قبيلې ته يې خيانت وکړ او هغوی يې داسې حالت ته برابر کړل چې خالد بن وليد پرې بريد وکړي، او له همدې امله به ورته د «عرف النار» لقب ورکاوه، يعنې هغه څوک چې اور پټوي، او دا لقب به فريبکار ته ورکول کېده(.

۲۰:له مرګ وروسته د رازونو پټوالی

هغه څه چې مړو وليدل، که تاسې يې ووينئ، بې صبره به شئ او وبه وپرېږئ؛ او واورئ به او اطاعت به وکړئ.
خو هغه څه چې هغوی وليدل، له تاسې پټ دي، او نږدې ده چې پردې پورته شي.

سره له دې، حقيقت درته وښودل شو که ښه وګورئ،
او د حق غږ درته ورسول شو که ښه واورئ،
او سمې لارې ته مو لارښوونه وشوه که لار ومنئ.

ربنتيا وايم، د پند او عبرت خبرې مو ښکاره وليدې، او له حرامو مو منع شوئ؛
او له آسماني فرښتو وروسته، د الله ﷻ فرمان يوازې انسان رسوي.

۲۱:د نجات لاره

دا وينا د ۱۶۷ خطبې يوه برخه ده، چې د ۳۵ هجري کال د خلافت په پيل کې وفرمايل(:

قيامت ستاسې مخې ته دی، او مرګ ستاسې تر شا دی او تاسې مخې ته وهي.
سپک بار شئ تر څو ورسېږئ.
بېشکه هغه کسان چې تللي دي، ستاسې د رسېدو په انتظار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۲:امام (ع) او د ناکثینو پېژندنه

)په ۳۶ هجري کال کې، کله چې د امام (ع) استازي د طلحة او زبیر له لورې بېرته راستانه شول، په «ذی قار» کې دا وینا وفرمایل(:

پوه شئ! شیطان خپل ګوند او ملګري راټول کړي، او خپل لښکر یې له هر لورې برابر کړی، تر څو بیا ظلم خپل ځای ته راولي او باطل په خپل مقام کې ټینګ کړي.

په الله ﷻ قسم! ناکثینو زما له لورې هېڅ ګناه نه ده موندلې، او نه یې زما او خپل تر منځ انصاف کړی.
دوی هغه حق غواړي چې خپله یې پرې ایښی، او د هغه وینې بدل غواړي چې خپله یې تویې کړې.
که زه د هغوی په دې وینه کې شریک وم، نو هغوی هم پکې برخه لري، او که یوازې دوی د عثمان وینه تویې کړې وي، نو سزا هم یوازې د دوی ده.
تر ټولو لوی دلیل یې د دوی پر ضد دی.
غواړي له داسې مور شیدې وځښې چې وچې شوې دي، او داسې بدعت راژوندی کړي چې ډېر وخت مخکې مړ شوی دی.

څومره بد بلونکی دی! او څومره بد منونکي دي!
زه د الله ﷻ په کتاب او د هغه په حکم د ناکثینو په اړه راضي یم.
که هغوی سرغړونه وکړي، نو په تېره توره به یې ځواب ورکړم، ځکه همدا د باطل د له منځه وړلو او د حق د مرستې لپاره بس دی.

عجیبه ده! له ما غواړي چې د جګړې میدان ته راووځم او د دوی د نېزو مخې ته ودرېږم او د دوی د تورو ګوزارونه وزغمم!
پر دوی دې ژړا کوونکي وژاړي!
تر اوسه هېڅا زه له جګړې نه یم وېرولی، او نه یې د توري له ګوزاره رانه وېره پیدا کړې.
زه پر خپل پروردګار یقین لرم او په خپل دین کې هېڅ شک نه لرم.

۲۳:د نعمتونو د وېش تناسب د خلکو له وړتیاوو سره

د پروردګار له ستاینې وروسته، پوه شئ چې الهي تقدیرونه د باران د څاڅکو په شان له اسمانه پر انسانانو را اوري، او د هر چا برخه لږ یا ډېره ور رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که له تاسې څخه څوک د خپل ورور په مال، مېرمن یا بدني ځواک کې برتري وویني، نو باید غولېدلی نه شي او حسد ونه کړي؛
ځکه مسلمان تر هغه وخته چې داسې سپک کار ونه کړي چې د ښکاره کېدو په صورت کې پرې شرمېږي او د خلکو د ملامتۍ وړ شي، د هغه سیال په شان دی چې غواړي د سیالۍ په پیل کې بریالی شي تر څو ګټه تر لاسه کړي او زیان ونه وینې.

همدارنګه هغه مسلمان چې له خیانت څخه پاک وي، د دوو نېکو شیانو هیله لري:
یا د حق بلنه ومنې او عمر یې پای ته ورسېږي ـ چې هغه څه چې د الله ﷻ په نزد دي ورته غوره دي ـ
او یا الله ﷻ ورته پراخ رزق ورکړي، مېرمن او اولاد او مال ولري، او بیا هم خپل دین او شخصیت وساتي.

بېشکه مال او اولاد د دنیا حاصل دی او فنا کېدونکی دی، او نېک عمل د آخرت کرونده ده، که څه هم کله الله ﷻ دواړه یو قوم ته ورکوي.

له الله ﷻ څخه د هغه څه په اړه ووېرېږئ چې خبرداری یې ورکړی.
له الله ﷻ داسې ووېرېږئ چې عذر ته اړتیا پیدا نه شي.
ښه عمل وکړئ بې له دې چې ریا او ځان ښودنه پکې وي؛
ځکه څوک چې د الله ﷻ لپاره نه، بل چا لپاره عمل وکړي، الله ﷻ یې هماغه چا ته پرېږدي.

له الله ﷻ څخه د شهیدانو درجې، د نېکمرغانو ژوند، او د پېغمبرانو ﷺ ملګرتیا وغواړئ.

ای خلکو! انسان که هر څومره شتمن وي، بیا هم له خپلو خپلوانو بې نیازه نه شي کېدای، ځکه هغوی په ژبه او لاس د هغه دفاع کوي.
خپلوان د انسان تر ټولو لویه ډله ده چې ملاتړ یې کوي، او د هغه غم او اندېښنه کموي، او د مصیبت پر مهال تر ټولو مهربان خلک وي.

هغه ښه نوم چې الله ﷻ د یو انسان لپاره د خلکو په منځ کې خپور کړي، له هغه میراث څخه غوره دی چې بل څوک یې واخلي.

پوه شئ! له خپلو بې وزلو خپلوانو مخ مه اړوئ، او له هغوی څخه څه مه منع کوئ؛
ځکه د مال ساتل زیاتوالی نه راولي، او د لګولو له امله کمښت نه پیدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک چې خپل مرسته کوونکی لاس له خپلو خپلوانو را وګرځوي، یوازې یو لاس تري اخلي، خو ډېر لاسونه له ځان څخه لرې کوي.
او څوک چې د مینې وزر خپور کړي، د خپلوانو دوستي به یې تل پاتې وي.

۲۴:د جهاد لپاره د چمتووالي اړتیا

)د امام (ع) له خطبو څخه، چې په کوفه ښار کې یې وفرمایل(:

په خپل ځان قسم! د حق له مخالفانو او هغو کسانو سره چې په ګمراهۍ او فساد کې ډوب دي، په جګړه کې به یوه شېبه هم نرمي او سستي ونه کړم.
نو ای د الله ﷻ بندګانو! له الله ﷻ ووېرېږئ، او له الله ﷻ څخه د الله ﷻ پر لور وتښتئ،
او په هغه لاره روان شئ چې ستاسې لپاره پرانیستل شوې ده،
او هغه دندې او احکام چې درته ټاکل شوي، پر ځای کړئ.
که داسې وکړئ، نو علی (ع) د راتلونکي بریا ضمانت درکوي، که څه هم همدا اوس یې لاس ته را نه وړئ.

۲۵:د ۴۰ هجري کال وینا – د یارانو د سستۍ په غندنه

)په ۴۰ هجري کال کې، هغه وخت چې پرله پسې خبرونه د امام (ع) د یارانو د ماتې له یمن څخه کوفې ته رسېدل، او عبیدالله بن عباس او سعید بن نمران د بُسر بن ارطاة له خوا مات شوي وو، امام (ع) دا خطبه د یارانو د سستۍ او د رهبرۍ د امر د مخالفت په غندنه وفرمایله. دا د امام وروستۍ وینا بلل کېږي(.

اوس له ما سره یوازې د کوفې ښار پاتې دی، که وغواړم یې خلاص کړم او که وغواړم یې وتړم.
ای کوفې! که یوازې ته زما لپاره پاتې یې، او دا هم د دومره مصیبتونو او طوفانونو سره، نو ستا مخ دې بد شي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيا يې د شاعر دا مثال ياد کړ:
»ما له لوښي او پيالې يوازې لږه برخه لرله،
په ستا د پلار په ژوند قسم ای عمرو«!

بيا يې وفرمايل:
ماته خبر را رسېدلی چې بُسر بن ارطاة پر يمن واکمن شوی دی.
په الله ﷻ قسم! زه پوهېدم چې د شام خلک به ژر پر تاسې غالب شي؛
ځکه هغوی د خپل باطل په مرسته کې يو موټی دي،
او تاسې د حق په دفاع کې وېشلي ياست!

تاسې په حق کې د خپل امام نافرماني کوئ،
او هغوی په باطل کې د خپل امام اطاعت کوي!
هغوی د خپل مشر امانتدار دي،
او تاسې خيانت کوونکي ياست.
هغوی خپل ښارونه ابادوي،
او تاسې فساد او وراني کوئ.

)تاسې دومره تېټ شوي ياست چې(
که زه يو چا ته د لرګي د لوښي امانت ورکړم، وېرېږم چې بند به يې هم غلا کړي.

ای الله ﷻ!
ما دا خلک په نصيحتونو او يادونو ستړي کړل، او هغوی هم زه ستړی کړم،
هغوی له ما ستړي شول، او زه له هغوی ستړی شوم.
زړه مې مات شو.
دوی بدل راته تر دې ښه خلک راکړه،
او پر دوی زما نه بدتر حاکم مسلط کړه.

ای الله ﷻ!
د هغوی زړونه داسې اوبه کړه لکه مالګه چې په اوبو کې حل شي.

په الله ﷻ قسم!
زه به خوښ وای چې د تاسې د کوفيانو پر ځای مې د بني فراس بن غنم زر سپاره درلودای، چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

»که به دې وربلل، له هغوی به درته سپاره راتلل،
جنګیالي او تېز، لکه د دوبي وريځې«.

بيا امام (ع) له منبره ښکته شو.
)دلته د شاعر مراد د دوبي وريځ ده، ځکه سپکه وي او ژر خوځېږي، او باران نه لري؛
او د قوم سپاره يې د چټک مرستې له امله د وريځو سره تشبيه کړي(.

۲۶:د جاهليت د کلتور پېژندنه

)د محمد بن ابي بکر له وژل کېدو وروسته په مصر کې، په ۳۸ هجري کال کې، امام
(ع) دا وينا په کوفه کې وفرمايله(:

الله ﷻ د اسلام پېغمبر محمد ﷺ د ټولو خلکو لپاره د خبرداري کوونکي په توګه راولېږه،
تر څو د الهي وحي امين او ساتونکی وي.

په هغه وخت کې چې تاسي د عربو قوم، تر ټولو بد دين درلود،
او په تر ټولو بد ځای کې اوسېدئ؛
د غارونو تر منځ، د سختو ډبرو او زهرجنو مارانو تر څنګ،
ناپاکې اوبه مو څښلې،
بد خواړه مو خوړل،
د يو بل وينه مو ناحقه تويوله،
او د خپلوانو اړيکې مو پرې کولې.
بتان ستاسي تر منځ عبادت کېدل،
او ګناهونه او فساد پر تاسي خپور و.

د پېغمبر ﷺ له وفات وروسته، او د يارانو له بې وفايۍ وروسته،
ما شاوخوا وکتل، هېڅ مرستندوی مې ونه موند مګر خپل اهل بيت،
او که هغوی به مې جګړې ته بيولي وای، وژل کېدل به.
نو ما د هغوی مرګ ته راضي نه شوم.

سترګې مې له خارو ډکې کړې او پټې مې کړې،
او داسي مې صبر وکړ لکه څوک چې په ستوني کې هډوکی بند وي،
د پېښو تريخ جام مې وڅښه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل قهر مې تېر کړ،
او د حنظل له ترخې بوټې نه هم ترخه صبر مې وکړ.

)د همدې خطبې بله برخه(

عمرو بن عاص له معاویه سره بیعت ونه کړ،
مګر دا چې شرط یې کېښود چې د بیعت په بدل کې به د مصر حکومت اخلي.
په دې ناوړه سودا کې نه پلورونکی بریالی شو،
او نه اخیستونکی بې رسوایۍ پاتې شو.

ای د کوفې خلکو!
د جګړې لپاره چمتو شئ،وسلې برابرې کړئ،ځکه د جګړې اور بل شوی،او لمبې یې پورته شوې دي.صبر او استقامت خپله نښه وګرځوئ،
ځکه همدا بریا راولي.

۲۷:د الله ﷻ په لار کې جهاد

)کله چې په ۳۸ هجري کال کې د معاویه د لښکرو د انبار پر ښار د برید خبر، او د خلکو سستي امام (ع) ته ورسېده، وفرمایل(:

د پروردګار له ستاینې وروسته؛
بېشکه د الله ﷻ په لار کې جهاد د جنت له دروازو څخه یوه دروازه ده، چې الله ﷻ هغه خپلو ځانګړو دوستانو ته پرانیستې ده.
جهاد د تقوا جامه ده، تینګه زغره ده، او د الله ﷻ خوندي ډال دی.

څوک چې جهاد بد وګڼي او پرې یې ږدي، الله ﷻ به د ذلت او خواریۍ کالي وارغوندي، په بلا او مصیبت به اخته شي، کوچنی او سپک به شي.
زړه به یې د ګمراهۍ په پرده کې پاتې شي، حق به تري واوړي، د جهاد د پرېښودو له امله به په ذلت محکوم او له عدالته محروم شي.

پوه شئ! ما شپه او ورځ، پټ او ښکاره، تاسې د شام له خلکو سره جګړې ته راوبللئ، او مې وویل: مخکې له دې چې هغوی پر تاسې برید وکړي، تاسې پرې برید وکړئ.
په الله ﷻ قسم! هر قوم چې په خپل کور کې پرې برید وشي، ذلیل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو تاسې سستي وکړه، او ذلت مو ومانه، تر دې چې دښمن پرله پسې پر تاسې یرغل وکړ او ستاسې سیمې یې ونیولې.

اوس د معاویه قومندان (د غامد سړی) له خپل لښکر سره د انبار ښار ته ننوتی،
زما والي «حسان بن حسان بکری» یې وژلی،
او د شام لښکر یې له سرحدي پوستو تېر کړی دی.

ماته خبر را رسېدلی چې د شام له لښکره یو سړی د یوې مسلماني ښځې او یوې نامسلماني ښځې کور ته ورننوت، چې د اسلامي حکومت تر ساتنې لاندې وه،
او د هغوی خلخال، لاسبند، غاړکی او غوږوالی یې لوټ کړې،
په داسې حال کې چې د دفاع هېڅ وسیله یې نه لرله، پرته له ژړا او زاری.

د شام لښکر له ډېرو غنیمتونو سره ولاړ،
بې له دې چې یو کس یې ټپي شي یا یو څاڅکی وینه تري تویه شي.
که یو مسلمان د دې پېښې له غمه ومري، ملامت نه دی، بلکې زما په نظر وړ دی.

عجیبه ده! عجیبه ده!
په الله ﷻ قسم! دا حالت د انسان زړه مړ کوي او غم پرې راولي،
چې د شام خلک په خپل باطل کې یو موټی دي،
او تاسې په خپل حق کې وېشلي یاست.

بد دې شي ستاسې مخونه!
او له غمه خلاص نه شئ،
چې د بلا د غشو نښه ګرځېدلي یاست.

پر تاسې برید کېږي، تاسې برید نه کوئ؟
له تاسې سره جګړه کېږي، تاسې جګړه نه کوئ؟
د الله ﷻ نافرماني کېږي او تاسې راضي یاست؟

کله چې په دوبي کې د حرکت امر درکړم، وایئ: هوا ګرمه ده، صبر وکړه تر څو ګرمي تېره شي.
او کله چې په ژمي کې د جګړې امر درکړم، وایئ: هوا سړه ده، صبر وکړه تر څو ساړه ولاړ شي.
دا ټولې بهانې د تودوخې او یخنۍ نه، بلکې د جګړې نه د تېښتې لپاره دي.
تاسې چې له ګرمي او یخنۍ تښتئ، په الله ﷻ قسم له توري نه ډېر تښتېدونکي یاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای د سړیو په بڼه بې غیرته!
ای د ماشومانو په شان بې عقله!
ستاسې عقلونه د پردې تر شا د ناوې په شان دي.

کاشکې تاسې مې نه وای لیدلي،
او نه مې پېژندلي!
په الله ﷻ قسم! ستاسې پېژندنه پرته له پښېمانۍ بل څه نه راکوي،
او پایله یې یوازې غم او اندوه دی.

الله ﷻ دې تاسې ووهي،
زما زړه مو له وینو ډک کړ،
او سینه مې له قهره ډکه کړه.

د غم او درد پیالې مو پر ما یو په بل پسې وڅښلې،
او په نافرمانۍ او ذلت مو زما تدبیر خراب کړ،
تر دې چې قریشو زما په اړه وویل:
«بېشکه د ابي طالب زوی زړور دی، خو د جګړې پوهه نه لري».

الله ﷻ دې د دوی پلرونو ته جزا ورکړي!
ایا له هغوی څخه کوم یو زما په شان سختې جګړې لیدلې؟
یا په جګړه کې له ما مخکې شوی؟

لا شل کلن نه وم چې د جګړې ډګر ته به تللم،
او اوس له شپېتو کلونو تېر شوی یم.
خو افسوس!
هغه څوک چې امر یې نه منل کېږي، رأیه هم نه لري.

۲۸:د دنیا پېژندنه

دا خطبه د فطر د اختر په یوه ورځ وفرمایل شوه(.
د الله ﷻ له حمد او ستاینې وروسته؛ بېشکه دنیا شا ګرځولې او د رخصت اعلان یې کړی، او آخرت راروان شوی او د هغه د لښکر مخکښان ښکاره شوي دي. پوه شئ! نن د تمرین او چمتووالي ورځ ده او سبا د سیالۍ ورځ ده. د بریالیو بدله جنت دی او د پاتې شویو سزا اور دی. آیا څوک شته چې له مرګه مخکې له خپلو تېروتنو توبه وکړي؟ آیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک شته چې د قیامت له سختې ورځې مخکې نېک عملونه وکړي؟ پوه شئ! تاسې اوس د هیلو په زمانه کې یاست چې مرګ ورپسې دی؛ نو څوک چې د هیلو په ورځو کې له مرګه مخکې نېک عمل وکړي، ګټه به وکړي او مرګ به ورته زیان ونه رسوي، او څوک چې د هیلو په ورځو کې له مرګه مخکې سستي وکړي، زیان به وکړي او مرګ به ورته تاوان وي. لکه څنګه چې د وېرې او سختۍ پر مهال د الله ﷻ لپاره عمل کوئ، د خوښۍ او اسانتیا په وخت کې هم عمل وکړئ. پوه شئ! ما هېڅ داسې شی نه دی لیدلی لکه جنت چې غوښتونکي یې په غفلت کې ویده وي، او نه داسې څه لکه دوزخ چې تېښتېدونکي یې داسې په خوب کې وي. پوه شئ! هغه څوک چې حق ورته ګټه ونه رسوي، باطل به ورته زیان ورسوي، او څوک چې هدایت لارښود ونه لري، ګمراهي به یې هلاکت ته ورسوي. پوه شئ! تاسې ته د کوچ امر شوی او د آخرت د توښې راټولولو لار درته ښودل شوې. تر ټولو خطرناک څه چې پر تاسې وېرېږم د نفس غوښتنې او اوږدې هیلې دي. نو له دې دنیا توښه واخلئ تر څو سبا ځان پرې وساتئ.

۲۹:د کوفیانو د ماتې سببونه

)کله چې ضحاک بن قیس د معاویه له خوا په ۳۸ هجري کال کې د بیت الله د حاجیانو پر کاروان برید وکړ او مالونه یې لوټ کړل، امام (ع) وفرمایل(:
ای د کوفې خلکو! بدنونه مو یو ځای دي خو فکرونه او غوښتنې مو بېلې دي. ستاسې د دعوې خبرې کلکې ډېرې ماتوي، خو ستاسې کمزورې عمل دښمن هیله مند کوي. په کورونو کې ناست یاست او سخت شعارونه ورکوئ، خو د جګړې په ورځ وایئ: ای جګړې له موږ لرې شه، او تښتئ. څوک چې له تاسې مرسته غواړي خوار دی، او څوک چې تاسې پرېږدي زړه یې آرام نه لري. بې عقله پلمې کوئ، لکه پور اخیستونکي چې مهلت غواړي، له ما هم مهلت غواړئ او له جګړې سستي کوئ. پوه شئ چې کمزوري خلک هېڅکله ظلم نه شي لرې کولای، او حق له کوښښ پرته نه تر لاسه کېږي. تاسې چې له خپل کوره دفاع نه کوئ، د بل له کوره به څنګه دفاع کوئ؟ او له ما وروسته به له کوم امام سره جګړې ته ځئ؟ په الله ﷻ قسم! غولېدلی هغه دی چې ستاسې په خبرو باور وکړي. څوک چې ستاسې په هیله بري ته ځي، لکه د کندې غشي سره میدان ته تللی وي، او څوک چې غواړي دښمن د تاسې په وسیله ووهي، لکه په مات غشي ډز وکړي. په الله ﷻ قسم! سهار مې وکړ په داسې حال کې چې ستاسې خبرې نه منم، او پر مرسته مو هیله نه لرم، او دښمن په تاسې نه وېروم. څه درباندې شوي؟ ستاسې درمل څه دي؟ ستاسې علاج کوم دی؟ د شام خلک هم ستاسې په شان انسانان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. آيا يوازې خبرې کوئ او عمل نه کوئ؟ بې له تقوا هېرېږئ او له الله ﷻ پرته بل ته هيله لرئ؟

۳۰:د دښمن د شايعاتو ځواب

)کله چې په ۳۵ هجري کال کې دا اوازې خپرې شوې چې امام (ع) د عثمان په قتل کې لاس لري، دا خطبه يې وفرمايله(:
که ما د هغه د وژلو امر کړی وای نو قاتل به وم، او که مې منع کړی وای نو د هغه له يارانو به شمېرل کېدم. سره له دې، هغه څوک چې د هغه مرسته يې وکړه نه شي ويلی چې تر هغو غوره دی چې مرسته يې پرېښوده، او هغوی چې مرسته يې پرېښوده نه شي ويلی چې د هغه ياران تر مورِ غوره وو. زه به د عثمان کيسه درته لنډه کړم: عثمان استبداد وکړ او تاسې بې صبرې وکړه او له حده واوښتئ، او الله ﷻ د ظلم او سرکښۍ او د بې صبرۍ او تېزۍ لپاره حکم لري چې پوره به شي.

۳۱:کله چې ابن عباس يې د نصيحت لپاره زبير ته ولېږه

)د جمل د جګړې په پيل کې، په ۳۶ هجري کال کې، ابن عباس يې د زبير د نصيحت لپاره ولېږه او وفرمايل(:
له طلحة سره مه ګوره، ځکه که ورسره مخ شې، د وحشي غوا په شان به يې وموميِ چې ښکر يې تاو کړی او جګړې ته چمتو دی، پر سرکښه سپرلۍ سپورېږي او وايي رام دی. بلکې له زبير سره وګوره چې نرم دی. ورته ووايه: ستا د ترور زوی وايي: په حجاز کې دې پېژندلم، په عراق کې مې نه پېژنې؟ څه شول چې له خپل بيعت څخه واوښتې؟

۳۲:د پېغمبر ﷺ وروسته د خلکو او زمانې پېژندنه

)په ۳۷ هجري کال کې د کوفې په جومات کې وفرمايل(:
ای خلکو! مورِ په داسې زمانه کې سهار کړی چې له کينې ډکه ده او د نعمتونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناشکرۍ او کفر زمانه ده؛ نېک سړی بد ګڼل کېږي او ظالم په خپل ظلم او سرکښۍ زیاتېږي. نه له هغه څه ګټه اخلو چې پوهېږو، او نه له هغه څه پوښتنه کوو چې نه پوهېږو، او نه له پېښې وېرېږو تر څو پر موږ راښکته شي. په دې زمانه کې خلک ځلور ډلې دي: یوه ډله هغه ده چې فساد نه کوي، خو نه د تقوا له امله، بلکې ځکه چې روح یې کمزورى، توره یې کنده او مال نه لري. بله ډله هغه ده چې توره یې را ایستلې او خپل شر او فساد یې ښکاره کړى، پیاده او سپاره لښکرونه یې راټول کړي او د نورو د وژلو لپاره چمتو دي؛ دین یې د دنیا د مال لپاره تباه کړ، څو یا د یوې ډلې مشر شي یا منبر ته وخېژي او خطبه ووایي. څومره بده سودا ده چې دنیا د خپل ځان بیه وګرځوې او د الله ﷻ له اجر سره یې بدل کړي. بله ډله هغه ده چې د آخرت په عملونو دنیا غواړي، خو د دنیا په کارونو آخرت نه غواړي؛ ځانونه کوچني او متواضع ښیي، په ریا لنډ ګامونه اخلي، لمن راټولوي، ځان د مؤمنانو په څېر سینګاروي، او د تقوا جامه د نفاق او دنیا غوښتنې لپاره کاروي. بله ډله هغه ده چې د ذلت او بې وسۍ له امله قدرت ته نه رسېږي، نو ځان د قناعت په سینګار ښیي او د زاهدانو لباس اغوندي، خو هېڅکله په ربښتیا زاهدان نه دي. په دې منځ کې لږ کسان پاتې دي چې د قیامت یاد یې سترګې پټې کړي، او د آخرت وېره یې اوښکې روانې کړي؛ ځینې له خلکو لرې یوازې ژوند کوي، ځینې وېرېدلي چوپ دي، ځینې خلک په اخلاص د الله ﷻ لور ته رابولي، او ځینې ژاړي او درد لري، تقیه او صبر هغوی د خلکو له نظره غورځولي، کمزورې پرې غالبه شوې، لکه په مالګې اوبو کې ډوب شوي وي؛ خولې یې بندې او زړونه یې ټپي دي، دومره نصیحت یې وکړ چې ستړي شول، دومره وځپل شول چې کمزورې شول، او دومره ووژل شول چې شمېر یې لږ شو. ای خلکو! دنیا دې ستاسې په سترګو کې د وچ وابنه او د قیچي شویو وړیو تر پاتې شونو هم بې ارزښته وي. له تېر شویو پند واخلئ مخکې له دې چې راتلونکي له تاسې پند واخلي، دا فاسده او بدنامه دنیا پرېږدئ، ځکه هغه له تاسې ډېر مین کسان هم پرېښودل.

۳۳:د بصرې پر لور د تګ پر مهال، د ناکثینو پر ضد جګړې ته

)په ۳۶ هجري کال کې د بصرې پر لور د تګ پر مهال، په ذی قار کې وفرمایل(:
ابن عباس وایي: په ذی قار کې امام (ع) ته ورغلم، هغه خپله چپلۍ پینه کوله، چې زه یې ولیدم ویې فرمایل: د دې چپلۍ بیه څومره ده؟ ما وویل: هېڅ ارزښت نه لري. وفرمایل: په الله ﷻ قسم، همدا بې ارزښته چپلۍ زما په نزد ستاسې له حکومت څخه غوره ده، مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې په وسیله یې حق قائم کړم یا باطل دفع کړم. بیا له خیمې ووت او خلکو ته یې وینا وکړه: الله ﷻ محمد ﷺ په داسې حال کې راولیږه چې د عربو له منځه هیڅا آسماني کتاب نه درلود او د نبوت دعوه یې نه کوله. پیغمبر ﷺ د جاهلیت خلک د انسانیت تر کرامته ورسول او نجات یې ورکړ، تر دې چې نېزې یې کندې نه شوې او بریالي شول او ټولنه یې ټینګه شوه. په الله ﷻ قسم، زه د اسلام د لښکر له مخکښانو وم، تر دې چې د کفر او شرک صفونه مې مات کړل. نه کمزوری شوم او نه ووېرېدم، اوس هم هماغه لار روان یم، د باطل پرده ځیرم تر څو حق تري راوباسم. زه له قریشو سره څه کار لرم؟ په الله ﷻ قسم، هغه وخت چې کافران وو ورسره وجنګېدم، او اوس چې غولېدلي دي بیا ورسره جګړه کوم. پرون له دوی سره وم او نن هم د دوی له لاسه په کړاو کې یم. په الله ﷻ قسم، قریش له موږ څخه یوازې د دې لپاره بد اخلي چې الله ﷻ موږ له هغوی وټاکلو او عزت یې راکړ، او موږ هغوی په خپل ژوند کې ومنل، نو داسې شول لکه شاعر چې وایي: «په خپل ژوند قسم، هر سهار دې صافې شیدې څښلې او سرشپر او بې هسته خرما دې خوړله، موږ تا لوړ مقام ته ورسولې په داسې حال کې چې لوړ نه وې، او موږ د خپلو سپرو سره تر سهاره ستا ساتنه کوله».

۳۴:د شامیانو پر ضد د جګړې لپاره د خلکو راټولول

)دا خطبه په ۳۸ هجري کال کې، د خوارجو له ماتې وروسته، د کوفې په «نخیله» کې د شامیانو پر ضد د جګړې لپاره د خلکو د راټولولو په موخه وفرمایل(:
لعنت پر تاسې ای د کوفې خلکو! له ډېر ملامتولو مو ستړی شوم. ایا د تلپاتې آخرت پر ځای د لنډې دنیا ژوند ته راضي شوي یاست؟ او د عزت او سرلوړۍ پر ځای مو ذلت او بدبختي غوره کړې ده؟ هرکله چې تاسې د دښمن پر ضد جهاد ته رابولم، ستاسې سترګې له وېرې راوځي، لکه د مرګ وېره چې ستاسې عقلونه وړي وي او لکه مست انسانان سرګردان یاست. داسې ښکاري لکه عقلونه مو له لاسه ورکړي وي او نه پوهېږئ. زه نور هېڅکله پر تاسې باور نه لرم او تاسې خپل تکیه نه ګڼم. تاسې داسې ملګري نه یاست چې څوک دې درته لاس اوږد کړي. تاسې بې سارواته اوښې ته ورته یاست، چې له یوې خوا راټول شئ له بلې خوا خپرېږئ. په الله ﷻ قسم! تاسې د جګړې د اور بلولو لپاره ډېر بد وسیله یاست؛ تاسې دوکه کېږي خو دوکه ورکول نه شئ کولای، ستاسې سیمې یو په بل پسې نیسي او تاسې پروا نه کوئ. د دښمن سترګه ستاسې پر ضد د برید لپاره نه ویده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي، خو تاسې په غفلت کې یاست. په الله ﷻ قسم! ماتې د هغو ده چې یو د بل مرسته پرېږدي. په الله ﷻ قسم! که جګړه سخته شي او د مرګ تودوخه تاسې راونغاړي، نو د ابوطالب له زوی څخه به داسې تیت شئ لکه سر چې له تنه جلا شي. په الله ﷻ قسم! هغه څوک چې دښمن پر ځان مسلط کړي تر څو غوښه یې وخوري، هډوکي یې مات کړي او پوستکی یې وشلوي، ډېر کمزوری او زړه یې ډېر وړوکی دی. که ته داسې کډل غواړې نو شه، خو زه په الله ﷻ قسم تر هغې به کښناستم نه چې په تېره توره داسې ګوزار پرې وکړم چې د سر هډوکي یې توتې شي او لاسونه او پښې یې جلا شي، بیا الله ﷻ هر څه چې وغواړي وکړي. ای خلکو! پر ما ستاسې حق دی او پر تاسې زما حق دی. ستاسې حق پر ما دا دی چې خیرخواهي درنه ونه سپموم، بیت المال په انصاف درسره ووېشم، تاسې ته زده کړه درکړم تر څو ناپوه پاتې نه شئ، او تاسې وروزم تر څو د ژوند لاره وپېژنئ. او زما حق پر تاسې دا دی چې په بیعت کې راسره وفادار اوسئ، په ښکاره او پټه راته خیر غواړئ، چې کله مو راوبولم راشئ، او چې امر درته وکړم اطاعت وکړئ.

۳۵:د حکمیت له پېښې وروسته

)کله چې د حکمیت له کیسې او د عمرو بن عاص له چل څخه خبر شو، او هغه شرطونه عملي نه شول چې منل شوي وو، امام (ع) په ۳۸ هجري کال کې دا خطبه وفرمایله(:
الحمد لله، که څه هم زماني ډېرې سختۍ او لویې پېښې راوستلې. ګواهي ورکوم چې له الله ﷻ پرته بل معبود نشته او محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی. وروسته له حمد څخه پوه شئ چې د مهربان او تجربه کار نصیحت کوونکي د حکم نافرماني د پښېمانۍ او سرګردانۍ سبب کېږي او پایله یې افسوس وي. ما د حکمیت په اړه خپله رأیه درته وویله او خپل خالص نظر مې درکړ، خو تاسې د ظالمانو مخالفانو او د بیعت ماتوونکو په شان ونه منله، تر دې چې نصیحت کوونکی په نصیحت کې شکمن شو او له نصیحته ودرېد. زما او ستاسې کیسه د هوازن د ورور د شعر په شان ده: «په منعرج کې مې لازم امر وکړ، خو و نه منل شو، او سبا یې د سرغړونې سزا وځښله».

۳۶:د نهروان خوارجو ته نصیحت او خبرداری

)د صفر په میاشت ۳۸ هجري کې د نهروان خوارجو ته د نصیحت او د هغوی د تېروتنې د یادولو لپاره وفرمایل(:
تاسې له دې وېروم چې سبا داسې راپاڅئ چې جنازې مو د نهروان د سیند پر غاړو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوړو ژورو ځمکو پراته وي، بې له دې چې له پروردګاره روښانه دلیل او څرګند حجت ولرئ. له خپلو کورونو شړل شوي او د تقدیر په جال کې راګیر شوي یاست. ما تاسې له دې حکمیت څخه منع کړي وئ، خو تاسې په سرسختۍ مخالفت وکړ تر دې چې زه ستاسې غوښتنې ته مجبور شوم. ای کم عقلو او بې عقله خلکو، ای بې اصله کسانو! ما دا فتنه نه ده جوړه کړې او هیڅکله مې ستاسې د زیان اراده نه درلوده.

۳۷:د هغه حضرت ځانګړنې او فضیلتونه

)د نهروان له جګړې وروسته، په ۳۸ هجري کال کې په کوفه کې وفرمایل(:
کله چې ټول د وېرې له امله کمزوري شول او شاته ولاړل، زه پاڅېدم؛ او هغه وخت چې ټولو ځانونه پټ کړل، زه ښکاره میدان ته راووتلم؛ او هغه وخت چې ټولو چوپتیا غوره کړه، ما خبرې وکړې؛ او هغه وخت چې ټول ودرېدل، زه د الله ﷻ د نور په لار روان شوم. د خبرو په وخت کې مې غږ تر ټولو ټیټ و، خو په عمل کې تر ټولو مخکې وم. د چارو واګې مې په لاس کې واخیستې، له ټولو مخکې والوتلم، او د فضیلتونو د سبقت انعام مې واخیست. د داسې غره په شان وم چې تند بادونه یې نه شي خوځولی او طوفانونه یې له ځایه نه شي ایستلی. هیڅا په ما کې عیب ونه موند او بد ویل کوونکي ته د عیب موندلو ځای پیدا نه شو. تر ټولو ذلیل کس زما په نزد عزتمن دی تر څو حق یې ورکړم، او تر ټولو زورور زما په نظر کمزوری دی تر څو حق ترې واخلم. د الله ﷻ د حکم پر وړاندې راضي او تسلیم یم. آیا ګومان کوئ چې زه به رسول الله ﷺ ته دروغ ووایم؟ په الله ﷻ قسم! زه لومړی کس وم چې هغه مې تصدیق کړ، او هیڅکله به لومړی کس نه شم چې هغه دروغجن وبولم. ما په خپل کار کې فکر وکړ، نو ومې لیدل چې د بیعت نه مخکې د رسول الله ﷺ د وصیت د اطاعت عهد پر ما دی، هغه له ما څخه د بل لپاره بیعت اخیستی و.

۳۸:د شبهې پېژندنه

)په ۳۷ هجري کال کې، د صفین له جګړې او د حکمیت له پېښې وروسته د «شبهې» په اړه وفرمایل(:
شبهه ځکه شبهه بلل کېږي چې د حق په شان ښکاري. خو د الله ﷻ د دوستانو لپاره په شبهاتو کې د هدایت رڼا یقین دی، او لار یې الهي هدایت دی. خو د الله ﷻ د دښمنانو لپاره په شبهاتو کې بلونکی ګمراهي ده، او لارښود یې ړوندوالی دی. څوک چې له مرګه وېرېږي، نه به خلاصېږي، او څوک چې ژوند خوښوي، په دنیا کې به تل پاتې نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۹:د کوفیانو غندنه

)په ۳۹ هجري کال کې، کله چې د معاویه له لوري نعمان بن بشیر پر «عین التمر» برید وکړ او کوفیان سستي وکړه، امام (ع) وفرمایل(:
زه په داسې خلکو اخته شوی یم چې امر ورته کوم نه یې مني، او چې راوبولم ځواب نه راکوي. ای بې اصله خلکو! د خپل پروردګار د مرستې لپاره ولې انتظار کوئ؟ آیا داسې دین نه لرئ چې تاسې سره یو ځای کړي؟ او یا داسې غیرت نه لرئ چې تاسې په قهر کړي؟ زه ستاسې په منځ کې ولاړ یم، چیغې وهم او مرسته درنه غواړم، خو نه مې خبرې اورئ او نه مې امر منئ، تر دې چې بدې پایلې ښکاره شي. نه ستاسې په وسیله د وینې بدل اخیستل کېدای شي او نه په مرسته مو هدف ته رسېدای شو. تاسې د خپلو ورونو مرستې ته رابولم، خو لکه دردمن اوښ نالې وهئ او لکه زخمي څاروی بې حرکته پاتې کېږئ. یوازې لږ کسان راسره راغلل، هغه هم کمزورې او وېرېدلي، لکه مرګ ته چې بیول کېږي او په خپلو سترګو یې وینې.

۴۰:د حکومت ضرورت

)په ۳۸ هجري کال کې، کله چې خوارجو شعار ورکاوه «لا حکم الا لله»، په کوفه جومات کې وفرمایل(:
دا د حق خبره ده، خو تري د باطل اراده کېږي. هو، حکم یوازې د الله ﷻ دی، خو دوی وایي حکومت یوازې د الله لپاره دی، حال دا چې خلک د ښه یا بد حاکم ته اړ دي، تر څو مؤمنان خپل کار وکړي او کافران هم ګټه واخلي، او د حکومت په سیوري کې ژوند برابر شي، بیت المال راټول شي، دښمن سره جګړه وشي، لارې خوندي شي، او د کمزورې حق له زورور واخیستل شي، نېکان په آرام کې وي او له بدکارانو خوندي شي.

۴۱:له چل او دوکې څخه ځان ساتل

)د صفین له جګړې وروسته، په ۳۷ هجري کال کې وفرمایل(:
ای خلکو! وفا له ربښتینولی سره ده، او تر دې ټینګ ډال نشته. څوک چې د قیامت د ورګرځېدو یقین ولري، خیانت او دوکه نه کوي. خو نن داسې زمانه ده چې ډېرې خلک چل ته زیرکتیا وایي، او ناپوهان یې تدبیر بولي. څنګه فکر کوي؟ الله ﷻ دې ووهي! ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسان شته چې ټولې لارې پېژني، خو د الله ﷻ امر او نهی يې منع کوي، نو پرېږدي يې، خو هغه چې له ګناه نه وېرېږي، له هر فرصته د دوکې لپاره کار اخلي.

۴۲:له اوږدو هيلو او نفس غوښتنې څخه ډډه

)د جمل له جګړې وروسته، په ۱۲ رجب ۳۶ هجري، کوفې ته د ننوتلو پر مهال وفرمايل(:

ای خلکو! زه پر تاسې له دوو شيانو وېرېږم: د نفس غوښتنه او اوږدې هيلې. د نفس غوښتنه انسان له حقه ګرځوي او اوږدې هيلې آخرت هېروي. پوه شئ دنيا شا ګرځولې او له هغې يوازې لږ څه پاتې دي، لکه لوښی چې نږدې تش شوی وي. پوه شئ آخرت را روان دی، دنيا او آخرت دواړه اولادونه لري، نو د آخرت له اولادونو شئ نه د دنيا، ځکه د قيامت په ورځ هر څوک خپل اصل ته ورګرځي. نن د عمل ورځ ده نه د حساب، او سبا د حساب ورځ ده نه د عمل.

۴۳:له شاميانو سره د جګړې په اړه

)په ۳۶ هجري کال کې، کله چې جرير بن عبدالله معاويه ته ولېږل شو او ځواب يې ور نه کړ، امام (ع) وفرمايل(:

زما له خوا د شاميانو پر ضد د جګړې تياری، په داسې حال کې چې جرير مې ورلېږلی، د سولې لار بندول دي که هغوی خير وغواړي. ما د جرير لپاره موده ټاکلې، که ناوخته شي يا دوکه ورکړل شي نو له اطاعته وتلی دی. زما نظر دا دی چې صبر وکړئ او مدارا وکړئ، خو ځان د جګړې لپاره چمتو کول منع نه دي. ما ډېر فکر وکړ، بله لار نه شته، يا جګړه يا د هغه څه انکار چې رسول الله ﷺ راوړی، ځکه مخکې يو کس پر خلکو حاکم و چې کارونو يې فتنې پيدا کړې، خلک پرې اعتراض وکړ او بدل يې کړ.

۴۴:د مصقلة له تېښتې افسوس

)په ۳۸ هجري کال کې، کله چې مصقلة بن هبيرة وتښتېد، وفرمايل(:

الله ﷻ دې د مصقلة مخ تور کړي، د ازاد سړي کار يې وکړ خو د غلام په شان وتښتېد. لا ستاينه يې نه وه پيل شوې چې چوپ شو، او لا د ستايني خبرې نه وې ختمې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک يې په زحمت واچول. که ولاړ پاتې شوی وای، هماغه څه مو تري منل او تر وس پورې مو مهلت ورکاوه.

۴۵:د الله تعالی ستاینه او د دنیا غندنه

)د فطر د اختر په ورځ په کوفه کې له اوږدې وینا څخه(:
ستاینه د هغه الله ﷻ لپاره ده چې له رحمته يې څوک نه ناامېدېږي، له نعمتونو يې څوک نه وځي، له بښنې يې ګناهکار نه مايوسېږي، او له عبادته يې سرغړونه نه کېږي. هغه الله ﷻ چې رحمت يې نه ختمېږي او نعمتونه يې پای نه لري. دنیا د هیلو کور دی چې ژر له منځه ځي، او کوچ تري حتمي دی. دنیا خوږه او ښکلي ده او غوښتونکي ته ژر ورځي او انسان غولوي. هڅه وکړئ له دې دنیا څخه په ښه توښه ووځئ، له اړتیا زیات مه غواړئ، او تر ضرورت ډېر مه غوښتئ.

۴۶ ـ د سفر دعا په اره

)در سال ۳۷ هجری، هنگامی که امام (ع) به سوی شام حرکت کرد، در حالی که پا در رکاب گذاشته بود، این دعا را فرمود(:
ای الله ﷻ! له د سفر له سختی، د راستنېدو له غم، او له دې چې د کور، مال او اولاد په اړه ناخوښه حالت ووینم، تا ته پناه دروړم.
ای پروردګاره! ته په سفر کې زموږ ملګری يې، او په وطن کې زموږ د پاتې کسانو ساتونکی او سرپرست يې، او دا دواړه يو ځای کول له تا پرته بل څوک نه شي کولای؛ ځکه څوک چې د پاتې کسانو ساتنه کوي، د مسافر ملګری نه شي کېدای، او څوک چې د مسافر ملګری وي، د پاتې کسانو ساتونکی نه شي کېدای.

۴۷

ـ د کوفې په اړه

ای کوفې! ته داسې وینم لکه د عکاظ د بازار څرمن چې کش کېږي، د پښو تر پښو لاندې کېږي، او پرله‌پسې حوادث دې را چاپېر کوي. زه ښه پوهېږم چې هېڅ ظالم به پر تا د بد نیت قصد ونه کړي، مګر دا چې الله ﷻ به هغه په بلا اخته کړي یا به پرې داسې څوک مسلط کړي چې هغه ووژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۸ ـ د شامیانو پر ضد د جګړې پر مهال وینا

د ۳۷ هجري کال د شوال په ۲۵، د کوفې په نخیله کې، د شام پر لور د حرکت پر مهال وفرمایل(:
ستاینه د الله ﷻ لپاره ده، هر وخت چې شپه راشي او د تیارې پرده وغورځي؛ ستاینه د پروردګار ده هر وخت چې ستوری راوخېژي او ولوېږي؛ ستاینه د هغه الله ﷻ ده چې نعمتونه یې پای نه لري او احسانونه یې نه جبرانېږي.
له ستاینې وروسته، ما د خپل لښکر مخکښان مخکې ولېږل او امر مې وکړ چې د فرات پر غاړه تم شي تر څو زما امر ورسېږي، ځکه ما اراده کړې چې له فراته واوړم او د شام هغو خلکو ته ورشم چې د دجلې شاوخوا میشت دي، هغوی له تاسې سره یو ځای کړم او له هغوی مرسته وغواړم تر څو تاسې پیاوړي شئ.

۴۹ ـ د الله تعالی پېژندنه

ستاینه د هغه الله ﷻ لپاره ده چې د پټو رازونو خبر دی، او د هغه د وجود نښې په ټول هستي کې ښکاره دي. هغه د لیدونکو سترګو ته نه ښکاري؛ نه هغه څوک چې یې نه دی لیدلی انکار یې کولای شي، او نه هغه زړه چې پېژندلی یې دی لیدلای شي.
په لوړوالي کې تر هر څه لوړ دی، نو له هغه لوړ څه نشته، او مخلوق ته دومره نږدې دی چې تر هغه نږدې څه نشته. لوړوالی یې له مخلوقاتو لرې نه کړ، او نږدېوالی یې له مخلوق سره برابر نه کړ.
عقلونه یې د ذات حقیقت ته نه دي رسولی، خو له پېژندنې یې هم نه دي محروم کړي. نو هماغه دی چې د هستۍ ټولې نښې پر وجود یې ګواهي ورکوي، او د منکرانو زړونه یې هم اقرار ته مجبور کړي دي. هغه الله ﷻ د تشبیه کوونکو له خبرو او د منکرانو له ګمانونو ډېر لوړ دی.

۵۰ ـ د فتنو د پیدا کېدو لاملونه

)د صفین له جګړې او د حکمیت له پېښې وروسته، په ۳۸ هجري کال کې په کوفه کې وفرمایل(:
د فتنو د پیدا کېدو پیل د نفس غوښتنه او د آسماني احکامو په وړاندې بدعت ایښودل دي؛ داسې نوښتونه چې له قرآن سره مخالفت لري، او خلک د همدې دوو انحرافونو له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر یو بل مسلط کېږي، چې دا د الله ﷻ د دین خلاف کار دی.
که باطل له حق سره ګډ نه شي، د حق غوښتونکو ته پټ نه پاتې کېږي، او که حق له باطله جلا شي، د دښمنانو ژبې پرې کېږي. خو دوی د حق یوه برخه او د باطل یوه برخه اخلي او سره یې ګډوي، همدلته شیطان پر خپلو ملګرو غالبېږي، او یوازې هغه کسان ژغورل کېږي چې د پروردګار د رحمت لاندې وي.

۵۱ ـ د فرات د اوبو د آزادولو فرمان

)په ۳۷ هجري کال کې، کله چې امام (ع) د صفّین صحرا ته داخل شو او غوښتل یې د فرات اوبه تر لاسه کړي، د لښکر مخکښانو ته یې وفرمایل(:
شامیانو د اوبو په بندولو سره تاسو جګړې ته راوبللئ. اوس تاسو د دوو لارو په منځ کې ولاړ یاست: یا به په ذلت او خواري خپل ځای کې کښېنئ، او یا به خپلې تورې د هغوی په وینو ماړې کړئ تر څو پخپله له اوبو ماړه شئ. پوه شئ چې مرګ په هغه ژوند کې دی چې له ماتې سره مل وي، او تلپاتې ژوند په هغه مرګ کې دی چې له بریا سره وي.
خبر اوسئ! معاویه د ګمراهانو یوه ډله له ځان سره راوستې او حقیقت یې تر پټ کړی، تر څو هغوی په ړوند ډول خپلې غاړې د غشو او تورو نښه وګرځوي.

۵۲ ـ د دنیا پېژندنه

)د قربانۍ د اختر په یوه ورځ دا خطبه وفرمایل، او ډېرې شارحان خطبې ۵۲ او ۵۳ یوې ګڼي(.
خبر اوسئ! داسې ښکاري چې دنیا پای ته رسېدلې او د رخصت اعلان یې کړی دی، ښېګڼې یې نا پېژندل شوې پاتې شوې او په چټکۍ شا اړوي او تېرېږي، اوسېدونکي د نابودۍ لور ته بیایي او ګاونډیان د مرګ پر لور بیایي. د دنیا خوږ شیان تریخ شوي او صفا او رونې حالت یې تورواللي نیولی دی، له هغې نه یوازې د لوښي د پاتې شونو په اندازه څه پاتې دي، یا د اوبو یوه غوړپه چې د تږو تنده نه شي ماتولای.
ای د الله ﷻ بندګانو! له داسې کور څخه کوچ وکړئ چې پای یې فنا ده، مه پرېږدئ چې هیلې پر تاسو برلاسي شي، او دا مه ګمان کوئ چې اوږد عمر به ولرئ. په الله ﷻ قسم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د خپلو مړو بچو پر شان اوښان چیغې ووهئ، او د کوترې په شان ژړا وکړئ، او د راهبانو په شان زاریې وکړئ، او د حق ته د نږدې کېدو او د لوړو درجو د ترلاسه کولو لپاره له مال او اولاد څخه لاس واخلئ، بیا هم لږ دی د هغه اجر په مقابل کې چې زه یې درته هیله لرم او له هغه عذابه چې پر تاسو وېرېږم. په الله ﷻ قسم! که ستاسو زړونه د وېرې نه اوبه شي، او له سترګو مو د الله ﷻ د مینې یا د هغه د وېرې له امله وینه وبهېږي، او تر پایه د دنیا پورې ژوندی پاتې شئ او تر وسه پورې د الله ﷻ اطاعت وکړئ، بیا هم د الله تعالی د لویو نعمتونو په وړاندې، په ځانګړې ډول د ایمان د نعمت په مقابل کې، ډېر لږ دي.

۵۳ ـ د قربانۍ وصف

بشپړه قرباني هغه ده چې غوږ او سترګې یې سالم وي، که غوږ او سترګې سالم وي قرباني بشپړه ده، که څه هم ښکر یې مات وي او په لنګه پښه د قربانۍ ځای ته راوستل شي.

۵۴ ـ د بیعت د ورځې وصف

)په ۳۷ هجري کال کې، د صفّین د جګړې په پیل کې دا وینا وفرمایل(:
خلک پر ما داسې راټول شول لکه تږي اوښان چې اوبو ته ورنږدې شي او ساربان یې خوشې کړي وي او پرې تري خلاص کړي وي، پر یو بل یې ټپل وهلې، یو بل ته نږدې کېدل، دومره فشار یې راوړ چې ما ګومان وکړ چې یا به ما ووژني یا به یو بل تر پښو لاندې کړي.
له عمومي بیعت وروسته مې د معاویه سره د جګړې موضوع وڅېړله، هر اړخ مې وسنجاوه تر دې چې خوب رانه وتښتېد. ومې لیدل چې له دوو لارو پرته بله لاره نشته: یا به ورسره جګړه کوم، یا به هغه څه انکار کوم چې رسول الله ﷺ راوړی دی. نو دې پایلې ته ورسېدم چې جګړې ته غاړه اېښودل د الله تعالی له عذابه اسانه دي، او د دنیا له لاسه ورکول د آخرت له پرېښودلو اسانه دي.

۵۵ ـ د صفّین د جګړې په اړه څرګندوني

)په ۳۷ هجري کال کې، د صفّین د جګړې په درشل کې، کله چې ځینو د امام (ع) نرمي ولیده او علت یې وپوښت، وفرمایل(:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې وايئ زما زغم د مرګ له وېرې دی، په الله ﷻ قسم! ما ته توپیر نه لري چې زه د مرګ لور ته ولاړ شم او که مرګ زما لور ته راشي.
او که ګومان کوئ چې د شامیانو سره په جګړه کې شک لرم، په الله ﷻ قسم! هره ورځ چې جګړه ځنډوم، د دې لپاره ده چې هیله لرم له هغوی څخه یوه ډله زمونږ سره یوځای شي او هدایت وموميِ، او د تیارو په منځ کې زما رڼا وویني او زما لور ته راشي، او دا زما لپاره تر دې غوره ده چې هغوی د ګمراهۍ په حال کې ووژنم، که څه هم په هغه صورت کې به هم د خپلو ګناهونو له امله نیول کېږي.

۵۶ ـ د رسول الله ﷺ د زمانې د جګړو یاد

)ځینې دا خطبه د ۳۷ هجري کال د پیل له پېښو سره تړلې ګڼي او ځینې یې د صفّین د جګړې له ورځو څخه بولي(.
مونږ د رسول الله ﷺ په ملتیا کې وو او له خپلو پلرونو، زامنو، وروڼو او تره ګانو سره مو جګړه کوله، او دې مبارزې زمونږ ایمان او تسلیم زیاتوه او مونږ یې د حق په پراخه لار کې، د سختیو پر وړاندې په صبر او دښمن سره په جهاد کې ثابت قدم ساتلو.
کله به زمونږ له ډلې یو کس او د دښمن له ډلې بل کس د دوو اتلانو په شان وجنګېدل، او هر یو به غوښتل بل له منځه یوسي او د مرګ جام پرې وڅښي. کله به مونږ بریالي کېدو او کله به دښمن پر مونږ غالب شو.
کله چې الله تعالی زمونږ ربښتینولي او اخلاص ولید، نو پر دښمنانو یې ذلت نازل کړ او مونږ ته یې بری راکړ، تر دې چې اسلام ټینګ شو او خپور شو او په پراخو ځمکو کې خپور شو.
په خپل ځان قسم! که مونږ په مبارزه کې ستاسو په شان وای، هېڅکله به د دین بنسټ ټینګ نه وای پاتې شوی او د ایمان ونه به شنه شوې نه وای. په الله ﷻ قسم! تاسو اوس د اوښ له سینې وینه دوشئ او پایله به مو له پښېمانۍ پرته بله نه وي.

۵۷ ـ د بې باکه ظالم د واک خبر

)په ۴۰ هجري کال کې، د عمر په وروستیو ورځو کې، د کوفیانو د ملامتولو او خبرداري لپاره وفرمایل(:
خبر اوسئ! له ما وروسته به پر تاسو یو داسې سړی مسلط شي چې ستونی به یې پراخ او ګیډه به یې لویه وي، هر څه چې وموميِ خوري، او د هغه څه په لټه کې وي چې نه یې لري. هغه ووژنئ، خو هېڅکله به یې ونه شئ وژلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبر اوسئ! ډېر ژر به معاويه تاسو دې ته اړ کړي چې له ما بيزاري وښايئ او ما ته بد ووايئ. بد ويل د مجبورۍ په وخت کې اجازه درکوم، ځکه دا زما د درجې د لوړوالي او ستاسو د خلاصون سبب کېږي، خو په زړونو کې له ما بيزاري مه کوئ، ځکه زه د توحيد پر فطرت پيدا شوی يم او په ايمان او هجرت کې له ټولو مخکې وم.

۵۸ ـ د خوارجو د بدې راتلونکې خبر

)په ۳۸ هجري کال کې، د حکميت له پېښې وروسته، د خوارجو په اړه د خبرو په وخت کې وفرمايل(:

پر تاسو دې د پېښو او بلاوو ډبرې راولوېږي، داسې چې له تاسو هېڅ نښه پاتې نه شي! ايا له دې وروسته چې ما په الله ﷻ ايمان راوړی او د رسول الله ﷺ په رکاب کې مې جهاد کړی، زه به پر خپل کفر ګواهي ورکړم؟ که داسې وکړم نو ګمراه شوی يم او له هدايت شوو څخه به نه يم.

نو بدترين ځای ته ولاړ شئ او د پخوانيو په لاره وګرځئ. خبر اوسئ! ډېر ژر به له ما وروسته د ذلت او سپکاوي سره مخ شئ، تېره توره به پر تاسو مسلط شي، او داسې استبداد به درباندې راشي چې د نورو ظالمانو لپاره به د حکومت لاره وګرځي.

۵۹ ـ د خوارجو د وژل کېدو ځای

)په ۳۸ هجري کال کې، د خوارجو سره د جګړې پر مهال، يو کس وويل چې خوارج د نهروان له پله تېر شول، امام (ع) وفرمايل(:

د خوارجو د وژل کېدو ځای د همدې سيند دې غاړې ته دی. په الله ﷻ قسم! له هغوی به له لسو کسانو زيات پاتې نه شي، او له تاسو به هم لس تنه نه وژل کېږي.

۶۰ ـ د خوارجو د فکر د دوام خبر

)د خوارجو له جګړې وروسته، په ۳۸ هجري کال کې، يو کس وويل: ای اميرالمؤمنين! خوارج ټول له منځه ولاړل. امام (ع) وفرمايل(:

نه، په الله ﷻ قسم! هېڅکله نه. هغوی نطفې دي چې د پلرونو په شاګانو او د مېندو په رحمونو کې به وي، هر کله چې د هغوی يوه ځانګه راپورته شي پرې به شي، تر دې چې وروستي به يې غله او لارې وهونکي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶۱ ـ نهی از کشتن خوارج

)در سال ۳۸ هجری، پس از پایان جنگ نهروان، درباره آینده خوارج فرمود(:
له ما وروسته له خوارجو سره جګړه مه کوئ، ځکه هغه څوک چې د حق په لټه کې وي او تېروتنه وکړي، د هغه چا په شان نه دی چې د باطل غوښتونکی وي او هغه وموميي.

۶۲ ـ د ترور د ګواښ په مقابل کې د امام (ع) دريځ

)په ۴۰ هجري کال کې، د ژوند په وروستيو ورځو کې، په کوفه کې د ځينو ګواښونو او د ناڅاپي وژل کېدو د خبرو په ځواب کې وفرمايل(:
الله تعالی زما لپاره داسې کلک ساتونکی ټاکلی چې ما ساتي، کله چې زما د عمر وخت پوره شي، هغه ساتنه لېرې کېږي او ما مرګ ته سپاري، په هغه ورځ نه غشی خطا ځي او نه زخم رغېږي.

۶۳ ـ د دنيا سره د چلند لاره

خبر اوسئ! دنيا داسې کور دی چې هېڅوک پکې خوندي نه دی، مګر هغه څوک چې د آخرت لپاره توښه برابره کړي. د دنيا په کارونو سره هېڅوک نه ژغورل کېږي. خلک د دنيا په وسيله ازمېيل کېږي؛ هر څه چې د دنيا لپاره تر لاسه کړي له لاسه به يې وځي او حساب به پرې کېږي، او هغه څه چې د آخرت لپاره يې چمتو کړي، هماغه به وموميي او له هماغه سره به پاتې شي.
د هوښيارانو په نظر دنيا د سيوري په شان ده چې لا نه وي غځېدلی، خو لنډېږي، او لا نه وي زيات شوی، خو کمېږي.

۶۴ ـ د نېکو عملونو پر لور چټکتيا

ای د الله ﷻ بندګانو! تقوا اختيار کړئ او د نېکو عملونو سره د مرګ هرکلی وکړئ. د فنا کېدونکې دنيا په بدل کې هغه څه واخلئ چې پاتې کېږي. له دنيا کوچ وکړئ، ځکه تاسو کوچول کېږئ. د مرګ لپاره چمتو اوسئ چې پر تاسو سيوری کړی دی.
د هغو خلکو په شان شئ چې غږ پرې وشو او راويښ شول، پوه شول چې دنيا د تل لپاره کور نه دی، نو هغه يې له آخرت سره بدله کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی تاسو ببهوده نه دي پيدا کړي او نه يې بې سرپرسته پرېښي دي. ستاسو او د جنت يا دوزخ تر منځ يوازې د مرګ واټن پاتې دی.
هغه لنډ ژوند چې شېبې يې کموي او مرګ يې ختموي، د اوږدې مودې وړ نه دی. هغه ژوند چې شپه او ورځ يې مخ ته وړي، ژر به پای ته ورسېږي. هغه مسافر چې نېکمرغي يا بدمرغي له ځان سره وړي، بايد تر ټولو غوره توښه له ځان سره واخلي.
له دې دنيا څخه داسې توښه واخلئ چې د قيامت په ورځ ستاسو ساتنه وکړي. د الله بنده بايد له الله تعالی ووېرېږي، ځان ته نصيحت وکړي، توبه مخکې واستوي او پر خپلو شهوتونو غالب شي، ځکه مرګ پټ دی، هيلې دوکه ورکوونکې دي، او شيطان تل ورسره وي، ګناهونه ښکلي ورښيي تر څو پرې غالب شي. انسان د توبې په تمه ساتي چې هغه وځنډوي، تر هغه چې مرګ راشي او هغه غافل وي.
افسوس پر هغه غافل انسان چې عمر يې د هغه پر ضد شاهد شي او زمانه يې بدمرغۍ ته راکاږي. له الله تعالی څخه غواړو چې موږ او تاسو د نعمتونو په وخت کې مغرور نه کړي، او هېڅ شی مو د الله تعالی له اطاعته منع نه کړي، او د مرګ له راتلو وروسته مو له پښېمانۍ او غم سره مخ نه کړي.

۶۵ ـ د الله ﷻ د صفتونو پېژندنه

)په ۳۸ هجري کال کې، د صفّين له جګړې وروسته، په کوفه جومات کې دا وينا وفرمايل(:
ستاينه د هغه الله ﷻ لپاره ده چې يو صفت يې پر بل صفت مخکې شوی نه دی، تر څو وويل شي مخکې له دې چې آخر وي، اول دی، او مخکې له دې چې باطن وي، ظاهر دی. له هغه پرته هر يو او يوازې شی لږ دی. له هغه پرته هر عزتمند ذليل دی، او له هغه پرته هر ځواکمن کمزوری او ناتوان دی. له هغه پرته هر مالک بنده دی، او له هغه پرته هر عامل زده کوونکی دی. له هغه پرته هر قدرتمن کله توانمن او کله بې وسه وي.
له الله ﷻ پرته هر اوږدونکی د کمزورو غږونو په اوږدو کې کون دی، د پياوړو غږونو په وړاندې هم ناتوان دی، او لرې آوازونه نه اوري. له الله ﷻ پرته هر ليدونکی د پټو رنګونو او ډېرو کوچنيو جسمونو له ليدو بې وسه دی. له هغه پرته هر ظاهر پټ دی، او له هغه پرته هر پټ ښکاره دی.
هغه مخلوقات د خپل سلطنت د پياوړتيا لپاره نه دي پيدا کړي، نه د راتلونکي له وېرې، نه د خپل سيال پر ضد د مرستې لپاره، نه د شريکانو پر وړاندې د ويار لپاره، او نه د مخالفانو د مقابله کولو لپاره. بلکې ټول د هغه پيدا کړي دي، او د هغه د روزنې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيوري لاندې عاجز او فرمانبردار بندګان دي. الله ﷻ په هېڅ شي کې نه دی ځای پر ځای شوی تر څو وویل شي هلته دی، او له پیداوښتونو څخه دومره لرې نه دی چې وویل شي له هغوی بېل دی.
د موجوداتو پیدایښت هغه په پیل کې کمزوری نه کړ، او د مخلوقاتو د تدبیر څخه یې نه دی پاتې کړی. نه د هغه قدرت په هغه څه کې پای ته رسېدلی چې پیدا کړي یې دي، او نه په هغه څه کې چې حکم او تقدیر یې کړی شکمن شوی دی. بلکې امر یې ټینګ دی، علم یې مضبوط دی، او کار یې بې لغزښته دی. هغه الله ﷻ چې د بلا او سختۍ پر مهال ورته هیله کېږي، او د نعمتونو په وخت کې تري وېرېږي.

۶۶ ـ د پوځي تګلارو ښوونه

)د صفّین د جګړې په لومړیو ورځو کې، په ۳۷ هجري کال کې، خپلو لښکرو ته وفرمایل(:
ای د مسلمانانو ډلې! د بدن دننني لباس مو د الله ﷻ وېره وګرځوئ، او دباندې لباس مو سکون او سړه سینه وګرځوئ. غاښونه سره کلک کړئ تر څو د دښمن د تورې د ګوزارونو پر وړاندې مو مقاومت زیات شي. زغره مو پوره وتړئ، او مخکې له دې چې توره له تیغه وباسئ څو ځله یې وخوځوئ. د سترګو له کونجه دښمن ته وګورئ، او ګوزار له چپ او راست څخه وارخوئ، او په تېره توره ووهئ، او په مخکې تګ سره توره دښمن ته ورسوئ. پوه شئ چې تاسې د الله ﷻ او د پېغمبر ﷺ د تره زوی مخې ته ولاړ یاست. پرله‌پسې بریدونه وکړئ او له تېښتې شرم وکړئ، ځکه له جګړې تېښته د راتلونکو نسلونو لپاره د ننګ داغ دی او د قیامت د اور سبب دی.
له شهادته خوشحاله اوسئ او په اسانۍ سره یې هرکلی وکړئ. پر هغې ډېرې ډلې سخت برید وکړئ چې د ښکلو خیمو او ګډو وډو رسیو شاوخوا راټوله ده، یعنې د معاویه د قوماندې مرکز، او د هغوی زړونو ته ورننوځئ، ځکه شیطان هلته پټ ناست دی، د برید لپاره لاس مخکې لري او د تېښتې لپاره پښه چمتو ساتي.
ټینګ ودرېږئ تر څو د حق ستنه درته ښکاره شي. «تاسې برلاسي یاست، الله ﷻ له تاسې سره دی، او ستاسې د عملونو له بدلې څه نه کموي».

۶۷ ـ په سقیفه کې د خلافت په اړه د انصارو او قریشو د استدلال رد

)کله چې د ۱۱ هجري کال د صفر په ۲۸ نېټه د سقیفې کیسه امام (ع) ته بیان شوه، وپوښتل: انصارو څه وویل؟ ځواب ورکړل شو چې انصارو وویل: واکمني له موږه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مشري دې له تاسې مهاجرينو څخه وي. نو امام (ع) وفرمايل(:
ولې مو د رسول الله ﷺ په دې وينا ورسره استدلال ونه کړ چې د انصارو په اړه يې فرمايلي وو: له نېکانو سره يې نېکي وکړئ او له بدانو يې تېر شئ؟
[وپوښتل شول: دا حديث څنګه انصار له واکمنۍ ليرې کوي؟ وې فرمايل:] که حکومت او مشري په دوی کې وای، نو د دوی په اړه سپارښتنه معنی نه لرله.
[بيا يې وپوښتل: قريشو په سقيفه کې څه وويل؟ ځواب ورکړل شو: قريشو ويل مونږ د رسالت له ونې يو. امام (ع) وفرمايل:] دوی د رسالت په ونه استدلال وکړ، خو مېوه يې ضايع کړه.

۶۸ ـ د هاشم بن عتبه ستاينه د مصر د ولايت لپاره

)وروسته له دې چې محمد بن ابي بکر په ۳۸ هجري کال کې په مصر کې شهيد شو، وفرمايل(:
ما غوښتل هاشم بن عتبه د مصر والي وټاکم، که مې هغه ټاکلی وای نو دښمن ته به يې ميدان خالي نه پرېښود، او عمرو عاص او د هغه لښکر ته به يې فرصت نه ورکاوه. دا خبره د محمد بن ابي بکر د بد ويلو لپاره نه ده، ځکه هغه زما د مينې وړ و او زما په غېږ کې لوی شوی و.

۶۹ ـ د کوفيانو د ملامتولو لامل

)په ۳۹ هجري کال کې، کله چې د معاويه د قومندانانو د «عين التمر» په سيمه کې د لوټمار خبر واورېد، د کوفيانو په ملامتولو کې وفرمايل(:
تر کومه وخته به له تاسو کوفيانو سره نرمي کوم؟ لکه له هغو اوښانو سره نرمي چې تازه بار پرې اېښودل شوی وي او د بار له درانه والي يې شا ټپي شوې وي، او لکه د زړې جامې پېوند چې هر ځل له يوې خوا ګنډل شي، له بلې خوا څېرېږي.
هر کله چې د شام له لوري يوه ډله پر تاسو برېد وکړي، هر يو مو خپل کور ته ننوځي او دروازه وټړي، لکه سوسمار چې خپل سوری ته ننوځي، او لکه کفتار چې خپل ځالي ته پناه وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په الله ﷻ قسم! ذلیل دی هغه څوک چې تاسو یې مرسته کوونکي یاست، او څوک چې ستاسو په وسیله غشی وویشي، داسې دی لکه بې سرې غشی چې خوشې کړي.
په الله ﷻ قسم! تاسو په کورونو کې ډېر یاست، خو د جګړې تر بیرغ لاندې لږ یاست. زه پوهیږم چې څنګه باید تاسو سم کړم او ستاسو کږوالي سمې کړم، خو ستاسو اصلاح د خپل نفس په خرابولو سره روا نه ګڼم.
الله تعالی دې ستاسو پر تندي د ذلت نښه ولګوي او برخه مو کمه کړي. تاسو باطل داسې پېژنئ لکه حق چې نه پېژنئ، او د باطل د له منځه وړلو لپاره هڅه نه کوئ لکه څنګه چې د حق د له منځه وړلو لپاره هڅه کوئ.

۷۰ ـ له رسول الله ﷺ سره شکایت

)په ۴۰ هجري کال کې، د رمضان د میاشتې د نولسمې شپې په سحر، کله چې ټپي شو، وفرمایل(:
زه ناست وم چې خوب راباندې راغی، رسول الله ﷺ مې ولید. ومې ویل: ای د الله رسول ﷺ! ستا له امته مې ډېرې ترخې ولیدې او د هغوی له سرسختۍ او دښمنۍ مې ډېرې سختۍ وګاللې.
رسول الله ﷺ وفرمایل: پر هغوی نفرین وکړه.
ما وویل: الله تعالی دې ماته له دوی نه غوره خلک راکړي، او پر دوی دې زما پر ځای بد انسان مسلط کړي.

۷۱ ـ د عراقیانو د ملامتولو علت

)په ۳۸ هجري کال کې، وروسته له دې چې کوفیان د عمرو عاص او معاویه په چل او فریب وغولېدل، د خبرداري په ډول وفرمایل(:
د الله تعالی له ستاینې وروسته! ای د عراق خلکو! تاسې د هغې امیندواره ښځې په شان یاست چې د حمل په وروستیو ورځو کې خپل بچی وغورځوي، سرپرست یې مړ شي، اوږده موده بې میړه پاتې شي، او میراث یې لرې خپلوان لوټ کړي. خبر اوسئ! زه په خپل اختیار تاسو ته نه یم راغلی، بلکې ستاسو ښار ته راوستل شوی یم. ما ته خبر راکړل شو چې تاسې وایئ علي دروغ وایي! الله ﷻ دې تاسې ووژني، پر چا مې دروغ ویلي دي؟ ایا پر الله ﷻ مې دروغ ویلي؟ حال دا چې زه لومړی کس وم چې ایمان مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې راوړ. یا پر رسول الله ﷺ؟ حال دا چې زه لومړی کس وم چې هغه مې تصدیق کړ. نه، په الله ﷻ قسم! هغه څه چې ما وویل حقیقت دی، خو تاسې ترې لرې یاست او د پوهېدو وړتیا یې نه لرئ. ستاسې مینديِ دې پر تاسو ژړا وکړي. ما د علم پیمانه وړیا درکړه که تاسې د منلو وړتیا لرئ، او ژر به د دې خبر پوه شئ.

۷۲ ـ پر رسول الله ﷺ د درود ویلو ښوونه

)خلکو ته یې وښودل چې څنګه پر رسول الله ﷺ درود ووایي(:
ای الله ﷻ! ای د هر پراخوالي خپرونکی! ای د آسمانونو ساتونکی! ای د زړونو پیدا کوونکی د هغوی پر فطرتونو، د نېکمرغو زړونه او د بدمرغو زړونه! خپل تر ټولو غوره درودونه او تر ټولو زیات برکتونه پر محمد ﷺ، خپل بنده او رسول، نازل کړه؛ هغه چې د پخوانیو پېغمبرانو خاتم دی، ترڅې دروازې یې پرانیستې، حق یې په دلیل ښکاره کړ، د باطل لښکرونه یې مات کړل او د ګمراهانو ځواک یې ختم کړ. هغه د رسالت درونده بار پر اوږو واخیست، ستا د امر لپاره پاڅېد، ستا د خوښۍ په لار کې یې بېړه وکړه، هېڅکله شاته نه شو، اراده یې کمزورې نه شوه، د وحی په منلو کې قوي و، ستا د عهد ساتونکی و، ستا د امر په پلي کولو کې یې هڅه وکړه تر دې چې د حق رڼا یې ښکاره کړه او د ناپوهانو لپاره یې لار روښانه کړه، هغه زړونه یې هدایت کړل چې په فتنه او ګناه کې ډوب وو. د حق بیرغونه یې پورته کړل او د نور احکام یې ټینګ کړل. هغه امانتدار رسول، باوري، ستا د پټو علومو خزانه دار، د قیامت شاهد، د حق د بیان لپاره راپاڅول شوی او ستا له لورې خلکو ته لېږل شوی دی.
ای الله تعالی! د خپل لطف تر سیوري لاندې د هغه لپاره پراخ ځای پرانیزه، او د خپل فضل له مخې یې اجر زیات کړه.
ای الله تعالی! د هغه د دین مانۍ له هرې مانۍ لوړه کړه، مقام یې ستا په نزد لوړ کړه، رڼا یې بشپړه کړه، او د رسالت بدله یې د شهادت قبلول، شفاعت منل او د هغه د وینا منل وګرځوه، ځکه هغه د عدل خبرې لرونکی او د حق او باطل بېلوونکی و.
ای الله تعالی! مور له خپل پېغمبر ﷺ سره په تلپاتې نعمتونو، خوشحال ژوند، پوره شویو هیلو، بشپړو شوو غوښتنو، کامل سکون او ډاډ، او د ارزښتناکو ډالیو په منځ کې یو ځای کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷۳ ـ د مروان بن حکم په اړه

)دا وينا په بصره کې د مروان بن حکم په اړه وفرمايل، کله چې د جمل په جګړه کې اسير شو(:
ايا هغه له عثمان تر وژل کېدو وروسته له ما سره بيعت ونه کړ؟ زه د هغه بيعت ته اړتيا نه لرم. د هغه لاس د يهودي د لاس په شان دی، که په لاس بيعت وکړي، په زړه کې به يې مات کړي. خبر اوسئ! هغه به لنډه واکمني ولري، لکه د سپي لنډ وخت چې خپله پوزه په ژبه پاکوي. هغه د ځلورو واکمنانو پلار دی، او اسلامي امت به د هغه او د هغه د زامنو له لاسه وينې ورځې وويني.

۷۴ ـ د امام علي (ع) د فضيلتونو بيان د خپل له خولې

)په ۲۳ هجري کال کې، د عمر له وژل کېدو وروسته، د شورا په ورځ وفرمايل(:
تاسې پوهيږئ چې زه تر نورو د خلافت ډېر وړ يم. په الله ﷻ قسم! زه د هغه څه پر وړاندې غاړه ږدم چې تاسې کړی، تر هغه چې د مسلمانانو چارې سمې وي او ظلم يوازې پر ما وي. د دې صبر او چوپتيا اجر له الله تعالی غواړم، او له هغه زرو او زيورو ځان ساتم چې تاسې يې پسې روان ياست.

۷۵ ـ د تورونو په وړاندې د امام (ع) دفاع

)په ۳۶ هجري کال کې، کله چې واورېدل بنی اميه هغه د عثمان په وينه کې شريک بولي، وفرمايل(:
ايا هغه پېژندنه چې بنی اميه زما له خوی څخه لري، هغوی له عيب لګولو نه نه منع کوي؟ او ايا زما د جهاد سابقه ناپوهان نه چوپ کوي؟ هغه څه چې الله ﷻ هغوی ته نصيحت کړی، له زما د وينا ډېر روښانه دي. زه د دين څخه وتلي خلک په دليل ماتوم، او د پيمان ماتوونکو او شک کوونکو دښمن يم. شبهې بايد د الله ﷻ د کتاب قرآن په رڼا کې وپېژندل شي، او بندګانو ته د هغه څه بدله ورکول کېږي چې په زړونو کې لري.

۷۶ ـ د پرهېزګار بنده صفتونه

الله تعالی دې پر هغه رحم وکړي چې د حکمت خبره واوري او بنه يې زده کړي، چې کله هدايت شي ويې مني، د لارښوونکي لمن ونيسي او نجات وموميِ. د الله تعالی پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې ځان وځاري، له ګناه ووپرېږي، اخلاص ولري، نېک عمل وکړي، د آخرت لپاره توښه برابره کړي او له ګناه ځان وساتي. د دنيا غوښتنې له زړه وباسي او د آخرت درجې تر لاسه کړي. د نفس غوښتنو سره مبارزه وکړي، دروغجنې هيلې پرېږدي، صبر د نجات وسيله وګرځوي او تقوا د مرګ د ورځې توښه کړي. د هدايت په روښانه لار ولاړ شي او له هغې نه واوړي. د دنيا څو ورځې غنيمت وبولي، او د مرګ له راتلو مخکې ځان چمتو کړي، او له نېکو عملونو د آخرت توښه واخلي.

۷۷ ـ خبرداری بنی امیه غاصبانو ته

)په ۳۳ هجري کال کې د عثمان د خلافت پر مهال، سعيد بن عاص د اقتصادي محاصرې لپاره د امام علي (ع) مسلم حق بند کړ، نو امام (ع) وفرمايل(:
بنی امیه ماته د رسول الله ﷺ له میراثه ډېر لږ څه راکوي. په الله ﷻ قسم! که ژوندی پاتې شوم، بنی امیه به له واکمنی داسې لېرې کړم لکه قصاب چې خاورې لګېدلې شکمبه وغورځوي.

۷۸ ـ د امام (ع) دعا

)دا د هغه حضرت له دعاګانو څخه ده(:
ای الله تعالی! هغه څه وبخښه چې ته پرې تر ما ښه پوهيږې، او که زه بيا ورته راوګرځم، ته هم ببښنې ته راوګرځه.
ای الله تعالی! هغه نېک عملونه وبخښه چې نيت مې وکړ خو ترسره مې نه کړل.
ای الله تعالی! هغه څه وبخښه چې په ژبه مې تا ته نږدې کېدل غوښتل، خو زړه مې ورسره نه و.
ای الله تعالی! د سترګو پټې اشارې، بې ګټې خبرې، د زړه بې ځايه غوښتنې، او د ژبې لغزشونه وبخښه.

۷۹ ـ د ستورپوهنې له لارې د دروغجنو وړاندوينو څخه منع

)په صفر مياشت ۳۸ هجري کې، د خوارجو پر ضد د جګړې پر مهال، يو کس د ستورو له حسابه وويل: که په دې ساعت حرکت وکړئ، بريالي به نه شئ. امام (ع) وفرمايل(:
ايا ته ګمان کوې چې هغه ساعت پېژنې چې که څوک حرکت پکې وکړي زيان به ونه وينې؟ او خلک له داسې ساعته وېروې چې که حرکت پکې وکړي زيان به ورسېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک چې ستا خبره ومني، قرآن يې دروغ بللی دی، او د الله ﷻ له مرستې غوښتلو څخه بې نيازه شوی دی، په داسې حال کې چې د خوښو موخو ته رسېدل او له بديو ژغورل يوازې د الله ﷻ په مرسته کېږي.
ګواکې ته غواړې چې د الله ﷻ پر ځای خلک تا وستايي، ځکه ته په خپل ګمان خلکو ته داسې وخت ورښيي چې ګټه به پکې تر لاسه کړي او له زيانه به خوندي شي.
ای خلکو! له ستورپوهنې زده کولو څخه ځان وساتئ، مګر هغه اندازه چې په سمندري او دښتو سفر کې ورته اړتيا وي، ځکه دا علم تاسو غيب ويلو ته بيايي، او غيب ويل جادو ته، او جادوګر د کافر په شان دی، او کافر په اور دوزخ کې دی.
د الله ﷻ په نوم حرکت وکړئ.

۸۰ ـ د ښځو او سړيو توپير

)د جمل له جګړې او د بصرې د فتنې له ارامېدو وروسته، د ۳۶ هجري کال د جمادی الثانی په مياشت کې، د بصرې په جومات کې وفرمايل(:
ای خلکو! بېشکه ښځې د سړيو په پرتله په ايمان، د مال په ګټه اخيستنه او عقل کې توپير لري. د هغوی د ايمان توپير دا دی چې د حيض په ورځو کې له لمانځه او روژې څخه معاف دي. د عقل توپير يې له سړيو سره په دې کې دی چې د دوو ښځو شاهدي د يوه سړي له شاهدۍ سره برابره ده. او د مال په ګټه اخيستنه کې يې توپير دا دی چې د ښځو ميراث د سړيو د ميراث نيمايي دی. نو له بدو ښځو ځان وساتئ او د نېکو ښځو پام کوئ. په ښو غوښتنو کې همېشه د هغوی بشپړ اطاعت مه کوئ، تر څو په بدو کارونو کې طمع و نه کړي.

۸۱ ـ د زهد او پارسايۍ پېژندنه

)ځينو شارحانو ويلي دي چې دا خطبه په کوفه کې وفرمايل شوه(.
ای خلکو! زهد دا دی چې هيلې لنډې شي، د نعمتونو په مقابل کې شکر وشي، او له حرامو څخه ځان وساتل شي. که مو ونه شو کولای چې دا ټول صفتونه پوره راټول کړئ، نو هڅه وکړئ چې حرام پر صبر مو غالب نه شي، او د نعمتونو په وړاندې شکر مو هېر نه شي؛ ځکه الله ﷻ په روښانو او ښکاره دليلونو سره د عذر لارې تړلې دي، او په آسماني کتابونو سره يې پلمې له منځه وړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸۲ ـ د دنیا پېژندنه

)ځینو شارحانو ویلي دي چې دا خطبه په کوفه کې د دنیا د پېژندنې لپاره وفرمایل شوه(.
څنګه د دنیا کور وصف کړم چې پیل یې سختي او زحمت دی، او پای یې نابودي ده؟ په حلاله دنیا کې حساب دی، او په حرامه دنیا کې عذاب دی. څوک چې شتمن شي، غولېږي؛ او څوک چې اړمن وي، غمجن وي. د دنیا غوښتونکی ورته نه رسېږي، او هغه ته چې پرېږدي یې، دنیا ورمخې ته کېږي. څوک چې ورته د بصیرت په سترګه وګوري، دنیا به یې خبر کړي، او څوک چې سترګې پرې خښې کړي، ړوند زړه به یې کړي.

۸۳ ـ خطبه غراء

ستاینه د هغه الله ﷻ لپاره ده چې په لوړ او برتر قدرت سره، او د نعمتونو په ورکړه کې خپلو مخلوقاتو ته نږدې دی. هماغه د ټولو نعمتونو ورکوونکی او د ټولو بلاوو او ستونزو لېرې کوونکی دی. زه یې د هغه د پراخو مهربانیو او عامو نعمتونو په وړاندې ستایم. پر هغه ایمان راوړم، ځکه د هستۍ پیل او د پیدا کولو ښکاره پیل کوونکی دی. له هغه هدایت غواړم، ځکه هغه نږدې لارښود دی. له هغه مرسته غواړم، ځکه ځواکمن او بریالی دی. پر هغه توکل کوم، ځکه یوازینی مرستندوی او بسیا کوونکی دی. او ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی. هغه یې ولېږه تر څو د هغه حکمونه پلي کړي، پر خلکو حجت تمام کړي، او هغوی د ناوړه عملونو له پایلو ووېروي.
زه تاسو د الله ﷻ بندګانو ته د تقوا سپارښتنه کوم؛ هغه الله تعالی چې ستاسو د راویښېدو لپاره یې د عبرت مثالونه راوړل، ستاسو د ژوند موده یې ټاکلې، رنګارنګ جامې یې دراغوستې، پراخ ژوند یې درکړی، او په خپل دقیق حساب سره پر تاسو واکمن دی. د نېکو کارونو په بدل کې اجر درکوي، او په پراخو نعمتونو او بې حسابه ورکړو یې درناوی کړی دی. د پېغمبرانو په لېږلو او روښانو حکمونو یې له خپل نافرمانۍ تاسو وېرولي یاست. ستاسو شمېر هغه ته معلوم دی، او څو ورځې یې د ازموینې او عبرت لپاره درته ټاکلې دي، چې په دې دنیا کې ازمېیل کېږئ او د خپلو کارونو حساب ورکوئ.
د حرامې دنیا اوبه تل خړې او خټې دي. بڼه یې زړه راښکونکې ده، خو پایله یې خطرناکه ده. غولوونکې او ښکلې ده، خو دوام نه لري. داسې رڼا ده چې د لوېدو په حال کې ده، داسې سیوری دی چې له منځه ځي، او داسې ستن ده چې نړېدونکې ده. کله چې له دنیا کرکه کوونکي پرې زړه وتړي او پردي پرې ډاډه شي، دنیا د سرکش آس په شان پښې پورته کوي او سپور پر ځمکه ولي، او په خپلو جالونو کې یې نښلوي، او خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غشي وربانديې ورولي. د مرګ رسۍ د انسان پر غاړه اچوي او د تنګې قبر خونې او د وحشت ځای ته يې وړي، تر څو په خپل قبر کې خپل استوګنځای، جنت يا دوزخ، ووينې او د خپلو عملونو بدله مشاهده کړي. همدارنګه راتلونکي د تللو کسانو په پلونو روان وي. نه مرګ د انسان له تباهۍ لاس اخلي، او نه خلک له ګناه څخه اوړي، تر دې چې د ژوند پای ته رسيږي او قيامت ودرپږي.

په هغه وخت کې به الله تعالى انسانان د قبرونو له چاودونو، د مرغانو له ځالو، د ځناورو له غارونو، او د جګړې له ډګرونو راوباسي، چې په بيړه د الله تعالى د حکم لور ته روان وي، په چوپ ډلو او ارامو قطارونو کې به حاضر شي. د الله ﷻ سترګه به ورته ګوري او د فرښتو غږ به اوري. د اړتيا او عاجزۍ کالي به يې اغوستي وي، د مکر او چل دروازې به تړل شوې وي او هيلې به پرې شوې وي. زړونه به ارام شوي وي، غږونه به ټيټ وي، خوله به د مخونو له څنډو روانه وي، داسې چې د خبرو توان به نه وي. وېره او وحشت به ټول نيولي وي، او تندر غوندې سخت غږ به يې رپولي وي او د عدل محکمې ته به يې د سزا او اجر د اخېستلو لپاره بوځي.

دا هغه بندګان دي چې د الله ﷻ په ځواکمن لاس پيدا شوي، بې له خپلې ارادې روزل شوي، بيا په قبرونو کې پراته شي او تجزيه شي. يوه ورځ به يوازې له قبره راپورته کيږي او د اجر او سزا لپاره به په دقت حساب ورکوي. په دې څو ورځنۍ دنيا کې ورته مهلت ورکړل شو چې سمه لار غوره کړي. د نجات لاره وروښودل شوه چې د الله تعالى رضا وغواړي. د شکونو تياره تري لېرې شوه او ازاد پرېښودل شول چې د نېکيو سيالۍ ته ځانونه چمتو کړي، خپل فکرونه وکاروي او د الهي نور د پېژندنې لپاره په دنيا کې هڅه وکړي.

څومره پر ځای مثالونه او روښانه نصيحتونه دي، که په پاکو زړونو کې ځای ونيسي، په اورېدونکو غږونو کې ننوځي، او له هوښيارو او ټينګو عقلونو سره مخ شي. نو له الله ﷻ څخه د هغه چا په شان ووېرېږئ چې د حق خبره يې واورېده او عاجزي يې وکړه، ګناه يې وکړه او اعتراف يې وکړ، ووېرېد او نېک عملونه يې وکړل، ځان يې وساته او مخکې شو، يقين يې ومونده او نېک شو، نصيحت ورته وشو او په زړه يې واخيست، وويروول شو او نافرماني يې ونه کړه، اخطار ورته وشو او د الله تعالى لور ته راوګرځېد، مثبت ځواب يې ورکړ، ژړا او دعا يې وکړه، ببرته را وګرځېد، توبه يې وکړه، د الهي لارښوونکو پيروي يې وکړه. لاره وروښودل شوه او و يې پېژندله، نو په بيړه د حق پر لور روان شو او له نافرمانيو وتښتېد. د اطاعت ګټه يې زېرمه کړه، باطن يې پاک وساته، آخرت يې آباد کړ، او د سفر د ورځې، د اړتيا د وخت او د مجبورۍ د ځای لپاره يې توښه چمتو کړه، او مخکې له مخکې يې خپل تلپاتې استوګنځای ته ولېږله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای د الله ﷻ بندګانو! د خپل پیدا کېدو له موخې سره د برابرېدو لپاره له الله ﷻ ووېرېږئ، او لکه څنګه چې یې تاسې له نافرمانۍ وېرولي یاست، له هغه مخالفت څخه ډډه وکړئ، تر څو د هغه د وعدو وړ وګرځئ او د قیامت د ورځې له وېرې خوندي شئ.

الله تعالی تاسو ته غوږونه درکړي چې پند واخلئ، سترګې یې درکړي چې تیاره پرې لیرې کړئ، او د بدن هر غړی یې په همغږۍ او مناسبت سره پیدا کړی دی، تر څو د ښکلو بڼو او د عمر له پراوونو سره سم وي. داسې بدنونه یې درکړي چې خپلې ګټې پوره کوي، او زړونه یې درکړي چې وینه د ټول بدن غړو ته رسوي. تاسو د الله ﷻ له سترو نعمتونو برخمن کړي یاست، د هغو نعمتونو شکر وباسئ او له ورکړل شوې روغتیا ګټه واخلئ. ستاسې د ژوند موده یې ټاکلې، له تاسو یې پټه ساتلې، او د پخوانیو له حالاتو یې د عبرت زېرمې درته پرېښې دي. هغوی د دنیا خوندونه څکل او له مرګ مخکې یې آرام ژوند درلود، خو بالاخره مرګ راغی او د هغوی او د هغوی د هیلو تر منځ یې بېلتون واچاوه. هغوی د روغتیا په ورځو کې څه زېرمه نه کړه، او د آرام ژوند له ورځو یې عبرت وا نه خیست. ایا د ځوانۍ خوښۍ پرته له زړېدو بل څه ته رسېږي؟ او ایا روغتیا پرته له ناروغۍ بل څه ته رسېږي؟ او ایا ژوندي خلک له فنا پرته بل څه ته انتظار لري؟ حال دا چې د بېلتون وخت او د زړونو درزا رانږدې ده، د درد سوځښت یې څکلی، د غم جام یې څښلی، او د خپلو اولادونو او خپلوانو نه یې د مرستې چیغې وهلې دي. ایا خپلوان یې مرګ لېرې کولای شي؟ او ایا د هغوی ژړا او فریاد ورته ګټه رسولی شي؟

هغه د مړو په ځمکه کې ږدي او د قبر په تنګۍ کې یوازې پرېږدي. د ځمکې خزندې یې پوستکی خوړلی، او خښتې او خاوره یې بدن زوړ او خرابوي. سخت بادونه یې نښې له منځه وړي، او د شپو او ورځو تېرېدو یې آثار پاک کړي دي. بدنونه له هغې ټولې تازګۍ وروسته تجزیه کېږي، او هډوکي له هغې کلکۍ وروسته خاورې کېږي. ارواح د ګناهونو د بار تر اغېز لاندې وي، او هلته د پټو رازونو یقین پیدا کوي؛ خو نه په نېکو عملونو کې څه زیاتېږي او نه له بدو کارونو توبه منل کېږي. ایا تاسې د همغو خلکو زامن، پلرونه او خپلوان نه یاست چې د هغوی پر پښو روان یاست او د هغوی لاره تعقیبوئ؟ خو افسوس چې زړونه سخت شوي، نصیحت نه مني، له رشد او کمال پاتې دي، او په داسې لاره روان دي چې باید لاړ نه شي. ګواکې دوی د نصیحت او پند هدف نه دي، او نجات او کامیابي د دنیا په لاسته راوړلو کې ګڼي.

پوه شئ چې تاسې باید د صراط له پله واوړئ، داسې پله چې تېرېدل ترې خطرناک دي، پکې ښویېدنې شته، وېروونکې کندې پکې دي، او دوامداره وېره پکې ده. له الله ﷻ څخه د هوښیار انسان په شان ووېرېږئ چې زړه یې په فکر بوخت وي، د الله ﷻ وېره یې بدن نیولی وي، د شپې عبادت یې خوب له سترګو وړی وي، د ثواب په هیله یې د ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرمۍ په تندې تېرې کړې وي، په پارسایۍ یې شهوتونه وژلي وي، او د الله ﷻ نوم یې تل پر ژبه وي. د الله ﷻ وېره یې د قیامت د خوندیتوب لپاره مخکې لېږلې وي، له ټولو لارو پرته د حق له لارې یې سترګې پټې کړې وي، او تر ټولو ښه هغه لاره غوره کوي چې انسان حق ته رسوي. هیڅ شی یې نه غولوي، او ستونزې او شبهې یې نه ړندوي. د جنت زېرى، د تلپاتې کور د نعمتونو او آرام ژوند، او د خوندي ورځو ژوند یې خوشحال کړی دی. له دنیا څخه په غوره تګلاره تېرېږي، د آخرت توښه مخکې لېږي، د قیامت له وېرې نېکو عملونو ته بیړه کوي، د ژوند ورځې د الله تعالی په اطاعت کې په چټکۍ تېروي، د الله تعالی د رضا د حاصلولو لپاره په شوق هڅه کوي، له بدیو تېښتي، نن د سبا لپاره ژوند سنجوي، او خپل راتلونکی له مخکې ویني. نو جنت د نېکانو لپاره مناسبه بدله ده، او دوزخ د بدکارانو لپاره مناسبه سزا ده. الله تعالی د ظالمانو د سزا لپاره بسنه کوي، او قرآن د دلیل او دښمنۍ لپاره کافي دی. زه تاسو ته د الله ﷻ د وېرې سپارښتنه کوم، هماغه الله تعالی چې په پرلهپسې وېرولو سره یې د عذر لاره دربانديۍ بنده کړه، او په ښکاره دلیلونو یې حجت دربانديۍ تمام کړ، او تاسو یې د شیطان له دښمنۍ وېرولي یاست؛ هماغه شیطان چې په سینو کې پټ ننوځي، په غوږونو کې ورو ورو وسوسې کوي، ګمراه او تېټ دی، دروغجنې ژمنې کوي، په هیلو یې خلک بوخت ساتي، د ګناه بدۍ ښکلي ښیي، لوی ګناهونه کوچني ګڼي، او په تدریج سره خپل ملګري غولوي، د نجات لاره پر هغو تېرې چې په دام کې یې لوېدلي وي. د قیامت په ورځ هغه څه چې ښکلي کړي وي انکاروي، او هغه څه چې اسانه کړي وي لوی بولي، او له هغو څه څخه چې خپل پیروان یې خوندي ګڼل، سخته وېره ورکوي.

ایا انسان هماغه نطفه او لږه وینه نه ده چې الله تعالی هغه د رحم په تیارو او پرلهپسې پوښونو کې پیدا کړ؟ تر دې چې جنین شو، بیا شیدې خوږونکی ماشوم شو، او ورو ورو لوی شو تر څو ځوان شو. بیا یې پراخ زړه، ژبه، او لیدونکې سترګې ورکړې تر څو عبرتونه درک کړي او له بدیو ځان وساتي. خو کله چې ځواني کې پخې مرحلې ته ورسېد او پر خپلو پښو ټینګ ودرېد، نو سرکشي یې پیل کړه، له الله تعالی نه مخ واړاوه، په بېلارۍ روان شو، په نفسغوښتنه کې ډوب شو، د دنیا د خوندونو لپاره یې ډېر کوښښ وکړ او د دنیا د مستۍ په نشه کې شو. هېڅکله نه ګمان کوي چې کومه بلا به پرې راشي، او د تقوا له مخې عاجزي نه لري. ناڅاپه مرګ هغه په همدې لنډه ازموینه کې اخلي، په داسې حال کې چې د بدمرغۍ په منځ کې لږ ژوند یې تېر کړی وي، د له لاسه تللي شي بدیل یې نه وي موندلی، او هغه واجبات چې پرېښي یې وو، قضا نه وي کړي. نو د مرګ دردونه پرې راشي، ورځې په حیرت او سرګردانۍ تېروي، او شپې په بېخوبۍ او اندېښنه. هره ورځ سخت دردونه ویني، او هره شپه ناروغي او کړاو وررسېږي، په داسې حال کې چې د یوه مهربان پلار، یو غمجن ورور، او یوه ژړا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکې خواخوږي تر منځ پروت وي. خو هغه د بې‌هوښۍ، سکرات، ډېر غم، د درد نالې، د روح ایستلو درد او سخت انتظار سره لاس او ګرېوان وي. بیا یې په نا امیدۍ کفن کوي، ارام او بې‌حرکته یې پورته کوي، په تابوت یې ږدي، ستړی او کمزورۍ د آخرت پر سفر روانیږي. زامن او ورونه یې پر اوږو وړي، تر هغه ځایه یې رسوي چې د غربت او وحشت کور دی. کله چې وړونکي ببرته ستانه شي او غمجنان لاړ شي، هغه په قبر کې کښېنوي، د سختې پوښتنې او لړزونکي ازموینې لپاره، او هغه به غمجن زمزمه کوي. هلته تر ټولو لویه بلا د دوزخ سوځنده اور دی، د هغه لمبې او غږونه دي؛ نه به یوه شېبه آرام شي چې ساه واخلي، نه به داسې سکون وي چې درد یې کم کړي، نه داسې ځواک شته چې عذاب یې دفع کړي، نه داسې مرګ چې له دې کړاو یې خلاص کړي، او نه داسې خوب چې اندېښنه یې لیرې کړي. د مرګونو په ډولونو او د ډول ډول عذابونو په ساعتونو کې به ګېر وي. مور الله ﷻ ته پناه وړو.

ای د الله ﷻ بندګانو! چېرې دي هغه کسان چې د الله تعالی په نعمتونو کې یې اوږده موده تېره کړه؟ زده کړل شول او پوه شول، مهلت ورکړل شو خو وخت یې ضایع کړ، له آفتونو او بلاوو خوندي شول خو هېر یې کړل، اوږد فرصت ورکړل شو، ډېر نعمتونه ورکړل شول، له سخت عذاب څخه وپرول شول، او د تلپاتې جنت لویې ژمنې ورکړل شوې. ای خلکو! له هغو ګناهونو ځان وساتئ چې تاسو هلاکت ته بیایي، او له هغو عیبونو ځان وساتئ چې د الله ﷻ غضب راولي. ای د لیدونکو سترګو، اوربدونکو غوږونو، روغتیا او د دنیا د پانګې خاوندانو! ایا د جبران لپاره ببرته ستنېدل شته؟ نه، داسې نه ده. نو بیا چېرې ګرځئ؟ کوم لور ته ځئ؟ او په څه شی مغرور یاست؟ د ځمکې ستاسو برخه هومره ده لکه ستاسو د بدن اوږدوالی او پلنوالی، داسې چې په خاورو ککړ به پرې ویده یاست.

ای د الله ﷻ بندګانو! همدا اوس نېک عملونه وکړئ، مخکې له دې چې د مرګ رسۍ مو پر غاړه کلکې شي، او روحونه مو لا د کمالاتو د لاسته راوړلو لپاره ازاد دي، بدنونه مو آرام دي، او لا په داسې حال کې یاست چې د یو بل ستونزې حل کولای شئ. لا مهلت شته، او د پرېکړې، توبې او له ګناه د راګرځېدو ځای شته. عمل وکړئ مخکې له دې چې د وېرې، تنګۍ او تباهۍ سخت حالت درباندې راشي، مخکې له دې چې تمه شوی مرګ راورسیږي، او د خپل ځواکمن الله تعالی زورور لاس مو راونیسي.

۸۴ ـ د عمرو عاص په اړه

)د صفّین له جګړې وروسته، په ۳۸ هجري کال کې، په کوفه ښار کې د عمرو عاص د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېژندنې او د هغه د بېځایه شایعاتو د رد لپاره وفرمایل(:
څومره عجیبه ده د نابغه د زوی، عمرو عاص، خبره! هغه د شام خلکو ته ویلي چې زه د ټوکو او خوشتېرۍ سړی یم او عمر په بېهوده کارونو تېروووم! هغه د باطل خبره وکړه او په شامیانو کې یې ګناه خپره کړه. ای خلکو! خبر اوسئ چې تر ټولو بده خبره دروغ دي. عمرو عاص خبرې کوي، نو دروغ ټړي؛ وعده ورکوي، نو مخالفت ورسره کوي؛ څه غواړي، ټینګار پرې کوي؛ خو که تر څه وغوښتل شي، بخل کوي؛ په عهد کې خیانت کوي، او د خپلوانو اړیکې پرې کوي. د جګړې تر پیل مخکې په شور، امر او نهی کې بې ساری وي، تر هغه چې لاسونه د تورو قبضو ته نه وي رسېدلي. خو کله چې جګړه پیل شي او تورې لوڅې شي، تر ټولو لوی چل یې دا وي چې خپل عورت ښکاره کړي او وتښتي. خبر اوسئ! په الله ﷻ قسم! د مرګ یادونه ما له ټوکو او بېهوده کارونو راګرځوي، خو عمرو عاص د آخرت هېرېدو د حق له ویلو راګرځولی دی. هغه له معاویه سره بیعت ونه کړ مګر په دې شرط چې پاداش به ورکوي، او د خپل دین د پرېښودو په بدل کې به رشوت ورکوي.

۸۵ ـ د پند منل او د جنت وصف

زه ګواهي ورکوم چې له یو الله ﷻ پرته بل معبود نشته؛ پیل هم هغه دی چې تر هغه مخکې څه نشته، او پای هم هغه دی چې بېپایه دی. خیالونه نه شي کولای د هغه لپاره کوم صفت جوړ کړي، او عقلونه د هغه د څرنګوالي له درک څخه عاجز دي. نه د هغه لپاره کومه برخه تصور کېدای شي، نه وېشل منلای شي، او نه سترګې او زړونه هغه په سمه توګه احاطه کولای شي.
ای د الله ﷻ بندګانو! له ګټورو عبرتونو پند واخلئ، او له روښانو نښو عبرت واخلئ. له هغه څه ځان وساتئ چې په ښکاره بیان پرې وېرول شوي یاست، او له یادونو او نصیحتونو ګټه واخلئ؛ داسې لکه د مرګ منګولې چې ستاسې په بدن کې ننوتې وي، د هیلو او تړاوونو رسۍ پرې شوې وي، او د مرګ سختۍ او د قیامت پر لور د تګ پیل پر تاسو راغلی وي. هغه ورځ چې «له هر انسان سره یو چلوونکی او یو شاهد وي»؛ یو چلوونکی به وي چې د قیامت میدان ته یې کشوي، او یو شاهد به وي چې د هغه پر عملونو شاهدي ورکوي.
(د همدې خطبې بله برخه:) په جنت کې درجې سره لوړې او ټیټې دي، او بېلابېل او متفاوت ځایونه شته؛ نعمتونه یې پای نه لري او اوسېدونکي یې هېڅکله نه تړي وځي. د تلپاتې جنت اوسېدونکي به نه زاړه کېږي او نه به ستړي او په کړاوونو اخته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸۶ ـ ارزښتناک نصیحتونه

الله ﷻ پر ټولو پټو رازونو خبر دی، د هر څه له باطنه خبر دی، پر هر څه احاطه لري، پر هر څه غالب او بریالی دی، او پر هر څه قادر دی. څوک چې له تاسو څخه د مهلت په ورځو کې، د مرګ له راتلو مخکې، نېک عمل وکړي، او د فراغت په ورځو کې پاک وي، له دې مخکې چې ونیول شي، او د ازادۍ په ورځو کې نېک وي، له دې مخکې چې مرګ یې ستونی ونیسي؛ نو باید د ځان او هغه ځای لپاره چمتو شي چې ورته ځي، او له دې دنیا چې د کوچ ځای دی، د تلپاتې کور لپاره توښه واخلي.

نو ای خلکو! الله ﷻ، الله ﷻ! د هغه قرآن د حقونو لپاره ووپرېږئ چې له تاسو یې غوښتي، او د هغو امانتونو لپاره چې درسپارلي دي. الله تعالی تاسو ببهوده نه دي پیدا کړي، خپل حال ته یې نه ياست پرې ایښي، او په ګمراهۍ او ړوند توب کې یې نه یاست خوشې کړي. ستاسو عملونه یې روښانه کړي، ستاسو له کارونو خبر دی، ستاسو د ژوند موده یې ټاکلې، او «پر تاسو یې داسې کتاب نازل کړی چې د هر څه بیانوونکی دی».

خپل پېغمبر ﷺ یې تر یوه وخته ستاسو په منځ کې وساته تر څو دین ستاسو او د هغه لپاره بشپړ کړي، او هغه څه عملي کړي چې په قرآن کې د الله ﷻ د رضا سبب دي. د خپل پېغمبر ﷺ په ژبه یې خوښ او ناخوښ، بایدونه او نه‌بایدونه بیان کړل، امرونه او نهي یې دروښودل، د عذر لاره یې دباندې بنده کړه او حجت یې دباندې تمام کړ. تر عذابه مخکې یې تاسو وپرول، او له هغو سختو عذابونو یې وپرول چې درته په مخ کې دي. نو د خپل پاتې عمر ارزښت وپېژنئ، او د سختیو پر وړاندې صبر او زغم غوره کړئ، ځکه پاتې عمر مو د هغو ډېرو ورځو په پرتله ډېر لږ دی چې په غفلت کې مو تېرې کړې او له نصیحته مو مخ اړولی و. ځان ته ډېره ازادي مه ورکوئ، ځکه دا به مو ظلم ته بوځي، او له نفس سره نرمښت او سازش مه کوئ، ځکه ناڅاپه به د ګناه په منځ کې ولوېږئ.

ای د الله ﷻ بندګانو! هغه څوک چې ځان ته ډېر خیرخواه وي، د الله ﷻ پر وړاندې تر ټولو زیات فرمانبردار وي، او هغه څوک چې ځان ډېر غولوي، د الله ﷻ په نزد تر ټولو ګناهکار انسان وي. ربښتینی زیانمن هغه دی چې ځان وغولوي. او هغه د رشک وړ دی چې دین یې سالم وي. نېکمرغه هغه دی چې د نورو له ژونده عبرت واخلي، او بدمرغه هغه دی چې د نفس او خواهشونو په دوکه کې راشي. خبر اوسئ! ریا او ځان‌ښودنه که لږه هم وي شرک دی، او له هواپرستانو سره ناسته ایمان هېر کړي او شیطان حاضر کړي. له درواغو ځان وساتئ، ځکه دروغ له ایمان څخه لرې دي. ربښتینی انسان د نجات او بزرګۍ پر لار دی، او دروغجن د هلاکت او سپکاوي پر غاړه دی. حسد مه کوئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه حسد ایمان داسې له منځه وړي «لکه اور چې لرګي ایره کوي»، او «یو له بل سره دښمني او کینه مه کوئ، ځکه دا هر څه تباه کوي.» پوه شئ چې اوږدې هیلې عقل غافل کوي او د الله ﷻ یاد هېروي. ناروا هیلې دروغ وګڼئ، ځکه هیلې دوکه ورکوونکې دي او خاوند یې غولېدلی وي.

۸۷ ـ د پرهېزګارانو او فاسقانو پېژندنه

)ځینو شارحانو ویلي چې دا خطبه په کوفه کې وفرمایل شوه(.

ای د الله ﷻ بندګانو! د الله ﷻ په نزد تر ټولو غوره او محبوب بنده هغه دی چې الله تعالی یې د خپل نفس پر ضد په جګړه کې مرسته کړې وي. هغه څوک چې د بدن دننني لباس یې غم، او دباندې لباس یې د الله ﷻ وېره وي؛ د هدایت څراغ یې په زړه کې بل شوی وي او د هغې ورځې لپاره چې مخې ته یې ده لازم وسایل یې برابر کړي وي، او لرې او سخت شیان یې ځان ته نږدې او اسانه کړي وي. د دنیا حقیقتونه یې د زړه په سترګو لیدلي وي، تل د الله ﷻ په یاد وي، او نېک عملونه ډېر کوي. د حق له خوږې چینې یې ځان اوبه کړی وي، داسې چینې چې په اسانۍ ورته رسېدلی وي، تږې یې ځښلي وي او مړ شوی وي، او پر هواره او سمه لاره روان شوی وي. د شهوتونو کمیس یې له تنه ایستلی، او له یوه غم پرته یې ځان له ټولو غمونو خلاصولی وي. د ړندو له ډلې او د هواپرستانو له ملګرتیا وتلی وي، د هدایت د دروازو کلۍ شوی وي، او د ګمراهۍ او ذلت د دروازو قفل. د هدایت لاره یې په روشن‌دلي لیدلې وي، او هماغه لاره یې نیولې وي، نښې یې پېژندلې وي، او د سرکښو شهوتونو له څپو تېر شوی وي. تر ټولو ټینګو اسبابو او محکمې رسۍ ته یې لاس ورغځولی وي، او یقین او حقیقت ته داسې رسېدلی وي لکه د لمر رڼا چې پرې لګېدلې وي. د خپل الله ﷻ پر وړاندې داسې تسلیم شوی وي چې هر امر یې منې او هر فرع اصل ته ورګرځوي. د تیارو څراغ، د تیارې رڼا کوونکی، د تړلو دروازو کلۍ، د ستونزو لېرې کوونکی، او د ګمراهانو لارښود وي. خبرې کوي او ښه پوهوي، چوپ شي او په سلامتۍ تېرېږي، خپل عملونه یې خالص د الله ﷻ لپاره کړي وي، داسې چې الله ﷻ یې قبول کړي وي. د الله ﷻ د دین له خزانو او د ځمکې له ستنو څخه وي. ځان یې عدالت ته اړ کړی وي، او د هغه د عدالت پېل دا وي چې د نفس غوښتنه یې له زړه ایستلې وي. حق خلکو ته ورښیي او پرې عمل کوي. هېڅ خیر نشته مګر دا چې ورته ولاړ وي، او هېڅ داسې ځای نه وي چې د خیر ګومان پکې وي مګر هغه لور ته بیړه وکړي. خپله واګه یې قرآن ته سپارلې وي، او قرآن یې مشر او امام ګرځولی وي. هر ځای چې قرآن تم شي، هماغلته تم شي، او هر ځای چې قرآن ځای ونیسي، هماغلته مېشت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بل هغه څوک دی چې عالم بلل کېږي، خو له علمه بېبرخې دی. د ناپوهانو له ډلې یې یو ټول ناپوهي راټوله کړې وي، او د ګمراهانو له خوا یې ګمراه کوونکي مطالب زده کړي وي او سره یې ګډ کړي وي. د غرور له رسې او دروغجنو خبرو نه یې د خلکو پر لاره دامونه غوړولي وي. قرآن پر خپلو هوسونو برابروي، او حق د خپلو غوښتنو له مخې تفسیر کوي. خلک له لویو ګناهونو خوندي ګڼي، او ستر جرمونه واړه ښیي. دعوه کوي چې له شبهاتو ځان ساتي، خو پکې ډوب وي. وایي له بدعتونو لرې یم، خو پکې غرق وي. څېره یې د انسان څېره وي، خو زړه یې د درنده حیوان زړه وي. د هدایت لاره نه پېژني چې ورشي، او د خطا او باطل لاره نه پېژني چې تري ځان وساتي؛ نو هغه د ژوندیو په منځ کې مړی دی.

خلکو! چېرته ځئ؟ ولې له حقه اوړېږئ؟ د حق بیرغونه پورته دي او نبۍ یې ښکاره دي، او د هدایت څراغونه لار روښانوي؛ نو د ګمراهانو په شان چېرته ځئ؟ ولې سرګردانه یاست؟ حال دا چې د خپل پېغمبر ﷺ عترت مو په منځ کې دي. هغوی د حق او یقین زمامداران، د دین مشران، او د ربښتینې وینا ژبې دي. نو هغوی ته د قرآن تر ټولو غوره منزلونه ورکړئ، او لکه تږي اوښان چې اوبو ته بېړه کوي، د هغوی لور ته ورمنډه کړئ.

ای خلکو! دا حقیقت د خاتم الانبیاء ﷺ څخه زده کړئ چې فرمایلي یې دي: «له موږ څخه چې څوک مري، په حقیقت کې نه مري، او زموږ له ډلې هېڅ څه زړېږي نه.» نو هغه څه مه وایئ چې نه پوهېږئ، ځکه ډېر حقیقتونه په هماغه څه کې دي چې تاسې یې په ناپوهۍ انکار کوئ. خلکو! له هغه چا څخه ښښنه وغواړئ چې پرې مو هېڅ دلیل نه لرئ، او هغه زه یم. ایا ما ستاسو په منځ کې پر ثقل اکبر، یعني قرآن، عمل ونه کړ؟ او ثقل اصغر، یعني د پېغمبر ﷺ عترت، مې ستاسو په منځ کې پرې نه ښود؟ ایا ما د ایمان بیرغ ستاسو په منځ کې ټینګ نه کړ؟ او ایا ما د حلال او حرام له پولو نه یاست خبر کړي؟ ایا ما د خپل عدالت په وسیله د عافیت کمیس در وانه غوستاوه؟ او ایا ما په خپلو خبرو او عملونو سره نېکۍ ستاسو په منځ کې نه خپرولې؟ او ایا ما د انساني اخلاقو ښېګڼې درته ونه ښودلې؟ نو خپل وهم او ګمان په هغه ځای کې مه کاروئ چې د زړه سترګې یې ژوروالی نه شي لیدلای، او فکر مو یې د رسېدو توان نه لري.

(د همدې خطبې بله برخه:) تر دې چې له تاسو ځینې ګومان کوي چې دنیا ټوله د بنی امیه په برخه شوې ده، او ټول خیرونه ورته سپارل شوي، او هغوی یې له خپلو چینو خړوب کړي، او د هغوی تازیانه او توره به له دې امته نه لرې کېږي. څوک چې داسې فکر کوي، خطا دی؛ ځکه د بنی امیه برخه یوازې د یوه خوندور ژوند یوه غوړپه ده چې یو مهال یې څښلې، بیا هر څه چې یې څښلي وي ببرته یې وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸۸ ـ د انسانانو د هلاکت لاملونه

)د ځینو شارحانو په وینا، دا خطبه په ۳۶ هجري کال کې، د عثمان له وژل کېدو وروسته، په مدینه کې وفرمایل شوه(.

د الله تعالی له ستاینې وروسته؛ الله ﷻ د دنیا جبران هېڅکله نه دي مات کړي مګر وروسته له دې چې لازم فرصتونه او ډېر نعمتونه يې ورکړي وي، او هېڅکله يې د کوم امت مات هډوکي ببرته نه دي رغولي مګر وروسته له ازموینو او د سختیو له زغملو.

خلکو! په هغو سختیو کې چې ورسره مخ یاست او په هغو ستونزو کې چې تېرې کړې مو دي، ډېر عبرتونه شته. نه هر د زړه خاوند عاقل وي، نه هر غوږ لرونکی اورېدونکی وي، او نه هر سترګې لرونکی بینا وي.

زه حیران یم! ولې به حیران نه شم؟ د هغو بېلابېلو ډلو له خطا څخه چې هره یوه بېلابېل دلیلونه لري او هره یوه پر خپل مذهب ولاړه ده. نه د پېغمبر ﷺ پر پلونو پل ږدي، او نه د هغه د وصي له چلنده پیروي کوي. نه پر غیبو ایمان راوړي، او نه ځان له عیب څخه لرې ساتي. په شبهاتو عمل کوي او د شهوتونو په ډنډ کې ډوب دي. نېکي د هغوی په نظر هغه څه دي چې خپله يې ښه ګڼي، او بدي هغه څه ده چې خپله يې ردوي. د ستونزو په حل کې ځان ته پناه وړي، او په مبهمو چارو کې یوازې پر خپل نظر تکیه کوي؛ ګواکې هر یو يې د خپل ځان امام او لارښود وي، چې پر هغو ټینګو وسیلو او محکم دلایلو لاس اچوي چې خپله پرې باور لري.

۸۹ ـ د بعثت د زمانې وصف او د جاهلیت له دورې عبرت

)دا خطبه، د ځینو شارحانو د نقل له مخې، په کوفه کې وفرمایل شوه(.

الله ﷻ د اسلام پېغمبر ﷺ هغه وخت راولېږه چې د پخوانیو پېغمبرانو له بعثته ډېر وخت تېر شوی و، او امتونه په ژور خوب کې ویده وو. فتنه او فساد نړۍ نیولې وه، بد عملونه رواج شوي وو، د جګړې اور هر لور ته بل و، او دنیا بېنوره او له مکر او فریب ډکه شوې وه. د ژوند د ونې پاڼې ژېړې شوې وې او له مېوې يې خبر نه و. د حیات اوبه وچې شوې وې او د هدایت نښې زړې او ورانې شوې وې. د هلاکت او ګمراهۍ بیرغونه ښکاره وو او دنیا خلکو ته په بدرنګ مخ ګوري، او له اهل دنیا سره په تروه او غمجنه څېره مخامخېده. د دنیا د ونې مېوه د جاهلیت په وخت کې فتنه وه او خوراک يې مردار و. دننه يې وېره او اضطراب و، او په ظاهره د ظلم توري واکمنې وې.

ای د الله ﷻ بندګانو! عبرت واخلئ او د خپلو پلرونو او ورونو د جاهلیت ژوند تل په یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولړئ، چې له دې دنيا تللي دي او د خپلو عملونو په بند کې دي او حساب پرې کېږي. په خپل ځان مې قسم! ستاسو او هغوی تر منځ د ژوند، مرګ او د الله تعالی له سزا څخه د خلاصون کوم ټرون نشته، او له هغې زمانې هم ډېر وخت نه دی تېر شوی چې تاسې د خپلو پلرونو په شاګانو کې وئ. په الله ﷻ قسم! رسول الله ﷺ هغوی ته هېڅ خبره ونه کړه مګر هماغه زه تاسو ته وایم. ستاسو ننني اورېدنه د هغوی له اورېدنې کمه نه ده، او هماغه سترګې او زړونه چې هغوی ته ورکړل شوي وو، تاسو ته هم درکړل شوي دي. په الله ﷻ قسم! تاسو داسې څه نه دي لیدلي چې هغوی نه و لیدلي، او تاسې په داسې څه نه یاست ځانګړي شوي چې هغوی ترې بېبرخې وي. ربنتیا، داسې پېښې درباندې راځي لکه یو سرکښ اوښ چې مهارول یې سخت وي، میانبند یې سست وي، او سپرېدل پرې ستونزمن وي. پام کوئ! هغه څه چې د دنیا خلکو غولولي، تاسو دې هم و نه غولوي؛ ځکه دنیا د داسې سیوري په شان ده چې خپور وي او لنډ وي، او تر یوه روښانه او ټاکلي پای، یعنې مرګ پورې، انسانان نه پرېږدي.

۹۰ ـ د الله ﷻ صفتونه او حکیمانه نصیحتونه

ستاینه د هغه الله ﷻ لپاره ده چې بې له دې چې ولیدل شي، پېژندل شوی دی، او بې له دې چې فکر وکاروي، پیدا کوونکی دی. هغه الله ﷻ چې تل و او تر ابده به وي، هغه مهال چې نه د برجونو لرونکي آسمان خبر و، او نه د ځوړند پردو نښه تر سترګو کېده، نه تیاره شپه وه او نه ارام سمندر، نه غر د پرانیستو لارو سره، نه تاو راتاو دره، نه هواره ځمکه او نه خواره واره مخلوقات موجود وو. الله ﷻ د ټولو پیدا کوونکی او د ټولو وارث دی. هغه د مخلوقاتو الله ﷻ او روزي ورکوونکی دی. لمر او سپوږمۍ د هغه په رضا ګرځي، هر نوی شی زوړوي او هر لرې شی نږدې کوي. الله ﷻ د مخلوقاتو روزي ووېشله، د هغوی عملونه او کړنې یې وشمېرلې، د هغوی ساه ګانې، غلچکې کتنې، او هغه رازونه چې په زړونو کې یې پټ کړي، او د مخلوقاتو ځایونه یې د میندو په رحمونو او د پلرونو په شاګانو کې، د زېږېدو تر ورځې او د ژوند او مرګ تر پای پورې، ټول پېژندلي دي. هماغه الله ﷻ دی چې د خپلې پراخې رحمت سره سره پر دښمنانو سخت عذاب لري، او سره له دې چې سختي لري، رحمت یې پر ټولو دوستانو خپور دی. هر څوک چې ورسره جګړه وکړي، هغه پرې غالبېږي، او هر څوک چې ورسره دښمني وکړي، هلاکوي یې. هر څوک چې ورسره کینه وکړي، بدمرغه کوي یې، او پر خپلو دښمنانو بریالی دی. څوک چې پر هغه توکل وکړي، بسنه ورته کوي، او څوک چې ترې وغواړي، ورکوي یې، او څوک چې د الله ﷻ لپاره ارمنو ته پور ورکړي، الله ﷻ یې پور پرې کوي، او څوک چې شکر وباسي، نښه بدله ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای د الله ﷻ بندګانو! له دې مخکې چې تاسې وازمویل شئ، خپل ځانونه وازمویئ، او مخکې له دې چې حساب درسره وشي، خپل حساب وکړئ، او مخکې له دې چې ستوني تنګ شي، په ارامه ساه واخلئ، او مخکې له دې چې په زور اطاعت ته اړ ایستل شئ، اطاعت کوونکي شئ. پوه شئ چې څوک خپل ځان ته مرسته ونه کړي او خپل ځان ته پند ورکوونکی او خبرداری ورکوونکی نه وي، بل څوک به یې هم پند ورکوونکی او خبرداری ورکوونکی نه شي.

۹۱ ـ د اشباح خطبه؛ د الله ﷻ او د مخلوقاتو د پیدایښت په اړه

)مسعدة بن صدقه له امام صادق (ع) نه روایت کوي چې یوه ورځ په کوفه جومات کې یو کس امام علي (ع) ته وویل: الله ﷻ داسې راته وصف کړه لکه په خپلو سترګو مو چې لیدلی وي، تر څو زموږ مینه او پېژندنه نوره هم زیاته شي. امام علي (ع) غصه شو او په لوړ غږ یې وفرمایل(:

ستاینه د هغه الله ﷻ لپاره ده چې نه ورکول یې شتمني نه زیاتوي، او ورکړه یې فقیر نه کوي؛ ځکه له هغه پرته هر ورکوونکی چې ورکړه وکړي مال یې کمیږي، او له هغه پرته هر څوک چې له ورکړې لاس واخلي، ملامتیږي. هماغه د بېلابېلو نعمتونو، پرلهپسې ګټو، او د مخلوقاتو د روزې وېشونکی دی. ټول مخلوقات د هغه د دسترخوان خوړونکي دي، د ټولو روزي یې تضمین کړې او اندازه کړې ده. خپلو غوښتونکو او د هغه څه لټونکو ته چې د هغه په نزد دي، ښکاره لاره ښودلې ده. د هغه سخاوت په هغه ځای کې چې تري وغواړي، له هغه ځایه زیات نه دی چې تري و نه غوښتل شي.

الله ﷻ لومړی دی چې پیل نه لري، تر څو له هغه مخکې څه وي، او آخر دی چې پای نه لري، تر څو له هغه وروسته څه وي. د سترګو کتل یې له خپل لیدلو راګرځولي دي.

زمان پر هغه نه تېرېږي چې بدلون پرې راشي، او په کوم ځای کې نه دی تر څو د بدلېدو ګومان پرې وشي. که هر څه چې د غرونو له معدنو راوځي، او یا هر څه چې د سمندر د صدف له خندا ډکو شونډو راوځي، له سپینو زرو، خالصو سرو زرو، غږغږیو دُرو او راټولو مرجانو څخه، ټول ورکړي، د هغه په سخاوت کې به هېڅ کموالی رانه ولي، او د نعمتونو پراخي به یې پای ته ونه رسېږي. د هغه په نزد دومره نعمتونه شته چې که ټول انسانان یې وغواړي هم نه ختمېږي، ځکه هغه داسې ورکوونکی دی چې د اړمنو غوښتنې یې د جود چینه نه وچوي، او پرلهپسې ټینګار او غوښتنې یې بخل ته نه بیایي.

ای پوښتنه کوونکیه! ښه وګوره؛ هغه څه چې قرآن د الله ﷻ له صفتونو بیانوي، پرې باور وکړه او د هدایت له رڼا یې ګټه واخله. او هغه څه چې شیطان دې د پوهېدو لپاره هڅوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د الله ﷻ کتاب درباندې واجب کړي نه دي، او نه د پېغمبر ﷺ او نه د هدایت د امامانو (ع) په سنتو کې راغلي، پرېږده او علم يې الله ﷻ ته وسپاره؛ ځکه همدا پر تا د الله تعالی د حق وروستی حد دی. پوه شه چې په ديني علم کې ټينګ کسان هغه دي چې الله ﷻ هغوی له دې نه بې‌نيازه کړي چې په هغو شيانو کې ژور لاړ شي چې پرې پټ دي او تفسير يې نه پوهيږي، او د پټو رازونو په ژورو کې له ننوتلو يې هم بې‌نيازه کړي دي. الله ﷻ همدوی ستايلي دي، ځکه د خپل عجز او ناتوانۍ اعتراف يې کړی دی د هغو پټو شيانو په وړاندې چې تفسير يې نه شي پوهېدای، او دا يې په علم کې ټينګېدل ګڼلي دي. نو په همدې کچه بسنه وکړه، او الله ﷻ د خپل عقل په تله مه سنجه، هسې نه له هلاک شويو شې.

هماغه ځواکمن الله ﷻ دی چې که د انسانانو وهم او خيال وغواړي د هغه د قدرت اندازه درک کړي، او د عالمانو لوړې او له وسوسو لرې مفکورې وغواړي د هغه د ملکوت د غيب ژوروالی ووهي، او د مينه والو ټول زړونه د هغه د صفتونو د څرنګوالي د درک لپاره هڅه وکړي، او عقلونه له ډېرو باريکو او ژورو لارو وغواړي د هغه ذات وپېژني، د قدرت لاس يې د ټولو پر سينه وهي او ببرته يې راګرځوي، په داسې حال کې چې د غيب په تيارو کې د ځان د خلاصون لپاره الله ﷻ ته پناه وړي، او د هغه د ذات له پېژندنې څخه د خپل عجز په اعتراف ستنېږي؛ ځکه د بشر په ناقص فکر او عقل سره هغه نه شي درک کېدای، او د هغه د جلال او عزت اندازه د متفکرانو په زړونو کې نه ځايېږي. هغه الله ﷻ چې مخلوقات يې له هېڅه پيدا کړل، د پيدايښت لپاره يې کومه بېلګه نه لرله چې ترې استفاده وکړي، او نه د کوم مخکښې خالق کومه نقشه وه چې ترې ګټه واخلي. مور ته يې د خپل قدرت د ملکوت ډېرې بېلګې او د خپل رحمت د نښو عجايب وښودل چې ټول په ښکاره ژبه د الله تعالی په شتون شاهدي ورکوي، او بې له اختياره مور د خپل الله تعالی پېژندنې ته رابولي. په هر څه کې چې يې پيدا کړي د صنعت نښې او د حکمت نښاني ښکاري، او هر مخلوق د هغه د وجود يو دليل او برهان دی، که څه هم ځينې مخلوقات په ظاهر چوپ دي، خو د الله تعالی پر تدبير ګويان دي او د هغه د قدرت او حکمت ښکاره نښې دي.

ای الله تعالی! زه شاهدي ورکوم چې څوک تا د مخلوقاتو له بېلابېلو غړو او يو له بل سره د نښتيو بندونو سره تشبيه کوي، چې ستا د حکيمانه امر په وسيله د غوښو په منځ کې پيدا شوي، هېڅکله يې تا په خپل باطن کې نه يې پېژندلی، زړه يې له يقين سره نه دی بلد شوی، او نه پوهيږي چې ستا لپاره هېڅ ساری نشته. ګواکې د ګمراه پيروانو هغه بيزاري يې نه ده اورېدلې چې له خپلو فاسدو مشرانو يې ښکاره کوي او وايي: «په الله ﷻ قسم! مور ښکاره ګمراهۍ کې وو، کله چې مو تاسې د جهانونو له الله ﷻ سره برابر ګڼل.» مشرکانو دروغ ويلي چې تا يې له خپلو بوتانو سره ورته ګڼلی، او په خپل وهم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیال یې ویلي چې ته زمونږ د بوتانو غوندې جسم لرې، او په باطل ګومان سره یې تا ټوټې ټوټې کړی، او د مخلوقاتو له بېلابېلو غږو سره یې تشبیه کړی یې.
ای الله تعالی! زه شاهدي ورکوم چې هغوی چې تا د ستا له کوم مخلوق سره برابر ګڼي، له تا نه اوښتي دي، او څوک چې له تا اوړي، د قرآن د محکم آیتونو او د ستا د روښانو برهانونو پر بنسټ کافر دی. ته هماغه بېپایه الله ﷻ یې چې په فکرونو کې نه ځاییږې تر څو د ذات څرنګوالی دې درک کړي، او نه په وهم او خیال کې راځې تر څو تا محدود او د بېلابېلو حالاتو لرونکی وګڼي.
هغه څه یې چې پیدا کړي، په دقیق اندازه یې ټینګ کړي، او په لطف او مهربانۍ یې منظم کړي او ښه تدبیر یې ورته کړی دی. هر مخلوق یې د هماغه هدف لپاره خوځولی چې ورته پیدا شوی دی؛ نه له خپل حد نه اوړي او نه د خپل کمال په پراوونو کې کمزوری کېږي. او دا حساب شوې خوځښت یې بې له ستونزې برابر کړی، تر څو ټول د هغه د ارادې له مخې ژوند وکړي. نو څنګه ممکنه ده سرغړونه وکړي، په داسې حال کې چې ټول موجودات د الله ﷻ له ارادې سرچینه اخلي؟ هغه د بېلابېلو موجوداتو پیدا کوونکی دی، بې له دې چې کوم فکر ته اړتیا ولري، یا کومه غریزه پټه ولري، یا له پخوانیو پېښو تجربه ولري، او یا کوم شریک یې وي چې په عجیب شیانو د پیدا کولو کې مرسته ورسره وکړي. نو پیدایښت بشپړ شو، او مخلوقاتو یې د هغه عبادت او اطاعت ته غاړه کېښوده، بلنه یې ومنله، او د الهي امر په پلي کولو کې یې نه سستي وکړه او نه ځنډ. بیا یې د هر څه کړوالي سم کړل، د هر یوه پولې یې روښانه کړې، او د خپل قدرت په وسیله یې د متضادو شیانو تر منځ همغږي پیدا کړه، د هغوی د اړیکو وسایل یې برابر کړل، او موجودات یې د حدونو، اندازو، غریزو، بڼو، قالبونو او شکلونو له مخې وویشل او ټینګ کړل، او په خپل حکمت او تدبیر سره یې هر یو په هغه فطرت کې واچاوه چې خپله یې غوښت.
هغه پراخه فضا، ټیټ او لوړ ځایونه او د آسمانونو تر منځ واټنونه یې بې له دې چې پر څه تکیه وکړي، منظم کړل، درزونه یې سره وټرل، او هر یو یې له هغه څه سره ونښلولو چې مناسب او جوړه ورسره وو. او فرښتو ته یې د پورته کېدو او ښکته کېدو ستونزه اسانه کړه، هغو فرښتو ته چې د هغه امرونه مخلوقاتو ته رسوي او یا د بندګانو عملونه پورته وړي. آسمان چې د لوګي او بخار په بڼه و، هغه ته یې امر وکړ، نو اړیکې یې ټینګې کړې، بیا یې له یو بله جلا کړل او ترمنځ یې واټنونه واچول، او د آسمان پر هرې لارې او درز یې د ځلېدونکو شهابو ساتونکي ودرول، او په خپل قدرت یې له ناموزونو خوځښتونو وساتل، او امر یې وکړ چې د هغه پر وړاندې تسلیم وي. لمر یې د ورځې د رڼا نښه وګرځاوه، او سپوږمۍ یې د شپې د تیارو لپاره په کمزورې رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګرځوله. دواړه يې په خپل مدار کې روان کړل، د هغوی حرکت يې دقيق وټاکه تر څو په ټاکلو درجو کې حرکت وکړي، او د شپې او ورځې توپير پيدا شي، او د کلونو شمېر او د وخت اندازه معلومه شي. بيا يې د هر آسمان په فضا کې فلک پيدا کړ او په ځلېدونکو ستورو او روښانو مرغلرو يې ښکلی کړ، او هغه څوک يې چې غوښتل يې د آسمانونو رازونه په پټه واوري، په سوزنده شهابونو وويشتل. ټول ستوري، که ثابت وو او که ګرځېدونکي، که ښکته کېدونکي وو او که پورته کېدونکي، که د وړې لامل وو او که د خوښۍ، ټول يې د خپل امر تابع کړل.

بيا الله ﷻ د آسمانونو د اوسېدنې او د خپل ملکوت د لوړو برخو د آبادولو لپاره عجيبې فرښتې پيدا کړې، او د آسمانونو ټول درزونه او پراخې لارې يې له فرښتو ډکې کړې، او د آسمان د فضا واټن يې په هغوی پراخ کړ. اوس د هغوی د تسبيح غږ د آسمانونو فضا ډکوي، د قدس په دربار کې، د حجابونو تر شا، او د الله تعالی د مجد او عظمت په صحنو کې يې آواز انګازې کوي. د هغوی له ورهاخوا داسې زلزلې دي چې غوږونه کاڼه کوي، او داسې ځلېدونکې رڼا ده چې سترګې له ليدو پاتې کېږي. الله ﷻ فرښتې په بېلابېلو شکلونو او اندازو پيدا کړې، او وزرونه يې ورکړل. هغوی تل د الله تعالی د جلال او عزت په تسبيح بوخت دي، او د مخلوقاتو له عجايبو څخه هېڅ شی ځان ته نه منسوبوي، او په هغه څه کې چې يوازې د الله ﷻ په پيدا کولو پورې اړه لري دعوه نه لري؛ «بلکې درانه بندګان دي، چې په خبرو کې تر هغه مخکې نه کېږي او د هغه په امر عمل کوي».

الله ﷻ فرښتې د خپل وحی امينان وګرځول، او د امر او نهی د رسولو لپاره يې پيغمبرانو ته د هغوی په وسيله پيغامونه واستول. هغوی يې له شک او شبهاتو خوندي وساتل چې هېڅ يو يې د رضا له لارې نه اوړي. د خپلې مرستې برخه يې ورکړه، او زړونه يې يې د تواضع، خشوع او سکون په پرده کې واچول. د آسمانونو دروازې يې ورته پرانيستې تر څو د هغه په لويوالي ستاينه وکړي، او روښانه نښې يې ورته ودرولې تر څو د هغه د توحيد لپاره وزرې وغوړوي. د ګناهونو درانه بارونه يې د دندې په ترسره کولو کې زړه نه سړې کوي، او د شپې او ورځې تېرېدنه يې مرګ ته نه نژدې کوي. د شک او شبهې غشي يې ايمان ته درز نه ورکوي، او شک او ګومان يې يقين ته لار نه مومي. د کينې اور يې په زړونو کې نه بلېږي. حيرت او سرګرداني يې له هغه ايمانه نه جلا کوي چې لرې يې، او نه يې د الهي جلال هغه هيبت چې په زړونو کې يې ځای پر ځای شوی، لرې کوي. وسوسې نه پکې ننوځي تر څو شک وروباندې غالب شي.

ځينې فرښتې د باراني وربښو، د لوړو غرونو او د تيارو په پيدايښت کې ونډه لري، او ځينې نورې داسې دي چې پښې يې د ځمکې ژورو ته تللې دي او لکه سپين بيرغونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فضا زړه څېروي، او تر هغوی لاندې نرمې هواګانې دي چې په ټاکلو پولو کې يې ساتي. عبادت يې له نورو کارونو راګرځولي، او د ايمان حقيقت د حق له معرفت سره اړين تړاو ورکړی. د يقين نعمت يې د حق مينان کړي، تر دې چې له الله ﷻ پرته بل څه نه خوښوي. د الله تعالی د پېژندنې خوږوالی يې څکلی او د هغه د مينې له جامه يې ځانونه ماړه کړي دي. د الهي وېرې اغېز يې د وجود تر ژورو رسېدلی او د ډېر عبادت له امله يې قامتونه کږه شوي دي. ډېره مينه او شوق يې د ژړا او زارۍ مخه نه ده نيولې. د فرښتو لوړ مقام د هغوی خشوع او عاجزي نه ده کمه کړې، او غرور او ځانغوښتنه پرې نه ده راغلې تر څو خپل پخواني ښه عملونه حساب کړي او د لويوالي برخه ځان ته وګڼي. د زماني تېرېدو يې پرلهپسې دندې نه دي ستړې کړي، او د شوق او رغبت کموالی يې نه دی راوستی تر څو له خپل الله تعالی نه ناهيلي شي. له اوږدو مناجاتو نه دي ستړي شوي، او له الله ﷻ پرته نورو کارونو پرې غلبه نه ده کړې، نه يې د استغاثې او ژړا غږونه کم شوي، او په عبادت او دعا کې اوږه په اوږه ولاړ دي. آرامغوښتنې د الهي امرونو په لنډون نه دي اړ کړي، او نه حماقت، غفلت او هېرېدل د هغوی پر عزم او کوښښ لاره موندلې ده، او نه د شهوت فريبونو د هغوی لوړې همتونه ويشتي دي.

فرښتو د عرش د څښتن الله ﷻ ايمان د بېوسۍ د ورځې لپاره ذخيره ګرځولی، او هغه مهال چې خلق نورو ته مخه کوي، هغوی يوازې خپل الله تعالی ته مخه کوي. هېڅکله د الله ﷻ عبادت پای ته نه رسوي، او نه د هغه له امرونو او اطاعت سره مينه کموي. هغه څه چې هغوی د الله ﷻ اطاعت ته شيدا کړي، د مينې هغه تخم دی چې په زړونو کې يې وده کوي، او هېڅکله له وېرې او هيلې نه زړونه نه اړوي. د وېرې لاملونه يې له مسؤليت نه نه راګرځوي، او نه طمعې پر هغوی هجوم راوړي تر څو د دنيا هڅه د آخرت پر کار غوره کړي. خپل تېر عملونه ستر نه ګڼي، او که يې ستر وګڼي نو هيله کوي، او ډېره هيله يې دا نه پرېږدي چې د الله تعالی وېره په زړه کې وساتي. فرښتو د الله تعالی په اړه د شيطاني وسوسو له امله اختلاف نه دی کړی، يو له بل سره بد چلند نه لري او بېلې لارې نه نيسي. کينه او حسد يې زړونو ته نه دي ننوتي، او د شک لاملونه او نفسي خواهشونه يې يو له بله نه دي جلا کړي، او نه بېلابېلو فکرونو تفرقه کړې دي. فرښتې د ايمان بندګان دي، د بندګۍ طوق يې پر غاړه دی او هېڅکله يې د شک، سستي او کمزورۍ له امله نه غورځوي. په ټولو آسمانونو کې د پوستين د ځای په اندازه تش ځای نه پيدا کېږي، مګر دا چې هلته يوه فرښته يا په سجده لوېدلې وي او يا په عبادت او هڅه بوخته وي. د هغوی ډېر اطاعت د الله تعالی په اړه يقين او معرفت زياتوي، او د الله ﷻ عزت او عظمت يې په زړونو کې نور هم زياتېږي.

الله ﷻ ځمکه د خروښندو څپو او موّاجو سمندرونو په وسيله وپوښله، داسې څپې چې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بل لګېدي او په سخت طغیان کې یوه بله شاته ټپل وهله، لکه مست اوښان چې په چیغو او کف لرونکو شونډو هر لور ته روان وي. بیا د اوبو سرکښه برخې د ځمکې د درومد بار له املې ټیټې شوې او د ځمکې له سینې سره په تماس ارامې شوې، ځکه ځمکه پرې غځېدلې وه. د څپو شور او غږ لکه مهار شوي آس په شان آرام او رام شو. وچې یې د څپو په منځ کې وغځولې، او اوبه یې له کبر، سرکښۍ او شور څخه را وګرځولې، حرکت یې کم شو، او له ډېر شور او سرکښۍ وروسته په خپل ځای ودرېدلې.

کله چې د ځمکې شاوخوا د اوبو طغیان ارام شو، او ځمکې سخت او لوړ غرونه پر شا واخیستل، نو الله ﷻ د غرونو له سرونو چینې راوایستلې، او اوبه یې په درو او هوارو ځمکو کې روانې کړې، او د لویو ډبرو او دنګو څوکو په وسیله یې د ځمکې خوځښت منظم کړ. ځمکه د غرونو د جړړو له املې چې په درزونو کې ننوتلې وې او پر صحراوو او دښتو یې ځان اچولی و، له لړزې او اضطرابه ودرېده. د ځمکې او فضا ترمنځ یې واټن واچاوه، او د ځمکې د اوسېدونکو لپاره یې بادونه برابر کړل. د ځمکې د خلکو ټولې اړتیاوې او د ژوند وسایل یې راویستل او تیار یې کړل.

بیا یې د ځمکې داسې لوړ ځای هم پرېنښود چې د چینو او سیندونو اوبه ورته نه رسېدې، مګر دا چې ورېځې یې پیدا کړې تر څو مړه ځمکې پرې ژوندۍ شي او رنګارنګ بوټې پرې راوټوکېږي. د ورېځو لویې او خواره واره ټوټې یې سره یو ځای کړې تر څو په سخت حرکت راغلې، او د ورېځو د ټکر له املې برېښنا وځلېده، او د سپینو او غرونو ته ورته ګڼو ورېځو ځلا یې کمه نه شوه. ورېځې یې پرلهپسې راولېږلې تر څو یې ځمکه راونغښتله، او بادونو د باران شیدې تري ودوې او په زور یې پر ځمکه وري کړې. ورېځې ښکته شوې، پر ځمکه یې سینه ومښله، او هر څه یې چې پر شا بار وو، توی کړل؛ نو په بېحاصله ځمکو کې بېلابېل بوټې راشنه شول، او د غرونو په لمنو کې شنېګانې پیدا شوې. ځمکې د ښکلو باغونو په وسیله خلک خوښۍ او خوشحالۍ ته راوبلل، په نرمو ګلپانو یې ځان سینګار کړ، هر لیدونکی یې حیران کړ، او د بېلابېلو ګلونو له ګلوبندونو او ښکلاوو سره یې هر څوک خوشاله کړل. نباتات یې د انسان لپاره توښه او د حیواناتو لپاره روزي وګرځول. په بېلابېلو برخو کې یې ژوري دري پیدا کړې، او د هغو لپاره یې لارې او نښې وټاکلې چې د پراخو لارو له لارې تګ غواړي.

کله چې الله ﷻ ځمکه د انسان د ژوند لپاره چمتو کړه او خپل امر یې صادر کړ، آدم (ع) یې له خپلو مخلوقاتو غوره کړ او په ځمکه کې یې لومړی او غوره مخلوق وګرځاوه. لومړی یې په جنت کې ځای ورکړ او خوندور خوراکونه یې ورکړل، او له هغه څه نه یې منع کړ چې که وکړي نافرماني به وي او مقام او ارزښت به یې له خطر سره مخ کړي. خو آدم (ع) هغه څه ته لاس واچاوه چې تري منع شوی و، او په دې سره د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعالی پخوانی پوهه په حقه ثابته شوه. بیا یې له توبې وروسته له جنته ځمکې ته راولیږه تر څو له خپل نسل سره ځمکه آباده کړي، او په دې توګه یې پر بندګانو حجت تمام کړ. او د آدم (ع) له وفات وروسته یې ځمکه له حجته خالي نه پرېښوده، او د آدم (ع) د اولادونو او خپل منځ کې یې د پېژندنې اړیکه ټینګه وساتله، او نسل په نسل یې خپل حجتونه او دلیلونه د آسماني پېغمبرانو او د رسالت د حاملانو پر ژبو جاري کړل، تر دې چې د انبیا لړۍ د اسلام د پېغمبر حضرت محمد ﷺ په راتلو بشپړه شوه، او د الهي احکامو بیان، خبرداری او زېرې پای ته ورسېدل.

الله ﷻ د انسانانو روزي اندازه او ټاکلې کړه، کله یې کمه کړه او کله یې زیاته، کله یې تنګه کړه او کله یې پراخه، او دا ټول یې په عدالت سره ووېشل تر څو شتمن او فقیر په صبر او شکر وازمویي. پراخه روزي یې له فقر او تنګسیا سره، او روغتیا یې له دردناکو پېښو سره مل کړه. د خوشحالۍ او سرور وختونه یې له غم او اندېښنې سره نږدې کړل. د هر چا د ژوند موده یې وټاکله، ځینې یې اوږده او ځینې یې لنډه کړه، ځینې یې وړاندې او ځینې یې وروسته کړل، او د مرګ لپاره یې اسباب برابر کړل، تر څو د ژوند رسۍ راټولې کړي او د خپلوانو اړیکې پرې کړي، تر څو خلک وازمویل شي. الله تعالی د خلکو له پټو رازونو، له هغو نجواوو چې په ورو غږ یې وایي، له هغو خیالاتو چې د ګومان له لارې په ذهن کې راګرځي، له هغو پرېکړو چې پر یقین ولاړې وي، له هغو رمز لرونکو کتنو چې د سترګو له کونجو تېرېږي، له هغو څه چې د زړونو په پټو ځایونو کې دي، او له هغو څه چې د غیب تر پردو شاته پټ دي، له هر څه خبر دی.

هغه د غوږونو له هغو پټو اورېدو هم خبر دی، د مېږیانو د اوړي له ځالو، د حشراتو د ژمي له ځالو، د غمجنو ښځو له زړه سوانده ناله، او د پښو له پټو غږونو هم خبر دی. الله ﷻ د میوو له هغه ځایه خبر دی چې د ګل په پوښ کې وده کوي، د ځنګلي حیواناتو له غارونو چې د غرونو او درو په ژورو کې دي، د ونو د پوستکو او ډډونو ترمنځ د مچیو له پټو ځایونو، د پانو له نښلېدونکو برخو، او د پلرونو په شاګانو کې د نطفو له ځایونو خبر دی. هغه د وربڅو له راټولېدو، د باران له څاڅکو، د توپاني بادونو له پورته کولو، د سېلابونو له هوارولو او له منځه وړلو، د شګو ترمنځ د بوټو له ریښو، د غرونو پر لوړو د مرغانو له ځالو، په تورو ځالو کې د مرغانو له نغمو، د صدفونو په زړونو کې له پټو مرغلرو، او د سمندر په څپو کې له روزل شوو شیانو، له هر څه خبر دی. هغه له هر هغه څه نه هم خبر دی چې د شپې تیارو پټ کړي وي او یا د لمر رڼا پرې لګېدلې وي، او هغه څه چې تیارو او رڼاګانو پرلهپسې رانغاړلي وي، د هر ګام له نښې، د هر حرکت له احساس، د هرې وینا له غږ، د هرې شوندې له خوځښته، د هر ژوندي د ځایه، د هر ذرې له وزن، او د هر غمجن له نالې هم خبر دی. د ونو پر څانګو د مېوو له ځایه، پر ځمکه له لوېدلو پانو، د نطفې له ځایه، د وینې له توتې او د غوښې له ټوټې، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسان او نطفې له روزنې، له هر څه خبر دی. او د دې ټولو د علم او ساتنې لپاره هېڅ ستونزه نه لري، او د دې بېلابېلو مخلوقاتو په ساتنه کې نه پرې ستړیا راځي او نه کمزوري. بلکې د الله تعالی علم په ټولو کې نفوذ کړی، ټول یې شمېري، عدالت یې ټول رانغاړي، او سره له دې چې مخلوقات یې په ستاینه کې کموالی کوي، د هغه فضل او کرم لا هم دوام لري.

ای الله تعالی! ته د ښه او بېشمېره ستاینې وړ یې. که څوک تا غواړي، ته تر ټولو غوره مطلوب یې، او که څوک پر تا هیله ټړي، ته تر ټولو غوره هیله یې. ای الله تعالی! پر ما دې د نعمتونو دروازې پرانېستې چې خپله ژبه د بل چا په مدح ونه غږوم، او د دې نعمتونو له امله له تا پرته بل څوک ونه ستایم، او ژبه د هغو په مدح خلاصه نه کړم چې نه هیلې پرې پوره کېږي او نه پرې باور کېږي. ای الله تعالی! هر ستایونکی د خپل ستایل شوي له خوا اجر لري، او ما درته هیله ټرلې چې ما د خپل رحمت د زېرمو او د بخښنې د خزانو لوري ته لارښوونه وکړې. ای الله تعالی! دا ستا هغه بنده دی چې تا یو بولي، او یوازې ته د توحید او یکتایۍ وړ یې، او له تا پرته بل څوک د دې ستاینې وړ نه ګڼي. ای الله تعالی! زه ستا درګاه ته داسې اړتیا لرم چې یوازې ستا فضل یې پوره کولای شي، او یوازې ستا عطا او کرم یې له اړتیا شتمنۍ ته اړولای شي. نو په دې مقام کې مونږ ته خپله رضا راکړه، او زمونږ د اړتیا لاس له بل چا لنډ کړه، ځکه «بېشکه ته پر هر څه قادر یې».

۹۲ ـ د خلافت د نه منلو علت

)د عثمان له وژل کېدو وروسته، کله چې خلک راوټولېدل تر څو له امام علي (ع) سره بیعت وکړي، د ۳۵ هجري کال د ذی الحجې د میاشتې په ۲۵، د جمعې په ورځ، په مدینه کې وفرمایل(:

ما پرېږدئ او بل څوک ولټوئ، ځکه مونږ د داسې پېښو او چارو هرکلي ته روان یو چې رنګارنګ او له فتنو ډکې دي، بېلابېلې څېرې لري، زړونه پرې په بیعت نه ټینګېږي او عقلونه پرې په پیمان نه درېږي. د حقیقت د افق څېره د فساد تورو وریځو پټه کړې ده، او د حق نېغه لار ناڅرګنده پاتې شوې ده. خبر اوسئ! که ستاسو بلنه ومنم، نو له تاسو سره به د هغه څه له مخې چلند وکړم چې زه پرې پوهېږم، او د دې او هغه خبرو او د ملامتوونکو ملامتۍ ته به غوږ وانه چوم. او که ما پرېږدئ، نو زه به ستاسو له ډلې یو تن وم، او کېدای شي د حکومت د مشر په وړاندې تر تاسو ډېر اورېدونکی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرمانبردار واوسم. په داسې حال کې چې زه ستاسو وزیر او مشاور واوسم، تر دې غوره ده چې ستاسو امیر او مشر شم.

۹۳ ـ د امام علي (ع) ځانګړنې او د بني امیه د فتنې بیان

)ځینو مورخانو نقل کړي چې دا وینا د نهروان له جګړې وروسته، په ۳۸ هجري کال کې وفرمایل شوه(.

د الله تعالی له حمد او ستاینې وروسته؛ ای خلکو! زه وم چې د فتنې سترګه مې راوایسته، او له ما پرته بل هیڅا د دې جرأت نه درلود، هغه مهال چې د تورو تیارو څپې راپورته شوې او خپل وروستي سخت حالت ته ورسېدې. له ما وپوښتئ مخکې له دې چې ما له لاسه ورکړئ. په هغه الله ﷻ قسم چې زما ساه یې په لاس کې ده، له دې نه چې د قیامت تر ورځې ستاسو ترمنځ څه پېښېږي، او نه د هغې ډلې په اړه چې سل تنه هدایتوي یا ګمراه کوي، هیڅ شی نه پوښتئ مګر دا چې زه به مو خبر کړم او ځواب به درکړم. زه به د هغه چا په اړه هم خبر درکړم چې خلک ورته رابولي، د هغه په اړه چې مشري یې کوي، د هغه په اړه چې خلک ورپسې روانوي، د هغوی د کوزېدو او بار ایښودلو ځایونه، او دا چې له هغوی څخه څوک وژل کېږي او څوک مري.

هغه ورځ چې ما له لاسه ورکړئ، او اندېښنې او ستونزې پر تاسو راوړېږي، ډېر پوښتونکي به حیران شي او وایي به چې پایله به څه وي؟ او ډېر هغه کسان چې پوښتنه تري کېږي، له ځواب ورکولو به عاجز شي. دا پېښې به هغه وخت ښکاره شي چې جګړه ستاسو په منځ کې اوږده شي، او دنیا به درباندې دومره تنګه شي چې د بلا ورځې به اوږدې درته ښکاري، تر هغې ورځې پورې چې الله ﷻ د پاتې نېکانو لپاره د بریا بیرغ پورته کړي. فتنې چې راځي د حق په شان ښکاري، او چې ښېرته وګرځي حقیقت لکه څنګه چې دی هماغسې څرګندېږي. فتنې چې راځي نه پېژندل کېږي، او چې تېرې شي، پېژندل کېږي. فتنې لکه ګردبادونه راڅرخي، له هره ځایه تېرېږي، په ځینو ښارونو کې فتنه جوړوي او له ځینو نه تېرېږي. خبر اوسئ! زما په نزد تر ټولو وېرونکې فتنه د بني امیه فتنه ده، داسې ړنده او تیاره فتنه چې واک یې هر لور ته رسېدلی او بلا یې نېکان هم نیسي. څوک چې دغه فتنه وپېژني، اندېښنه او سختي به یې ووینې، او څوک چې یې و نه پېژني، پېښه به پرې راشي. په الله ﷻ قسم! بني امیه به له ما وروسته ستاسې لپاره ډېر بد واکمنان وي؛ لکه سرکښ اوښ چې لاس په ځمکه وهي، لغته وهي، په غاښونو چیچي او شیدې نه ورکوي، هغوی به هم له تاسو سره همداسې کوي، او له تاسو به هېڅوک پرېنږدي مګر هغه څوک چې یا ورته ګټور وي او یا زیان نه ورته رسوي. د بني امیه بلا به پر تاسو اوږده شي، دومره چې له هغوی نه مرسته غوښتل به مو د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنده په شان وي چې له خپل بادار نه مرسته غواړي، يا د هغه تابع په شان چې خپل مشر ته تسليم وي. د بني اميه فتنې به په بدرنګه او وېرونکې څېره، او د جاهليت د تيارو په شان تياره بڼه، پر تاسو راکوزې شي. نه به پکې د هدايت رڼا ښکاري او نه به د نجات کوم بيرغ تر سترګو شي. مور د پېغمبر ﷺ اهل بيت له دغو فتنو خوندي يو او خلک ورته نه بولو. بيا به الله ﷻ د بني اميه فتنه له تاسو ښله کړي، لکه پوستکی چې له غوښې جلا کېږي، او دا به د قصاب په لاس وشي. الله ﷻ به د هغو کسانو په لاس بني اميه ذليل او خوار کړي چې په سختۍ به يې لرې کړي، او د بلا، مصيبت او کړاو ترخه جامونه به ور وڅښي، او له توري پرته به بل څه ورنه کړي، او له وېرې پرته به بل لباس ور وانه غوندي.

په هغه وخت کې به قريش خوښ وي چې د دنيا هر څه ورکړي، يوازې د دې لپاره چې يو ځل ما ووينې، که څه هم د اوښ د حلالېدو د وخت په اندازه لږه شېبه وي، تر څو هغه څه په ټينګار ومنم چې نن زه يې يوه برخه هم غواړم او نه يې راکوي.

۹۴ ـ د الله ﷻ، پېغمبرانو او اهل بيتو (ع) وصف او خلکو ته نصيحت

لوی او لوړ دی هغه الله ﷻ چې ژور فکرونه يې د ذات حقيقت نه شي درک کولای، او د هوښيارو ګومانونه ورته نه رسېږي. داسې پيل دی چې پای نه لري تر څو آخر ته ورسېږي، او داسې پای نه لري چې ورځې يې ختمې شي.

الله ﷻ پېغمبران په تر ټولو غوره ځای کې امانت کېښودل، او په تر ټولو غوره ځايونو کې يې ځای پر ځای کړل. هغوی يې د عزتمندو پلرونو له صلبونو څخه د پاکو ميندو رحمونو ته ولېږدول. هر کله چې يو يې وفات شو، بل يې د الله تعالی د دين د پر مخ ببولو لپاره پاڅېد. تر دې چې د نبوت د لېږلو عزت، د الله تعالی له لوري، حضرت محمد ﷺ ته ورسېد. د هغه د وجود اصل يې له تر ټولو غوره کانونو راويست، او د هغه د وجود نيالګی يې په تر ټولو اصيلو او درنو ځايونو کې کېناوه او اوبه يې ورکړې. هغه يې له هماغې ونې پيدا کړ چې نور پېغمبران يې تری پيدا کړي وو. د هغه عترت تر ټولو غوره عترت دی، کورنۍ يې تر ټولو غوره کورنۍ ده، او د وجود ونه يې تر ټولو غوره ونه ده. د الله ﷻ په حرم کې راشنه شوه او د يوې کريمې کورنۍ په غېږ کې لويه شوه. څانګې يې اسمان ته ورسېدې او مېوې يې د هيڅا لاس ته نه رسېدې. نو پېغمبر ﷺ د پرهېزګارانو امام، د هدايت غوښتونکو د بينايۍ وسيله، روښانه څراغ، ځلېدونکی ستوری، او داسې لمبه ده چې ځلېدونکې بربښناوې لري. لاره او طريقه يې معتدله ده، ژوند يې سم او ثابت دی، خبرې يې د حق او باطل ببلوونکې دي، او حکم يې عادلانه دی. الله ﷻ هغه هغه وخت راولېږه چې له پخوانيو پېغمبرانو ډېر وخت تېر شوی و،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک له نېکۍ لېرې شوي وو، او امتونه په ناپوهۍ کې ډوب وو.
الله تعالی دې پر تاسو رحم وکړي، نېک عملونه د روښانو نښو له مخې وکړئ؛ ځکه لاره روښانه ده او تاسو د امن او سلامتیا کور ته رابولي. اوس تاسې په داسې دنیا کې ژوند کوئ چې د الله تعالی رضا تر لاسه کولای شئ، له مهلت او راحت سره. اوس د اعمالو لیک پرانیستی دی، د فرښتو قلمونه روان دي، بدنونه روغ دي او ژبې خبرې کولای شي، توبه قبلېږي او نېک عملونه منل کېږي.

۹۵ ـ د جاهلیت دوره او د بعثت نعمت

الله ﷻ د اسلام پېغمبر ﷺ هغه وخت راولېږه چې خلک حیران او سرګردان وو، په فتنو کې راګېر وو، هوا او هوس پرې غالب و، او تکبر او ځانلویي یې په ډېرو لغزشونو اخته کړي وو. د جاهلیت ناپوهیو یې خوار او ذلیل کړي وو، او د ژوند په چارو کې حیران او سرګردان وو، او د جهل او ناپوهۍ بلا ورسره مل وه. نو پېغمبر ﷺ په نصیحت او خیرخواهۍ کې تر ټولو زیاته هڅه وکړه، هغوی یې سمې لارې ته راوبلل، او خلک یې په حکمت او ښې وعظې سره دعوت کړل.

۹۶ ـ خدا پېژندنه او د پېغمبر ﷺ ځانګړنې

ستاینه د هغه الله ﷻ لپاره ده چې لومړی دی او تر هغه مخکې هېڅ موجود نه و، او وروستی دی او تر هغه وروسته هېڅ موجود نه وي. هغه دومره ښکاره دی چې تر هغه پورته بل څه نشته، او دومره پټ دی چې تر هغه پټ بل څه نه پیدا کېږي.
د پېغمبر ﷺ ځای تر ټولو غوره ځای، د هغه د روزنې کورنۍ تر ټولو شریفه کورنۍ وه. د بزرګوارۍ په معدن او د سلامتۍ په زانګو کې لوی شوی دی. د نېکو کسانو زړونه پرې مېین شوي دي او د سترګو پام ورواوښتی دی. الله ﷻ د هغه په برکت کینې ښخې کړې او د دښمنیو اورونه یې مړه کړل. د هغه په وسیله یې د زړونو ترمنځ الفت او مهرباني پیدا کړه، او نږدې کسان یې سره ببل کړل. خوار او محروم خلک د هغه په برکت عزتمن شول، او مستکبران او زورور خلک ذلیل شول. د هغه خبرې د حقیقتونو رڼا ده، او چوپتیا یې هم خبرې کوونکې ژبه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹۷ ـ د خپلو ملګرو او د رسول الله ﷺ د اصحابو په اړه

)د نهروان له جګړې وروسته، په ۳۸ هجري کال کې، د خپلو لښکرو د ملامتولو لپاره، چې له معاویه سره د وروستۍ جګړې په لور سستي کوله، وفرمایل(:
که الله ﷻ ظالم ته څو ورځې مهلت ورکړي، د هغه له پوښتنې او عذابه نه غافلیږي، او هغه د ظالمانو پر لاره په کمین کې ناست دی، او ستوني یې په لاس کې نیولي، تر دې چې د اوبو له تېرېدو یې هم منع کوي. خبر اوسئ! په هغه الله ﷻ قسم چې زما ساه یې په لاس کې ده، شامیان به پر تاسو بریالي شي، نه د دې لپاره چې هغوی تر تاسو د حق ډېر وړ دي، بلکې ځکه چې هغوی د خپل مشر د باطل په لاره کې په بېړه اطاعت کوي، او تاسې زما د حق په اخیستلو کې سستي کوئ. نور ملتونه سهار کوي په داسې حال کې چې د خپلو واکمنانو له ظلم څخه وېرېږي، خو زه سهار کوم په داسې حال کې چې د خپلو پیروانو له ظلم څخه وېرېږم. تاسو مې د دښمن پر ضد جهاد ته را وبللئ، خو ونه خوځېدئ؛ حق مې ستاسو غوږونو ته ورساوه، خو وانه وریدۀ؛ په پټه او ښکاره مې راوبللئ، خو ځواب مو را نه کړ؛ نصیحت مې درته وکړ، خو و مو نه مانه. ایا حاضر یاست که غایبان؟ او که غلامان یاست د مالکانو په ښه؟ د الله ﷻ حکمونه درباندې لولم، تاسې ترې تښتئ؛ په ښکاره او روښانه نصیحتونو مو پند درکوم، تاسې ترې خپرېږئ؛ د سرکښانو پر ضد مو جګړې ته هڅوم، لا مې خبرې نه وي پای ته رسېدلې چې د سبا د خلکو په شان سره ویشل کېږئ او خپلو ناستو ته ستنېږئ، او د نصیحت په لباس کې یو بل غولوئ تر څو زما د تذکیر اغیز له منځه یوسئ. سهار مو کړوالي سموم، مابنام بېرته هماغه پخواني حال ته راګرځئ؛ لکه هغه کلک کمان چې نه څوک یې سمولای شي او نه پخپله د سمېدو وړ وي.
ای خلکو چې بدنونه مو حاضر دي، خو عقلونه مو پټ دي، فکرونه او نظرونه مو بېلابېل دي، او مشران مو ستاسو له لاسه په ستونزو کې دي! ستاسو مشر د الله ﷻ اطاعت کوي، خو تاسې ورسره مخالفت کوئ، او د شامیانو مشر د الله ﷻ نافرماني کوي، خو هغوی یې اطاعت کوي. په الله ﷻ قسم! خوښ مې دي چې معاویه تاسو له خپلو کسانو سره راسره د درهم او دینار په شان تبادله کړي. ای د کوفې خلکو! زه په تاسو کې په داسې حال اخته شوی یم چې دري شیان لرئ او دوه نه لرئ: داسې کانډه یاست چې اورېدونکي غوږونه لرئ، داسې ګونګیان یاست چې خبرې کوونکي ژبې لرئ، او داسې راندې یاست چې لېدونکي سترګې لرئ. نه د جګړې پر ورځ آزاد خلک یاست، او نه د بلا او سختۍ پر مهال یو رنګ وروڼه یاست. خوار مه شئ ای خلکو! تاسې د هغو اوښانو په شان یاست چې له خپل ساروانه لرې پاتې وي، که له یوې خوا راټول شي، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلې خوا خورېږي. په الله ﷻ قسم! زه وينم چې که جګړه توده شي او اور يې بل شي، نو د ابوطالب زوی به پرېږدئ، او لکه حامله ښځه چې له زېږون وروسته له خپل ماشوم جلا شي، هر يو به مو يوې خوا ته وتښتئ. او زه د هغه نبنو په لټه کې روان يم چې الله تعالی راته رابنودلي، او پر هغې لارې روان يم چې رسول الله ﷺ پرانيستې ده، او زه په روښانه حقه لار قدم په قدم روان يم.

خلکو! د خپل پېغمبر ﷺ اهل بيتو ته وګورئ، له هماغه لورې لاړ شئ چې هغوی ځي، خپل ګامونه د هغوی پر ګامونو کېږدئ. هغوی به مو هېڅکله له هدايته ونه باسي، او نه به مو پستې او هلاکت ته ښېرته را وګرځوي. که هغوی چوپ شول، تاسې هم چوپ شئ، او که هغوی پاڅېدل، تاسې هم پاڅېږئ. تر هغوی مه مخکې کېږئ چې ګمراه به شئ، او تر هغوی شاته مه پاتې کېږئ چې هلاک به شئ. ما د محمد ﷺ اصحاب ليدلي دي، خو له تاسو څخه هېڅوک د هغوی په شان نه وينم. هغوی به سهار کول په داسې حال کې چې وېښتان يې ګډوډ او څېرې يې دوړو نيولې وې. ټوله شپه به يې تر سهاره په سجدو او قيامونو کې تېره کړه، تندي او مخونه به يې د الله ﷻ په دربار کې پر خاورو مښل. د آخرت په ياد به دومره ناارام وو لکه پر اور چې ولاړ وي. پر تندیانو يې د اوږدو سجدو له امله پينې تړلې وې، لکه د وزو پر زنګنو. که د الله ﷻ نوم به واخيستل شو، دومره به يې ژړل چې ګريوانونه به يې لمدېدل، او د تند باد په ورځ د ونو په شان به لړزېدل، د هغه عذاب له وېرې چې تري وېرېدل، يا د هغه اجر لپاره چې ورته هيله من وو.

۹۸ ـ د بني اميه د ظلم او فساد خبر

)د نهروان له جګړې وروسته، په ۳۸ هجري کال کې، د بني اميه او معاويه د جنايتونو د افشا کولو لپاره وفرمايل(:

په الله ﷻ قسم! بني اميه به دومره پر ظلم او واکمنۍ دوام وکړي چې هېڅ حرام به پاتې نه شي مګر دا چې حلال به يې وګڼي، او هېڅ پيمان به پاتې نه شي مګر دا چې مات به يې کړي. هېڅ خيمه او کور به نه وي مګر دا چې د هغوی ظلم به پکې ننوځي، او د هغوی فساد او ستم به خلک له خپلو کورونو وباسي، تر دې چې د هغوی په واکمنۍ کې به دوه ډلې ژاړي: يوه ډله به د خپل دين لپاره ژاړي چې له لاسه به يې ورکړی وي، او بله ډله به د خپلې دنيا لپاره ژاړي چې نه به ورته رسېږي. د يو بل مرسته غوښتل به مو د غلام له خپل بادار څخه د مرستې غوښتلو په شان وي، چې د بادار په حضور کې يې اطاعت کوي، او په غياب کې يې بد وايي. د بني اميه په حکومت کې به هغه څوک چې پر الله ﷻ ډېر اميدوار وي، تر ټولو زيات رنځ او مصيبت ووينې. نو که الله ﷻ عافيت او سلامتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

درکړي، قدرداني يې وکړئ، او که په بلا او کړاو اخته شوئ، صبر وکړئ، ځکه پايله د پرهېزګارانو په ګټه ده.

۹۹ ـ له دنياپالنې څخه ډډه

)زيد بن وهب، چې د امام له اصحابو څخه و، نقل کوي چې دا خطبه د جمعې په ورځ په کوفه کې وفرمايل شوه(:

مورِ د هغه الله ﷻ ستاينه کوو چې نعمتونه يې راکړي، او په خپلو چارو کې ترې مرسته غواړو. له هغه نه په دين کې سلامت غواړو، لکه څنګه چې د بدن روغتيا ترې غواړو.

ای د الله ﷻ بندګانو! زه تاسو ته د هغې دنيا د پرېښودو وصيت کوم چې تاسې به پرېږدي، که څه هم تاسې نه غواړئ ترې جلا شئ. هماغه دنيا چې بدنونه مو زړوي او ختموي، سره له دې چې تاسې غواړئ تل تازه او پاک پاتې شئ. تاسې او دنيا د هغو مسافرو په شان ياست چې لا يې ګام په لار ايښی، خو ګومان کوي پای ته رسېدلي دي، او لا د يوې نښې پر لور روان شوي، خو داسې ګڼي لکه وررسېدلي چې وي، حال دا چې تر وروستي هدف پورې لا ډېر واټنونه پاتې دي. څنګه به موخې ته ورسېږي هغه څوک چې يوه ټاکلې ورځ ورمخې ته لري او له هغې نه نه شي اوښتی؟ مرګ يې په بېړه شړي، او بېلابېل عوامل يې د خپلې خوښې خلاف له دنيا بېلوي. نو د دنيا په عزت او ناز کې پر يو بل مخکې کېږئ مه، او د هغې په زينتونو او نعمتونو مه غولېږئ او مه پرې مغرورېږئ، او د هغې له کړاو او سختۍ مه نالېږئ او مه بېصبري کوئ؛ ځکه د دنيا عزت او وياړ ختمېږي، زينتونه او نعمتونه يې له منځه ځي، او سختۍ او کړاوونه يې پای ته رسېږي، او هر مهلت او وخت پکې ختمېدونکی دی، او هر ژوندی د مرګ پر لور روان دی. ايا د پخوانيو خلکو پاتې نښې تاسو له دنياپالنې نه نه منع کوي؟ او که عقل لرئ، ايا د خپلو پلرونو په ژوند کې درته عبرت نشته؟ ايا نه وينئ چې ستاسو پخواني ببرته نه راګرځي؟ او ستاسو راتلونکي هم نه پاتې کېږي؟ ايا د دنيا خلک نه وينئ چې د شپې او ورځې په تېرېدو سره په بېلابېلو حالاتو کې دي؟ يو مري او پرې ژاړي، بل پاتې وي او هغه ته تسليت وايي، يو ناروغ پر بستره پروت وي او بل يې پوښتنې ته راځي، بل د ساه ورکولو په حال کې وي، او دنيا غوښتونکی لا هم د دنيا په لټه کې وي، حال دا چې مرګ يې راونغاړي، او غافل داسې دی چې مرګ هغه هېڅ نه دی هېر کړی، او راتلونکي هم د تللو کسانو لاره وهي.

خبر اوسئ! مرګ ياد کړئ، هماغه چې خوندونه له منځه وړي، شهوتونه ماتوي، او هيلې پرې کوي، په هغه وخت کې چې د بدو کارونو پربکړه کوئ. او د فرضونو د ادا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو او د الله تعالی د بې‌شمېره نعمتونو او احسانونو د شکر لپاره له الله ﷻ نه مرسته وغواړئ.

۱۰۰ ـ د الله ﷻ او د پېغمبر ﷺ په اړه

)لیکلي یې دي چې دا وینا یې د خلافت د دریمې جمعې په ورځ، په ۳۵ هجري کال کې، وفرمایله(.

ستاینه د هغه الله ﷻ لپاره ده چې ډېر احسان یې پر مخلوقاتو خپور دی او د کرم لاس یې د ورکړې لپاره پرانیستی دی. موږ هغه په خپلو ټولو چارو کې ستایو او د الهي حق د ساتنې لپاره تر ې مرسته غواړو، او ګواهي ورکوو چې له هغه پرته بل معبود نشته. او ګواهي ورکوو چې محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی. هغه یې راولېږه تر څو د هغه امر څرګند کړي او د الله ﷻ نوم پر ژبو جاري کړي. نو هغه خپل رسالت په امانت سره تر سره کړ، او په ربښتینولی او سموالي یې خپله لار ووهله، او زموږ په منځ کې یې د حق بیرغ پرېښود. څوک چې تر هغه مخکې شي، له دینه وځي، او څوک چې تر ې شاته پاتې شي، هلاک شي، او څوک چې ورسره مل وي، نجات مومي.

د دې بیرغ لاربښوونکی به په زغم او سکون خبرې کولې، او ورو او په حساب به پاڅېده، او کله چې به پاڅېده، په پیاوړتیا او چابکۍ به مخکې تللو. نو کله چې تاسې د هغه اطاعت ته داخل شوئ او درناوی مو ورته وکړ، مرګ یې راورسېد او الله ﷻ هغه له تاسو واخیست. بیا به تر هغه وخته ژوند کوئ چې الله ﷻ وغواړي، تر دې چې الله ﷻ به داسې څوک راپاڅوي چې تاسو به سره یو کړي او ستاسو تیتوالی به جبران کړي.

خلکو! په هغه څه زړه مه تړوئ چې لا نه دي راغلي، او له هغه څه چې تېر شوي مه ناهیلي کېږئ؛ ځکه هغه چې شا ګرځولې، که یوه پښه یې وښویېږي او بله یې ټینګه پاتې وي، ښایي دواړه ښېرته پر خپل ځای ټینګې شي.

خبر اوسئ! د آل محمد ﷺ مثال د اسمان د ستورو په شان دی، که یو ستوری پټ شي، بل به راوخېژي. داسې ښکاري چې د پېغمبر ﷺ د کورنۍ په برکت به د الله ﷻ نعمتونه پر تاسو بشپړ شي او تاسې به خپلو هیلو ته ورسېږئ.

۱۰۱ ـ د راتلونکو سختو پېښو په اړه

)دا له هغو خطبو څخه ده چې د راتلونکو سختو پېښو بیان پکې شوی، او په کوفه کې وفرمایل شوه(.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاينه د هغه الله ﷻ لپاره ده چې د هر لومړي نه لومړی او د هر وروستي نه وروستی دی. ځکه چې تر هغه مخکې هېڅ نشته، نو پیل نه لري، او ځکه چې تر هغه وروسته هېڅ نشته، نو پای نه لري. او ګواهي ورکوم چې له هغه پرته بل معبود نشته، او الله ﷻ یو دی؛ داسې شاهدي چې ظاهر او باطن، زړه او ژبه پکې سره یو وي.

ای خلکو! زما دښمني او مخالفت دې تاسې د ګناه تر پولې نه رسوي، او زما نافرماني دې تاسې د نفس غوښتنې ته نه بیایي، او کله چې زما خبره اورئ، یو بل ته د سترګو له کونج نه مه ګورئ. په هغه ذات قسم چې دانه یې وچوله او ژوندي یې پیدا کړل، هغه څه چې زه یې درته وایم د نالوستي پېغمبر ﷺ له خولې دي؛ نه ویونکی دروغ ویلي او نه اورېدونکی ناپوه و. داسې وینم یو سخت ګمراه سړی به راپاڅي، له تاسو به چیغې وهي او یرغل به کوي، او د کوفې شاوخوا به خپل بیرغونه خپاره کړي. کله چې یې خوله خلاصه شي، سرکشي وکړي او پښه یې پر ځمکه ټینګه شي، فتنه به خپل اولاد په غاښونو ونیسي او د جګړې اور به بل شي. ورځې به په تروه څېره رابښکاره شي او شپه او ورځ به له غم او کړاو سره تېرېږي. کله چې یې کرونده پخه شي او مېوه یې اوبه‌داره شي، او لکه مست اوښ وخروښېږي او لکه بربښنا وځلېږي، د فتنې د لښکرو بیرغونه به له هرې خوا پورته شي، او لکه توره شپه او څپانده سمندر به پر خلکو راشي. له دې هم ډېر سخت طوفانونه به کوفه وشکوي، او سخت بادونه به پرې راوالوزي، او ژر به ببلابېلې ډلې پر یو بل یرغل وکړي. هغه چې ولاړ دي، ربړ کېږي، او هغه چې لوېدلي دي، تر پښو لاندې کېږي.

۱۰۲ ـ د قیامت د ورځې وصف او د راتلونکو پېښو خبر

)دا د امام له خبرو څخه دي چې د یوې جلا خطبې په شان دي، او د جمل له جګړې وروسته په ۳۶ هجري کال کې په بصره کې وفرمایل شول(.

قیامت هغه ورځ ده چې الله ﷻ به ټول پخواني او راتلونکي انسانان راټول کړي، تر څو د حساب دقیقه پلټنه وشي او د اعمالو بدله ورکړل شي. ټول به په عاجزۍ ولاړ وي، خولې به یې له سر او مخ او د خولو له غاړو روانې وي، او ځمکه به یې تر پښو لاندې لړزېږي. تر ټولو ښه حال به د هغه وي چې دومره ځای وموميې چې دواړه پښې پرې کېږدي او یا د ارام لپاره یو څه ځای وموميې.

د شپې د تیارو په شان فتنې درته راځي، داسې فتنې چې هېڅ ځواک یې مخې ته نه شي درېدای، او هېڅوک یې بیرغونه نه شي ټیټولای؛ لکه مهار شوی اوښ چې پالان پرې اینښودل شوی وي او ساروان یې کشوي او په بیړه یې روانوي. د فتنې بلونکي هغه خلک دي چې ګوزارونه یې سخت وي او لوټ یې لږ وي. له هغوی سره به داسې خلک جهاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي چې د متکبرانو په نظر خوار وي، پر ځمکه ګمنام وي او په اسمان کې پېژندل شوي وي. په هغه وخت کې به واى پر تا اى بصرې! له داسې لښکره چې د الهي غضب او انتقام نښه به وي، بې له دوړو او بې له شور څخه به دربانديې برید وکړي، او ډېر ژر به ستا اوسېدونکي له سره مرګ او دوړجنې لوړې سره مخ شي.

۱۰۳ ـ له دنيا سره د چلند طريقه

اى خلکو! دنيا ته د هغو زاهدانو په سترګه وګورئ چې ترې شا اړوي. په الله ﷻ قسم! دنيا به ډېر ژر خپل اوسېدونکي يوسي او هغه خلک چې پکې په نعمت کې خوندي ښکاري، په درد به واچوي. هغه څه چې له لاسه ولاړل او شا يې واړوله، بېرته نه راګرځي، او راتلونکى هم دومره روښانه نه دى چې څوک يې په تمه شي. د دنيا خوښي او خوشحالي له غم او اندوه سره ګډه ده، او د انسان ځواک په کمزورى او ستړيا بدليږي. د دنيا ښکلاوې او حيرانوونکي چارې مو مه غولوي، ځکه ډېره لږه موده دوام کوي.
الله تعالى دې پر هغه رحم وکړي چې سم فکر وکړي، پند واخلي، پوه شي او بينا شي. نو ډېر ژر به پوه شئ چې له هغه څه چې په دنيا کې وو، هېڅ نه دي پاتې، او هغه څه چې د آخرت دي، هماغه تلپاتې دي. هر څه چې شمېرل کېږي، پاى ته رسېږي، او هر څه چې يې تمه باسئ، را رسېږي، او راتلونکى ډېر نږدې دى.
(د همدې خطبې يوه بله برخه:) هوښيار هغه دى چې خپل قدر وپېژني، او د انسان د ناپوهۍ لپاره همدا بس ده چې خپل ارزښت ونه پېژني. د الله ﷻ په نزد تر ټولو بد کس هغه دى چې الله ﷻ يې خپل حال ته پرېږدي او له نېغې لارې واوړي او بې لارښود روان وي. که د دنيا محصولاتو ته راوبلل شي، تر وروستي حده هڅه کوي، خو که آخرت او د هغه ښېلابېلو نعمتونو ته راوبلل شي، سستي کوي؛ ګواکې هغه څه چې د دنيا لپاره يې کوي، پرې واجب دي، او هغه څه چې په اړه يې سستي کوي، ترې نه دي غوښتل شوي. اوس داسې زمانه ده چې ترې به يوازې هغه بېنومه مؤمن ژغورل کېږي. که د خلکو په منځ کې وي، نه پېژندل کېږي، او که نه وي، څوک يې پوښتنه نه کوي. هغوى د هدايت څراغونه او د نجات نښې دي؛ نه فتنه جوړونکي دي او نه د فساد خلک، نه د خلکو خبرې او عيبونه نورو ته رسوي. الله ﷻ د رحمت دروازې ورته پرانيستې دي او د خپل عذاب سختي يې ترې پورته کړې ده.
اى خلکو! ډېر ژر به داسې وخت دربانديې راشي چې اسلام به د اوښتي لوښي په شان شي، هر څه چې پکې وي توى به شي. اى خلکو! الله ﷻ به پر تاسو ظلم ونه کړي، او له دې اړخه يې ډاډ درکړى، خو هېڅکله يې دا ډاډ نه دى درکړى چې ازموينه به نه کوئ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه هماغه الله تعالی فرمایلي دي: «د نوح په کیسه کې نښې دي، او موږ خلک ازموی».

۱۰۴-د پیغمبر ﷺ د بعثت لاسته راوړنه

)په ۳۶ هجري کال کې، کله چې امام علي رضي الله عنه بصرې ته روان و، د ربذه په دښته کې یې دا وینا وکړه، په داسې حال کې چې د بیت الله ځینې حاجیان هم د هغه خبرو ته غوږ وو(.

پاک دی الله ﷻ، هماغه رب او پالونکی، چې محمد ﷺ یې په داسې زمانه کې مبعوث کړ چې عربو نه کتاب لولو او نه یې د وحی او نبوت دعوه لرله. د اسلام پیغمبر ﷺ له خپلو یارانو سره د مخالفانو پر ضد مبارزه وکړه، تر څو هغوی د نجات تر منزل پورې ورسوي، او مخکې له دې چې مرګ وروړسي، هغوی یې رستګارۍ ته ورسول. له ستړو خلکو سره یې نرمي وکړه، او مات زړونه یې تر خپل وزر لاندې ونیول، تر څو ټول د حق لارې ته برابر کړي، پرته له هغو چې د ګمراهۍ لار یې ونیوله او په هغوی کې هیڅ خیر نه و.

ټول یې وژغورل او د بریالیتوب په مناسب ځای کې یې ځای پر ځای کړل، تر دې چې د هغوی د ژوند ژرنده وګرځیده او نېزې یې تېزې شوې.
په الله ﷻ قسم! زه د هماغه لښکر په لاره کې روان وم، تر څو باطل مات شو او شا ته لاړ، او ټول د اسلام د مشرتابه تابع شول.

په دې لاره کې نه کمزورۍ شوم، نه ووېرېدم، نه مې خیانت وکړ، او نه سستي راته پیدا شوه.
په الله ﷻ قسم! زه د باطل زړه څیرم، تر څو حق د هغه له منځه راوباسم.

۱۰۵-د پیغمبر ﷺ ځانګړنې، د بني امیه ګوابښ، او د اهل بیتو لور ته د خلکو پام اړول

)لیکل شوي چې امام علي رضي الله عنه دا وینا د ۳۵ هجري کال د ذی الحجه په پای کې، د سیاسي واک له تر لاسه کولو پنځه ورځې وروسته وکړه(.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې چې الله ﷻ محمد ﷺ راپاڅاوه، د شاهد، زېرى ورکوونکي او وېرووونکي په توګه. هغه داسې پېغمبر و چې د کوچنيوالي په عمر کې د مخلوقاتو تر ټولو غوره و، او د زړښت په عمر کې تر ټولو شريف او لوى انسان و. اخلاق يې د ټولو پاکانو نه پاک وو، او د ده د کرم باران تر هر څه ډېر دوامدار و.

اې د امېه زامنو! تاسې د دنيا له خوږو او خوندونو برخمن شوئ، او د هغې له سينې مو شيدې وڅښلې، په داسې حال کې چې مهار يې خوشې و او بند يې ټينګ نه و (د عثمان د خلافت په زمانه کې)، تر دې چې د دنيا حرام د ځينو خلکو په نزد د بېاغزي سدر د مېوې په شان آسان شو، او حلال يې سخت او ناشونى وګرځېد.
په الله قسم! هغه دنيا چې اوس ستاسو په لاس کې ده، د يوې خپرې شوې سيورې په شان ده چې ډېر ژر به پاى ته ورسېږي.

نن ځمکه ستاسو لپاره پراخه ده، او لاسونه مو د هر ډول ناسم کار لپاره خلاص دي، خو د حق د ريښتينو مشرانو لاسونه تړل شوي دي. ستاسو توره پر هغوى برلاسي ده، او د هغوى توره له تاسو اخيستل شوې ده.
خبر اوسئ! هر وينه خپل بدل غواړي، او هر حق غوښتونکى لري. زمونږ د وينو بدل اخيستونکى داسې حاکم دى چې خپله پرېکړه کوي، او هغه الله ﷻ دى چې د چا په نيولو کې کمزورى نه کېږي، او هېڅوک د هغه د عدالت له منګولو نه شي تښتېدلى.

اې د امېه زامنو! په الله قسم، ډېر ژر به دا خلافت او حکومت د نورو په لاس کې ووينئ او په داسې کور کې به وي چې ستاسو دښمنان به پکې وي.
خبر اوسئ! تر ټولو بينا سترګه هغه ده چې د نېکيو تر زړه پورې ننوځي، او تر ټولو اورېدونکى غوږ هغه دى چې ګټور نصيحت پکې ځاى ونيسي.

اې خلکو! د زړونو څراغونه د هغه چا د خبرو په رڼا روښانه کړئ چې خپله عمل کوي، او د خپلو روحونو لوښي د هغو پاکو چينو له اوبو ډک کړئ چې له ککړتياوو پاکې دي.

اې د الله بندګانو! پر خپل ناپوهۍ مه تکيه کوئ، او د نفس غوښتنو ته مه تسليمېږئ، ځکه داسې سړى د کندې پر غاړه ولاړ وي، او د هلاکت او فساد دروند بار پر اوږو وړي، او له يوه ځايه بل ته يې وړي، تر څو نااشنا شيان سره ونښلوي او لرې شيان نږدې ښکاره کړي.
الله، الله! پام کوئ، خپل شکايت هغه چا ته مه وړئ چې د حل توان نه لري، او ستاسو د کار غوټه نه شي خلاصولاى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر امام یوازې دا واجب دي چې الله ﷻ ورته امر کړی وي:
نصیحت کې سستي نه کول،
په خیرخواهۍ کې هڅه کول،
د پیغمبر ﷺ سنت ژوندی ساتل،
د الله حدود پر مجرمانو جاري کول،
او د بیت المال حقونه خلکو ته رسول.

نو د علم په زده کړه کې کوښښ وکړئ مخکې له دې چې ونه یې وچه شي، او مخکې له دې چې په ځان بوخت شئ، د علم له کان څخه (یعني د اهل بیتو څخه) پوهه واخلئ. خلک له حرامو او بدیو منع کړئ، او خپله هم مه کوئ، ځکه تاسو ته امر شوی چې لومړی خپله له حرامو ځان وساتئ، بیا نور منع کړئ.

۱۰۶ ـ د اسلام بشپړ تعریف، د پیغمبر ﷺ لپاره دعا، او د امت د سقوط لاملونه

)دا خطبه په کوفه کې د کوفیانو د ملامتولو او خبرداري لپاره وفرمایل شوه(.

ستاینه د الله ﷻ لپاره ده چې د اسلام لاره یې پرانیسته او د هغه د پاکو اوبو څښل یې ترو ته اسانه کړل. د اسلام ستنې یې د دښمنانو په وړاندې ټینګې کړې او هغه یې د پناه غوښتونکو لپاره خوندي ځای او د ورننوتونکو لپاره د آرام سبب وګرځاوه. اسلام د ویونکو لپاره دلیل، د دفاع کوونکو لپاره حجت، د رڼا غوښتونکو لپاره نور، د عقل خاوندانو لپاره پوهه، د تدبیر لرونکو لپاره درک، د حق لټوونکو لپاره ښکاره نښه، د ارادې لرونکو لپاره بصیرت، د عبرت اخیستونکو لپاره نصیحت، د باور لرونکو لپاره د نجات لاره، د توکل کوونکو لپاره سکون او د استقامت لرونکو لپاره ساتونکی ډال دی.

اسلام تر ټولو روښانه لار ده، لاري یې ځلانده دي، نښې یې په لوړ ځای کې دي، څراغونه یې روښانه دي، میدان یې پاک دی، پای یې څرګند دی، سیالان یې تېز دي، برنامه یې د حق منل دي، لارښوونه یې نېک عمل دی، پای یې مرګ دی، میدان یې دنیا ده، د راټولېدو ځای قیامت دی او انعام یې جنت دی.

تر دې چې الله ﷻ د خپل پیغمبر ﷺ په لاس د هدایت څراغ بل کړ او د ورکو شوو پر لاره یې روښانه نور کېښود.
ای الله! ستا پیغمبر ﷺ امین او د قیامت شاهد دی، یو نعمت دی چې ته راپاڅولی او یو رحمت دی چې په حق دې رالېږلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای الله! له خپل عدل څخه ورته لویه برخه ورکړه، له خپل کرم څخه پرې ډېر ولوروه، د هغه د دین بنسټ لوړ کړه، د هغه مقام نزدې ځان ته لوړ کړه، د قرب وسیله ورته ورکړه او موږ د هغه له ملګرو سره راپاڅوه؛ داسې چې نه تاوانې شو، نه پښېمانه، نه ګمراه شو، نه د نورو ګمراه کوونکي، نه د نفس دوکه وخورو او نه د شیطان وسوسه ومنو.

ای خلکو! د پېغمبر ﷺ د بعثت په برکت او د الله ﷻ په فضل داسې مقام ته رسېدلي یاست چې آن ستاسو کنیزان درناوی کېږي او ګاونډیان مو درسره مینه کوي. داسې کسان درته احترام کوي چې تاسې تر هغوی غوره نه یاست او نه پر هغوی حق لرئ، او داسې خلک درڅخه وېرېږي چې نه ستاسو له حکومته وېرېږي او نه تاسې پرې حکومت لرئ.

له دې ټولو عزت سره سره، اوس وینئ چې د الله عهدونه ماتېږي خو تاسې غصه نه کوئ، حال دا چې که د خپلو پلرونو عهد مات شوی وای نو خپه کېدئ. تاسې هغه خلک وئ چې د الله احکام لومړی تاسو ته راتلل او بیا له تاسو نورو ته رسېدل، خو نن مو خپل مقام ظالمانو ته پرېښود او د خپلو چارو واګې مو پردیو ته وسپارلې او د الله کارونه مو هغو ته ورکړل چې په شبهاتو عمل کوي او په شهوتونو کې ډوب دي (بني امیه).

په الله قسم! که دښمنان مو د اسمان تر ستورو لاندې هم تیت کړي، الله ﷻ به مو بیا هم د ظالمانو د انتقام لپاره سره راټول کړي.

۱۰۷ ـ د صفین په جګړه کې د یارانو د جګړې وصف

)د صفین د جګړې په ځینو ورځو کې، په ۳۷ هجري کال کې، د خپلو سرتېرو د منني او د هغوی د روحیې د پیاوړتیا لپاره وفرمایل(.

ما ولیدل چې تاسې له خپلو لیکو وشړل شوئ او تښتېدئ، داسې نااشنا او صحرایي خلک مو شړل چې ارزښت نه لري، حال دا چې تاسې د عربو له مشرانو او نامتو خلکو څخه یاست، د عزت او لوړ مقام خاوندان یاست او لوړې څوکې لرئ.
خو بالاخره زما د زړه درد ستاسې د مقاومت او زړورو بریدونو په لیدلو سره آرام شو، ځکه ما ولیدل چې تاسې د شام خلک مات کړل، د هغوی لیکې مو ګډې وډې کړې او له خپل لښکرځایه مو وشړل، لکه څنګه چې هغوی تاسې شړلي وئ.
ما ولیدل چې په نیزو مو ووهل، په غشو مو پرې وارونه وکړل، تر دې چې دښمنان

(c) ketabton.com: The Digital Library

وتښتېدل او مړي يې پر يو بل ولوېدل، داسې لکه تږي اوښان چې له اوبو وشړل شي او هر لور ته وتښتي.

۱۰۸ ـ د راتلونکو لويو پېښو خبر

)د امام له ويناوو څخه ده چې په کوفه کې يې وفرمايله او پکې يې د راتلونکو سختو پېښو بيان وکړ(.

ستاينه د هغه الله ﷻ لپاره ده چې د مخلوقاتو په پيدا کولو سره يې ځان انسانانو ته څرګند کړ، او په دليل او برهان يې خپل وجود د هغوی پر زړونو ښکاره کړ. مخلوقات يې بې له فکر او مشورې پيدا کړل، ځکه فکر د هغو لپاره دی چې زړونه لري، او الله ﷻ داسې نه دی؛ د هغه علم د غيب ژورې پردې څيرلې دي او پر پټو فکرونو او نيتونو احاطه لري.

)او د همدې خطبې په بله برخه کې د پېغمبر ﷺ په اړه وفرمايل(:
پېغمبر ﷺ يې د پېغمبرانو له لويې ونې، د هدايت له چينې، له لوړ او بېساري مقام، د بطحاء له خاورې، له روښانه څراغونو او د حکمت له سرچينو څخه غوره کړ.

پېغمبر ﷺ داسې طبيب و چې د ناروغانو د درملنې لپاره ګرځېده.
د هغه مرهمونه تيار وو، او د زخم داغولو وسايل يې تاوده وو.
د ړندو زړونو، کانو غوږونو او ګونګو ژبو د درملنې لپاره چمتو و،
او په خپل درمل پسې يې هغه خلک لټول چې هېر شوي او سرګردان وو.

بنې اميه د حکمت په رڼا خپل زړونه روښانه نه کړل، او د علم له اوره يې ګټه وانخيسته؛ هغوی لکه د صحرا څاروي او لکه کلک کاڼي دي چې هېڅ شی پکې نه ننوځي.

بېشکه د حق رازونه د پوهانو لپاره څرګند دي، او د حق لاره د ګمراهانو لپاره هم روښانه ده، او قيامت به پرده لرې کړي او نښې به د هوښيارانو او د حق غوښتونکو لپاره ښکاره شي.

اې د کوفې خلکو! ولې تاسې داسې وينم لکه بېروحه بدنونه او بېبدنه روحونه؟
ولې تاسې داسې عبادت کوونکي ياست چې صلاحيت نه لرئ،
سوداګر ياست بې ګټې،
ويښان ياست خو ويده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاضر یاست خو غایب،
لیدونکي یاست خو ړانده،
اورېدونکي یاست خو کانه،
او خبرې کوونکي یاست خو ګونګ؟

د ګمراهۍ بیرغ پورته شوی او پلویان یې ډېر شوي دي؛
تاسې په خپل پیمانه سنجوي او ماتوي،
د هغوی بیرغدار (معاویه) له اسلامه وتلی او پر ګمراهۍ ولاړ دی.

هغه ورځ چې پر تاسو واکمن شي، له تاسو به لږ کسان پاتې شي،
لکه د دیګ په تل کې پاتې لږ خواړه،
یا د لوښي په څنډه نښتې دانې.
تاسې به لکه څرمن تاو کړي،
لکه خرمن به مو وکوبي،
او لکه مرغه چې دانې جلا کوي، مؤمنان به له تاسو بېل کړي.

له دې ټولو خطرونو سره، دا ګمراهۍ مو تر کومه وړي؟
تر کله به په تیارو کې سرګردان یاست؟
تر څو به دروغ مو غولوي؟
دښمن له کومه ننوت او تاسې یې تر دې حاله ورسول؟

خبر اوسئ! هر وخت حساب لري، او هر پټ کار بېرته راڅرګندېږي.
ای خلکو! د خپل عالم خبرې واورئ، زړونه مو ورته حاضر کړئ او د هغه په چیغو ویښ شئ.
د خلکو مشر باید رښتیا ووایي، خلک سره یو کړي او د حق منلو ته یې تیار کړي.

ستاسې امام حق داسې درته روښانه کړ لکه نرۍ دانې چې ماتې شي،
او حق یې له باطله داسې راویست لکه د وني شیره چې له تنه راوځي.

کله چې امویان پر تاسو واکمن شي،
باطل به ټینګ شي،
جهل به سپور شي،
طاغوت به لوی شي،
د حق بلونکي به لږ شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمانه به لکه درنده حمله وکړي،
او باطل به له اوږدې چوپتيا وروسته چيغه ووهي.

خلک به د الله د احکامو په ماتولو کې سره يو شي،
له دين څخه به په جلا کېدو کې متحد شي،
په دروغو کې به دوستان وي او په رښتيا کې به دښمنان.

کله چې دا وخت راشي:
زوی به له پلار سره دښمني وکړي،
باران به د يخوالي پر ځای سوز ولري،
بد خلک به ډېر شي،
نېکان به کم شي،
خلک به لکه لېوان وي،
پاچاهان به لکه درندې،
غريبان به د هغوی ښکار وي،
مستمندان به لکه مړه وي.

رښتيا به ورک شي او دروغ به ډېر شي.
په ژبه به دوستي کوي خو په زړه کې به دښمني وي.
په ګناه به ويارې او له پاکۍ به تعجب کوي.
او اسلام به لکه اوښتې جامې اغوندي.

۱۰۹ ـ د الله د قدرت بيان، د مرګ او قيامت وصف (خطبه الزهراء)

ټول شيان د الله ﷻ په وړاندې عاجز دي او ټول د هغه په مرسته ولاړ دي. الله ﷻ د هر محتاج بسيا کوونکی، د هر خوار عزت ورکوونکی، د هر کمزوري ځواک، او د هر مصيبت ځپلي پناه ده. څوک چې خبرې کوي هغه يې اوري، او څوک چې چوپ وي د زړه راز يې ورته معلوم دی. د ژوندیو روزي پر هغه ده او هر مړ شوی د هغه لوري ته ستنېږي. ای الله! سترګو تا نه دي ليدلی چې خبر درکړي، ځکه ته د ټولو موجوداتو له توصيف نه مخکې وې. مخلوقات دې د يوازيتوب د وېرې لپاره نه دي پيدا کړي، او نه دې د ګټې لپاره پيدا کړي. هېڅوک ستا له قدرته نه شي تښتېدای، او څوک چې ته ونيسې ستا له واکه نه وځي. د ګناهکارانو ګناه ستا له عظمت نه څه نه کموي، او د اطاعت کوونکو اطاعت ستا په قدرت کې زياتوالی نه راولي. څوک چې ستا له قضا غوسه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا حکم نه شي بدلولای، او څوک چې ستا له امره مخ واړوي له تا بې‌نیازه کېدای نه شي. هر پټ شی درته ښکاره دی او هر راز درته معلوم دی. ته همېشه پاتې کېدونکی یې او ته د هر څه پای یې، چې هېڅوک ترې نه شي تښتېدای. د ټولو وعده ځای ستا حضور دی او له تا پرته له تا نه د خلاصون لار نشته. د هر ژوندي مهار ستا په لاس کې دی او د هر مخلوق بېرته تګ تا ته دی. پاک یې ای الله! ستا قدر او عظمت څومره لوړ دی، او څومره لوی دی هغه څه چې ستا له مخلوقاتو وینو، او هر لوی ستا د قدرت په وړاندې کوچنی دی، او هغه څه چې ستا له ملکوت څخه وینو ډېر عظیم دي، او هغه څه چې له موږ پټ دي تر دې هم ډېر دي، او په دې نړۍ کې ستا نعمتونه څومره پراخ دي، او د دنیا ډېر نعمتونه د آخرت د نعمتونو په وړاندې ډېر کوچني دي.

ستا د فرښتو پیدایښت ډېر عجیب دی، ځینې دې په اسمانونو کې ځای پر ځای کړي او له ځمکې دې پورته کړي دي. هغوی تر ټولو زیات تا پېژني، تر ټولو زیات درڅخه وېرېږي او تر ټولو زیات درته نږدې دي. هغوی نه د پلرونو په شا کې وو، نه د میندو په رحم کې لوی شوي، نه له ټیټې اوبو پیدا شوي، او نه د ژوند ستونزو خپاره کړي دي. له دې لوړ مقام سره سره چې ته ورکړی، او له دې ارزښت سره سره چې ستا په نزد لري، بیا هم ډېر اطاعت کوي او هېڅ غفلت نه کوي. که هغه څه چې ترې پټ دي پوه شي، خپل ټول عملونه به لږ وګڼي او ځانونه به ملامت کړي، او پوه به شي چې تا یې لکه څنګه چې ښایي عبادت نه دی کړی.

ای الله! ستا ستاینه سمه ده، ته پیدا کوونکی او معبود یې، بندګان دې په حقه وازمایل، د آخرت کور دې پیدا کړ، د نعمتونو دسترخوان دې وغوړاوه، په هغه کې دې ډول ډول ځښاک، خواړه، ملګري، مانۍ، روان سیندونه، میوې او کښتونه برابر کړل. بیا دې پېغمبر ﷺ راولېږه تر څو خلک دې کور او نعمتونو ته راوبلي، خو خلکو نه بلونکی ومنلو او نه هغه څه ته میلان وښود چې ته ورته بلل. هغوی مردار ته مخه کړه او په خوړلو یې رسوا شول او په مینه یې سره یو شول. څوک چې ناروا شی ته مینه پیدا کړي ړوندېږي، زړه یې ناروغېږي، په ناروغو سترګو وینې او په ناروغو غوږونو اوري. د نفس غوښتنې د عقل پرده څیروي او د دنیا مینه زړه مړ کوي، نو هغه د دنیا بنده شي او د هغه چا بنده شي چې دنیا لري. دنیا چې هر لور ته واوړي هغه هم ورپسې ځي، نصیحت ورته کېږي خو نه وېرېږي، او د نصیحت کوونکي خبره نه اوري، حال دا چې د دنیا د نیول شوو خلکو حالت وینې چې د مرګ په منګولو کې دي. وینې چې هغه بلا پرې راغله چې تمه یې نه لرله، او هغه دنیا ترې ببله شوه چې تلپاتې یې ګڼله، او هغه څه ته رسېږي چې وعده ورکړل شوې وه. د ساه ورکولو سختي او د دنیا د پرېښودو حسرت پرې راشي، بدن یې کمزوری شي، رنګ یې بدل شي، مرګ ورو ورو غړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیسي، ژبه یې بنده شي، د کورنۍ تر منځ پروت وي، وینې، اوري او فکر کوي چې عمر یې په څه تېر کړ. هغه مالونه یادوي چې راټول کړي یې وو، له حلال او حرام او شک سره، اوس ګناه یې پر ده ده او ګټه یې وارثانو ته پاتې ده، راحت د بل لپاره او عذاب د ده لپاره. له پښیمانۍ لاسونه چیچي. مرګ پر ټول بدن غلبه کوي، غوږونه کار پرېږدي، سترګې هم بندې شي، روح ووځي او لکه مړی د کورنۍ تر منځ پاتې شي، تري وپرېږي او لرې کېږي، نه د ژړا کوونکي مرسته کوي او نه د غږ کوونکي ځواب ورکوي. بیا یې قبر ته وړي او عمل ته یې سپاري او له سترګو پټ شي.

تر هغه چې د دنیا پاڼه وټرل شي او د الله امر راشي، اسمانونه به وخوځېږي، ځمکه به ولړزېږي، غرونه به ټوټې شي، مړي به راژوندي شي، خلک به راټول شي، بیا به جلا شي، تر څو د پټو کارونو پوښتنه وشي. خلک به دوه ډلې شي: یوې ته نعمت او بلې ته عذاب. فرمانبرداران به په جنت کې وي، داسې ځای کې چې نه ویره وي نه ناروغي نه کوچ. ګناهکاران به په بد ځای کې وي، په زنجیرونو ټرلي، د اور کالي به پرې وي، داسې عذاب کې چې نه پای لري.

پېغمبر ﷺ دنیا کوچنۍ بلله، هغې ته یې شا کړه، زینت یې نه غوښت، د الله احکام یې ورسول، امت ته یې نصیحت وکړ، جنت ته یې بلنه ورکړه او له دوزخه یې وېرول. مور د رسالت له وني یو، د علم کانونه او د حکمت چینې یو، زمور دوستان د رحمت په تمه دي او زمور دښمنان د عذاب په تمه.

۱۱۰ ـ د عقیدې بنسټونه او د قرآن ارزښت

)دا خطبه د سید رضی نه مخکې د علماوو ترمنځ د «دیباج» په نوم مشهوره وه(.
بېشکه تر ټولو غوره شی چې انسان پرې الله ﷻ ته نږدې کېدای شي ایمان په الله ﷻ، ایمان په پېغمبر ﷺ او د الله په لار کې جهاد دی، ځکه جهاد د اسلام لوړه څوکه ده، او د الله یووالی د انسان د فطرت غوښتنه ده. د لمونځ قائمول د اسلام دین دی، زکات ورکول الهي فرض دی، د رمضان روژه د عذاب پر وړاندې ډال دی، او حج او عمره فقر له منځه وړي او ګناهونه پاکوي. د خپلوانو سره اړیکه ساتل مال زیاتوي او عمر اوږدوي، پټه صدقه ګناهونه ختموي، ښکاره صدقه ناڅاپي او بد مرګونه لرې کوي، او نېکي انسان له ذلت او خواري ساتي.
د الله یاد کوئ، ځکه تر ټولو غوره ذکر دی، او هغه څه وغواړئ چې پرهېزګارانو ته وعده شوي، ځکه د الله وعده تر ټولو ریښتیني ده. د خپل پېغمبر ﷺ لاره تعقیب کړئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه تر ټولو غوره د هدایت لاره ده، او خپل عمل د پیغمبر ﷺ له طریقې سره برابر کړئ، ځکه هماغه تر ټولو سمه طریقه ده. قرآن زده کړئ، ځکه تر ټولو غوره وینا ده، او ښه یې درک کړئ، ځکه د زړونو پسرلی دی. له رڼا یې شفا وغواړئ، ځکه د ناروغو سینو درملنه ده، او قرآن ښه تلاوت کړئ، ځکه تر ټولو ګټور بیان دی. هغه عالم چې په خپل علم عمل ونه کړي، د داسې ناپوه په شان دی چې له ناروغۍ نه روغ نه شي، بلکې پرې حجت لا قوي شي، حسرت او غم یې زیات شي، او د الله په وړاندې د ملامتۍ ډبر وړ وګرځي.

۱۱۱ ـ د دنیا بدوالی

د الله ﷻ له ستاینې وروسته: زه تاسو له حرامې دنیا وېروم، ځکه چې خوند یې خوږ ښکاري او د انسان په سترګو کې شنه او رنګینه ده، په شهوتونو او خواهشونو پټه ده، له لنډمهالو نعمتونو سره مینه کوي، په لږ مال ځان ښکلی ښیي، د هیلو په جامه کې راښکاره کېږي او د غرور په زینت ځان سینګاروي. خو خوشحالي یې دوام نه لري او هېڅوک د هغې له غم څخه خوندي نه دی. حرامه دنیا ډېر فریب ورکوونکې او ډېر تاوانې ده، بدلېدونکې او ناپایدار ده، فنا کېدونکې او مرګ راوستونکې ده. کله چې د هیلو خاوندان ورته ورسېږي، په وه شي چې دا یوازې سراب دی، لکه الله ﷻ چې فرمایلي: د دنیا ژوند د هغه اوبو په شان دی چې له اسمانه راکوزېږي، نبات پرې شین شي، بیا وچ شي او باد یې والوځوي. هېڅوک د دنیا خوشحالي ونه لیدله مګر وروسته یې ژړا او آه ولیدل. لا د راحت خوند نه وي رسېدلی چې ستونزې پرې راشي. د راحت شبنم پرې نه وي وربېدلی چې د بلا سیلاب هر څه له بېخه وباسي. که سهار مرسته وکړي، مابنام ځان نااشنا کړي. که له یوې خوا خوږه وي له بلې خوا ترخه ده. څوک چې ډېر نعمت واخلي، ستونزې ورپسې راځي. څوک چې شپه په امن کې تېره کړي، سهار د وېرې وزرونه وربانديې راښکته شي. دنیا فریب ده او هر څه چې پکې دي فاني دي. په دې کې خیر نشته مګر تقوا. څوک چې بس اندازه واخلي آرام وي، او څوک چې زیات غواړي د خپل هلاکت وسیله برابروي. ډېر کسان چې پرې باور یې وکړ، ناڅاپه یې د مصیبت ترخه وخوړله. ډېر لوی خلک یې خوار کړل او ډېر متکبران یې ذلیل کړل. د دنیا واک نه پاتې کېږي، ژوند یې تریخ دی، خوږ یې ترخېږي، خواږه یې زهر دي، وسایل یې زاړه دي، ژوندی یې د مرګ په لور روان دی او روغ یې ناروغ کېږي. واک یې له منځه ځي او عزتمندان یې ماتېږي. آیا تاسو د پخوانیو خلکو پر ځای نه یاست؟ هغوی اوږد عمر، ډېر ځواک او لوی لښکر درلود، خو دنیا یې غوره کړه او بیا یې توښې ولاړل. دنیا ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغوی لپاره قرباني نه کړه، بلکې ستونزو ټوټه ټوټه کړل. تاسو ولیدل چې دنیا هغه څوک ونه پېژانده چې ورته ټیټ شو او تلپاتې یې ګڼله، تر هغه چې تري ولاړ. آیا دنیا هغوی ته پرته له لوړې توبنه ورکړه؟ پرته له سختۍ یې ځای ورکړ؟ ایا پای یې پرته له پښیمانۍ و؟ نو ولې داسې دنیا ته باور کوئ؟ پوه شئ چې پرېږدئ به یې. عبرت واخلئ له هغو چې ویل یې: څوک له مور قوي دی؟ بیا قبرونو ته ولاړل، بې له نومه، بې له عزته. له خاورې سره یو شول، نه د چا غږ اوري، نه د چا مرسته کوي، نه باران خوشحالوي او نه وچکالي خفه کوي. یو ځای دي خو یوازې دي، نږدې دي خو سره نه ګوري، کینې نه لري او حسد نه لري، نه تري ویره شته او نه تري مرسته. تنګه ځمکه یې د پراخې دنیا پر ځای وټاکله، تیاره یې د رڼا پر ځای ومنله، لکه څنګه چې لوڅ راغلي وو همداسې ولاړل او د خپلو عملونو سره تلپاتې کور ته روان شول، لکه الله ﷻ چې فرمایلي: لکه څنګه مو پیل کړی بیا یې راګرځوو.

۱۱۲ ـ د مرګ فرښته او د روح اخیستلو حالت

کله چې د مرګ فرښته کور ته ننوځي، آیا ته یې راتګ وینې؟ کله چې د چا روح اخلي، آیا ته یې وینې؟ ماشوم څنګه د مور په رحم کې مړ کوي؟ آیا د مور له کوم غړي ورننوځي؟ که روح د الله په اجازه ورننوځي؟ که د ماشوم سره په رحم کې وي؟ هغه څوک چې خپل مخلوق نه شي بیانولای، څنګه به خپل رب بیان کړي؟

۱۱۳ ـ له دنیاپرستۍ څخه منع

زه تاسو له دنیاپرستۍ وېروم، ځکه دا د تګ ځای دی نه د پاتې کېدو. دنیا ځان په غرور ښایسته کوي او په زینت خلک غولوي. دا کور د الله په نزد بې ارزښته دی، ځکه حلال او حرام، ښه او بد، ژوند او مرګ، خوږ او ترخې پکې ګډ دي. الله دا د خپلو دوستانو لپاره نه ده غوره کړې او له دښمنانو یې هم نه ده منع کړې. خیر یې لږ، شر یې حاضر، جمع شوی یې تیت، ملک یې لوټ شوی او ابادي یې ورانېدونکې ده. څه ارزښت لري داسې کور چې بنسټ یې نړېږي او عمر یې د سفر په شان ختمېږي؟ ای خلکو! هغه څه چې الله فرض کړي، خپله غوښتنه یې وګرځوئ او د حق په ادا کولو کې تري مرسته وغواړئ، مخکې له دې چې مرګ مو راوغواړي د هغه بلنه ومنئ. زاهدان که خاندي هم زړونه یې ژاړي، که خوشحال وي هم غم لري، که خلک پرې رشک کوي هم له خپل نفس سره په جګړه کې وي. د مرګ یاد مو له زړه وتلی او د فریب هیلو ځای نیولی. دنیا مو تر آخرت زیاته خوښه ده او زودرس مال مو د تلپاتې نه زیات خوښ دی. د دنیا مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مو قيامت هېر کړی. تاسو د دين ورونه ياست خو بد نيتونه مو جلا کړي. نه يو بل سره مرسته کوئ، نه خير غواړئ، نه څه ورکوئ او نه مينه کوئ. د لږ دنيا په لاس ته راوړلو خوشحالېږئ او د ډېر آخرت په له لاسه ورکولو غم نه کوئ. که لږ دنيا له لاسه ورکړئ بې قراره کېږئ، لکه دا چې دنيا تل ستاسو ده. له عيب ويلو نه مو يوازې دا ويره منع کوي چې عيب به مو بېرته در وښيي. د آخرت په پرېښودو او د دنيا په مينه کې يو موټی شوي ياست، دين يوازې پر ژبه واياست، لکه مزدور چې کار خلاص کړي او د بادار خوښي وغواړي.

۱۱۴ ـ اندرزونه د خلکو لپاره

د الله ﷻ ستاينه هغه لايقه ده چې حمد يې له نعمتونو سره وتاړه او نعمتونه يې له شکر سره يو ځای کړل. مور الله ﷻ د هغه د نعمتونو په خاطر داسې ستايو لکه د هغه د ازمايښتونو په وخت کې چې يې ستايو. له الله ﷻ څخه مرسته غواړو څو سرکښ نفس د هغه د امرونو پر وړاندې سم شي، هغه نفس چې د اطاعت په وخت کې سستي کوي او د ګناه په وخت کې بېړه لري. له هغو ګناهونو ښښنه غواړو چې د الله علم پرې احاطه لري او د هغه په کتاب کې ليکل شوي دي؛ داسې علم چې هېڅ شی تري نه پټېږي او داسې کتاب چې هېڅ شی تري نه پاتې کېږي. مور په الله ﷻ ايمان لرو، د هغه چا ايمان چې غيب يې لکه په سترګو ليدلی وي او د وعدو په حقيقت پوه وي؛ داسې ايمان چې اخلاص يې شرک له منځه وړي او يقين يې شک ختموي. ګواهي ورکوو چې له الله ﷻ پرته بل معبود نشته، شريک نه لري او سيال نه لري، او ګواهي ورکوو چې محمد ﷺ د الله بنده او رسول دی. دا دواړه شهادتونه خبرې لوړوي او عمل الله ته رسوي، داسې تله ده چې که پکې واچول شي سپکه نه وي او که تري وايستل شي بل شی يې دروندولی نه شي.

ای د الله بندګانو! تاسو ته د تقوا وصيت کوم، ځکه دا د قيامت د سفر توښه ده، داسې توښه چې منزل ته رسوي او داسې پناه چې امنيت ورکوي. تر ټولو ښه ويونکی يې هغه دی چې خلکو ته يې واورولە او تر ټولو ښه اورېدونکی هغه دی چې ومنله؛ هغه رسول چې تر ټولو ښه يې پيغام ورساوه. نو ويونکي ښه واورولە او اورېدونکي پرې نجات وموند.

ای د الله بندګانو! تقوا د الله دوستان له حرامو ساتي او زړونه يې د الله له وېرې ډکوي، تر دې چې شپې يې په بې خوبۍ او ورځې يې په روژه او تنده تېرېږي، څو د آخرت راحت د دنيا په سختۍ واخلي او د آخرت سيرابي د دنيا په تنده ترلاسه کړي. مرګ يې نږدې ليدلی او په نېکو عملونو کې يې بېړه کړې، د دنيا هيلې يې دروغ ګڼلې او مرګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ربښتيا ليدلی. دنيا د فنا کور دی، د بدلونونو ځای دی او د عبرت ځای دی. له نښو يې دا ده چې زمانه خپل کمان کشوي، غشی يې خطا نه ځي او زخم يې نه جوړيږي؛ ژوندی د مرګ په غشي وهي، روغ په ناروغۍ غورځوي او ژغورل شوی هلاکت ته رسوي. دنيا خوړونکې ده چې نه مړيږي او څښونکې ده چې نه سيرابيږي. انسان هغه شی راټولوي چې نه يې خوري او هغه کور جوړوي چې پکې نه اوسيږي، بيا د الله لور ته ځي نه مال ورسره وي او نه کور. د بدلون نښه دا ده چې پرون به پرې خلک رحم کاوه، نن پرې حسد کوي او پرون به پرې حسد کاوه، نن پرې رحم کوي؛ دا د نعمت د بدلېدو او د ناڅاپي بلا له امله وي. د عبرت نښه دا ده چې انسان هيلو ته د رسېدو په حال کې وي چې ناڅاپه مرګ راشي، نه هيلې پوره شي او نه پاتې شي. سبحان الله! د دنيا خوشحالي څومره فريب ده، سيرابي يې څومره تنده زيږوي او سيوری يې څومره سوځنده دی. نه راتلونکی شاته ګرځي او نه تېر بېرته راځي. ژوندي ته مرګ ډېر نږدې دی او مړ له ژوندي ډېر لرې دی. له بدۍ نه بدتر عذاب دی او له نېکۍ نه غوره اجر دی. د دنيا اوږدل تر ليدلو لوی ښکاري او د آخرت ليدل تر اوږدو لوی دي، نو اوږدل بس دی د ليدلو پر ځای. پوه شئ چې که له دنيا مو کم شي او آخرت ته زيات شي، دا غوره ده له دې چې له آخرت مو کم شي او دنيا ته زيات شي. ډېر کم چې ګټه ولري او ډېر زيات چې تاوان ولري. هغه څه چې درته امر شوي پراخ دي او هغه څه چې منع شوي لږ دي. نو لږ د ډېر لپاره پرېږدئ. الله ستاسو روزي ضمانت کړې او کار يې دربانديې فرض کړی، نو ضمانت شوې روزي پر فرضو مه مقدم کوئ. په نېکو عملونو کې بېړه وکړئ او له ناڅاپي مرګ وېرېږئ، ځکه له لاسه تللې روزي بېرته راتلی شي خو تېر عمر نه راګرځي. راتلونکي ته هيله ولرئ او له تېر څخه مهيوس اوسئ. له الله ﷻ ووېرېږئ او مه مړ کېږئ مګر مسلمانان.

۱۱۵ ـ د باران غوښتنه

ای الله ﷻ! غرونه مو د وچکالۍ له امله چاودلي، ځمکه مو دوړو ډکه ده، څاروي مو په خپلو ځايونو کې حيران دي او لکه د بچي له لاسه ورکړې ښځې چيغې وهي، له تګ راتګ ستړي شوي دي. ای الله ﷻ! د پسونو پر چيغو او د اوښانو پر فرياد رحم وکړه. د هغوی پر سرګردانۍ او ناله رحم وکړه. مور ستا لور ته راوتلي يو په داسې حال کې چې وچکالي پر مور راغلې او باراني وريځې تري تېرې شوې. ای الله ﷻ! ته د هر بېچاره هيله يې او د هر ستونزې حل کوونکی يې. مور ته د خپلو عملونو سزا مه راکوې او د ګناهونو په سبب مو مه نيسې. پر مور د باران وريځې راولېږه، داسې باران چې ځمکه راژوندۍ کړي او له لاسه تللي نعمتونه بېرته راولي. ای الله ﷻ! داسې باران راولېږه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندی کوونکی، سیرابوونکی، پراخ، پاک، مبارک او ګټور وي، بوټي پرې ډېر شي او ښارونه پرې ژوندي شي. داسې باران چې لوړې ځمکې پرې شنې شي، ټیټې پرې ډکې شي، میوې ډېرې شي، څاروي زیات شي او لرې سیمې هم تري برخمنې شي. داسې باران چې پرله پسې وي، نه یوازې تندر وي او نه بې ګټې وریځې، نه کم او نه بې ثمره، بلکې پوره او ګټور. ای الله ﷻ! داسې باران راولېږه چې قحطي ختمه شي او ستا رحمت پراخ شي، ځکه ته هغه ذات یې چې د ناامیدۍ وروسته باران ورکوې او ته د ستاینې وړ یې.

۱۱۶ ـ د خپلو یارانو لپاره نصیحتونه

)دا خطبه په ۳۸ هجري کال کې په کوفه کې، د کوفیانو د وروستۍ جګړې لپاره د هڅونې په موخه وفرمایل شوه(.

الله ﷻ پېغمبر ﷺ راولېږه چې د حق بلونکی او د خلکو پر اعمالو شاهد وي. پېغمبر ﷺ بې له سستۍ او بې له لنډون څخه د خپل الله تعالی رسالت ورساوه، او د الله ﷻ په لار کې یې له خپلو دښمنانو سره بې له عذر جوړولو جګړه وکړه. پېغمبر ﷺ د پرهېزګارانو امام او د هدایت موندونکو د سترګو رڼا ده.

(او د همدې خطبې بله برخه ده:) ای خلکو! که تاسې هم زما په شان له هغو پټو حقایقو خبر وای چې له تاسو پټ دي، نو له کورونو به مو کوچ کړی وای، په دښتو کې به مو سرګرداني کوله، پر خپلو کارونو به مو ژړل، او د مصیبت ځپلو ښځو په شان به مو پر سرونو او سینو وهل. خپل مالونه به مو بې ساتونکي او بې جانشینه پرې اېښي وای، او هر یو به یوازې خپل کار ته بوخت وای او بل ته به یې پام نه و. افسوس! هغه څه چې درته یاد کړل شول، هېر مو کړل، او له هغه څه چې درنه وېرول شوي وئ، ځانونه مو خوندي وګڼل. ګواکې عقلونه مو له سرونو الوتلي او چارې مو ګډې وډې شوي دي. په الله ﷻ قسم! ما غوښتل چې الله تعالی زما او ستاسو ترمنځ ببلتون راولي، او زه له هغو کسانو سره یو ځای کړي چې تر تاسو ماته ډېر وړ دي. په الله ﷻ قسم! هغوی داسې خلک وو چې نیک اندیش وو، بردباري یې غوره کوله، حق یې وایه او ظلم یې پرېښی و. له مورِ مخکې یې د حق پر لار قدم اېښی و او په بېړه تللي وو، او د تلپاتې آخرت او خورِ کرامت په ګټلو کې بریالي شوي وو. خبر اوسئ! په الله ﷻ قسم! ډېر ژر به د ثقیف له قبیلې یو هلک (حجاج بن یوسف ثقفي) پر تاسو واکمن شي، چې هوسباز، سرغړاند او ظالم به وي، او ستاسو شنې چارې او مالونه به وخوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱۷ ـ د ځان غوښتونکو انسانانو ملامتول

تاسې خپل مالونه د هغه الله ﷻ په لار کې ورکوئ چې هماغه مالونه یې درکړي دي، خو خپل ځانونه د هغه الله ﷻ په لار کې له خطر سره نه مخ کوئ چې ستاسو پیدا کوونکی دی! خوښ یاست چې خلک د الله ﷻ لپاره تاسو ته عزت درکړي، خو تاسې خلک د الله ﷻ لپاره نه درنوئ. د تېرو خلکو له کورونو او د خپلو نږدې وروڼو او دوستانو له بېلتون څخه عبرت واخلئ.

۱۱۸ ـ د نیکو یارانو ستاینه

)د جمل له جګړې وروسته، په ۳۶ هجري کال کې، د خپلو یارانو په ستاینه کې وفرمایل(.

تاسې د حق یاران او زما د دین وروڼه یاست، د جګړې په ورځ زما ساتونکي سپرونه یاست، د ګوزارونو لرې کوونکي یاست، او په خلوتونو کې زما د رازونو محرم یاست. ستاسې په مټ د حق شا اړوونکي وهم، او هیله لرم چې د مخامخ راتلونکو فرمانبرداري هم ستاسې په مرسته راشي. نو ما د خالص خیرخواهۍ او له هر ډول شک او تردید څخه پاک حالت سره مرسته وکړئ. په الله ﷻ قسم! زه پر خلکو تر هغوی خپله ډېر حق لرم.

۱۱۹ ـ د جهاد لپاره د خلکو هڅول

)د صفین او نهروان له جګړو وروسته، په ۳۸ هجري کال کې، خلکو ته د معاویه د ځپلو لپاره بلنه ورکړه، خو هغوی چوپ پاتې شول. امام (ع) وفرمایل: په تاسو څه شوي، آیا ګونګیان یاست؟ ځینو وویل: ای امیرالمؤمنین! که ته حرکت وکړې، موږ به هم درسره حرکت وکړو(.

په تاسو څه شوي؟ هېڅکله د نجات لار مه وهئ، او د عدالت لور ته مه هدایت کېږئ! آیا په داسې حالاتو کې روا ده چې زه له بناره ووځم؟ اوس باید له تاسو څخه یو سړی چې زه یې په مېړانه او زړورتیا راضي او پرې باوري یم، د دښمن پر لور ولاړ شي. زما لپاره روا نه ده چې لښکر، بنار، بیت المال، د خراج راټولول، د مسلمانانو ترمنځ قضاوت، او د غوښتونکو د حقونو اخیستل پرېږدم، او بیا له یوې ډلې سره ووځم او د بلې ډلې پسې وځغلم، او د یو نا تراشلي غشي په شان په تشه ترکش کې دې خوا او هغې خوا سرګردان شم. زه د ژرندې د ډبرې د منځ د ستنې په شان یم، باید پر خپل ځای ټینګ پاتې شم، تر څو د هېواد ټول کارونه زما په شاوخوا او زما په وسیله وګرځي. که

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه له خپل ځايه وخوځيږم، مدار به يې ولړزيږي او لاندې ډبره به راولويږي. په حق د الله ﷻ قسم، دا ډبر بد وړاندیز دی!
په الله ﷻ قسم! که د الله ﷻ په لار کې د شهادت هيله نه واى، نو سپور به شوم او له تاسو به لاړم، او هېڅکله به مې بيا نه غوښتل، څو پورې چې شمال او جنوب بادونه لګيږي؛ ځکه تاسې ډبر طعنه وهونکي، عيب لټوونکي، له حقه مخ اړوونکي او له چل او نيرنګ څخه ډک ياست. څو چې فکرونه مو بېلابېل وي، ستاسې شمېر هېڅ ګټه نه لري. ما تاسې داسې روښانه لارې ته بوتلل چې بې له هلاک غوښتونکي بل څوک پکې نه هلاکيږي؛ څوک چې پرې تينګ ودرېد، د جنت پر لور بيړه کوي، او څوک چې وښويږي، اور ته لويږي.

۱۲۰ ـ د اهل بيتو (ع) د ځانګړنو يادونه او د يارانو نصيحت

په الله ﷻ قسم! د رسالت تبليغ، د عهدونو وفاداري، او د الهي امرونو او خبرتياوو تفسير ماته را زده شوى دى. د پوهې دروازې او د چارو روښانتيا زمور، د پېغمبر ﷺ د اهل بيتو، په نزد ده. خبر اوسئ! د دين قوانين يو دي، لارې يې آساني او نېغې دي. څوک چې پرې روان شي، کاروان او منزل ته رسيږي او غنيمت وړي، او څوک چې پرې و نه ځي، ګمراه او پښېمانه کيږي. اى خلکو! د هغې ورځې لپاره کار وکړئ چې توښه پکې زېرمه کيږي او د خلکو رازونه پکې ښکاره کيږي. څوک چې له خپل عقل نه ګټه وانه خلي، د بل د عقل او فکر له پند اخيستلو لا ډېر عاجز دى، ځکه هغه غايب عقل د هغه حاضر عقل ته د مرستې توان نه لري. له هغه اوره ووېرېږئ چې ګرمي يې سخته، ژوروالى يې ناپيدا، زينت يې زولنې او څښاک يې زرداب او چټلى ده. خبر اوسئ! هغه توښه نوم چې الله تعالى يو چا ته د خلکو ترمنځ ورکړي، تر هغه ماله غوره دى چې د نورو لپاره پرېږدي او هغوى يې هېڅ ستاينه نه کوي.

۱۲۱ ـ د حکميت د منلو علتونه

)له صفين وروسته، د حکميت تر منلو وروسته، يو يار وويل: تا مور له حکميت نه منع کړل، بيا دې ومانه او قاضيان دې وټاکل! مور نه پوهيږو کوم يو کار سم و؟ امام (ع) پر خپلو لاسونو لاس وواهه او په افسوس يې وفرمايل(:
دا د هغه چا سزا ده چې له خپل امام سره بيعت پرېږدي او عهد مات کړي. په الله ﷻ قسم! کله چې ما تاسې د معاويه پر ضد جګړې ته راوبللئ، خوښه مو نه وه، حال دا چې الله تعالى ستاسو خير پکې اينسى و. که مو مقاومت کړى واى، زه به مو لاربنود وم، که

(c) ketabton.com: The Digital Library

مو کړه لاره نیولې وای، زه به مو سمې لارې ته راګرځولی وای، او که مو سرغړونه کړې وای، بیا به مې د جګړې لپاره چمتو کولئ، او هغه وخت به مو کار سم او ډاډمن و. خو افسوس! په کوم ځواک جګړه وکړم؟ او پر چا باور وکړم؟ حیرانتیا ده! زه غواړم ستاسې په وسیله دردونه درمل کړم، خو تاسې زما خپله نه جوړېدونکې ناروغي شوي یاست. زه د هغه چا په شان یم چې په پښه کې یې خار ننوتی وي او غواړي په بل خار یې راوباسي، حال دا چې پوهیږي هغه خار به نور هم مات شي او په بدن کې به پاتې شي.

ای الله! د دې مرګونې ناروغۍ طبیب ستړی شوی، او د دې مالګینې ځمکې اوبه ورکوونکی عاجز شوی دی. چېرته دي هغه خلک چې اسلام ته راوبلل شول او و یې مانه، قرآن یې ولوست او د آیتونو معنا یې وپېژندله، جهاد ته راوبلل شول او لکه اوښ چې خپل بچي ته را منډه کړي، هغوی هم جهاد ته عاشق شول، توري یې له تیغونو راویستې او د ځمکې شاوخوا یې ډله ډله، صف په صف، ونیوله؟ ځینې شهیدان شول او ځینې ژوندي پاتې شول. هېڅکله به یې د ژوندي پاتې شوي په پاتې کېدو خوشحالي نه کوله او د شهیدانو په مرګ به یې د تسلیت اړتیا نه درلوده. ستړګې یې د الله له وېرې له ډېرې ژړا ناروغې وې، ګیډې یې د ډېرې روژې له امله نرۍ او ملا ته نښتې وې، شونډې یې د ډېرې دعا له امله وچې وې، رنګونه یې د شپې عبادت له امله زېر شوي وو، او پر څېرو یې د خشوع او عاجزۍ دوړې ناستې وې. هغوی زما ورونه وو چې تللي دي، او پر موږ لازمه ده چې د هغوی د لیدو تږي واوسو، او د جلا والي په غم کې د افسوس ګوتې په غاښ کړو. بېشکه شیطان تاسې ته خپلې لارې آسانې ښکاره کوي تر څو ستاسې د دین کلکې غوټې یوه په بله پسې خلاصې کړي، او د یووالي پر ځای مو تفرقې ته بوځي، او په دغه تفرقې کې مو فتنې ته ور وغورځوي. له شیطان څخه مخ واړوئ، له وسوسو او درغلۍ یې ځان وساتئ، د هغه چا نصیحت واورئ چې ستاسو خیر غواړي، او په زړه او ځان یې ومنئ.

۱۲۲ ـ خوارجو ته خطاب

)کله چې خوارجو په بغاوت ټینګار وکړ، امام (ع) د هغوی کمپ ته ورغی او ټول خوارج یې مخاطب کړل(.

آیا تاسې ټول په صفین کې حاضر وئ؟ ویې ویل: ځینې حاضر وو او ځینې نه وو. امام (ع) وفرمایل: په دوو ډلو وویشل شئ، تر څو له هرې ډلې سره مناسبې خبرې وکړم.

کله چې په دوو ډلو وویشل شول، امام (ع) غږ وکړ: چوپ شئ! زما خبرو ته غوږ شئ او په زړه او روح راته متوجه شئ، او چې هر څوک مې د شهادت لپاره قسم کړ، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې په علم او پوهه شاهدي ورکړي.
(بيا يې اوږدې خبرې وکړې چې ځينې برخې يې دا دي:) هغه وخت چې شاميانو د جګړې په ګرمو شېبو او زمور د بريا په وخت کې، په چل او نيرنګ، قرآنونه د نيزو پر سرونو پورته کړل، تاسې هماغه وخت ونه ويل چې: شاميان زمور وروڼه او زمور د دين خلک دي، له مور غواړي چې د هغوی تېروتنې وبښو او د الله د کتاب حکم ته راضي شو، نو غوره ده چې خبره يې ومنو او لاس تري واخلو؟
خو ما تاسې ته وويل چې: دا دسيسه ده، ظاهر يې ايمان او باطن يې دښمني او کينه ده، پيل يې رحمت بنکاري خو پای يې پښېماني ده. نو پر خپله جګړه ټينګ اوسئ، له دې لارې مه اوړئ، په جګړه کې غاښونه سره کلک کړئ، او د هېڅ غږ کوونکي غږ ته غوږ مه ږدئ، ځکه که ځواب ورکړل شي، ګمراه کوونکي دي، او که پرېښودل شي، خوار او ذليل شي، او همداسې به کېږي. خو افسوس! ما وليدل چې تاسې د شاميانو غوښتنې ته غاړه کېښوده او حکميت مو ومانه. په الله ﷻ قسم! که ما دا نه واى منلى، د پايلو مسؤول نه وم، او الله به يې ګناه زما په نامه نه ليکله. او که مې هم حکميت منلى و، بيا هم زه تر ټولو د پيروىِ وړ وم، ځکه قرآن له ما سره دى، له هغه ورځې چې د قرآن ملګرى شوم، تري جلا شوى نه يم. مور له پېغمبر ﷺ سره وو، او جګړه او وژنه زمور د پلرونو، زامنو، وروڼو او خپلوانو په شاوخوا کې ګرځېده، خو هره مصيبت او سختي مور ته يوازې ايمان زياتولو، د حق پر لاره مو کلک والى ډېرولو، د الهي امرونو منلو ته مو ژمنتيا پياوړې کوله، او د زخمونو پر دردونو مو صبر زياتولو. خو نن چې د دين زنګونه، کږوالي، شبهې او دروغجن تعبيرونه راپيدا شوي، له خپلو مسلمانانو وروڼو سره خونړىِ جګړې ته کش شوي يو. نو کله چې مور داسې څه احساس کړو چې زمور د يووالي سبب ګرځي، چې په وسيله يې سره نږدې کېږو، درزونه پوروو او پاتې اړيکې ټينګوو، نو هماغه ته مخه کوو، هغه نيسو او نورې لارې پرېږدو.

۱۲۳ ـ په جګړه کې رواني روزنه

)د صفين په جګړه کې د خپلو سرتېرو په مخاطب کولو سره وفرمايل(.
له تاسو څخه هر يو چې د جګړې په ډګر کې له دښمن سره مخ شي او په خپل ځان کې ميرانه او زړورتيا احساس کړي، او خپل ورور کمزورى او وېرېدلى وويني، نو د دې برترىِ په شکر کې بايد له هغه دفاع وکړي، لکه څنګه چې له خپل ځان دفاع کوي، ځکه که الله ﷻ وغواړي هغه به هم ستاسې په شان زړور او مېرنى کړي. مرګ په چټکى سره ستاسې په لټه کې دى، هغه کسان چې مقاومت کوي او هغه چې تښتي، هېڅ يو يې هم د مرګ له منګولو نه خلاصېږي، او تر ټولو عزتمند مرګ د الله ﷻ په لار کې وژل کېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. په هغه ذات قسم چې د ابوطالب د زوی ساه يې په لاس کې ده، پر ما د زړو تورو ګوزارونه آسانه دي تر هغه مرګه چې د آرام په بستر کې وي او د الله ﷻ په نافرمانۍ کې وي. داسې مو وينم چې په ځينو يرغلونو کې تښتئ، او لکه د سوسمارانو رمه نالې وهئ، نه حق ښېرته اخلئ او نه ظلم دفع کوئ. اوس دا ستاسې او دا خلاصه لار، نجات د هغه چا دی چې ځان جګړې ته واچوي او مبارزه ته دوام ورکړي، او هلاکت د هغه چا دی چې سستي وکړي.

۱۲۴ ـ يارانو ته د جهاد هڅونه

)په ۳۷ هجري کال کې د صفين په جګړه کې د يارانو د هڅونې لپاره وفرمايل(.
زغره وال دي د لښکر په مخکښ برخه کې وي، او هغه چې خولې نه لري دې شاته وي. په جګړه کې غاښونه سره ټينګ کړئ، ځکه د توري د ضربې اغېز پر سر کموي. د دښمن د نېزو په وړاندې خپل بدن ته تاو ورکړئ، ځکه نېزې ښويوي او لږ هدف ته رسېږي. سترګې ټيټې وساتئ، ځکه دا ستاسې مېرانه زياتوي او زړه ارامو. غږونه ټيټ او چوپ وساتئ، ځکه سستي لرې کوي. د لښکر بيرغ لوړ وساتئ او شا و خوا يې تش مه پرېږدئ، او يوازې يې زړورو او کلکو مدافعانو ته وسپارئ، ځکه هغه کسان چې په سختو حالاتو کې ټينګېږي، د خپلو بيرغونو تر ټولو ښه ساتنه کوي، او په لښکر کې يې له هر اړخه ساتي، نه ترې شاته پاتې کېږي چې دښمن ته يې پرېږدي او نه ترې مخکې کېږي چې يوازې يې پرېږدي. هر څوک دې د خپل سيال په وړاندې ودرېږي او کار دې يې تمام کړي، او د خپل ورور مرستې ته دې هم بيړه وکړي، او خپل سيال دې پر خپل مسلمان ورور نه پرېږدي، ځکه هغه بيا له دوو دښمنانو سره مخ کېږي: خپل او د خپل ورور دښمن. په الله ﷻ قسم! که تاسې د دنيا له توري وتښتئ، د آخرت له توري به ونه ژغورل شئ. تاسې د عربو مشران او لوی عزتمندان ياست. له جګړې تښته د الله ﷻ غضب، تلپاتې ذلت او همېشنی شرم لري. تښتېدونکی نه خپل عمر زياتوي او نه د مرګ تر ورځې پورې د ځان او مرګ تر منځ خنډ جوړوي. څوک دی چې په خوښۍ او ټينګ سره د خپل جهاد په وسيله د الله ﷻ لوري ته روان شي؟ جنت د زړورو نېزو تر سيوري لاندې دی. نن د جګړې په ګرمو شيبو کې هغه څه ښکاره کېږي چې په زړونو او ژبو کې دي. په الله ﷻ قسم! زه په ډګر کې د شاميانو له ليدلو سره تر دې ډېر مينه لرم چې هغوی خپلو کورونو ته د ښېرته ستنېدو انتظار کوي. ای الله! که شاميان له حقه واوړېدل، نو ډله يې خپره کړه، ترمنځ يې اختلاف واچوه، او د خپلو تېروتنو له امله يې هلاک کړه. شاميان هېڅکله بې له پرله‌پسې نېزو له خپل ځايه نه وځي، داسې نېزې چې بدنونه يې سوری کړي لکه باد چې له يوې خوا ننوځي او له بلې ووځي، داسې ګوزارونه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرونه وپاشي، هډوکي ټوټې کړي، لاسونه او پښې پرې کړي او هر لور ته يې وغورځوي. هغوی به لاس وانه خلي څو پورې چې ډلې ډلې لښکرونه وربانديې حملې وکړي، په غشو يې وولي، سپاره وربانديې يرغل وکړي، ليکې يې ماتې کړي، او لوی لښکرونه يې تر خپلو ښارونو پورې شاته وتمبوي، تر دې چې اسونه يې د هغوی سيمې، څړځايونه او لارې تر سُمونو لاندې کړي.

۱۲۵ ـ حکمیت او د کوفیانو او ګمراه خوارجو ملامتول

)د خوارجو په ځواب کې چې حکمیت يې نه مانه، ښار ته له ننوتلو مخکې، د کوفې په شاوخوا کې وفرمایل(.

مورِ انسانان قاضیان نه کړل، بلکې قرآن مو د حکم لپاره غوره کړ، هماغه قرآن چې هغوی د نېزو پر سر کړی و او غوښتل يې حکم هماغه وکړي. دا قرآن يوه ليکلې کرښه ده چې د دوو جلدونو ترمنځ پټه ده، ژبه نه لري چې خبرې وکړي، او داسې چا ته اړتيا لري چې ترجماني يې وکړي، او انسانان دي چې د هغه له خوا خبرې کوي. کله چې شاميانو مورِ ته بلنه راکړه چې قرآن د خپل منځ د حکم لپاره ومنو، مورِ داسې ډله نه وو چې د الله ﷻ کتاب ته شا واړوو، حال دا چې الله ﷻ فرمايلي: «که په څه کې شخړه وکړئ، نو الله او رسول ته يې را وګرځوئ.» الله ته يې راګرځول دا دي چې د هغه کتاب حکم ومنو، او رسول ﷺ ته يې راګرځول دا دي چې د هغه سنت وټاکو. نو که په ربښتيا سره د الله ﷻ د کتاب پر بنسټ فيصله وشي، مورِ تر نورو ډېر مستحق يو، او که د رسول الله ﷺ سنت ومنل شي، مورِ تر ټولو ډېر ورِ يو. او ستاسې دا خبره چې ولې دې د حکمیت لپاره وخت وټاکه، ما دا ځکه وکړل چې ناپوه خپله تېروتنه وپېژني، او عالم پر خپل نظر ټينګ پاتې شي، او ښايي په همدې موده کې الله ﷻ د امت کارونه اصلاح کړي او د حق د لټون لار پرانيستې پاتې شي، تر څو خلک د حق په لټه کې ښېره و نه کړي، او د ګمراه کوونکي لومړي فکر تسليم نه شي. بېشکه د الله ﷻ په نزد تر ټولو غوره انسان هغه دی چې حق ته عمل کول ورته تر باطله ډېر ګران وي، که څه هم حق پرې دروند وي. ای خلکو! ولې حيران او سرګردان ياست؟ ولې دلته راوستل شوي ياست؟ د شاميانو پر لور د تګ لپاره چمتو شئ، هماغه چې له حقه اوښتي، هغه نه ويني، ظلم ته يې مخه کړې او عدالت ته نه تسليميږي، له کتابه لرې شوي او له نېغې لارې اوښتي دي. افسوس ای کوفيانو! تاسې داسې وسيله نه ياست چې باور پرې وشي، او نه داسې درانه مرستندويان ياست چې لمن يې ونيول شي. تاسې د جګړې د اور د بلولو لپاره ډېر بد ځواکونه ياست، پر تاسو دې لعنت وي، له ستاسې لاسه مې ډېرې سختۍ ليدلې دي. يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ په لوړ غږ جګړې ته رابولم، بله ورځ په غوږونو کې ورو ورو درته وایم، خو نه د بلنې پر وخت ربښتيني آزاد خلک یاست او نه د راز ساتلو لپاره باوري وروړه.

۱۲۶ ـ د بیت المال مساوي وېش

)امام (ع) ته وویل شول: خلک دنیا غواړي، معاویه په ډالیو او مالونو خلک جذبوي، ته هم د بیت المال له پیسو د عربو اشرافو او د قریشو مشرانو ته ورکړه او له مساوي وېش نه لاس واخله، تر څو درته میلان پیدا کړي(.

آیا راته وایئ چې د خپلې بریا لپاره د هغه امت پر وړاندې ظلم او ستم وکړم چې زه پرې ولایت لرم؟ په الله ﷻ قسم! څو چې ژوندی یم، او څو چې شپه او ورځ روانې وي او ستوري راخېژي او لوېږي، هېڅکله به دا کار ونه کړم. که دا مالونه زما خپل وای، بیا به مې هم په مساوي ډول د خلکو تر منځ وېشل، نو لا دا چې دا د الله ﷻ مال دی! خبر اوسئ! مال هغه چا ته ورکول چې مستحق نه وي، اسراف او بېځایه لګول دي. کېدای شي په دنیا کې د ورکوونکي مقام لوړ کړي، خو په آخرت کې به یې ښکته کړي. ښایي د خلکو په منځ کې یې عزت زیات کړي، خو د الله ﷻ په نزد به خوار وي. هېڅا خپل مال په هغه لاره کې ونه لګاوه چې الله ﷻ اجازه نه ده ورکړې او بېاهله خلکو ته یې ورنه کړ، مګر دا چې الله ﷻ یې د هماغو خلکو له شکره محروم کړ، او مینه یې د بل لور ته واوښته. که یوه ورځ وښوېږي او د هغوی مرستې ته اړتیا پیدا کړي، هغوی به تر ټولو بد ملګري او تر ټولو ډېر ملامتوونکي دوستان وي.

۱۲۷ ـ د خوارجو د عقایدو رد او د حکمیت د منلو علت

)د نهروان له جګړې مخکې، په ۳۷ هجري کال کې، د خوارجو د عقایدو د رد لپاره وفرمایل. خوارجو عقیده لرله چې څوک لویه ګناه وکړي کافر دی او له اسلامه وځي، مګر دا چې توبه وباسي او بیا مسلمان شي(.

که تاسې داسې ګومان کوئ چې زه خطا شوی او ګمراه شوی یم، نو ولې د محمد ﷺ ټول امت زما په تېروتنه ګمراه ګڼئ؟ ولې زما خطا د هغوی په حساب لیکئ؟ ولې هغوی زما د خطا له امله کافران بولئ؟ توره مو پر اوږو ایښې دي، په ږندو سترګو یې ښکته کوئ، ګناهکار او بېګناه سره ګډوئ او ټول یو شان بولئ؟ حال دا چې تاسې ښه پوهېږئ رسول الله ﷺ هغه زناکار چې ښځه یې لرله سنګسار کړ، بیا یې پرې لمونځ وکړ، او میراث یې کورنۍ ته وسپاره. قاتل یې وواژه، خو میراث یې ېرته کورنۍ ته ورکړ. د غله لاس یې پرې کړ، او هغه زناکار چې ښځه یې نه لرله، په درو یې وواهه، خو بیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم له غنيمتونو خپله برخه ورکوله، تر څو له مسلمانو ښځو سره واده وکړي. نو پېغمبر ﷺ هغوی ته د خپلو ګناهونو سزا ورکوله او د الله ﷻ حدود يې پرې جاري کول، خو د اسلام برخه يې ترې نه ايسته او نوم يې د مسلمانانو له دفتره نه حذف کاوه. نو په لويه ګناه کولو سره کافران نه شول. تاسې خوارج تر ټولو بد خلک ياست، د شيطان آله او د نورو د ګمراهۍ وسيله ياست. ډېر ژر به زما په اړه دوه ډلې هلاک شي: هغه دوست چې په مينه کې افراط وکړي او له حقه واوړي، او هغه دښمن چې په کينه کې زياتی وکړي او باطل ته لاړ شي. زما په اړه تر ټولو غوره خلک منځلاري دي. له هغوی مه بېلېږئ، تل له تر ټولو لوی جماعت سره اوسئ، ځکه د الله ﷻ لاس له جماعت سره دی. له تفرقې ځان وساتئ، ځکه يوازې انسان د شيطان برخه ده، لکه يوازې پس چې د لېوه ښکار وي. خبر اوسئ! هر څوک چې خلک دې شعار ته، يعنې تفرقې او بېلتون ته، راوبلي، هغه ووژنئ، که څه هم زما تر عمامې لاندې وي. که هغو دوو کسانو، ابوموسی او عمرو عاص، ته د حکم حق ورکړل شو، يوازې د دې لپاره و چې هغه څه ژوندی کړي چې قرآن ژوندی کړي او هغه څه مړه کړي چې قرآن مړه کړي. د قرآن ژوندی کول دا دي چې خلک لاسونه سره ورکړي او پرې عمل وکړي، او د قرآن وژل دا دي چې بېلتون او جدايي له منځه يووړل شي. که قرآن مور د هغوی لور ته راکاږي، هغوی به تعقيبوو، او که هغوی زمور لور ته راولي، بايد اطاعت وکړي. ستاسې پلار دې مړ نه وي! ما کوم شر نه دی پېل کړی، ستاسې په برخليک کې مې تاسې نه ياست دوکه کړي، او هېڅ شی مې درباندې نه دی مشتبه کړی. ستاسې د يوې ډلې نظر دا و چې دوه کسان د حکم لپاره وټاکل شي، مور له هغوی نه عهد واخيست چې له قرآنه به نه اوړي، خو افسوس چې خپل عقلونه يې له لاسه ورکړل، حق يې پرېښود، حال دا چې ښه يې ليد. ځکه ظلم او نفس غوښتنه يې ورسره برابره شوه، نو د ظلم ملګري شول. مور له وړاندې شرط ورسره کړی و چې په عدالت سره به حکم کوي او د حق پر بنسټ به پرېکړه کوي، خو هغوی پر دې عهد ونه درېدل.

۱۲۸ ـ د بصرې د راتلونکو حالاتو او د غيبو د علم ځای

)دا وينا په ۳۶ هجري کال کې د جمل له جګړې وروسته، په بصره کې د راتلونکو سختو پېښو د بيان لپاره وفرمايل شوه(.

ای احنف! داسې وينم چې هغه به له داسې لښکر سره راځي چې نه به دوړې لري او نه شور، نه د پوزو حرکت او نه د اسونو شيهې، او ځمکه به تر خپلو پښو لاندې داسې وهي لکه د شترمرغ ګامونه. نو وای دې وي پر هغو آبادو کوڅو او ښکلي کورونو د بصرې، چې بلاوې به پرې راشي لکه د ګيدړو وزرونه او ناودانونه به يې لکه د پيلان

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرطومونه وي! واى دې وي د بصرې پر خلکو، چې پر خپلو مړو به نه ژاړي او د خپلو ورک شوو لټه به نه کوي. ما دنيا پر خپل مخ ځمکې ته وغورځوله، مخ مې يې په خاورو کېښود او تر خپل ارزښت ډېر قيمت مې نه دى ورکړى، او په هماغه سترګه مې ورته کتلي چې وړ يې دى. داسې وينم يې چې مخونه به يې لکه ټکول شوې سپرې وي، د ديباج او ورېښمو جامې به يې اغوستې وي، اصيل اسونه به يې راکش کوي، او داسې وژنه او وينه تويونه به کوي چې ټپيان به د مړو پر بدنونو تېرېږي، او تښتېدونکي به تر بنديانو هم کم وي.

)يو ملګري يې وويل: اى اميرالمؤمنين! آيا تا ته د غيب علم درکړل شوى؟ امام (ع) وخندل او هغه ته چې د بني کلب له ټبره و، وفرمايل(:

اى د کلبي وروره! دا خبرونه چې زه يې درکوم، د غيب ذاتي علم نه دى، بلکې هغه علم دى چې ما له هغه چا څخه زده کړى چې د غيب د علم خاوند و، يعنې پېغمبر ﷺ. بېشکه ذاتي غيب د قيامت علم دى، او هغه څه چې الله ﷻ په خپل کتاب کې فرمايلي: «بېشکه د قيامت علم د الله ﷻ په نزد دى، باران هغه نازلوي، د مينډو په رحمونو کې څه دي هغه پوهيږي، هېڅوک نه پوهيږي چې سبا به څه کوي، او هېڅوک نه پوهيږي چې په کومه ځمکه کې به مري.» نو الله ﷻ پوهيږي چې په رحم کې هلک دى که نجلۍ، بنکلى دى که بدرنګ، سخي دى که بخيل، نېکمرغه دى که بدمرغه، او دا هم پوهيږي چې څوک به د دوزخ د اور سونګ وي او څوک به د جنت او د پېغمبر ﷺ د ګاونډ ملګرى وي. دا هغه ذاتي غيب دى چې له الله ﷻ پرته يې څوک نه پوهيږي. تر دې پرته نور علوم دي چې الله ﷻ خپل پېغمبر ﷺ ته ښوولي، او هغه ماته را زده کړي دي. رسول الله ﷺ زما لپاره دعا وکړه چې الله ﷻ دا ډول علوم زما په سينه کې ځاى پر ځاى کړي او زما ټول وجود ترې ډک کړي.

۱۲۹ ـ اندازې او مقياسونه

)په دې خطبه کې امام (ع) د اندازو او مقياسونو په اړه خبرې کړي دي، خو سيد رضى يوازې يوه برخه راوړې ده(.

اى د الله ﷻ بندګانو! تاسې او هغه څه چې له دنيا يې هيله لرئ، د موقتي مېلمنو په شان ياست چې يوه ټاکلې موده درته ټاکل شوې ده، او د پور ورکوونکو په شان ياست چې د پور د ادا کولو لنډ مهلت لري. ستاسې ټول عملونه ساتل کېږي. ډېر کوښښ کوونکي دي چې هېڅ ځاى ته نه دي رسېدلي، او ډېر زحمت کوونکي دي چې زيانمن شوي دي.

تاسې په داسې زمانه کې ياست چې نېکي شا ګرځوي او ځي، بدي مخه کوي او راځي، او د شيطان تمه د خلکو په هلاکت کې ورځ تر بلې زياتيږي. اوس داسې وخت دى چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شيطان وسايل پياوړي شوي، نيرنګ او فريب يې عام شوی، او بنکار نيول ورته آسانه شوي. هرې خوا ته چې وګورې، يا به داسې فقير وويني چې له فقر سره لاس او ګرېوان وي، يا داسې شتمن چې د الله ﷻ نعمت کفران کوي او د حقوقو په نه ادا کولو سره مال راټولوي، او يا داسې سرغړاند چې غوږ يې د نصيحت له اورېدو کاڼه شوي وي. ستاسې نېکان او صالحان چېرته دي؟ آزاد او سخاوتمند خلک مو چېرته دي؟ د کسب په چارو کې پرهېزګاران مو چېرته دي؟ د دين په لاره کې پاکان مو چېرته دي؟ آيا نه ده چې ټول لاړل او له دې پست، تېرېدونکې او خوښي توروونکې دنيا نه تېر شول؟ او آيا تاسې د هغوی وارثان نه ياست چې پر ځای يې کښېناستئ او د بې ارزښته شيانو تر منځ اوسئ، داسې شيانو چې انسان يې د ملامتولو لپاره هم شوندې نه خوځوي؟ نو په داسې حالاتو کې بايد وويل شي: «مور د الله يو او هغه لوري ته ستنېرو.» فساد بنکاره شوی، نه څوک شته چې بدي بدله کړي، او نه څوک شته چې خلک له نافرمانۍ منع کړي. آيا تاسې په دې حال کې غواړئ د الله ﷻ په سپېځلي کور او د هغه د رحمت تر څنګ ځای ولرئ او د هغه تر ټولو نږدې دوستان شئ؟ هېڅکله! الله ﷻ د خپل تلپاتې جنت په اړه نه شي غولول کېدای، او د هغه رضا يوازې د عبادت په وسيله ترلاسه کېدای شي. لعنت دې وي پر هغو چې امر بالمعروف کوي او خپله يې پرېږدي، او نهی عن المنکر کوي او خپله يې کوي.

۱۳۰ ـ د ربذې پر لور د تبعيد پر مهال ابوذر ته خطاب

)په ۳۰ هجري کال کې کله چې عثمان حضرت ابوذر د ربذې وچې دښتې ته تبعيداوه او حکم يې کړی و چې هېڅوک دې ورسره بدرګه نه شي، امام عليه‌السلام او زامنو يې پروا ونه کړه او ابوذر يې بدرګه کړ، او د بدرګې پر مهال يې وفرمايل(:
ای ابوذر! ته د الله تعالی لپاره په قهر شوې يې، نو هيله دې پر هغه ولره چې د هغه لپاره دې غوسه کړې ده. دا خلک د خپلې دنيا لپاره له تا وېرېدل، او ته د خپل دين لپاره له هغوی وېرېدلې. نو هغه دنيا چې هغوی د هغې لپاره له تا وېرېدل، هغوی ته پرېږده، او له خپل دين سره له هغوی څخه ځان لرې کړه. دا دنياپالان څومره محتاج دي هغه څه ته چې ته يې تر وېرول، او ته څومره بې‌پروا يې له هغه څه نه چې هغوی درنه منع کول. ژر به معلومه شي چې سبا ګټه د چا ده او حسد پر چا ډېر کېږي. که آسمان او ځمکه د بنده پر مخ وترل شي او هغه له الله تعالی څخه ووېرېږي، الله تعالی به د دواړو تر منځ د خلاصون لاره ورته پيدا کړي. خپل آرام يوازې په حق کې ولټوئ، او له باطل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته دې هېڅ شی مه وېرېږي. که تا د دې خلکو دنیا منلې وای، هغوی به درسره مینه کوله، او که تا له هغې څه برخه اخیستې وای، نو له تا به لاس په سر شوي وو.

۱۳۱ ـ د حکومت د منلو علتونه او د عادل مشر صفتونه

)دا خطبه په کوفه کې پر منبر وویل شوه او د «منبریه» په نوم مشهوره ده(
ای رنګارنګ خلکو او د ګډوډو زړونو خاوندانو، چې بدنونه مو حاضر دي خو عقلونه مو تر لېرې دي! زه تاسې حق ته رابولم، خو تاسې داسې تښتئ لکه وړې وزې چې د زمري له غږه تښتي. هیهات چې له تاسو سره د عدالت له څېرې تیاره لېرې کړم او هغه کږې لارې سمې کړم چې په حق کې پیدا شوې دي.
ای الله تعالی! ته پوهیږې چې زموږ جګړه د قدرت، حکومت، دنیا او مال لپاره نه وه، بلکې غوښتل مو چې ستا د دین نښې بېرته خپل ځای ته راوګرځوو، ستا په ځمکو کې اصلاح ښکاره کړو، څو ستا مظلوم بندګان په امن کې ژوند وکړي او ستا هېر شوي قوانین بیا جاري شي.
ای الله تعالی! زه لومړی کس وم چې ستا بلنه مې واورېده او ومنله، او په لمانځه کې له رسول الله ﷺ پرته هېچا پر ما سبقت ونه کړ. تاسو پوهیږئ چې بخیل سړی د مسلمانانو د ناموس، مال او احکامو مشر کېدای نه شي، ځکه چې په مال کې به حرص کوي. ناپوه هم مشر کېدای نه شي، ځکه چې خلک به په ناپوهۍ ګمراه کړي. ظالم مشر کېدای نه شي، ځکه چې د خلکو حق به وخوري. هغه چې په بیت المال کې عدالت نه کوي، د مشرتابه وړ نه دی، ځکه چې مال به ضایع کوي. رشوتخور قاضي او مشر نه شي کېدای، ځکه چې حق به ضایع کړي. او هغه څوک چې د پېغمبر ﷺ سنت ضایع کړي، د امامت وړ نه دی، ځکه چې امت به هلاک کړي.

۱۳۲ ـ د الله تعالی ستاینه او د مرګ د یادولو اړتیا

موږ د الله تعالی ستاینه کوو پر هغه څه چې اخلي او پر هغه څه چې ورکوي، او پر هغو نعمتونو چې راکوي او پر هغو ازموینو چې کوي. هغه الله تعالی چې پر هر پټ شي پوه دی او د هر شي په باطن کې حاضر دی، د سینو په رازونو خبر دی او پر هغه څه پوه دی چې سترګې په پټه ګوري. شاهدي ورکوم چې الله تعالی یو دی او بې له هغه بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

معبود نشته، او شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی، داسې شاهدي چې زړه او ژبه ورسره یو وي.
په الله قسم دا خبرې لوبه نه ده، بلکې رښتیا دي، او هغه حقیقت مرګ دی، چې غږ یې ښکاره دی او ټول خلک په چټکۍ ورپسې بیایي. د ژوندیو ډېروالی دې مه غولوئ. تاسې ولیدل چې پخوانیو مالونه راټول کړل، له فقره وېرېدل، اوږدې هیلې یې لرلې، مرګ یې لېرې ګانه، خو ناڅاپه مرګ پرې راغی، له کوره یې وایستل، پر تابوتونو پورته شول او خلکو په اوږو یو بل ته سپارل. ولیدل مو چې څنګه د هغوی کورونه هدیرې شول او مالونه یې نورو ته پاتې شول، ښځې یې له نورو سره واده شوې، نه یې حسنات زیاتېدای شي او نه توبه کولای شي. څوک چې تقوا خپله کړي، کارونه یې سمېږي. نو د تقوا فرصت غنیمت وګڼئ، ځکه دنیا د تل لپاره نه ده، بلکې د آخرت لپاره د توښې ځای دی، نو د تګ لپاره ځانونه تیار کړئ.

۱۳۳ ـ د الله تعالی عظمت، د قرآن ځانګړتیاوې، او د دنیا او آخرت حقیقت

دنیا او آخرت د الله تعالی فرمان ته غاړه ایښې ده او د دواړو واګې د هغه په لاس کې دي. آسمانونه او ځمکې خپل اختیار هغه ته سپارلی، او شنې وني سهار او مابنام هغه ته سجده کوي، او د هغه په حکم مېوې پخېږي.
قرآن د الله کتاب دی، داسې ویونکی چې هېڅکله چوپ نه شي، داسې کور چې ستنې یې نه نړېږي، او داسې عزت چې ملګري یې ماتې نه خوري. الله تعالی پېغمبر ﷺ وروسته له اوږدې مودې راولېږه، هغه وخت چې اختلاف ډېر شوی و. نو هغه حق ښکاره کړ او له مخالفانو سره یې جګړه وکړه.
نابینا انسان دنیا ته ګوري او بس، خو هوښیار انسان د دنیا تر شا آخرت وینې. هوښیار له دنیا نه توښه اخلي، نابینا د دنیا لپاره توښه برابروي. پوه شئ چې د دنیا هر څیز سړی ستړی کوي، خو د ژوند دوام ته خلک خوشحالېږي. قرآن هغه رښا ده چې حق پرې لیدل کېږي. آیتونه یې یو د بل تفسیر کوي او هېڅ اختلاف پکې نشته. خو خلک په خیانت او کینې سره یو شوي او شیطان یې ګمراه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۴ ـ نظامي مشوره

)کله چې عمر غوښتل د رومیانو پر ضد جګړې ته ولاړ شي، له امام علیه‌السلام سره یې مشوره وکړه(

الله تعالی د دې دین پیروانو ته وعده ورکړې چې اسلام به لوړوي او کمزورې به جبرانوي. هغه الله تعالی چې مسلمانان یې د کم شمېر پر مهال هم مرسته کړل، اوس هم ژوندی دی او نه مري. که ته خپله جګړې ته ولاړ شې او تا ته زیان ورسېږي، مسلمانان به بې پناه شي. نو یو زړور سړی ولېږه او تجربه کار خلک ورسره واستوه. که بریا وشوه ښه ده، او که نه، ته به د مسلمانانو پناه وې.

۱۳۵ ـ مغیره بن اخنس ته خطاب

)د عثمان او امام علیه‌السلام تر منځ شخړه وه، مغیره وویل: زه به یې بس کړم، امام وفرمایل(:

ای د پرې شوې لکۍ زویه، او بې‌ریښې ونې! ته به ما بس کړې؟ په الله قسم، چې څوک ته یې مرسته کوې الله تعالی به یې قوي نه کړي، او څوک چې ته یې ملاتړ کوې، ټینګ به پاتې نه شي. له موږه لرې شه، الله تعالی دې له خیر څخه محروم کړه. هر څه چې کولای شې وکړه، خو الله تعالی به تا پاتې نه کړي.

۱۳۶ ـ د هغه حضرت سره د بیعت په اړه

)کله چې ټولو له امام سره بیعت وکړ او عبدالله بن عمر، سعد بن ابی وقاص، محمد بن مسلمه، حسان بن ثابت او اسامه بن زید له بیعته انکار وکړ، امام علیه‌السلام دا وینا په ۳۵ هجري کال په مدینه کې وکړه(:

ستاسې بیعت له ما سره ناڅاپي او بې له سوچ نه و، او زما او ستاسې کار یو شان نه دی. زه تاسې د الله تعالی لپاره غواړم، او تاسې ما د خپل ځان لپاره غواړئ. ای خلکو! د خپل ځان د اصلاح لپاره ما سره مرسته وکړئ. په الله قسم، زه به د مظلوم حق له ظالمه واخلم، د ظالم پوزه به ونیسم او هغه به د حق اوبو ته ننباسم، که څه هم زړه یې نه غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۷ ـ د طلحې او زبیر په اړه

د ۳۶ هجري کال د جګړې په درشل کې وفرمایل(:
په الله قسم، طلحه او زبیر او د هغوی ملګرو زما په کارونو کې داسې څه نه دي موندلي چې د هغې پر ضد ودریږي، او نه یې زما او د ځان تر منځ انصاف کړی. دوی هغه حق غواړي چې پخپله یې پرېښی، او د داسې وینې بدل غواړي چې پخپله یې توی کړې ده. که زه په دې وینه کې شریک وم، نو هغوی هم شریک دي، او که هغوی یوازې دا وینه توی کړې وي، نو باید له خپل ځانه بدل واخلي. د عدالت لومړی مرحله دا ده چې انسان ځان ملامت کړي. حق راسره دی، نه مې حق پټ کړی او نه راته پټ و. ناکثین سرکښ او ظالم خلک دي، زړونه یې له کینې او شبهاتو ډک دي، خو حق ښکاره دی او باطل له منځه تللی. په الله قسم، داسې حوض به ورته ډک کړم چې اوبه یې یوازې زه راایستلی شم، داسې چې له هغې به مور نه شي او بیا به له هېڅ ځایه اوبه ونه څښي.
ای خلکو! تاسې د بیعت لپاره داسې راغلئ لکه مور چې نوي زیږېدلي ماشوم ته ورمنډه کړي. تاسې ویل: بیعت، بیعت! ما لاسونه وتړل، خو تاسې پرانیستل، ما انکار کاوه خو تاسې مې لاس راکش کړ. ای الله تعالی! طلحه او زبیر زما تړون مات کړ، پر ما یې ظلم وکړ، بیعت یې مات کړ او خلک یې زما پر ضد راپاڅول. ای الله تعالی! هغه څه چې هغوی تړلي، ته یې وشلوله، او هغه څه چې ټینګ کړي یې دي، مه پرېږده ټینګ پاتې شي. ما له جګړې مخکې هغوی ته د راستنېدو بلنه ورکړه، خو هغوی نعمت رد کړ او جګړه یې غوره کړه.

۱۳۸ ـ د راتلونکو پېښو یادونه

)په دې خطبه کې د راتلونکي حالاتو ذکر شوی(
هغه به غوښتنې د وحی تابع کړي، کله چې خلک هدایت د خپلو خواهشونو تابع کړي. خلک به خپلې نظریې د تفسیر په نوم پر قرآن تپي، خو هغه به نظریې د قرآن تابع کړي. په راتلونکي کې به د جګړې اور بل شي، ظاهراً خو به خوږ وي، خو پای به یې ترخه وي. داسې حاکم به راشي چې د اوسنیو حکومتونو له کورنۍ نه وي، او ظالمانو ته به سزا ورکړي. ځمکه به خپل خزانه ورته وباسي، او هغه به د عدالت لاره ښکاره کړي، او د الله کتاب او د پېغمبر ﷺ سنت به ېبرته ژوندي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګواکې وینم چې یو زورور سړی به راپاڅي، له سختی سره به پر کوفه برید وکړي، او خلک به په هر لور وپاشي، تر دې چې ډېر لږ به پاتې شي. دا حالت به دوام وکړي تر څو عربو ته عقل ښېرته راشي. نو د پېغمبر ﷺ پر سنت ټینګ پاتې شئ او له شیطانه مه غولېږئ.

۱۳۹ ـ د شورا د جوړېدو پر مهال

)په ۲۳ هجري کې د شپږ کسیزې شورا پر مهال وفرمایل(:
ای خلکو! تر ما مخکې هېڅا د حق بلنه دومره ژر ونه منله، او هېڅا زما په شان د خپلوانو سره احسان ونه کړ. زما خبرې واورئ او پوه شئ، ډېر ژر به د خلافت لپاره توري راویستل شي، ټرونونه به مات شي، او ځینې به د ګمراهانو مشران او د ناپوهانو پیروان شي.

۱۴۰ ـ له غیبت او بد ویلو څخه منع

هغه کسان چې ګناه نه لري او دین یې سالم دی، باید پر ګناهکارانو رحم وکړي او د الله تعالی شکر وباسي. شکر انسان له عیب ویلو منع کوي. څنګه یو عیبجو د خپل ورور عیب وایي، حال دا چې الله تعالی د هغه خپل عیبونه پټ کړي؟ څنګه پر بل ګناه تور لګوي، حال دا چې پخپله هم ورته یا تر هغې لویه ګناه کړې؟
په الله قسم، که انسان لویه ګناه نه وي کړې او یوازې کوچنۍ خطا یې کړې وي، بیا هم د خلکو عیب ویل تر هغې لویه ګناه ده. ای د الله بنده! د بل د عیب په ویلو کې بېړه مه کوه، کېدای شي الله تعالی هغه وبښي، او د خپلو کوچنیو ګناهونو په اړه ځان خوندي مه ګڼئ، کېدای شي د هغو لپاره سزا درکړل شي. نو هر څوک باید د نورو له عیب ویلو ځان وساتي او د خپل عیب د نه شتون شکر وباسي، او همدا شکر دې هغه د خلکو له ازارولو منع کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴۱ ـ له غيبت اورېدو څخه ډډه او د حق او باطل پېژندنه

ای خلکو! هغه څوک چې د خپل ورور د دين په ټينګښت او د لارې په سموالي باور لري، بايد د خلکو خبرو ته د هغه په اړه غوږ و نه نيسي. خبر اوسئ! کله ناکله غشی ويشتل کيږي او خطا وځي، خبرې هم همداسې دي؛ د يو چا په اړه داسې څه ويل کيږي چې حقيقت نه لري، او باطلې خبرې تباه کېدونکي دي، او الله ﷻ اورېدونکی او شاهد دی. پوه شئ چې د حق او باطل ترمنځ يوازې د څلورو ګوتو واټن دی. کله چې وپوښتل شول چې مانا يې څه ده، امام (ع) خپلې ګوتې د سترګې او غوږ ترمنځ کېښودې او ويې فرمايل: باطل دا دی چې ووايي: «ما واورېدل» او حق دا دی چې ووايي: «ما وليدل.«

۱۴۲ ـ د بخښش او احسان د ځای پېژندنه

څوک چې په ناحقه او نااهلو خلکو سره نېکي وکړي، له هغه څخه به پرته له دې بل څه پاتې نه شي چې سپک خلک يې وستايي، سرکښان او بدکاران يې يادونه وکړي، او ناپوهان بدژبي پرې خبرې وکړي، او دا ټول به تر هغه وخته وي چې هغوی ته ورکوي. هغه څوک سخاوتمند نه دی چې د الله ﷻ په لار کې له ورکړې بخل کوي. هغه څوک چې الله ﷻ مال ورکړی وي، نو بايد پر خپلو خپلوانو لګښت وکړي، بنه مېلمستيا جوړه کړي، بنديان آزاد کړي، غمځپلي ته لاس ورکړي، مسکين برخمن کړي، د پوروړي قرض پرې کړي، او د الهي ثواب لپاره د خلکو د حقونو په ادا کولو او د دې لارې په ستونزو کې صبر وکړي، ځکه د دغو صفتونو ترلاسه کول د دنيا شرافت او د آخرت فضيلتونه راوړي، ان شاء الله.

۱۴۳ ـ الهي ازموينه او د باران غوښتنه

)دا وينا يې د باران غوښتلو د لمانځه په مراسمو کې، په کوفه کې وفرمايله(.
خبر اوسئ! هغه ځمکه چې تاسې پر شا وړي او هغه آسمان چې پر تاسې سيوری غوړوي، دواړه د الله تعالی فرمانبردار دي، او د هغوی برکت درته نه د زړه سواندۍ له امله دی، نه د نړدې کېدو لپاره، او نه د دې هيله لري چې له تاسې څه ګټه ترلاسه کړي، بلکې دواړه ستاسې د ګټو د رسولولو لپاره مأمور شوي دي، او د الله تعالی امر يې منلی دی. الله ﷻ خپل ګناهکار بندګان د مېوو په کموالي، د برکتونو په بندېدو، او د خير د خزانو په تړل کېدو ازموي، تر څو توبه کوونکی راوګرځي، ګناهکار له ګناه لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخلي، پند اخستونکی پند واخلي، او منع کوونکی د نافرمانۍ لار بنده کړي. او الله تعالی استغفار د روزۍ د دوامداره نازلېدو او د رحمت سبب ګرځولی، او فرمايلي يې دي: «له خپل الله تعالی نه ببنه وغواړئ، ځکه هغه ببنونکی دی، له آسمانه به پر تاسې پرله‌پسې باران درولېږي، او په مالونو او اولادونو به درسره مرسته وکړي، او باغونه او ويالې به درکړي.» نو رحمت دې وي پر هغه چا چې توبې ته مخه کړي، له خپلو ګناهونو ببنه وغواړي، او له مرګه مخکې ځان سم کړي.

ای الله تعالی! مور له خپلو کورونو او خپمو راووتلو، وروسته له دې چې د تږو ځارويو نالې او د وږو ماشومانو ژړا مو واورېده، ستا رحمت ته ليواله او ستا فضل او نعمت ته هيله‌من يو، او ستا له عذاب او انتقامه وېرېږو. ای الله تعالی! پر مور باران ووروه، مور مه ناامېده راګرځوه، او په وچکالۍ او قحطۍ مو مه هلاکوه، او د زمور د بې‌عقلانو د بدو اعمالو له امله مو په خپل عذاب مه اخته کوه، ای تر ټولو مهربان مهربانه! ای الله تعالی! مور تاته د هغو شيانو شکايت دروو چې پر تا پټ نه دي، په داسې حال کې چې سختيو کمزوري کړي يو، وچکالۍ ستړي کړي يو، او پېښو بې‌وسه کړي يو. ای الله تعالی! له تا غواړو چې مور ناامېده ببرته و نه لېږې، او زمور ګناهونه مو مخې ته را ونه وړې، او زمور بد عملونه زمور د سزا معيار و نه ګرځوې. ای الله تعالی! خپل د رحمت باران، خپل برکت، خپل رزق او خپله مهرباني راباندې راولوروه، مور په داسې باران سيراب کړه چې ګټور وي، زرغونتيا راولي، وچ شوي څه ببرته راژوندي کړي او مړه ځمکه راژوندۍ کړي؛ داسې باران چې ډېر ګټور وي، ډېر نباتات راوټوکوي، غونډۍ او غرونه پرې خړوب شي، درې او سيندونه پرې ډک شي، ونې پرې پاڼې وکړي او ګراني پرې کمه شي. بېشکه ته پر هر څه قادر يې.

۱۴۴ ـ د پېغمبرانو بعثت او د اهل بيتو ځانګړنې

الله ﷻ پېغمبران راپاڅول او وحی يې هغوی ته ځانګړې کړه، او هغوی يې پر بندګانو خپل حجت وګرځول، تر څو هېڅا ته د عذر او دليل ځای پاتې نه شي. نو پېغمبرانو خلک د ربښتيني ژبې په وسيله حق ته راوبلل. خبر اوسئ! الله تعالی د بندګانو له باطنه پرده نه پورته کوي ځکه چې له پټو رازونو يې ناخبره نه دی، بلکې غواړي هغوی وازمويي چې کوم يو غوره عمل کوي، او بدله د نېکۍ په اندازه او سزا د بدۍ په اندازه وي.

هغوی چې دعوه کوي د قرآن د علم خاوندان دي او نه مور، چې دا خبره يې زمور پر ضد په دروغ او ظلم سره کړې ده، چېرې دي؟ الله تعالی مور، د پېغمبر ﷺ اهل بيت، لور کړي او هغوی يې تېټ کړي، مور ته يې راکړي او هغوی يې محروم کړي، مور

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د خپل نعمت په حريم کې ننه ايستي او هغوی يې تر ې ايستلي دي. د هدايت لاره زمونږ په لارښوونه موندل کېږي او د ړندو زړونو رڼا له مونږ نه غوښتل کېږي. امامان ټول له قريشو دي او ونه يې د بني هاشم په کورنۍ کې کرل شوې ده. ولايت او امامت د نورو ورو نه دي، او نور مدعيان د مشرۍ وړتيا نه لري.

ګمراهانو لنډمهاله دنيا غوره کړه او تلپاتې آخرت يې پرېښود. صافي اوبه يې پرېښودې او تريخې او خړې اوبه يې وڅښلې. داسې ښکاري چې د هغوی فاسق، يعنې عبدالملک مروان، وينم چې له منکر او بدۍ سره بلد شوی او ورسره الفت يې پيدا کړی، تر دې چې وېښتان يې په ګناهونو سپين شوي او خوی يې د بدۍ رنګ اخيستی دی. بيا به لکه د څپانده موج په شان پر خلکو راوخېژي او له ډوبولو به نه وېرېږي، يا لکه لمبه چې هر څه وسوځوي. چېرته دي هغه عقلونه چې د هدايت څراغ غواړي؟ چېرته دي هغه سترګې چې د تقوا نښو ته کتل کوي؟ چېرته دي هغه زړونه چې الله تعالی ته سپارل شوي او د اطاعت ټرون يې ورسره کړی؟ افسوس چې دنياپالو د دنيا پر پست مال يرغل کړی، د حرامو د اخستلو لپاره يو بل سره ټپل وهي. د جنت او دوزخ نښې ورته ښکاره شوې، خو له جنته اوښتي او د خپلو بدو کارونو په وسيله اور ته مخه کوي. الله تعالی هغوی راوبلل، خو شا يې واړوله او وتښتېدل؛ شيطان راوبلل، نو ومنله يې او په بيړه ورپسې روان شول.

۱۴۵ ـ د دنيا پېژندنه او د بدعتونو غندنه

ای خلکو! تاسې په دې دنيا کې د مرګ د غشو هدف ياست؛ په هره غوړپه کې د ستونې بندوونکی غم شته، او په هره لقمه کې د هډوکي د ماتېدو وېره. په دنيا کې هېڅ نعمت نه ترلاسه کېږي مګر دا چې بل نعمت له لاسه وځي، او د يوه زاړه انسان له عمره هېڅ ورځ نه تېرېږي مګر دا چې د هغه له مهاله بله ورځ نړېږي. له خوړلو يې هېڅ څه نه زياتېږي مګر دا چې د هغه له ټاکل شوې روزۍ بل څه کميږي، او هېڅ نوی اثر نه ورپاتې کېږي مګر دا چې بل پخوانی اثر له منځه ځي، او هېڅ نوی شی نه راتوکېږي مګر دا چې بل شی رېبل کېږي. ريښې ولاړې، مونږ يې څانګې يو؛ څانګې څنګه بې له ريښو پاتې کېدای شي؟

په دين کې هېڅ بدعت نه پيدا کېږي مګر دا چې يوه سنت پرېښودل کېږي. نو له بدعتونو ځان وساتئ او د حق پر روښانه او نېغه لار ودرېږئ. تر ټولو غوره کار هغه سنت دی چې ډېر وخت پرې تېر شوی وي او سموالی يې ثابت شوی وي، او تر ټولو بد کار هغه دی چې نوی راپيدا شي او راتلونکی يې ناڅرګند وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴۶ ـ د اسلام د بریا لاملونه

)عمر له امیرالمؤمنین (ع) سره سلا وکړه چې آیا د ایران په جګړه کې برخه واخلي که نه؟ حضرت ځواب ورکړ(:

د اسلام بریا او ماتې د پلویانو په ډېرښت او کموالي پورې نه وه تړلې، اسلام د الله ﷻ دین دی چې هغه بریالی کړ، او دا د هغه لښکر دی چې هغه چمتو او مرسته یې ورسره وکړه، تر هغه ځایه ورسېد چې باید رسېدلی وای، او هر هغه ځای کې راوخوت چې باید راخوتی وای. مورږ د خپل الله تعالی پر وعده هیله من یو، ځکه هغه خپله وعده پوره کوي او خپل لښکر ته مرسته ورکوي. د مشر ځای د داسې کلک تار په شان دی چې داني پرې سره نښتي وي؛ که دا تار وشلېږي، داني به خورې شي او بیا به هېڅکله راټولې نه شي. عرب که څه هم نن په شمېر لږ دي، خو د اسلام په نعمت ډېر او د یووالي په برکت عزیز او پیاوړي دي. ته د ژرندې د منځ د ستنې په شان پر خپل ځای ودرېږه، او د خلکو په وسیله جګړه اداره کړه، ځکه که ته له دې ځمکې ووځې، د عربو مخالفان به له هر لوري سرغړونه وکړي، او هغه څه چې ستا تر شا پاتې دي، د هغه څه تر مخې ډېر مهم دي چې ستا مخې ته دي. عجم که تا په جګړه کې وویني، وایي به: دا د عربو ریښه ده، که دا مو پرې کړه، نو آرام به شو. همدا فکر به هغوی لا ډېر یرغل ته وهڅوي او طمع به یې نوره هم زیاته شي. او دا چې تا وویل هغوی د مسلمانانو پر ضد راوتلي، نو د الله تعالی ناخوښي تر تا ډېره ده، او الله تعالی د هغه څه په بدلولو کې تر تا ډېر ځواکمن دی چې نه یې خوښوي. او د دښمن د ډېروالي په اړه، مورږ په تېرو جګړو کې د خلکو په ډېرښت نه جګړه کوله، بلکې د الله تعالی په مرسته مو جګړه کوله.

۱۴۷ ـ د پېغمبر ﷺ په اړه

الله تعالی حضرت محمد ﷺ په حقه راولېږه، څو خپل بندګان د بوتانو له دروغجن عبادته وباسي او خپل عبادت ته یې راوبولي، او هغوی د شیطان له پیروۍ وژغوري او د خپل اطاعت لوري ته یې راکاږي. دا یې د قرآن په وسیله وکړل، داسې قرآن چې معنا یې ښکاره او بنسټ یې ټینګ دی، څو بندګان د الله تعالی عظمت وپېژني، هغه چې تر دې مخکې یې نه پېژانده، او له اوږدې انکار وروسته پرې اقرار وکړي، او هغه سم وپېژني وروسته له هغه چې ورسره نابلده وو. نو الله تعالی په خپل کتاب کې بې له دې چې خلک یې ووینې، ځان خپلو بندګانو ته وروپېژاند، خپل قدرت یې وروښود، له خپل قهره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وپرول، او دا يې وښودله چې څنګه ملتونه په سزا له منځه وړي او څنګه يې د انتقام په داس رېبي.

له ما وروسته به پر تاسو داسې زمانه راشي چې تر حقه به هېڅ شی پټ نه وي، تر باطله به هېڅ شی ښکاره نه وي، او تر الله تعالی او د هغه تر رسول ﷺ پورې به هېڅ دروغ ډېر نه وي. د هغه وخت د خلکو په نزد به له قرآنه هېڅ متاع زیانمنه نه وي، که سم ولوستل شي او سم تفسیر شي، او له قرآنه به هېڅ متاع ډېره ګټوره نه وي، که تحریف شي او هر څوک خپلې خوښې معناوې پکې خپرې کړي. په ښارونو کې به له معروفه بل څه ډېر پردی نه وي او له منکره بل څه ډېر مشهور نه وي. د قرآن وړونکي به يې پرېږدي او ساتونکي به يې هېر کړي. قرآن او پیروان به يې له خلکو شړل شوي وي، دواړه به په يوې ناپېژندلې لارې کې غریبانه سرګردانه وي، پناهځای به نه لري. د خلکو په منځ کې به وي، خو ګواکې نه وي؛ له خلکو سره به وي، خو تر يې بېل به وي، ځکه هدایت او ګمراهي هېڅکله سره نه یو کېږي، که څه هم څنګ په څنګ ځای پر ځای شي. خلک به په هغه ورځ په جلاوالي کې یو موټی، او په یووالي کې سره پاشلي وي، ګواکې هغوی د قرآن امامان وي او قرآن د هغوی امام نه وي. له قرآن څخه به ورسره یوازې نوم پاتې وي، او هغوی به له قرآنه یوازې کرښې پېژني. مخکې به يې نېکان سزا کړي وي، د هغوی رښتیا خبرې به يې پر الله تعالی دروغ ګڼلې وي، او نېک کارونه به يې په بدو بدلو کړي وي. هغه خلک چې تر تاسو مخکې وو، د اوږدو هیلو او د اجل د پټې مودې له امله هلاک شول، تر دې چې ناڅاپه مرګ پرې راکوز شو، داسې مرګ چې عذر نه مني، د توبې دروازې تړي، او له ځان سره سختې پېښې او د مرګ وروسته عذابونه راولي.

ای خلکو! څوک چې له الله تعالی خیر وغواړي، توفیق مومي، او څوک چې د الله تعالی خبرې خپله لارښود وګرځوي، تر ټولو نېغې لارې ته هدایت کېږي. د الله تعالی ګاونډی په امان کې وي او د الله تعالی دښمن په ویره کې. څوک چې د الله تعالی عظمت پېژني، ځان لویي ورته نه ښایي. د هغو کسانو لوړ ارزښت چې د الله تعالی لویي پېژني، په دې کې دی چې د هغه پر وړاندې عاجزي وکړي، او د هغوی سلامتیا چې د الله تعالی قدرت پېژني، په دې کې ده چې د هغه امر ته تسلیم شي. له حقه مه تښتئ، لکه روغ انسان چې له پېس لرونکي تښتي یا روغ کس چې له ناروغه تښتي. پوه شئ چې هېڅکله حق نه شئ پېژندلای مګر دا چې د هغه پرېښودونکی وپېژنئ، او هېڅکله د قرآن پر پیمان وفادار نه شئ پاتې کېدای مګر دا چې ماتونکي يې وپېژنئ، او هېڅکله به قرآن کلک ونه نیسئ مګر دا چې پرېښوونکي يې وپېژنئ. نو نجات د هغه له اهله وغواړئ، ځکه د پېغمبر ﷺ اهل بیت د علم د ژوند راز او د جهل د مرګ راز دي. د هغوی حکم تاسو ته د هغوی له علمه، چوپتیا يې د هغوی له وینا، او ظاهر يې د باطنه خبر درکوي. نه له دین سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخالفت لري او نه پکې اختلاف کوي؛ دين د هغوی په منځ کې ربښتينی شاهد او چوپ ويونکی دی.

۱۴۸ ـ د بصرې د خلکو، طلحې او زبير په اړه

)دا خطبه د بصرې د ښار او خلکو او د طلحې او زبير په اړه وفرمايل شوه(.
له طلحې او زبير څخه هر يو هيله لري چې حکومت په خپل لاس کې واخلي، سترګې يې ورته نيولي او خپل ملګری په حساب نه راولي. نه يې د الله تعالی کومه رسۍ نيولې او نه يې د کومې وسيلې په مټ د الله تعالی لوري ته مخه کړې. هر يو د خپل ملګري د کينې بار پر اوږه وړي، چې ژر به يې پرده پورته شي. په الله ﷻ قسم! که هغه څه ته ورسېږي چې غواړي يې، دا به هغه ووژني او هغه به دا ختم کړي. اوس يوه سرکښه او نافرمانه ډله راپاڅېدلې ده، نو هغه الله غوښتونکي او حساب کوونکي چېرته دي؟ د پېغمبر ﷺ سنت ورته بيان شوی و، او د ننني پېښو خبر ورکړل شوی و. د هر ګمراهۍ يو لامل وي او د هر عهد ماتولو يو پلمه وي. په الله ﷻ قسم! زه هغه څوک نه يم چې د ژړا، پر سينه وهلو او د مرګ د فرښتې د غږ په اورېدو عبرت وانخلي.

۱۴۹ ـ له شهادت مخکې د هغه حضرت وصيتونه

)د ۴۰ هجري کال د رمضان په شلمه، له شهادت مخکې وفرمايل(:
ای خلکو! څوک چې له مرګه تښتي، د تښتېدو پر مهال به يې ووينې. اجل د ژوند پای دی، او له مرګه تېښته هم هغه ته رسېدل دي. څومره ورځې مې هڅه وکړه چې د هغه پټ راز راوسپړم، خو د الله تعالی غوښتنه دا وه چې پټ پاتې شي. هيهات! دا يو پټ علم دی. زما وصيت د الله تعالی په اړه دا دی چې هېڅ شی ورسره شريک مه ګڼئ، او د پېغمبر ﷺ په اړه دا دی چې د هغه سنت او شريعت ضايع نه کړئ. دا دوه کلک ستنې ټينګې وساتئ او دا دوه څراغونه روښانه وساتئ، او تر هغو چې له حقه نه ياست اوښتي، ملامتي به نه لرئ؛ ځکه هر چا ته د خپل توان په اندازه دنده سپارل شوې ده، او د ناپوهانو لپاره اسانتيا ورکړل شوې ده؛ ځکه رب مهربان دی، دين ټينګ دی، او امام پوه دی. زه پرون ستاسو مشر وم، نن ستاسو لپاره د عبرت سبب يم، او سبا به له تاسو جلا شم. الله تعالی دې زه او تاسو وبښي. که له دې ضربې روغ شوم، نو هماغه ښه، او که مې پښه وښوېده او له دې نړۍ ولاړم، مور هم د نورو په څېر د ونو تر سيورو، د باد او باران تر تېرېدو، او د ورېځو تر سيورو لاندې خپرېږو، او زمور نښې به پر ځمکه له منځه ولاړې شي. زه څو ورځې ستاسو ګاونډی وم، او ډېر ژر به له ما څخه يوازې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې‌ساه جسد پاتې وي، چې له دې ټولو هلو ځلو وروسته به بې‌حرکته وي، او له دې ټولو خبرو وروسته به چوپ وي. نو باید زما چوپتیا، د لاسونو، پښو، سترګو او نورو غړو بې‌حرکتي مو عبرت کړي، ځکه دا تر هرې فصیحې وینا او هرې اغیزمنې خبرې ډېره پندور ده. زما خداحافظي له تاسو سره د هغه چا د بېلتون په شان ده چې د خپل الله تعالی د لیدو لپاره چمتو وي. سبا به زما د ژوند د ورځو ارزښت وپېژنئ، او زما د زړه راز به درته ښکاره شي. کله چې زما ځای تش وویني او بل څوک زما پر ځای کښېني، هغه مهال به ما وپېژنئ.

۱۵۰ ـ د راتلونکو سختو پېښو اشاره

)په دې خطبه کې راتلونکو سختو پېښو ته اشاره ده(.

هغوی چپ او راستو لارو ته ولاړل، د ګمراهۍ لارې یې ونیولې، او د هدایت روښانه لار یې پرېښوده. نو د هغه څه په اړه ډېره مه کوئ چې باید وشي، او هغه څه چې په راتلونکي کې راځي ناوخته مه ګڼئ. ډېر کسان وي چې یوه شي ته د رسېدو لپاره ډېره کوي، خو کله چې ورسېږي، غواړي کاش یې نه وای لیدلی. او څومره نږدې ده زمونږ نن هغه سبا ته چې سهار یې رابښکاره شوی دی. ای خلکو! مونږ د هغو وعدو د پوره کېدو پر درشل ولاړ یو چې راکړل شوي دي، او د هغو شیانو د راختو نږدېوالی احساسوو چې تاسې ته پټ او مبهم دي. پوه شئ! هغه کس زمونږ له ډلې (حضرت مهدي عج) چې راتلونکې فتنې درک کړي، له روښانه څراغ سره به په هغو کې داخلېږي، د پېغمبر ﷺ او امامانو (ع) پر لاره به روان وي، غوټې به خلاصوي، اسیران او ملتونه به آزادوي، ظالمې او ګمراه ډلې به خپروي او د حق غوښتونکي به راټولوي. حضرت مهدي (عج) به ډېر کلونه د خلکو له سترګو پټ وي، داسې چې د نښو لټونکي به یې قدمونه و نه مومي، که څه هم د هغه د نښو په لټون کې ډېرې هڅې وکړي. بیا به یوه ډله د فتنو د ماتولو لپاره چمتو شي، او لکه توري به صیقل شي. سترګې به یې د قرآن په رڼا روښانه شي، په غوږونو کې به یې د قرآن تفسیر انګازې وکړي، او سهار او مابنام به د حکمت جامونه څښي.

زمانه یې اوږده شوه تر دې چې د هغوی رسوایي خپلې وروستۍ کچې ته ورسېده، او ځانونه یې د زمانې د بلا وړ وګرځول. کله چې د هغوی موده پای ته ورسېده، ځینې په فتنو کې بې‌پروا شول، او ځینو پر فساد کوونکو برید وکړ. د خپل صبر له امله یې پر الله تعالی احسان و نه باله، او د الله تعالی په لار کې یې ځان سپارل لوی کار و نه ګڼل، تر دې چې د الله تعالی اراده د جاهلیت د دورې په پای ته رسېدو موافقه شوه. هغوی د الله تعالی په لار کې توري راویستې، خپل بصیرت یې پر تورو کېښود، د خپل رب اطاعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ومانه، او د خپل ناصح امر يې واورېد، او په عزت او بريا کې يې ژوند وکړ، تر دې چې الله تعالى خپل پېغمبر ﷺ خپل حضور ته يووړ. افسوس! بيا ځينې خلک بېرته د جاهليت حالت ته ستانه شول، د بېلابېلو لارو په وهلو ګمراه شول، له کږو ملګرو سره يو ځاى شول، او له مؤمنانو سره يې هغه اړيکه وشلوله چې ورته امر شوى و. د اسلام بنسټ يې بدل کړ او په بل ځاى کې يې کېښود. هغوى د هرې ګناه مرکز، د هرې فتنې پناه، او د هر سرګردانۍ ملګري شول، تر دې چې په غفلت او مستۍ کې د فرعونيانو پر طريقه روان شول، يا يې ځان له هر څه جلا کړ او دنيا ته يې زړه وتاړه، او يا يې له دين سره خپل تړاو وشلاوه.

۱۵۱ ـ د فتنو په وړاندې د مقابلې لارښوونې

د الله ﷻ ستاينه کوم، او د شيطان د شړلو، د هغه له دامونو او چلونو څخه د خلاصون او نجات موندلو لپاره له الله تعالى مرسته غواړم، او ګواهي ورکوم چې له يو الله تعالى پرته بل معبود نشته، او شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د هغه برګزيده او غوره بنده او رسول دى، چې په فضل او برترۍ کې سيال نه لري او هېڅکله به يې نشتوالى جبران نه شي.
بنارونه د هغه په برکت روښانه شول، وروسته له هغه چې سختې ګمراهۍ هر ځاى نيولى و؛ ناپوهي پر فکرونو واکمنه وه او د زړونو پر سرونو سختي او ډېروالى ختلى و، او خلکو حرام حلال ګڼل، عالمان يې سپکول، له دين پرته يې ژوند کاوه او په کفر کې مړه کېدل.
اى عربو! تاسې د بلا د غشو نښه ياست چې نږدې ده. د نعمتونو له مستۍ ځان وساتئ، او د الله تعالى د عذاب له سختيو ووېرېږئ او وتښتئ، او په هغو ګډوډو فتنو کې، د فتنو د نوي راټوکېدو پر مهال او کله چې يې باطن راڅرګند شي او د هغې د ژرندې قطب او مدار ټينګ شي، په پوهه ګام واخلئ. هغه فتنې چې له پټو لارو راڅرګندېږي او په رسوايۍ او بدنامۍ اوړي، پيل يې د زورور او بنکلي ځوانۍ په شان وي، خو اغېزې يې د کلکو ډبرو پر نښو غوندې بدرنګه او اوږدمهاله وي، او ظالمان يې له يو بل نه د ټرون په ډول په ميراث وړي. لومړنۍ يې د وروستيو امامان وي، او وروستۍ يې د لومړيو پيروان وي. هغوى د دې پستې دنيا په تر لاسه کولو کې يو له بل سره سيالي کوي، او لکه وږي سپي دا مردار له يو بل نه شکوي. ډېر به نه تېرېږي چې پيرو به له مشر نه او مشر به له پيرو نه بيزاره شي، او په کينه او بغض به يو له بله بېل شي، او د مخامخېدو پر مهال به يو بل ته بنېږي کوي.
بيا به داسې فتنه سر راپورته کړي چې سخت رپونکې، ماتونکې او تباه کوونکې به وي، داسې چې زړونه به له ټينګښت وروسته بنويېږي، او سړي به له سمون او سلامتۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته ګمراه شي، او د دغو فتنو د راختو پر مهال به فکرونه او اندونه ګډوډ شي، او عقيدې به له ځرګندېدو وروسته په شک اخته شي. ځوک چې د دې فتنو مخه ونيسي ملا به يې ماته کړي، او ځوک چې د هغې د خاموشولو هڅه وکړي، هغه به يې وځپي. په دې منځ کې به فتنه جوړوونکي لکه وحشي خره يو بل چيچي، او د دوی د ټينګې نېکمرغۍ او دين رسۍ به ولړزېږي، او حقيقت به پټ شي. حکمت او پوهه به کمه شي، ظالمان به خبرې کوي، او صحرا مېشتي به ټکوي او د ظلم د سپرو پر سينو به يې ټوټه ټوټه کوي. يواځيني خلک به د هغې په دوړو کې ورک شي، او ځواکمن سپاره به پکې هلاک شي. فتنې به د ترخو غوښتنو سره راځي، تازه وينې به زېښي، د دين نښې به ورانوي او يقين به له منځه وړي. زيرک خلک به تري تښتي، او بد خلک به يې په جوړولو کې بوخت وي. دا فتنې به ډېرې کړکېچنې او له زحمت ډکې وي، پکې به د خپلوانو اړيکې پرې شي او خلک به له اسلامه جلا شي. فتنې به داسې ورانوونکې وي چې روغ به ناروغ شي او مېشت به کوچ وکړي. په دې منځ کې به داسې وژل شوی وي چې وينه يې ضايع شوې وي، او داسې وپرېدلی وي چې د امان غوښتنه کوي، خو هغوی به يې په قسمونو دوکه کړي او د ايمان په ښکاره کولو به يې بې لارې کړي. نو هڅه وکړئ چې د فتنو بيرغونه او د بدعتونو نښې نه شئ، او هغه څه پر ځان لازم وګڼئ چې د اسلامي امت پيوند پرې ټينګ دی او د اطاعت بنسټونه پرې ولاړ دي، او د الله تعالی حضور ته د مظلوم په توګه ورشئ، نه د ظالم په توګه، او د شيطان له دامونو او د دښمنۍ له درو ځان وساتئ، او حرامې مړۍ خپلو ګېډو ته مه داخلوئ. تاسې د هغه الله تعالی تر سترګو لاندې ياست چې ګناهونه يې حرام کړي او د اطاعت لاره يې اسانه کړې ده.

۱۵۲ ـ د الله د صفاتو پېژندنه، د اهل بيتو ځانګړنې او د قرآن فضيلت

)ليکلي دي چې دا وينا يې د خلافت په لومړيو ورځو کې، په ۳۵ هجري کال کې، په مدينه کې وفرمايله(.

ستاينه د هغه الله ﷻ لپاره ده چې د بندګانو په پيدا کولو سره يې پر خپل شتون لاربښوونه وکړه، او د نوو پديدو پيدا کول د هغه پر ازلي توب شاهدي ورکوي، او د مخلوقاتو يو له بل سره ورته والی دا ښيي چې هغه بې ساری دی. بشري حواس د هغه ذات نه شي درک کولای، او هېڅ پردې يې نه شي پټولای، ځکه جوړوونکی او جوړ شوی، راګير کوونکی او راګير شوی، رب او مربوب، سره يو شان نه دي. هغه يو دی، خو د شمېر له مخې نه؛ پيدا کوونکی دی، خو بې له حرکت او ستړيا؛ اورېدونکی دی، خو بې له د اورېدو آلې؛ ليدونکی دی، خو بې له دې چې سترګې پرانيزي او پټې يې کړي. په هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای کې حاضر دی، خو نه په دې معنا چې له څه شي سره تماس ولري، او له هر څه بېل دی، خو نه په دې معنا چې د هغه او مخلوق تر منځ فاصله وي. بنکاره دی، خو د سترګو په لیدلو نه؛ پټ دی، خو د وړوکتوب او نریوالي له امله نه. له موجوداتو بېل دی، ځکه پر هغوی برلاسی او ځواکمن دی، او هر څه له هغه پرته د هغه پر وړاندې عاجز دي او بېرته ورتګ یې هم د هغه لوري ته دی. څوک چې الله تعالی وصف کړي، هغه یې محدود کړی؛ او څوک چې محدود یې کړي، هغه یې شمېرلی؛ او څوک چې یې شمېرلی، د هغه ازلیت یې باطل کړی. او څوک چې ووایي: الله څنګه دی؟ هغه یې توصیف کړی؛ او څوک چې ووایي: الله چېرته دی؟ هغه ته یې ځای ټاکلی. الله تعالی عالم و، هغه مهال چې معلوم نه و؛ رب و، هغه مهال چې مخلوق نه و؛ قادر و، هغه مهال چې د قدرت بنکاره نښه نه وه. په ربښتیا یو بنکاره کېدونکی بنکاره شو، یو ځلېدونکی وځلېد، او هغه څوک چې له حقه اوښتی و، بېرته نېغې لارې ته راوګرځېد. الله تعالی یو قوم په بل قوم بدل کړ، او یوه ورځ یې له بلې ورځې سره واړوله، او مور د وچکالۍ په وخت کې د باران په تمه خلکو غوندې د داسې ورځې انتظار ایسته. په ربښتیا د دین امامان (ع) د الله تعالی له خوا د خلکو د چارو تنظیموونکي او د بندګانو پوه کارګران دي. هېڅوک جنت ته نه ننوځي مګر دا چې هغوی یې وپېژني او هغوی هغه وپېژني، او هېڅوک به دوزخ ته ونه غورځول شي مګر دا چې هغوی منکر وي او امامان یې هم ونه مني.

په ربښتیا الله تعالی تاسې اسلام ته ځانګړي کړي یاست او د اسلام لپاره یې غوره کړي یاست، ځکه اسلام د سلامتۍ نوم دی او د ټولنې د کرامت ساتونکی دی. الله تعالی د هغه روښانه لار غوره کړې او دلیلونه یې روښانه کړي دي. قرآن ظاهر یې علم دی او باطن یې حکمت دی، نوښتونه یې نه ختمېږي او عجایب یې نه پای ته رسېږي. په قرآن کې برکتونه او خیرونه د پسرلي د شنو ځمکو په شان ډېر دي، او د تیارو د روښانولو څراغونه ډېر لري، داسې چې د نېکۍ دروازې یوازې د قرآن په کلیو پرانېستل کېږي، او تیاره یوازې د هغه په څراغونو روښانه کېږي. پولې یې خوندي دي او څرګندونه یې پخپله ساتونکي لري. هر درملغوښتونکي ته درمل دي او هر محتاج ته بسنه کوي.

۱۵۳ ـ د ګمراهانو وصف

)په ۳۶ هجري کال کې په مدینه کې، هغه وخت چې خلک یې د بصرې د یاغیانو پر ضد جګړې ته چمتو کول، وفرمایل(:

الله تعالی ګمراه ته څو ورځې مهلت ورکړ، او هغه له غافلو او بېخبره خلکو سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلاکت پر لاره روان دی، او خپلې ټولې ورځې له ګناهکارانو سره تېروي، بې له دې چې داسې لاره ونیسي چې حق ته یې ورسوي، او یا داسې امام وټاکي چې لارښود یې شي. تر هغه وخته چې الله تعالی د دوی د ګناهونو سزا ورکړي او د غفلت له پردې یې وباسي، هغوی د هغه څه هرکلی کوي چې ترې یې شا اړولې وه، یعنې آخرت، او شا اړوي له هغه څه چې ورته مخه کړې وه، یعنې دنیا. نه یې له هغو هیلو ګټه واخیسته چې ورته رسېدلې وو، او نه یې له هغه څه کومه ګټه پورته کړه چې خپلې اړتیاوې یې پرې پوره کړې وې. زه تاسې او خپل ځان له داسې غفلته وېروم. هر انسان باید له خپل کاره ګټه واخلي، او هوښیار هغه دی چې سم واوري او فکر وکړي، بیا په سمه توګه وګوري او پوه شي، له عبرتونو پند واخلي، او وروسته پر روښانه لاره ولاړ شي، او د کندو او بې‌لارې لارو له لوېدو او ورکېدو ځان وساتي، او هڅه وکړي عدالت وساتي او ګمراهانو ته د اعتراض ځای پرېنږدي، نه دا چې په حق کې سختي وکړي، او نه دا چې د حق په وینا کې تحریف وکړي، او نه دا چې د رښتینې خبرې په ویلو ووېرېږي.

نو ای اورېدونکي! هوښیار شه، له خوبه راویښ شه، له خپلې بېړې لږ کم کړه، او په هغه څه کې فکر وکړه چې د پېغمبر ﷺ له خولې درته رسېدلي دي، هغه څه چې ناچار یې باید عملي کړې او د تېښتې لاره نه لرې. او له هغه چا سره مخالفت وکړه چې د پېغمبر ﷺ لارښوونې نه عملي کوي او بلې خوا ته مایل وي، او هغه د خپل خوښ شوي کار سره پرېږده. فخر او تکبر پرېږده، د لویې له سپرلۍ راکوز شه، قبر په یاد کړه، ځکه هماغه ستا د آخرت پر لور تګ لاره ده؛ لکه څنګه چې نورو ته بدله ورکوې، هماغسې به تاته بدله درکول کېږي، او لکه څنګه چې کړې، هماغسې به یې رېبي؛ هغه څه چې نن یې لېږې، سبا به پرې ورشي. نو د آخرت لپاره ځانته ځای تیار کړه او مخکې یې واستوه. ای اورېدونکي! خبرداری، خبرداری! ای غفلتځپلې! هڅه وکړه، هڅه وکړه! «له الله تعالی پرته بل هېڅ پوه ذات تا خبرولای نه شي».

له هغو قطعي واجباتو څخه چې الله تعالی په خپل حکیم قرآن کې بیان کړي، او پر بنسټ یې ثواب او عذاب ورکوي، او پرې راضي کېږي یا غوسه کېږي، دا دي چې که انسان له بدو صفتونو څخه یو هم ولري او بې له توبې الله تعالی ملاقات کړي، که څه هم ځان یې ستړی کړی وي او عمل یې خالص کړی وي، هېڅ ګټه به ورته ونه کړي. او هغه بد صفتونه دا دي چې د الله تعالی په واجب عبادت کې شریک وګرځوي، یا خپله غوسه د بې‌ګناه انسان په وژلو یخه کړي، یا د بل د عمل له املې پر بې‌ګناه انسان عیب ولګوي، یا د خلکو د اړتیا لپاره د الله تعالی په دین کې بدعت جوړ کړي، یا له خلکو سره په دوو مخونو مخامخ شي، او یا په دوی کې په دوو ژبو خبرې وکړي. په هغه څه کې چې مې وویل ښه فکر وکړه، ځکه هر مثال ته ورته نور ډېر مثالونه شته. ټول ځاروي یوازې د خپلو ګېډو د ډکولو په فکر کې دي، ځناور د نورو د ځوروولو په لټه کې دي، او بې‌ایمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې ټوله پاملرنه د ژوند په ښکلا او فساد جوړولو کې لري، خو مؤمنان عاجز دي، مؤمنان مهربان دي، مؤمنان له راتلونکي وېرېدلي وي.

۱۵۴ ـ د اهل بيتو فضيلتونه

)ځينو شارحانو ليکلي چې دا وينا په مدينه کې شوې ده(.
عاقل انسان د زړه په سترګه د کار پای ته ګوري، او د هغه ټيټ او لوړ حالت پېژني. د حق بلونکي، يعنې پېغمبر ﷺ، خپله بلنه بشپړه کړه، او د امت لارښود د سرپرستۍ لپاره راپاڅېد. نو د حق بلونکي ته ځواب ووايئ او له خپل امام څخه اطاعت وکړئ. يوه ډله د فتنو په سمندر کې ډوبه شوه، بدعتونه يې ومنل او ښې سنتونه يې پرېښودل؛ مؤمنان څنګ ته شول او ګمراهان او دروغجن خبرې کولو ته راپاڅېدل. ای خلکو! مور د پېغمبر ﷺ اهل بيت د هغه د تن جامه يو، د هغه رښتيني ياران يو، د وحې د علومو خزانه‌داران يو، او د هغو معارفو دروازې يو، او کورونو ته يوازې د دروازې له لارې ننوتل کېږي، او څوک چې له دروازې پرته ننوځي، غل بلل کېږي.
ای خلکو! د پېغمبر ﷺ د اهل بيتو په اړه د قرآن کريم آيتونه نازل شوي دي، هغوی د الله الرحمن د علومو خزانې دي؛ که خبرې وکړي، رښتيا وايي، او که چوپ شي، هېڅوک پرې سبقت نه شي اخيستلای. نو د خلکو امام بايد خلکو ته رښتيا ووايي، د عقل لاره خپله کړي، او د آخرت له خلکو څخه وي، ځکه له هغه ځايه راغلی او ښه‌ته هماغه ځای ته ځي. نو هغه څوک چې د زړه په سترګه وګوري او له باطني ليد سره عمل وکړي، د خپل کار پيل يې دا وي چې فکر وکړي: آيا دا عمل يې د ده په ګټه دی که تاوان؟ که په ګټه يې وي، دوام دې ورکړي، او که زيان وي، ودرېږي، ځکه بې له پوهې عمل کوونکی لکه هغه څوک دی چې پر بې‌لارې روان وي؛ هر څومره چې تېز شي، له هدفه لېرې کېږي، او هغه څوک چې په پوهه عمل کوي، د سمې لارې روان دی. نو ليدونکی بايد سم وګوري، آيا د حق پر لار روان دی که ښه‌ته شاته اوړي؟ او پوه شه چې هر ظاهر مناسب باطن لري؛ څه چې ظاهر يې پاک وي، باطن يې هم پاک وي، او څه چې ظاهر يې خبيث وي، باطن يې هم خبيث وي. او رښتيني پېغمبر ﷺ وفرمايل: «الله تعالى بنده خوښوي، خو عمل يې نه خوښوي؛ او د بنده عمل خوښوي، خو خپله هغه نه خوښوي».
خبر اوسئ! هر عمل يو راټوکېدنه لري، او هر راټوکېدونکی له اوبو بې‌نيازه نه وي، او اوبه هم ډول ډول وي. نو هره ونه چې خړوبېدل يې سم او ښه وي، ښاخونه يې ښايسته او مېوه يې خوږه وي، او هغه چې اوبه يې پاکې نه وي، ونه يې عيبناکه او مېوه يې ترخه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵۵ ـ د خفاش د پیدایښت عجایب

)په دې خطبه کې د خفاش د پیدایښت عجایب بیانوي(.
ستاینه د هغه الله تعالی لپاره ده چې ټول صفتونه یې د ذات د حقیقت له بیانولو عاجز دي، او د هغه لویي عقلونه شړي، داسې چې د هغه د ملکوت تر پایه د رسېدو لار نه مومي. هغه حق او ښکاره الله تعالی دی، تر هغه څه هم څرګند او لوړ چې سترګې یې ویني. عقلونه نه شي کولای هغه ته حد وټاکي چې ورته والی ولري، او نه فکرونه او خیالونه ورته اندازه ټاکلی شي چې په کوم شکل او صورت کې انګېرل شي. هغه موجودات بې له دې پیدا کړل چې کومه ښېګڼه مخکې موجوده وي، یا له چا سره مشوره وکړي، یا له کوم ځواک مرسته واخلي. د هغه په امر خلقت بشپړ شو، اطاعت یې ومانه، مثبت ځواب یې ورکړ، خدمت ته ودرېد، او سرغړونه یې ونه کړه.
د الله تعالی د صنعت له ښکلاوو او د هغه د پیدا کولو له عجایبو څخه یو د خفاش پیدایښت دی. د ورځې رڼا چې هر څه روښانوي، د هغه سترګې بندوي، او د شپې تیاره چې هر څه خوب ته وړي، د هغه سترګې پرانیزي. د خفاش سترګې دومره کمزورې دي چې د لمر له رڼا ګټه نه شي اخیستلی، او نه شي کولای د رڼا په مرسته خپله لار ومومي؛ د لمر رڼا هغه د تګ او خوځېدو څخه منع کوي او په تیاره غار کې یې پټوي. نو خفاش د ورځې پټې سترګې کوي او شپه د څراغ په شان نیسي، چې د هغې په تیاره کې خپله روزي لټوي. د شپې توره تیاره یې سترګې نه بندوي او د ډېرې تیارې له امله له حرکت نه درېږي. کله چې لمر راوخېژي او سپیده وخاندي، او د سوسمار تنګې سورى هم روښانه شي، خفاش سترګې پټې کړي او په هغه څه قناعت وکړي چې په شپه کې یې موندلي وي. پاک او منزّه دی هغه الله تعالی چې شپه یې د خفاش لپاره د ورځې په شان روښانه کړې او د روزۍ وسیله یې ګرځولې ده، او ورځ یې د هغه لپاره د شپې په شان د استراحت او آرام وخت ګرځولی دی. او د غوښې وزرونه یې ورته پیدا کړي دي چې د الوتنې پر مهال تري استفاده وکړي؛ دا وزرونه د غوږونو د نرمو برخو په شان دي، بې له ښکو او اصلي رګونو، خو د رګونو ځایونه او نښې پکې ښکاره وینئ. د خفاش لپاره یې دوه وزرونه پیدا کړل، نه دومره نري چې وشلېږي، او نه دومره درانه چې بار شي؛ الوزي په داسې حال کې چې بچي یې ورپورې نښتي وي او مور ته یې پناه وړي. که کښینې، له مور سره کښینې، او که پورته شي، له مور سره پورته کېږي. له خپلې مور نه تر هغه نه جلا کېږي څو یې اندام پیاوړی نه شي او وزرونه یې د الوت توان پیدا نه کړي، او د ژوند لاره او خپلې ګټې وپېژني. نو پاک او منزّه دی هغه الله تعالی چې هر څه یې بې له کومې مخکنۍ ښېګڼې پیدا کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵۶ ـ د بصرې خلکو ته خطاب او د فتنو یادونه

)دا وینا یې د جمل له جګړې وروسته، په ۳۶ هجري کال کې، د بصرې خلکو ته وفرمایله(.

ای د بصرې خلکو! د فتنو د راپیدا کېدو پر مهال، هر څوک چې کولای شي ځان د الله تعالی د اطاعت مصروف کړي، همداسې دې وکړي. که زما پیروي وکړئ، د الله تعالی په خوښه به مو د جنت پر لور بوځم، که څه هم دا لار سخته، ګرانه او له ترخو ډکه وي. خو عایشې ته د ښځینه خیالونو او احساساتو واکمن شو، او کینې یې په سینه کې داسې بلې شوې لکه د اوسپنې بټۍ. که له هغې غوښتل شوي وای چې هغه څه د بل چا په وړاندې وکړي چې زما په وړاندې یې وکړل، هېڅکله به یې نه منل. په هر حال، د هغې لومړنی احترام پر خپل ځای دی، او د اعمالو حساب یې له لوی الله تعالی سره دی.

ای خلکو! ایمان تر ټولو روښانه لار او تر ټولو رڼا لرونکی څراغ دی. د ایمان په وسیله نېکو اعمالو ته لار موندل کېږي، او په نېکو اعمالو سره ایمان ته رسېدلای شو. په ایمان سره علم آبادېږي، او په پوهه سره انسان له مرګه وېرېږي، او په مرګ سره دنیا پای ته رسېږي، او له دنیا څخه د آخرت توښه برابرېږي، او د قیامت په وسیله جنت رانږدې کېږي، او دوزخ د بدکارانو لپاره ښکاره کېږي. د خلکو لپاره له قیامت پرته بل قرارګاه نشته، او ټول د سیالۍ ډګر ته په بېړه روان دي، تر څو وروستي منزل ته ورسېږي.

ګواکې وینم چې ټول له قبرونو راوتلي او خپلو وروستیو کورونو ته روان دي، هر کور په جنت کې د یوه ځانګړي انسان لپاره دی، نه بل څوک پکې منل کېږي او نه له هغه ځایه بل ځای ته انتقال کېږي.

بېشکه امر بالمعروف او نهی عن المنکر د الله تعالی له صفاتو څخه دوه صفتونه دي چې نه اجل رانږدې کوي او نه روزي کموي. پر تاسو لازم دي چې پر قرآن عمل وکړئ، ځکه هغه د الله تعالی ټینګه رسۍ، روښانه رڼا او ګټور شفا دی، داسې چې تنده ماته کوي. څوک چې پرې منګولې ولګوي، ساتل کېږي، او څوک چې پرې ټینګ شي، نجات مومي. نه کېږي چې سمولو ته اړتیا پیدا کړي، او نه باطل ته مایل کېږي چې راګرځول شي. ډېر ځل اوربدل او تکرار یې زړبدای نه شي، او غوږونه یې په اوربدو نه ستړي کېږي. څوک چې په قرآن خبرې وکړي، ریښتیا وایي، او څوک چې پرې عمل وکړي، مخکې کېږي.

(دلته یو سړی پورته شو او ویې ویل: ای امیرالمؤمنین! موږ له فتنې خبر کړه، آیا تا د رسول الله ﷺ نه د فتنې په اړه پوښتنه کړې وه؟ امام (ع) وفرمایل:) کله چې الله تعالی د عنکبوت سورې لومړی او دویم آیت نازل کړ: «آیا خلک ګومان کوي چې یوازې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ووايي ايمان مو راوړی، بې له ازمايښته به پرېښودل شي؟» ما پوهه شوم چې تر څو رسول الله ﷺ زموږ په منځ کې وي، موږ به ازمايښت ته نه لوړو. ما وپوښتل: ای د الله رسول ﷺ! دا کومه فتنه او ازمايښت دی چې الله تعالی پرې تاسې خبر کړي ياست؟ هغه وفرمايل: «ای علي! له ما وروسته به دا امت په فتنه او ازمايښت کې ولوړي.» ما وويل: ای د الله رسول ﷺ! آيا هغه ورځ، د احد په ورځ، کله چې يو شمېر مسلمانان شهيدان شول او شهادت ماته ونه رسېد او پر ما دا خبره سخته تمامه شوه، تاسې راته ونه فرمايل: ای علي! زېرى درته وايم، ځکه شهادت به تا ته راورسيږي؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: «بېشکه دا زېرى به پوره شي، خو هغه وخت به دې صبر څنګه وي؟» ما وويل: ای د الله رسول ﷺ! دا د صبر ځای نه دی، بلکې د زېرې او شکر ځای دی. بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: «ای علي! دا خلک به ژر په خپلو مالونو کې په فتنه او ازمايښت کې ولوړي، په دينداری کې به پر الله تعالی منت وړي، او له دې سره سره به يې د هغه له رحمته هيله وي او د هغه له عذابه به ځان خوندي ګڼي. د درواغجنو شبهاتو او غافلوونکو هوسونو په وسيله به د الله تعالی حرام حلال کړي؛ شراب به د دې په پلمه حلال وګڼي چې دا د انګورو اوبه دي، رشوت به د دې په نامه حلال کړي چې دا ډالۍ ده، او ربا به د دې په نوم روا کړي چې دا سوداګري ده.» ما وپوښتل: ای د الله رسول ﷺ! په هغه وخت کې به زه خلک په کوم ځای کې وګڼم؟ آيا د ارتداد په مقام کې به وي او که د فتنې او ازمايښت په حالت کې؟ هغه وفرمايل: «د فتنې او ازمايښت په حالت کې».

۱۵۷ ـ د تقوا او ځان جوړونې اړتيا

ستاينه د هغه الله ﷻ لايقه ده چې حمد يې د خپل ياد کلي او د خپل فضل او رحمت د زياتوالي سبب او د خپلو نعمتونو او عظمت لاربنود ګرځولی دی. ای د الله بندګانو! زمانه پر راتلونکو هماغسې تېريږي لکه پر تېر شوو چې تېره شوه. څه چې تېر شول بېرته نه راګرځي، او څه چې شته تلپاتې نه دي. د هغې پای د پيل په شان دی، پېښې او بدلونونه يې يو له بل سره ورته دي، او نبۍ يې ښکاره دي. ګواکې د ژوند پای او قيامت تاسې رابولي، لکه اوښ چلوونکی چې خپل بچی راوغواړي. نو هغه څوک چې بې له خپل نفس د حساب نه په بل څه بوخت وي، ځان يې په تيارو کې سرګردان او په هلاکت کې اچولی دی. شيطانانو يې مهار نيولی او سرکښۍ او طغيان ته يې کش کړی، او بد عمل يې په سترګو کې ورته ښکلی کړی دی. نو پوه شئ چې جنت د مخکښانو د لارې پای دی، او دوزخ د هغو خلکو وروستی ځای دی چې سستي کوي.

ای د الله بندګانو! پوه شئ چې تقوا داسې کلکه او نه ماتېدونکې کلا ده، خو فسق او ګناه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې نړېدونکې او خواروونکې مانۍ ده چې د خپلو اوسېدونکو دفاع نه شي کولای، او څوک چې پناه ورته یوسي خوندي نه وي. خبر اوسئ! د پرهېزګارۍ په وسیله د ګناهونو ریښې پرې کېدای شي، او په یقین سره لوړو معنوي درجو ته رسېدلای شئ. ای د الله بندګانو! د الله تعالی په اړه، د الله تعالی په اړه، د خپل نفس په حق کې پام وکړئ، ځکه ستاسې په نزد تر هر څه ګران او ډېر محبوب همدا نفس دی. الله تعالی د حق لار درته ښکاره کړې او سمه لاره یې درته روښانه ساتلې ده، نو یا به بدمرغي درته راونښلي او یا به تلپاتې نېکمرغي درته په تمه وي. نو په دې فنا کېدونکې دنیا کې د تلپاتې آخرت لپاره توښه واخلئ، ځکه تاسې ته د لارې توښې ښوونه شوې، د دنیا له پرېښودو سره امر درکړل شوی، او د قیامت د لارې پر لور راپاڅول شوي یاست. تاسې د هغه کاروان په شان یاست چې په تمه ولاړ وي او نه پوهېږي چې کله به د خوځېدو امر ورکول کېږي. پوه شئ! هغه څوک چې د آخرت لپاره پیدا شوی، له دنیا سره څه کوي؟ او هغه څوک چې ژر به مرګ تري ټول مال یوسي، له دې شتمنۍ سره څه کار لري، او یوازې د هغې د حساب سزا به پرې پاتې وي؟

ای د الله بندګانو! هغه خیر چې الله تعالی یې وعده کړې، پرېښودل کېدونکی نه دی، او هغه شر چې تري یې منع کړې، خوښول کېدونکی نه دی. ای د الله بندګانو! له هغې ورځې ووېرېږئ چې عملونه به پکې وکتل شي، هغه ورځ چې له اضطراب او تشویش ډکه ده او ماشومان پکې زاړه کېږي. ای د الله بندګانو! پوه شئ چې پر تاسې ساتونکي ټاکل شوي، او له خپلو غږو نه مو څارونکي، او ربښتیني لیکونکي لرئ چې ستاسې عملونه ساتي او ستاسې ساهګانې شمېري. نه د شپې تیاره تاسې له هغوی پټولای شي، او نه کلکه دروازه. سبا نن ته ډېر نږدې دی، او نن له خپل هر څه سره تېرېږي، او سبا راځي او ځان وررسوي. ګواکې هر یو مو په ځمکه کې خپل ځانګړي کور ته رسېدلی او هغه کنده کې پروت یاست چې ستاسو لپاره ایستل شوې ده. آه! څه تنها کور، څه وېروونکی ځای، او څه تور تم ځای! ګواکې همدا اوس په صور کې پوکی وشو، قیامت قائم شو، او تاسې د حساب او قضاوت لپاره راویستل شوي یاست، باطلې ګومانونه ختم شوي، پلمې له منځه تللې، حقیقتونه درته ښکاره شوي، او هلته مو بوتلل چې باید وړل شوي وای. نو له عبرتونو پند واخلئ، د زمانې له بدلونونو عبرت واخلئ، او له خبردارووونکو ګټه پورته کړئ.

۱۵۸ ـ د پېغمبر ﷺ فضیلت، د قرآن مقام، او د بني امیه د راتلونکي په اړه خبر

)ځینو شارحانو ویلي چې دا خطبه په کوفه کې ویل شوې ده(.

الله تعالی پېغمبر ﷺ هغه وخت راولېږه چې پېغمبران نه وو، امتونه د غفلت په خوب ویده

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو، او د دوستۍ او انسانيت اړيکې پرې شوې وې. نو پېغمبر ﷺ د خلکو منځ ته راغی، په داسې حال کې چې د پخوانيو پېغمبرانو کتابونه يې تصديق کړل او د داسې «رښا» سره راغی چې انسانان هدايت ته رسوي، او دا رښا قرآن کريم دی. له قرآن نه وغواړئ چې خبرې وکړي؛ هغه به هېڅکله په خپله خبرې ونه کړي، خو زه به تاسو ته د هغه له معارفو خبر درکړم. پوه شئ چې په قرآن کې د راتلونکي علم شته، د تېر وخت خبرونه شته، ستاسې د دردونو شفا پکې ده، او ستاسې د فردې او ټولنيزو چارو سمون پکې دی. کله چې د بني اميه واکمني ټينګه شي، په ښار کې به هېڅ کور او په صحرا کې به هېڅ خېمه نه وي مګر دا چې د بني اميه ظالمان به هلته غم او اندېښنه راوړي او بلا او کينه به خپره کړي. نو په هغه ورځ به د خلکو لپاره نه په آسمان کې د عذر ځای پاتې وي او نه په ځمکه کې مرستندوی، ځکه تاسې نااهلان واکمنۍ ته غوره کړل او حکومت مو په دروغجن ځای کې کېښود. خو ډېر ژر به الله تعالی له بني اميه ظالمانو داسې غچ واخلي چې خوند به يې تر علقم هم تريخ او څښاک به يې له صبر نه هم ډېر زهرجن وي. الله تعالی به له دننه پرې ويره او له بهره پرې توره مسلطه کړي، ځکه دوی د ګناه او نافرمانۍ باروړونکي او د عصيان سپاره دي. زه پرله‌پسې قسم خورم چې له ما وروسته به بني اميه خلافت لکه د سيني لاړې وباسي، او تر هغه وروسته به بيا تر هغه وخته چې شپه او ورځ ګرځي د حکومت خوند و نه څکي.

۱۵۹ ـ د خپل حکومتدارۍ ځانګړنې

)امام (ع) په کوفه کې خلکو ته وفرمايل(.

له تاسو سره مې په نېکۍ ژوند کړی، او د خپل توان تر بريده مې له هر لوري ستاسې ساتنه کړې ده، تاسې مې د غلامۍ او ذلت له کړيو خلاص کړي ياست، او د ظلم له زنځيرونو مې وژغورلئ، تر څو زما ډېر شکر د ستاسې د لږې نېکۍ په بدل کې وي، او د ستاسې د ډېرو بدیو ستر ګې پټول وي، هغه بدۍ چې ما په خپلو سترګو ولیدې او په خپل بدن مې لمس کړې.

۱۶۰ ـ الله پېژندنه، الهي پېغمبران، او د رسول الله ﷺ د ژوند لاره

)په ۳۷ هجري کال کې، په کوفه کې، کله چې يې خلک د صفين او د شاميانو پر ضد جګړې ته هڅول، وفرمايل(.

د الله تعالی حکم قطعي قضا او حکمت دی، او د هغه رضا د امنيت او رحمت سبب ده؛ پر علم حکم کوي او په حلم او زغم ښېنه کوي. ای الله تعالی! ستا لپاره حمد دی پر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه چې اخلي، او پر هغه څه چې ورکوي، او پر هغه څه چې شفا ورکوي او يا پرې ازمويئه کوي؛ داسې حمد چې تر ټولو ډېر ستا خوښي، ستا په نزد محبوب، او غوره وي؛ داسې حمد چې ستا مخلوقات پرې ډک شي، او تر هغه چې ته وغواړې دوام وموميء؛ داسې حمد چې له تا پټ نه وي او ستا حضور ته له رسېدو نه پاتې نه شي؛ داسې حمد چې شمېر يې نه ختمېږي او دوام يې نه پرې کېږي. ای الله تعالی! مونږ ستا د لويۍ حقيقت نه پېژنو، مګر دومره پوهېږو چې ته ژوندی يې او هېڅا ته اړ نه يې، نه درونده خوب او نه سپک خوب تا نيسي، هېڅ فکر تا نه احاطه کوي، او هېڅ سترګه دې نه وينې، خو ته سترګې وينې، د انسانانو عملونه شمېرې، او د پښو او ټنډو واګې ستا په لاس کې دي. ای الله تعالی! هغه څه چې مونږ ستا له پيدا کولو وينو او ستا د قدرت له کبله پرې حيرانېږو او ستا لويي پرې ستايو، د هغو شيانو په پرتله ډېر لږ دي چې له مونږ پټ دي، سترګې مو يې له ليدلو عاجزې دي، عقلونه مو يې له درک کولو ناتوان دي، او د غيب پردې زمونږ او د هغوی ترمنځ غوړېدلې دي. نو هغه څوک چې زړه له هر څه خالي کړي او فکر په کار واچوي څو پوه شي چې تا څنګه د قدرت عرش ټينګ کړی او پديدې دې څنګه پيدا کړې، او اوبه دې څنګه خپرې کړې، سترګې يې حيراني شي، عقل يې سرګردانه شي، غوږ يې ګډوډ شي، او فکر يې حيران پاتې شي.

هغه په ګومان ځان د الله تعالی هيلهمن بولي! په الله تعالی قسم، دروغ وايي. په هغه کې څه خبره ده چې د اميد نښه يې په عمل کې نه ښکاري؟ نو هر څوک چې د الله تعالی هيله لري بايد دا هيله يې په عمل کې ښکاره وي. هره هيله بې له الله تعالی نه ناخالصه ده، او هره ويره بې له الله تعالی نه ناسمه ده. ځينې خلک په لويو کارونو کې پر الله تعالی هيله تړي، خو په وړو کارونو کې د الله تعالی بندګانو ته مخه کوي؛ نو د بندګانو حق ادا کوي، خو د الله تعالی حق ضايع کوي. ولې د الله تعالی په حق کې کمي راځي او د بندګانو حق تر هغه زيات مراعاتېږي؟ آيا وېرېږې چې په خپله هيله کې به دروغجن شي؟ يا الله تعالی دې د اميد تړلو وړ نه ښکاري؟ دا دروغجن هيلهمن، که د الله له بنده ووېرېږي، حق يې داسې ساتي لکه د خپل رب حق يې چې نه ساتي. نو خپله ويره د بندګانو لپاره چمتو کوي، او د الله تعالی په اړه ويره يوازې يو نه پوره کېدونکی وعده ګڼي. او همدا د هغه کس حال دی چې دنيا يې په سترګو کې لويه شوې او ارزښت يې په زړه کې زيات شوی، نو دنيا يې پر الله تعالی مقدمه کړې او د دنيا بنده ګرځېدلی دی.

ستا لپاره د رسول الله ﷺ د ژوند طريقه کافي ده، چې د دنيا د عيبونو او رسواييو د پېژندلو لپاره بسه لارښود دی، ځکه دنيا له هر لوري تر پېغمبر ﷺ راګرځول شوې او نورو ته پراخه شوې وه، هغه د دنيا له شيدو ونه څښلې او د هغې له زينتونو لېرې و. که غواړې، د موسی (ع) ژوند هم درته بيان کړم، هغه چې ويل يې: «ای الله تعالیه! هر خير چې راولېږې، زه ورته اړ يم.» په الله قسم، موسی (ع) له يوه توټه ډوډۍ پرته بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه نه غوښتل، ځکه له ځمکې د راټوکېدلو سبو نه به يې خوړل، تر دې چې د هغه د بدن د نريوالي له کبله به د سبزيو شنه رنګ د نس له شا ښکاره و. او که غواړې، د داود (ع) خبره درته وکړم، د هغه چې د جنتيانو د نغمو ځښتن و، چې په خپلو لاسونو به يې د خرما له پانو زنبيلونه جوړول، او له خپلو ملګرو به يې پوښتنه کوله: څوک دا زنبيل پلوري؟ او د هماغې بيې په بدل کې به يې د وربشو ډوډۍ خوړله. او که غواړې، د عيسى بن مريم (ع) خبره درته وکړم، چې ډبره يې بالښت وه، وړيني جامې يې اغوستې، وچه ډوډۍ يې خوړله، لوږه يې خورش وه، د شپې څراغ يې سپوږمۍ وه، او د ژمي سرپناه يې د ختيځ او لوېديځ ځمکه وه. د هغه ميوه او ګل هماغه شنه بوټي وو چې ځمکه يې د څارويو لپاره راشينوي. نه يې ښځه درلوده چې په فتنه کې يې واچوي، نه اولاد چې غمجن يې کړي، نه مال چې مصروف يې کړي، او نه طمع چې ذليل يې کړي. د هغه سپرلي د هغه دواړه پښې وې او خادم يې خپل دواړه لاسونه وو.

نو خپل ځان د خپل پاک او سپېڅلي پېغمبر ﷺ په لاره روان کړه، ځکه د هغه لاره د لار غوښتونکو لپاره ښه بېلګه ده، او د هغه په پيروي کې عزت دی د هغه چا لپاره چې عزت غواړي. د الله تعالى په نزد تر ټولو محبوب بنده هغه دی چې د خپل پېغمبر ﷺ پيروي وکړي او پر قدمونو يې قدم کښېږدي، کنه له هلاکت نه به خوندي نه وي، ځکه الله تعالى محمد ﷺ د قيامت نښه، د جنت زېرى ورکوونکى او د دوزخ وېروونکى ګرځولى دى. هغه له دنيا ووت په داسې حال کې چې ګډه يې وړې وه او روغ رمټ آخرت ته داخل شو، نه يې مجلل مانۍ جوړې کړې، تر دې چې دنيا يې پرېښوده او د خپل رب بلنه يې ومنله. څومره لوى نعمت دى چې الله تعالى موږ ته د پېغمبر ﷺ په بعثت راکړ! داسې مخکښ او لارښود يې راولېږه چې بايد ورپسې ولاړ شو او لاره يې تعقيب کړو. په الله قسم، ما دا وړين کميس دومره وصله کړى چې له وصله کوونکي مې شرم راځي. چا راته وويل: دا نه غورځوې؟ ما وويل: له ما لرې شه، ځکه د شپې د رهرو ستاينه په سهار کې کېږي.

۱۶۱ ـ د پېغمبر ﷺ او اهل بيتو (ع) وصف او د تقوا سپارښتنه

الله تعالى خپل پېغمبر ﷺ له روښانه نور، ښکاره برهان، روښانه لارې او هدايت کوونکي کتاب سره راولېږه. د هغه کورنۍ تر ټولو غوره کورنۍ ده، او د هغه د وجود ونه تر ټولو غوره ونه ده، چې څانګې يې برابرې او مېوې يې تېټې او د ټولو لاسرسى ورته شته. د هغه زېږېدنه مکه او هجرت يې مدينه ده، دواړه پاک او سپېڅلي دي، هلته يې نوم لوړ شو او بلنه يې هر لورې ته ورسېده. الله تعالى هغه له بشپړ او بس برهان، يعنې قرآن، شفا ښونکو نصيحتونو او جبران کوونکي بلنې سره راولېږه. د پېغمبر ﷺ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

رالېږلو سره يې ناپېژندل شوي شرعيتونه وپېژندل، په دينونو کې ورننوتي بدعتونه يې پرې کړل او الهي احکام يې بيان کړل. نو هر څوک چې له اسلام پرته بل دين غوره کړي، بېشکه بدمرغي يې ثابته ده، له الله تعالی سره يې تړاو پرې شوی، لوېدنه يې درنه ده او پايله يې نه ختمېدونکی غم او دردناک عذاب دی. زه پر الله تعالی توکل کوم، داسې توکل چې ببرته ورګرځېدل ورته وي، او له هغه نه لاره غواړم، داسې لاره چې جنت ته ورسوي او د هغه خوښې ته پای وموميِ.

ای د الله بندګانو! زه تاسې د الله تعالی له وېرې او د هغه د اطاعت سپارښتنه کوم، ځکه همدا د سبا د نجات او د تلپاتې خلاصون وسيله ده. الله تعالی تاسې هماغسې وپرولي ياست لکه چې بايد، او هماغسې يې هيله درکړې لکه چې ښايي، او دنيا، د هغې بېارزښتي، فنا کېدنه او بدلېدنه يې درته بيان کړې ده. نو له هغو شيانو مخ واړوئ چې په دنيا کې مو حيرانوي، ځکه ستاسې پاتې کېدل پکې لږ دي. دنيا د الله تعالی له غضب سره تر ټولو نږدې او د هغه له رضا نه تر ټولو لرې ځای دی. نو ای د الله بندګانو! د دنيا له غم، مصروفيت او بوختياوو نه سترګې پټې کړئ، ځکه تاسې د هغې په بېلتون او بدلونونو يقين لرئ. او لکه مهربان دوست چې د خپل ملګري د ژغورنې لپاره نصيحت کوي، همداسې خپل ځان له دنيا لرې وساتئ. له هغو کسانو عبرت واخلئ چې تر تاسې مخکې تېر شوي دي، څنګه يې د بدن غړي سره وشلېدل، سترګې او غوږونه يې له منځه ولاړل، عزت او عظمت يې له يادونو ووته، او ټول نعمتونه، هوساينې او خوشحالۍ يې پای ته ورسېدې، تر دې چې د اولادونو نږدېوالی په ليرېوالي او له لاسه ورکولو بدل شو، او د مېرمنو ملګرتيا په بېلتون بدله شوه. نور نه يو پر بل ويارِي، نه اولاد راوړي، نه يو بل وينيِ، او نه يو د بل تر څنګ ژوند کوي.

نو ای د الله بندګانو! داسې ځان وساتئ لکه هغه څوک چې پر خپل نفس غالب وي، پر خپلو شهوتونو بريالی وي، او په خپل عقل سره سم نظر کوي، ځکه د انسان لاره ښکاره ده، بيرغ پورته دی، سړک هوار دی او لار روښانه او نېغه ده.

۱۶۲ ـ د خلافت د غصب لاملونه او د معاويه له ظلمونو شکايت

)په ۳۷ هجري کال کې په صفين کې، د بني اسد يو سړي وپوښتل: تاسې له داسې امامت نه څنګه ليرې کړای شوئ چې تر ټولو ډېر ورته وړ ياست؟ امام (ع) وفرمايل(:

ای د بني اسد وروره! ته اندېښمن او بېځايه پوښتنه کوونکی سړی يې، خو د خپلولۍ حق لرې او د پوښتنې حق هم لرې، او بېشکه د پوهېدو غوښتونکی يې. نو پوه شه چې هغه ظلم او استبداد چې زموږ پر خلافت وټپل شو، سره له دې چې زموږ نسب لوړ و او له رسول الله ﷺ سره زموږ خپلوي تر ټولو ټينګه وه، يوازې ځانغوښتنه او انحصارطلبۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه؛ يوه ډله په بخيلانه ډول د خلافت څوکۍ ته ونښته، او بله ډله په سخيمزاجۍ سره تري لاس په سر شوه. قاضي الله تعالى دى، او زمونږ ټولو ورستنېدنه د قيامت ورځې ته ده. دلته يې د امرء القيس دا شعر ولوست: «د هغو غلو د لوټ كيسه پرېږده، او د آس د غلا هغه عجيبه كيسه را په ياد كړه».

راځه د ابو سفيان د زوى كيسه راپه ياد كړه، چې زماني زه وخندولم وروسته له دې چې وژړولم. په الله تعالى قسم، دا د حيرانتيا ځاى نه دى؛ خبره دومره عجيبه ده چې حيرانتيا له منځه وړي او كږوالي زياتوي. خلكو هڅه وكړه د الله تعالى نور د هغه په څراغ كې مړ كړي، او د حقيقت د صافې چينې خوټې كړي، ځكه دوى زما او خپل ځان ترمنځ اوبه خړې كړې. كه د ازموينې كړاو له مورږ او له دې خلكو لرې شي، زه به يې په داسې لارې بوځم چې سر تر پايه حق وي، او كه بل ډول وشي... «نو په دوى پسې خپل ځان له غمه مه هلاكوه، الله تعالى پر هغه څه ښه پوهېږي چې دوى يې كوي».

۱۶۳ ـ الله پېژندنه او د انسان د پيدايښت عجايب

)ځينو شارحانو ليكلي چې دا خطبه په كوفه كې ويل شوې ده(.

ستاينه د هغه الله تعالى لپاره ده چې بندګان يې پيدا كړي، ځمكه يې غوړولې، په تيټو ځمكو كې يې اوبه رواني كړې، او په غرونو او لوړو غونډيو كې يې بوټي راشنه كړي دي. نه د هغه د پيل لپاره كوم پيل شته او نه د هغه د ازليت لپاره پاى. هغه د هر څه پيل او تلپاتې دى، او بې له زمان او مودې پاتې كېدونكى دى. د بندګانو ټنډې د هغه د عظمت پر وړاندې پر خاورو پرتې دي، او شونډې يې د هغه د يووالي په اقرار خوځېږي. د پيدايښت پر مهال يې هر مخلوق ته حد او اندازه وركړه، څو د هغه د بېنهايته وجود لپاره كوم سيال نه وي. ګومانونه الله تعالى د اندازو، حركتونو، غړو او وسايلو په معيار نه شي تللاى. نه ويل كېداى شي: الله تعالى له كله و؟ او نه دا چې تر كله به وي؟ هغه څرګند موجود دى چې نه شي ويل كېداى له څه څخه دى؟ او پټ حقيقت دى چې نه شي ويل كېداى په كوم ځاى كې دى؟ نه جسم دى چې پاى ولري، او نه داسې پټ دى چې څه شى يې راچاپېر كړى وي. نه دومره نږدې دى چې له مخلوق سره ونښلي، او نه دومره لرې دى چې تري پرې وي. د بندګانو د سترګو ځير كتل، د هغوى د شونډو خوځېدل، د غونډۍ پر سر ختل، د شپې په تياره كې تګ، يا د سپورمۍ په رڼا كې ګرځېدل، او د لمر راختل او لوېدل چې شپه او ورځ ورسره بدلېږي او وخت ورسره اوړي، له هغه پټ نه دي. الله تعالى له هرې پاى او مودې وړاندې او له هر حساب او شمېر نه لوړ دى. هغه تر هغو صفاتو او اندازو لوړ دى چې عاجز عقلونه يې د مخلوقاتو په څېر انګېري، او له هغو ځايونو هم لوړ دى چې ورته ټاكي، ځكه حد او اندازه د مخلوق لپاره ده، نه د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعالی لپاره.
هغه مخلوقات له ازلي او ابدي موادو نه دي پيدا کړي، بلکې له نيستۍ يې هستۍ ته راوستي، هر يو ته يې اندازه ورکړې او په تر ټولو غوره بڼه يې جوړ کړي. هېڅ شی يې د امر سرغړونه نه کوي، او هغه د کوم شي له اطاعته ګټه نه اخلي. د تېر شوو مړو په اړه د هغه علم د اوسنيو ژوندیو په شان دی، او د پاسنيو آسمانونو په اړه يې علم د لاندې ځمکو په شان دی.
ای انسانه! ای نېغ ولاړ مخلوقه! ای هغه چې د مينډو د رحمونو په تيارو او پرلهپسې پردو کې ساتل شوی وې! ستا د پيدايښت پيل له خټو او ګِلو و، بيا دې په يوه ارامه ځای کې تر ټاکلي مودې او معلومه پای پورې ځای ونيوه. کله چې د خپلې مور په ګېډه کې خوځېدې، نه دې بلنې ته ځواب ورکولای شو، نه دې غږ اورېده. بيا دې له خپل ځايه راويستلې او داسې کور ته دې راوستلې چې نه دې ليدلی و او نه دې د ګټې لارې پېژندلې. نو څوک و چې تا يې د مور له سينې د شيدو رودلو ته لارښوونه وکړه؟ او د اړتيا پر مهال يې د غوښتلو ځايونه دروښوول؟ هېڅکله نه! هغه څوک چې د يوې مخلوقې د وصف په بيانولو کې، سره له شکل، اندازې او وسايلو، عاجز وي، بېشکه د خپل الله تعالی د وصف له بيانولو لا ډېر عاجز دی، او د مخلوقاتو په حدونو او اندازو د الله تعالی له پېژندنې لا ډېر لرې دی.

۱۶۴ ـ عثمان ته خبرداری

)په ۳۴ هجري کال کې خلک د امام (ع) چاپېره راټول شول، له عثمان نه يې شکايت وکړ او له امامه يې وغوښتل چې له هغه سره خبرې وکړي څو له خپلو تېروتنو لاس واخلي(.
خلک زما تر شا ولاړ دي او زه يې ستا او خپل منځ کې منځګړی ګرځولی يم. په الله تعالی قسم، زه نه پوهېږم چې تا ته څه ووايم! داسې څه نه پوهېږم چې ته پرې نه پوهېږې. نه غواړم تا داسې څه ته لارښوونه وکړم چې ته يې نه پېژنې. ته هماغه څه ليدلې دي چې مونږ ليدلي، هماغه دې اورېدلي چې مونږ اورېدلي، او له رسول الله ﷺ سره ته هم هماغسې وې لکه مونږ. د ابو قحافه زوی «ابوبکر» او د خطاب زوی، د حق په عمل کې تر تا غوره نه وو. ته له رسول الله ﷺ سره تر هغوی په خپلولۍ کې نږدې يې، او د هغه زوم شوې، حال دا چې هغوی نه شول.
نو له الله تعالی ووېرېږه، له الله تعالی ووېرېږه! په الله تعالی قسم، ته ړوند نه يې چې بينا دې کړي، او نه ناپوه يې چې تعليم دې کړي. لارې روښانې دي او د دين نښې ولاړې دي. نو پوه شه چې د الله تعالی په نزد تر ټولو غوره بنده عادل امام دی، چې پخپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

هدایت شوی وي او نور هم هدایت کړي، پېژندل شوی سنت راژوندی کړي، او نااشنا بدعت مړ کړي. سنتونه روښانه دي او نبۍ یې ښکاره دي، بدعتونه هم څرګند دي او نبۍ یې هم ولاړې دي. او د الله تعالی په نزد تر ټولو بد انسان ظالم مشر دی، چې پخپله ګمراه وي او نور هم ګمراه کوي، منل شوی سنت له منځه وړي او پرېښودل شوی بدعت راژوندی کوي. ما له رسول الله ﷺ نه اورېدلي چې ویل یې: «د قیامت په ورځ به ظالم مشر راوستل شي، داسې چې نه به مرستندوی لري او نه به ځوک تري ببنښه غواړي، بیا به اور ته وغورځول شي، او هلته به د ژرندې د تیرې په شان څرخي، تر دې چې دوزخ تل ته به ورسېږي او هلته به په زنځیرونو ټرل کېږي».

زه تا ته د الله تعالی په نوم قسم درکوم چې د دې امت هغه وژل شوی امام مه جوړېږه، ځکه له پخوا ویل کېدل: «په دې امت کې به داسې امام ووژل شي چې د وژنو دروازه به تر قیامته پرانیستل شي، د امت کارونه به پرې ګډوډ شي، فتنې او فساد به پکې زیات شي، تر دې چې حق به له باطله نه شي بېلولای، او خلک به پکې په سختۍ ډوب وي.» د مروان لپاره داسې غنیمت شوی حیوان مه اوسه چې هر لوري ته دې بوځي، سره له دې چې ستا له عمره ډېر کلونه تېر شوي او تجربه دې تر لاسه کړې ده.

عثمان وویل: له خلکو سره خبرې وکړه چې ماته مهلت راکړي څو د هغه ظلم جبران وکړم چې ورباندې شوی دی. امام (ع) وفرمایل: هغه څه چې په مدینه کې دي، مهلت ته اړتیا نه لري، او هغه څه چې له مدینې بهر دي، تر هغه به صبر کوي څو دې امر ور ورسېږي.

۱۶۵ ـ د طاووس د پیدایښت عجایب او د جنت وصف

)ځینو شارحانو لیکلي دي چې دا خطبه په کوفه کې ویل شوې ده(.

الله تعالی له خوځېدونکو او بېساه موجوداتو، له ارامو او بېقرارو پدیدو، عجیبه مخلوقات پیدا کړي دي، او د خپل لطیف صنعت او ستر قدرت داسې نبۍ او بېلګې یې درولې دي چې ټول عقلونه یې اعتراف ته اړ کړي او د هغه فرمان ته یې سر ټیټ کړی دی، او زمور په غوږونو کې یې د خپل توحید د دلیلونو اواز انګازې کوي. هماغسې یې راز راز مرغان پیدا کړل، او د ځمکې په درزونو، د درو په سوریو او د غرونو پر څوکو کې یې ځای پر ځای کړل، له بېلابېلو وزرونو او بېلابېلو شکلونو او بڼو سره، چې واګې یې د هغه په لاس کې دي؛ داسې مرغان چې په خپلو وزرونو سره د پراخې فضا او لویو هوایي تشو په منځ کې الوزي.

هغوی یې له نیستۍ څخه په عجیبو بڼو او هیئتونو پیدا کړل، او هډوکي یې د غوښو تر پټو بندونو لاندې سره ونښلول. ځینې مرغان چې درانه بدنونه لري، له لوړ او لرې الوتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې منع کړل، داسې چې په درونده او ارام ډول ځمکې ته نږدې وزر وهي. مرغان يې د خپل قدرت په لطافت او د صنعت په دقت سره په بېلابېلو رنګونو رنګين کړل؛ ځينې يې يوازې په يوه رنګ ښايسته کړل چې بل رنګ پکې لار نه لري، او ځينې نور يې په داسې متضادو رنګونو کې ډوب کړل چې يوازې د غاړې چاپېره يې لکه ځوړند طوق له ټول بدن سره بل رنګ لري.

او د مرغانو له خورا عجيبو پيدا شوو څخه طاووس دی، چې هغه يې په خورا متوازن او مضبوط شکل پيدا کړی دی، او د هغه د وزرو او بڼکو رنګونه يې په تر ټولو ښکلو رنګونو سنبال کړي دي؛ داسې ښکلي وزرونه يې ورکړي چې بڼکې يې پر يو بل هواړې پرتې دي، او اوږده لکۍ يې داسې ده چې کله د خپلې مادې پر لور ځي، هغه د چترۍ په شان پرانيزي او پر خپل سر يې سيوری جوړوي، ګواکې د کښتۍ بادبان دی چې کښتۍ چلوونکي پورته کړی وي.

طاووس په خپلو ښکلو رنګونو ناز کوي، او په خوشالۍ او ناز خپل ښايسته لکۍ دې خوا او هغې خوا ته اړوي، او د خپلې مادې لوري ته په بېړه ورځغلي؛ د چرګ په شان ټوپونه وهي، او د شهوت له مست نر څاروي په شان له خپلې جوړې سره يوځای کېږي. زه دا حقيقت د ليدلو له مخې وايم، نه د هغه چا په شان چې پر کمزوري روايت تکيه وکړي. که څوک ګومان وکړي چې د طاووس مادې د نر له سترګو راوتلې اوښکې څښي او بې له ملاپ نه په هماغو اوښکو هګۍ اچوي، دا بېښنټه افسانه ده؛ خو تر هغې عجيبه نه ده چې ځينې وايي: «نر زاغ مادې ته په مښوکه کې خواړه ورکوي او همدا د زاغ د حامله کېدو سبب کېږي«!

ګواکې د طاووس د بڼکو نلونه له سپينو زرو جوړې شوې ږمنځې دي، او هغه کړيکړۍ، د لمر په شان ګردې نښې چې پر بڼکو يې دي، له خالص سرو زرو او د زبرجد له ټوټو اوبدل شوې دي. که د طاووس د بڼکو رنګونه د ځمکې له راټوکېدلو بوټو سره تشبيه کړې، نو وايې به چې دا د پسرلي د رنګارنګ ګلونو يو ښکلی ګيډی دی. که يې له جامو سره پرتله کړې، نو لکه رنګارنګ او نقش‌دار ښکلي ټوټې او يا د يمن قيمتي پردې ښکاري. که يې له ګانو سره پرتله کړې، نو لکه رنګارنګ قيمتي کانې دي چې په د سپينو زرو په تړانګه کې پر جواهراتو ښايسته شوي وي. طاووس چې په ځان ويارې او په غرور ګرځي، خپل لکۍ او ښکلي وزرونه ګوري، نو د خپلې جامې او د بڼکو د رنګونو په ښکلا خوشالېږي؛ خو چې کله خپلو پښو ته وګوري، داسې اواز باسي لکه ژاړي، چيغې وهي، ګواکې فرياد کوي، او دا د هغه د دروني درد ربښتينی شاهد دی، ځکه د طاووس پښې د دوه رګه چرګ د پښو په شان نرۍ او بدرنګه دي، او د پنډۍ په يوه اړخ کې يې يو پټ نوک راټوکېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طاووس د غاړې پر سر د يال پر ځای شين رنګه او نقش‌دار کاکل راټوکېدلی دی، او د غاړې برآمدګي يې د يوې نفيسې او نقش‌دارې ابريقې په شان ده، او له ستوني څخه تر ګېډې پورې يې داسې رنګ شوی لکه د يمن وسمه، يا لکه ځلېدونکې ورېښمين ټوټه، يا لکه شفافه هېنداره چې پرده ورباندې اچول شوې وي. د غاړې شاوخوا يې ګواکې تور شال پروت وي، خو د دې تور رنګ د تازه‌والي او ښايست له امله داسې ښکاري لکه له پياوړي شين رنګ سره ګډ شوی وي، او د غوږ تر څنګ ځانګړې ښکلا لري.

کم داسې رنګ به ومومندل شي چې طاووس يې په بدن کې نه وي لرلی، يا يې په صيقل، ځلا او ځلک کې تر نورو لوړ نه وي. طاووس لکه هغه ګلان دي چې د پسرلي باران او د لمر تودوخه په روزنه کې يې ډېر رول نه لري. او تر دې هم عجبه دا ده چې کله نا کله خپل ښکلي ښکې وباسي او تن يې لوڅ شي، ښکې يې يو په بل پسې توېږي او بيا نوې راټوکېږي. د هغه ښکې د مني د پانو په شان توېږي، بيا ښېرته وده کوي او يو له بل سره نښلي، تر دې چې ښېرته پخوانی رنګ او ښکلا مومي، داسې چې د نوو او توی شوو ښکو ترمنځ هېڅ توپير نه وي، او هېڅ رنګ په بل ځای کې نه راټوکېږي. که د طاووس يوې ښکې ته ځير شې، يوه شيبه به د ګل په شان سره ښکاري، بله شيبه به د زبرجد په شان شنه، او کله به د خالص سرو زرو په شان زېړه ښکاري.

نو ژور فکرونه او ډېر هڅاند عقلونه څنګه کولای شي چې دا ټول حقيقتونه درک کړي؟ او د توصيف کوونکو خبرې څنګه دا ټول ښکلاوې په نظم راولي؟ آن د طاووس د تر ټولو کوچني غړي په درک کې ګومانونه عاجز دي او ژبې يې په ستاينه کې بندېږي. نو ستاينه د هغه الله تعالی لپاره ده چې عقلونه يې د هغو ښکاره پديدو د وصف کولو له وړتيا عاجز کړي چې د خلکو تر سترګو دي؛ داسې محدود مخلوق چې خلک يې د ظاهري جوړښت، رنګونو او ټاکلو پولو په وسيله پېژني، خو بيا هم ژبې يې د بشپړ وصف له بيانولو عاجزې دي او له حقيقي توصيف څخه پاتې راځي. نو بيا الله تعالی به څنګه درک شي؟

پاک او لوړ دی هغه الله تعالی چې د مېړې او کوچني مچ په اندامونو کې يې پښې پيدا کړې، او تر دې لويو ژوو لکه د سمندر کبانو او سترو پيلانونه يې هم پيدا کړل، او پر ځان يې لازم کړې ده چې هېڅ ژوی په خپل بدن کې پرېښږدي او سم يې اداره نه کړي، مګر دا چې د هغه د وعدې ځای به مرګ وي او د لارې پای به يې نيستي وي.

که د زړه په سترګه هغه څه ته وګورې چې د جنت په اړه درته بيان شوي دي، نو د نفس خواهشونه، د ژوند خوندونه، او ښکلي منظرې به پرېږدي، او که فکر دې د جنت په ونو بوخت کړې چې ښاخونه يې تل خوځېږي، ريښې يې د مشک په غونديو کې پټې دي او د جنت د ويالو پر غاړو خړوبېږي، او له وړو او لويو څانګو يې د شفافو ملغلرو خوشې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځورندې دي، او بېلابېلې مېوې له خپلو پوښنونو راوتلې دي، نو حيران او سرګردان به شي. د جنت هغه له مېوو ډکې څانګې چې بې له زحمته لاندې راکړېږي او هر څوک چې وغواړي پرې مېوه راشکوي؛ د جنت خدمتګاران د هغه د اوسېدونکو او د هغوی د مانيو په شاوخوا راګرځي او په پاکو شاتو او خوږو څښاکونو يې مېلمه کوي. هغوی هغه کسان دي چې تل د الله تعالى له کرامته برخمن وي تر هغه چې په خپل تلپاتې کور کې ځای پر ځای شي او د سفرونو له لېږد رالېږد نه آرام ومومي.

ای اورېدونکيه! که خپل زړه د هغو ښکلو منظرو پر فکر بوخت کړې چې په جنت کې به يې وينې، نو روح به دې په ډېر شوق سره د هغه لوري ته والوزي، او له دې مجلسه به د قبرونو د اوسېدونکو ګاونډ ته په بېړه ولاړ شي. الله تعالى دې مور او تاسې په خپل فضل له هغو کسانو وګرځوي چې په زړه او ځان د نېکانو د مقام د ترلاسه کولو لپاره هڅه کوي.

۱۶۶ ـ د متقابل درناوي اړتيا، د بني اميه راتلونکی، او د امتونو د بريا او ماتې لاملونه

)د مرحوم کليني رحمه الله د روضه کافي د نقل له مخې، دا خطبه په مدينه کې ويل شوې ده(.

ستاسې کشران بايد له مشرانو پيروي وکړي، او مشران بايد پر کشرانو مهربان وي، او د جاهليت د ظلم کوونکو په شان مه کېږئ، هغه کسان چې نه يې له دين څخه پوهه لرله او نه يې د الله تعالى په اړه فکر کاوه. د مرغانو په ځالو کې د مار د هګيو په شان مه اوسئ، ځکه ماتول يې ګناه ده او ساتل يې شر او زيان دی، ځکه له هغې نه د چرګوړي پر ځای مار راوزي. مسلمانان له يووالي او وروروليِ وروسته په بېلتون او تفرقې اخته شول، او له خپلې ريښې او اصل نه خپاره شول. يوازې يوې ډلې د توحيد د ونې څانګه ونيوله او هر لوري ته چې مخه شوه، ورسره يو ځای شوه. خو الله تعالى به ډېر ژر مسلمانان د بني اميه د تر تولو بدې ورځې لپاره راټول کړي، لکه څنګه چې د مني په موسم کې د وربڅو ټوټې راټولېږي. الله تعالى به د مسلمانانو ترمنځ الفت پيدا کړي او د خپرو وربڅو په شان به يې يو موټی کړي، بيا به د بريا دروازې ورته پرانيزي، داسې چې لکه يو زورور سېلاب به له خپل ځايه راوخوځي. لکه د «عرم سېلاب» چې د سبا ښار دوه باغونه يې وران کړل، او هېڅ غونډۍ او لوړ ځای يې نه پرېښود، نه لوړو غرونو او نه سترو اوچت ځايونو د هغه پر وړاندې مقاومت وکړ. الله تعالى به بني اميه لکه اوبه د درو او ويالو په منځ کې پټ او خپاره کړي، بيا به يې لکه چينې پر ځمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوباسي، څو د ځينو خلکو حق له ځينو نورو واخلي، او ځينو ته به ځواک ورکړي چې د نورو په کورونو کې واوسي. په الله تعالی قسم، بني اميه به له بريا او واکمنۍ وروسته هر څه له لاسه ورکړي، لکه څنګه چې غوړ پر اور ويل کيږي.

ای خلکو! که تاسې د حق له مرستې لاس نه وای اخيستی، او د باطل د کمزورې کولو په برخه کې مو سستي نه وای کړې، هيڅکله به هغو کسانو چې ستاسې په اندازه نه وو، ستاسې د تباه کولو تمه نه لرله، او هيڅ زورور به پر تاسې نه و غالب شوی. خو تاسې د بني اسرائيلو د امت په شان په حيرانۍ او سرګردانۍ کې ولوېدئ. په خپل ځان قسم، له ما وروسته به ستاسې سرګرداني لا زياته شي، ځکه له حقه مو شا واړوله، له رسول الله ﷺ له نږدې خپلوانو مو ځان پرې کړ او پردیو ته مو ځان ورنږدې کړ. خبر اوسئ! که مو د خپل امام اطاعت کړی وای، تاسې به يې پر هغه لاره روان کړي وای چې رسول الله ﷺ پرې تللی و، او د بې‌لارۍ له غمه به مو خلاصون موندلی و، او درنې ستونزې به مو له اوږو کوزې شوې وای.

۱۶۷ ـ وصيت او نصيحت

)دا وينا د خلافت په پيل کې، په ۳۵ هجري کال کې، ويل شوې ده، او ليکل شوي چې د حضرت لومړۍ وينا وه(.

الله تعالی يو هدايت کوونکی کتاب راولېږه، چې ښه او بد، خير او شر يې پکې څرګند بيان کړل. نو د نېکۍ لاره خپله کړئ، څو هدايت ومومئ، او له شر او بدۍ ځان وساتئ، څو پر سمه لاره ودرېږئ. واجبات! واجبات! د واجباتو په ادا کولو کې سستي مه کوئ، ځکه همدوی به مو جنت ته ورسوي. الله تعالی داسې څيزونه حرام کړي چې پټ نه دي، او داسې څيزونه يې حلال کړي چې له عيبه پاک دي، او په دې منځ کې يې د مسلمان حرمت تر هر حرمت اوچت کړی، او د مسلمانانو د حقونو ساتنه يې د اخلاص او توحيد په وسيله ټينګه کړې ده. نو مسلمان هغه دی چې مسلمانان يې له ژبې او لاسه خوندي وي، مګر هلته چې حق وي، او د مسلمان ځوروول روا نه دي مګر په هغه څه کې چې واجب وي.

مرګ ته، چې ټولو ته عام دی او له هر يوه نه مو د تېښتې لار نشته، په بېړه ورنږدې شئ. خلک ستاسې مخې ته روان دي، او قيامت له شا مو رابولي. سپک بار شئ څو کاروان ته ورسېږئ، ځکه مخکې تلونکي د شاته پاتې کسانو په تمه دي. له الله تعالی ووېرېږئ او تقوا خپله کړئ، ځکه تاسې د الله تعالی په وړاندې د هغه د بندګانو، ښارونو، کورونو او څارويو په اړه مسؤل ياست. د الله تعالی اطاعت وکړئ او د هغه له امره سرغړونه مه کوئ. که خير وويني، غوره يې کړئ، او که شر وويني، تری لیرې شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۶۸ ـ د عثمان پر ضد د پاڅون کوونکو د سزا غوښتنه او د امام (ع) ځواب

)د ۳۵ هجري کال د خلکو له بیعت وروسته، یو شمېر صحابه وویل: کاش د عثمان پر ضد پاڅېدلي خلک دې سزا کړي وای. امام (ع) وفرمایل(:
ای ورونو! زه له هغه څه بېخبره نه یم چې تاسې پرې پوهېږئ، خو د دې د عملي کولو ځواک له کومه تر لاسه کړم؟ هغوی له وسلې او ځواک سره راپاڅېدلي دي، پر موږ برلاسي دي، او موږ پرې ځواک نه لرو. همدا اوس ستاسې غلامان له هغوی سره ګډ شوي، او د اطرافو کوچیان هم ورسره یو ځای شوي دي. هغوی ستاسې په منځ کې ژوند کوي، او هره ستونزه چې وغواړي پر تاسې تپي. آیا تاسې د خپل مطلوب د عملي کولو وس لرئ؟ دا پېښه د جاهلیت له ډول پېښو څخه ده، او یاغیان ملاتړي لري. که د سزا ورکولو لپاره کوم خوځښت پیل شي، خلک به څو ډلو ته ووېشل شي: یوه ډله ستاسې غوښتنه مني، بله ډله ستاسې پر خلاف فکر کوي، او بله نه دا خوښوي او نه هغه. نو صبر وکړئ، څو خلک ارام شي، او مضطرب زړونه پر خپل ځای راشي، او له لاسه تللي حقوق په نرمي بېرته واخیستل شي. اوس ما آرام پرېږدئ، او زما د امر په انتظار کې اوسئ. داسې کار مه کوئ چې زموږ ځواک کمزوری کړي، د امت اقتدار ولړزوي، او کمزوري او ذلت وزېږوي. زه به تر خپله وسه دا سیاسي بهیر مهار کړم، خو که بله د حل لاره ونه مومم، له هغوی سره به جګړه وکړم، ځکه وروستۍ درملنه کله ناکله داغ وهل وي.

۱۶۹ ـ د جمل د اصحابو په اړه او د ناکثینو د توطئې افشا

)دا وینا یې په ۳۶ هجري کال کې، د اصحابو د بصرې پر لور د حرکت پر مهال، وفرمایله(.
الله تعالی خپل لارښود پېغمبر ﷺ له خبرې کوونکي کتاب او ټینګ دستور سره راولېږه. نه هلاک کېږي مګر هغه څوک چې تباهکار وي. په شئ چې بدعتونه د حق په رنګ کې رابنکاره شوي او هلاکوونکي دي، مګر دا چې الله تعالی مو وساتي. بېشکه الهي حکومت ستاسې د چارو ساتونکی دی، نو خپل کارونه بې له نفاق او بې له کرکې خپل امام ته وسپارئ. په الله تعالی قسم، که د حکومت او امام په اطاعت کې اخلاص ونه لرئ، الله تعالی به د اسلام دولت له تاسې واخلي، او بیا به هېڅکله بېرته درته و نه ګرځي او د نورو په لاس کې به پاتې شي.
بېشکه ناکثین، یعنې عهد ماتوونکي، زما له حکومته د ناخوښۍ له امله له یو بل سره یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای شوي دي، او زه به تر هغه صبر وکړم چې د ستاسې د ټولنیز یووالي پر وړاندې خطر احساس نه کړم، ځکه که هغوی ته د خپلو موخو د عملي کولو فرصت برابر شي، د اسلامي ټولنې نظام به ولړزېږي. هغوی د هغه چا پر وړاندې د حسد له امله چې الله تعالی حکومت ورکړی دی، د دنیا د لاسته راوړلو لپاره راپاڅېدلي دي. غواړي کارونه تېر حالت ته بېرته وګرځوي.

هغه حق چې تاسي یې پر موږ لرئ دا دی چې د الله تعالی په کتاب، یعنې قرآن، عمل وکړو، د رسول الله ﷺ سنت ژوندی وساتو، حق قائم کړو، او د هغه سنتونه راژوندي کړو.

۱۷۰ ـ د بصرې د استازي سره خبرې او د امام (ع) د هدایت طریقه

)د ۳۶ هجري کال، د بصرې د جګړې له مخې مخکې، د عربو یوې ډلې «کُلیب جَرمي» د ناکثینو له لورې د استازي په توګه د امیرالمؤمنین علي (ع) حضور ته ولېږه، څو د جګړې د علت او د امام د دریځ حقیقت وپوهېږي. امام (ع) له هغه سره داسې خبرې وکړې چې حقیقت ورته روښانه شو. بیا امام ورته وفرمایل چې بیعت وکړه. هغه وویل: زه د یوې ډلې استازی یم، تر څو هغوی ته ستانه نه شم، هېڅ کار نه شم کولای. امام (ع) وفرمایل(:

که هغوی تا لېږلی وای چې د باران د وریدو ځای معلوم کړې، بیا ته بېرته ورستون شوی وای او هغوی ته دې د شنو بوټو، اوبو او حاصلخېزې ځمکې خبر ورکړی وای، خو هغوی مخالفت کړی وای او غوښتل یې چې وچې او بې‌اوبې ځمکې ته ولاړ شي، نو ته به څه کول؟

هغه وویل: زه به هغوی پرېښودل او د اوبو او شنو بوټو لورې ته به تللم.

امام (ع) وفرمایل: نو خپل لاس د بیعت لپاره وغځوه.

هغه سړي وویل: په الله قسم، کله چې حق راته روښانه شو، د مخالفت توان مې نه درلود، نو له امام علي (ع) سره مې بیعت وکړ.

۱۷۱ ـ د صفین د جګړې په درشل کې د امام (ع) دعا او د جګړې لپاره د ځواکونو چمتو کول

)دا دعا د ۳۷ هجري کال د صفر په اوومه، د صفین د جګړې په درشل کې، د قاسطینو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ضد وویل شوه(.
ای د لوړ آسمان او ساتل شوې فضا خدایه! هغه چې آسمان دې د شپې او ورځې د پیدا کېدو ځای، د لمر او سپوږمۍ د ګرځېدو مسیر، او د ستورو د تګ راتګ لاره ګرځولې ده، او د خپلو پرښتو لپاره دې ځای جوړ کړی چې ستا له عبادته نه ستړي کېږي؛
ای د دې ځمکې ربه! چې دا دې د انسانانو د اوسېدو ځای، د حشراتو او څارویو د ګرځېدو میدان، او د بې‌شمېره ښکاره او پټو مخلوقاتو ځای ګرځولی دی؛
او ای د لوړو او ټینګو غرونو ربه! چې دا دې د ځمکې لپاره د میخونو په شان کلک کړي، او د مخلوقاتو لپاره دې د ډاډ تکیه ګرځولي دي.
که ته موږ پر دښمن بریالي کړې، نو له ظلم او تېري مو وساته او پر حق مو ټینګ ودره؛ او که هغوی پر موږ بریالي کړې، نو شهادت راپه برخه کړه او له کینې، فساد او فتنو څخه مو وساته.
چېرته دي هغه ازاد خلک چې د خپل قوم د ملاتړ لپاره راپورته شي؟
چېرته دي هغه غیرتي کسان چې د بلاوو او ستونزو پر مهال مبارزه وکړي؟
ای خلکو! شرم او سپکاوی ستاسې تر شا دی، او جنت ستاسې مخې ته دی.

---

۱۷۲ ـ د قریشو غندنه د خلافت په مسئله کې او د اصحاب جمل څخه شکایت

)دا خبرې د ۴۰ هجري کال په شاوخوا کې د تاریخ د حقیقت د څرګندولو لپاره ولیکل شوې(.
ستاینه د هغه الله لپاره ده چې نه آسمان د بل آسمان له خبر څخه منع کوي، او نه ځمکه د بلې ځمکې له خبر څخه.
د شورا په ورځ یو سړي راته وویل: «ای د ابوطالب زویه! ته د خلافت لپاره ډېر حریص یې».
ما ورته وویل: په الله قسم، تاسې ډېر حریص یاست، سره له دې چې له رسول الله ﷺ څخه لرې یاست، خو زه تر تاسې ډېر وړ او تر رسول الله ﷺ ډېر نږدې یم. زه یوازې خپل حق غواړم، خو تاسې زما او زما د حق ترمنځ خنډ شوئ او زما لاس مو رد کړ.
کله چې مې د حاضرینو په منځ کې په روښانه دلیل هغه مغلوب کړ، نو حیران شو او نه پوهېده څه ووایي.
ای الله! زه له قریشو او له هغو ټولو نه چې د هغوی مرسته یې کړې، تا ته شکایت کوم، ځکه هغوی زما د خپلولۍ اړیکه پرې کړه، زما لوړ مقام یې کوچنی وباله، او د زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حق په غصب کې سره یو ځای شول، بیا یې وویل: د حق یوه برخه باید واخیستل شي او یوه برخه باید پرېښودل شي.
او هغوی، یعني طلحه، زبیر او د هغوی ملګري، پر ما راپاڅېدل، او د رسول الله ﷺ مېرمن عایشه یې له ځان سره داسې بوتله لکه یوه وینځه چې بازار ته بیول کېږي. خپلې ښځې یې تر پردې لاندې ساتلې، خو د رسول الله ﷺ د حرم ښځه یې د خلکو مخې ته راوستله.
دوی داسې لښکر راټول کړ چې ټول یې له ما سره بیعت کړی و، بې له جبر او په خپله خوښه. بصرې ته له رسېدو وروسته یې زما پر والي، د بیت المال پر ساتونکو او د بصرې پر خلکو برید وکړ؛ ځینې یې شکنجه کړل او ځینې یې په چل ووژل.
په الله قسم، که دوی یوازې یو بېګناه کس هم عمداً وژلی وای، د ټولو وژل به یې راته روا وو، ځکه ټول حاضر وو، انکار یې ونه کړ، او له مظلوم څخه یې په لاس او ژبه دفاع ونه کړه، حال دا چې ناکثینو د خپلو عسکرو په شمېر بېوسه خلک ووژل.

---

۱۷۳ ـ د رسول الله ﷺ ځانګړني او د اسلامي مشر لپاره د حق له دښمنانو سره د جګړې اړتیا

)د شواهدو له مخې دا وینا په مدینه کې شوې ده(.
د اسلام پېغمبر ﷺ د وحی امین، د پېغمبرانو خاتم، د رحمت زېرې ورکوونکی او د عذاب وېرووونکی دی.
ای خلکو! د خلافت تر ټولو وړ کس هغه دی چې د حکومت په ټینګولو کې پیاوړی وي او د الله تعالی په حکمونو ډېر پوه وي؛ څو که فتنه راپورته شي، هغه ښېرته حق ته راوګرځوي، او که سرغړونه وکړي، ورسره جګړه وکړي.
په خپل ځان قسم، که د مشر ټاکلو شرط دا وي چې ټول خلک حاضر وي، نو هېڅکله به دا کار ترسره نه شي؛ بلکې پوه او د صلاحیت خاوندان، یعني د حل او عقد اهل، مشر ټاکي، او د هغوی پرېکړه پر نورو مسلمانانو لازمه وي. وروسته نه بیعت کوونکي حق لري چې ښېرته نظر بدل کړي، او نه غایب خلک حق لري بل انتخاب وکړي.
خبر اوسئ! زه له دوو کسانو سره جګړه کوم:
یو هغه چې د داسې څه دعوه کوي چې د هغه نه وي،
او بل هغه چې د حق له ادا کولو انکار کوي.
ای د الله بندګانو! زه تاسې د تقوا سپارښتنه کوم، ځکه تقوا د بندګانو لپاره تر ټولو غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصيت او د الله په نزد تر ټولو ښه پای دی.
اوس د اهل قبله ترمنځ د جګړې اور بل شوی، او دا بیرغ یوازې هغه څوک پورته کولای شي چې پوه، صابر او د حق ځای پېژندونکی وي.
نو هغه څه وکړئ چې امر درته کېږي، او له هغه څه ودرېږئ چې تري منع کېږئ، او تر هغه مه بیړه کوئ څو کار روښانه شي، ځکه په هغو کارونو کې چې تاسي یې نه خوښوئ، مور د بدلون توان لرو.
پوه شئ! دا دنیا چې تاسي یې هیله لرئ او ورته مخه کوئ، ستاسي د تل لپاره کور نه دی، او نه هغه ځای دی چې تاسي ورته پیدا شوي یاست. دنیا که له یوې خوا تاسي غولوي، له بلې خوا مو وېرېږي. نو د هغې له غولونې سترګې پټې کړئ، او د هغې له وېرووني عبرت واخلئ.
هغه کور ته بیړه وکړئ چې ورته بلل شوي یاست، له دنیا زړه وباسئ، او د هغې د له لاسه ورکولو لپاره د وینځو په شان مه ژاړئ. د الله د اطاعت په صبر او د کتاب د حکمونو په ساتلو سره د الله نعمتونه پر ځان بشپړ کړئ.
خبر اوسئ! هغه څه چې د دین د ساتلو لپاره له لاسه ورکوئ، تاوان نه دی، او هغه څه چې د دین په تباه کولو لاس ته راوړئ، ګټه نه لري.
الله دې زمور او ستاسي زړونه د حق پر لور واړوي او صبر راکړي.

۱۷۴ ـ د جمل د جګړې په درشل کې د طلحه د دروغجنو ادعاوو افشا کول

)په ۳۶ هجري کال کې د جمل د جګړې له مخې مخکې وویل(.
تر اوسه هېڅکله څوک ما له جګړې نه دی وېرولی او نه مې د توري له ګوزار څخه ویره کړې ده. زه د خپل رب د وعده شوي بریا پر باور ټینګ ولاړ یم.
په الله قسم، طلحه بن عبیدالله د عثمان د وینې د غچ لپاره پاڅون نه دی کړی، مګر دا چې وېره یې لرله چې د عثمان وینه به تري وغوښتل شي، ځکه د عثمان په قتل کې تر ده ډېر حریص څوک نه و.
هغه د خلکو د شک اچولو لپاره دا دروغجنې خبرې وکړې.
په الله قسم، طلحه باید د عثمان په اړه له دریو کارونو څخه یو کړی وای:
که عثمان ظالم و، لکه څنګه چې هغه ګومان کاوه، نو باید له قاتلانو سره یو ځای شوی وای او د عثمان له ملاتړو نه لیرې شوی وای؛
او که عثمان مظلوم و، نو باید د هغه د وژلو مخه یې نیولې وای او د خلکو د قهر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

آرامولو لپاره يې عذر وړاندې کړی وای؛
او که شک يې درلود، نو بايد له خلکو ليرې شوی وای او ځان يې ګوښه کړی وای.
خو هغه له دې دريو څخه هيڅ يو ونه کړ، بلکې داسې کار يې وکړ چې نه يې دليل درلود او نه يې عذر د خلکو د منلو وړ و.

۱۷۵ ـ د يارانو نصيحت

)ځينو شارحانو ليکلي چې دا خطبه هغه وخت وفرمايل شوه چې امام (ع) د مدينې د جومات ستنې ته تکيه کړې وه(.
ای بې‌خبره خلکو! چې هيڅکله له حسابه نه ياست خلاص، او ای د الهي فرمانونو پرېښودونکو! چې د خپلو ټولو کارونو پوښتنه به درنه کېږي!
تاسې ته څه شوي چې له خپل رب نه مو مخ اړولی او بل لوري ته مو ميلان کړی؟
تاسې د هغو څارويو په شان ياست چې شپون يې په وبا وهلې دښته او ناروغو اوبو ته پرېږدي. د هغو پسونو په شان ياست چې د قصاب د چرې لپاره چمتو شوي وي، خو خپله نه پوهيږي. هر کله چې هغوی ته لږ ښه وابنه ورکړل شي، يوه ورځ د ټول عمر په شان ګڼي، او ژوند يوازې د نس په ډکولو کې وينې.
په الله قسم، که وغواړم، کولی شم هر يو له تاسې د ژوند له پيل نه تر پايه، او د هغه له ټولو حالاتو خبر کړم، خو وپرېږم چې له دې خبرو وروسته د رسول الله ﷺ په اړه کافر شئ.
پوه شئ! زه دا درانه رازونه يوازې خپلو باوري او راز ساتونکو يارانو ته سپارم.
قسم په هغه الله چې محمد ﷺ يې په حق راولېږه، زه بې له ربښتيا خبرې نه کوم. رسول الله ﷺ ماته هر څه راښودلي، د هغه چا د هلاکت ځای يې راته ويلي چې هلاک کېږي، او د هغه د نجات ځای چې ژغورل کېږي، او د دې حکومت پای يې هم راته ښودلی دی. هيڅ پېښه پر ما نه ده تېره شوې مګر دا چې په غوږ کې يې راته وويل او خبر يې راکړ.
ای خلکو! په الله قسم، زه تاسې هيڅ اطاعت ته نه رابولم مګر دا چې مخکې مې خپله پرې عمل کړی، او له هيڅ ګناه مو نه منع کوم مګر دا چې مخکې مې خپله پرېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷۶ ـ د خلکو نصیحت د خپل خلافت په اړه او د الهي فرمانونو د اطاعت اړتیا

)دا وینا د ۳۵ هجري کال په لومړیو ورځو کې، د خلافت په پیل کې، په مدینه کې وفرمایل شوه(.

ای خلکو! له هغه څه ګټه واخلئ چې الله تعالی بیان کړي، او د هغه له نصیحتونو پند واخلئ، ځکه الله تعالی په روښانه دلیلونو د عذر لاره بنده کړې او حجت یې پر تاسې تمام کړی دی. هغه کارونه یې بیان کړي چې خوښوي او هغه چې نه یې خوښوي، څو له نېکۍ پیروي وکړئ او له بدۍ ځان وساتئ.

رسول الله ﷺ به تل فرمایل:

»جنت د سختیو په منځ کې دی، او دوزخ د خواهشونو په منځ کې دی«.

پوه شئ! هېڅ اطاعت نشته مګر دا چې د نفس لپاره درونده وي، او هېڅ ګناه نشته مګر دا چې د نفس لپاره خوږه وي. نو د الله رحمت دې پر هغه وي چې خپل شهوت مات کړي او نفس مهار کړي، ځکه تر ټولو سخت کار د نفس له خواهش څخه ځان ساتل دي، ځکه نفس تل د ګناه غوښتنه کوي.

ای د الله بندګانو! مؤمن شپه او ورځ نه تېروي مګر دا چې خپل نفس ملامتوي، ځان ګناهکار ګڼي او ځان تر حساب لاندې نیسي. نو په دنیا کې د پخوانیو نېکانو په شان اوسئ، هغوی چې له تاسې مخکې ولاړل، لکه مسافر چې خیمه راټوله کړي او پر لاره روان شي.

پوه شئ! دا قرآن داسې نصیحت کوونکی دی چې دروغ نه وایي، داسې لارښود دی چې نه بېلارې کوي، او داسې ویونکی دی چې دروغ نه وایي. هېڅوک له قرآن سره ملګری نه شو مګر دا چې هدایت یې زیات شو او له ړندوالي او ګمراهۍ یې کم شو.

پوه شئ! څوک چې قرآن ولري، بېنیازه کېږي، او څوک چې قرآن ونه لري، هېڅکله به بېنیازه نه شي. نو خپل علاج له قرآن څخه وغواړئ، او په سختیو کې تري مرسته وغواړئ، ځکه په قرآن کې د سترو ناروغیو درملنه ده، لکه کفر، نفاق، سرکشي او ګمراهي.

په وسیله د قرآن له الله وغواړئ، او د قرآن په مینه الله ته ورنږدې شئ، او د قرآن په وسیله له خلکو څه مه غواړئ، ځکه د بندګانو لپاره تر قرآن غوره وسیله نشته.

پوه شئ! د قرآن شفاعت قبولېږي، او خبره یې منل کېږي. هغه چې قرآن یې شفاعت وکړي، ښنل کېږي، او هغه چې قرآن پرې شکایت وکړي، محکوم دی.

د قیامت په ورځ به غږ کوونکی ووایي:

»پوه شئ! نن هر څوک د خپل کښت او عمل له پایلې سره مخ دی، مګر هغه چې عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د قرآن سره سم وي«.
نو تاسې د قرآن له عمل کوونکو شئ، له قرآن پيروي وکړئ، په قرآن الله وپېژنئ، ځان په قرآن نصيحت کړئ، او خپل نظر د قرآن پر وړاندې متهم وبلئ.

عمل صالح! عمل صالح!
بيا د راتلونکي فکر! د راتلونکي فکر!
بيا استقامت! استقامت!
بيا صبر! صبر!
او تقوا! تقوا!
د هر چا لپاره ټاکلې پای شته، نو په نېک عمل سره ورته ورسېږئ.

د هدايت بيرغ درته پورته شوی، پرې هدايت وموميئ،
اسلام هدف لري، ورته ورسېږئ،
او د واجباتو په ادا کولو د الله حق ادا کړئ،
ځکه وظيفې درته بيان شوې دي،
او زه ستاسې پر اعمالو شاهد يم،
او د قيامت په ورځ به ستاسې په ګټه شاهدي ورکړم.

پوه شئ! هغه څه چې مقرر شوي وو، واقع شول، او د الله اراده پوره شوه.
زه د الله پر وعدو او روښانه دليلونو تکيه کوم، چې فرمايي:
»هغه کسان چې وايي زموږ رب الله دی، او بيا ټينګ پاتې شي، پر هغوی فرښتې نازليږي او وايي: مه وېرېږئ او مه غم کوئ، او د هغه جنت زېرى واخلئ چې درسره وعده شوې ده«.

نو تاسې وويل: زموږ رب الله دی،
نو د الله د کتاب پر حکم، د هغه پر لار، او د هغه د بندګۍ پر سمه طريقه ټينګ پاتې شئ،
بدعت مه کوئ،
او له لارې مه وځئ،
ځکه چې د الله له حکم څخه وتونکي د قيامت په ورځ د رحمت څخه لرې دي.

خپل اخلاق مه خرابوئ، او بد خوی مه خپلوي.
ژبه او زړه سره برابر وساتئ.
انسان بايد خپله ژبه وساتي، ځکه سرکښه ژبه انسان هلاکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په الله قسم، ما داسې پرهېزګار نه دی لیدلی چې تقوا ورته ګټه کړې وي، مګر دا چې خپله ژبه یې ساتلې وي.
د مؤمن ژبه د زړه تر شا وي،
او د منافق زړه د ژبې تر شا وي.

مؤمن چې خبرې کول غواړي، لومړی فکر کوي،
که ښه وي، وایي،
او که بد وي، پټوي.
خو منافق هر څه وایي چې پر ژبه راشي.

رسول الله ﷺ وفرمایل:
»د بنده ایمان نه ټینګیږي تر څو زړه یې ټینګ نه شي،
او زړه نه ټینګیږي تر څو ژبه ټینګه نه شي«.

نو هر څوک چې غواړي له الله سره داسې مخامخ شي چې لاس یې د مسلمانانو له وینې او مال پاک وي، او ژبه یې د خلکو له آبرو خوندي وي، نو همداسې دې وکړي.

ای د الله بندګانو!
مؤمن هغه دی چې د الله حلال حلال وبولي او حرام حرام،
او د خلکو بدعتونه حلال نه کړي.

الله تعالی هېڅ شی د قرآن په شان نصیحت نه دی ګرځولی،
قرآن د الله ټینګه رسۍ ده،
د زړه پسرلی دی،
د علم چینې دي،
او د زړه روښنایي یوازې په قرآن سره ده.

نو چېرته نېکي وویني، مرسته یې وکړئ،
او چېرته بد وویني، تري لرې شئ،
ځکه رسول الله ﷺ فرمایل:
»ای د آدم زویه! بنه کار وکړه او بد پرېږده، نو پر سمه لار به وې«.

ظلم درې ډوله دی:
یو داسې چې نه ښبل کېږي ـــ شرک،

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو داسې چې ښنل کېږي ـــ د انسان ګناه پر ځان،
او يو داسې چې بې حسابه نه پاتې کېږي ـــ د خلکو پر خلکو ظلم.

نو په دين کې دوه مخي مه کوئ،
ځکه په حق کې يووالی، که څه هم سخت وي،
له باطل سره له تفرقې نه غوره دی.

نيکمرغه دی هغه څوک چې د خپل نفس عيب ورته بس وي،
او د نورو عيب نه لټوي،
او نيکمرغه دی هغه څوک چې په خپل کور کې بوخت وي،
حلال خوري،
د الله اطاعت کوي،
پر خپلو ګناهونو ژاړي،
په خپل ځان بوخت وي،
او خلک تر يې په امن وي.

۱۷۷ ـ د حکمينو په اړه او د هغوی د خيانت غندنه

)په ۳۸ هجري کال کې، وروسته له دې چې د حکميت دواړو قاضيانو «ابوموسی اشعري او عمرو عاص» خيانت وکړ، امام (ع) وفرمايل(:
د صفين په جګړه کې د شام د خلکو نظر يو شو چې دوه کسان د حکم لپاره وټاکي (ابوموسی اشعري او عمرو عاص)، او موږ له هغوی څخه ژمنه واخيسته چې د قرآن په وړاندې به تسليم وي، له هغه به نه اوړي، د هغوی ژبه به د قرآن سره وي او زړونه به يې د الله د کتاب تابع وي.
خو هغوی له قرآن څخه مخ واړاوه، حق يې په ښکاره ليده، خو پرېښود يې، ځکه ظلم او تېری د هغوی د زړه غوښتنه وه، او کړه لاره د هغوی د فکر طريقه وه.
په داسې حال کې چې د بد حکم او ظالمانه پرېکړې له صادرېدو مخکې مو ورسره شرط کړی و چې په عدل به حکم کوي او پر حق به عمل کوي.
موږ د خپل حق پر حقانيت باور لرو، خو هغوی له حقه ووتل او داسې حکم يې وکړ چې د الله د حکم خلاف و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷۸ ـ د الله د علم او قدرت بيان او د دنيا سره د چلند طريقه

)ويل شوي چې دا خطبه وروسته له هغه وفرمايل شوه چې د حکميت فيصله په «دومة الجندل» کې اعلان شوه(.

هيڅ کار الله له بل کار څخه نه منع کوي، او د زمانې تېرېدل په هغه کې بدلون نه راولي، او هيڅ ځای هغه په ځان کې نه شي نيولای. هيڅ ژبه د هغه د وصف توان نه لري، او هيڅ شی له الله څخه پټ نه دی، نه د اوبو بېشمېره څاڅکي، نه د آسمان ډېر ستوري، نه د خاورو ذرې چې د بادونو سره ګرځي، نه د سختو ډبرو پر سر د مېړيانو تګ، او نه د تيارو شپو کې د کوچنيو مېړيانو پټ ځايونه. الله د ونو د پانو د لوېدو ځای پېژني، او د سترګو پټې حرکتونه هم ور معلوم دي. زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته، هغه شريک نه لري، او هيڅ شک پکې نشته. د هغه دين نه انکار کوم او د هغه په خالقيت ايمان لرم، داسې شاهدي چې نيت يې ربښتينی، زړه يې پاک، يقين يې خالص او د عمل تله يې درنه وي. او شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د الله بنده، رسول او د خلکو له منځه غوره شوی دی. هغه د الهي دين د حقايقو د بيان لپاره غوره شو، او د لوړو اخلاقو په عزت ونازول شو. الله هغه د خپل پيغام د رسولو لپاره وټاکه، د هدايت نښې د هغه په وسيله ښکاره شوې او د جهالت او ګمراهۍ تياره د هغه د نور په وسيله له منځه ولاړه.

ای خلکو! دنيا خپل غوښتونکي غولوي، د خپل مينه‌والو قدر نه کوي، او څوک چې پر دنيا بريالی شي، دنيا يې مغلوبوي. په الله قسم، هيڅ قوم له نعمت او هوساينې څخه محروم نه شو مګر د خپلو ګناهونو له امله، ځکه الله پر بندګانو ظلم نه کوي. که خلک د بلاوو پر مهال، او د نعمتونو د له منځه تلو پر وخت، په ربښتيني نيت الله ته زاری وکړي او په مينه ډک زړونه ور واړوي، نو له لاسه تللي نعمتونه به بېرته ور وګرځي او فساد به اصلاح شي. زه پر تاسې وېرېږم چې په ناپوهۍ او غرور کې ډوب شوي ياست، ځکه پخوا داسې لوري ته بيول شوي ياست چې د ستاينې وړ نه و. خو که په خپل ژوند کې اصلاح راوړئ، نو نېکمرغه به شئ. زما وظيفه يوازې دا ده چې ستاسې د اصلاح لپاره هڅه وکړم، که وغواړم، ستاسې بېمهري به بيان کړم، خو الله دې تېر وخت وبخښي.

۱۷۹ ـ د ذعلب يماني پوښتنې ته د امام (ع) ځواب د الله د ليدلو په اړه

)دا خطبه د ۳۶ هجري کال کې، د جمل له جګړې وروسته، د کوفې په مسجد کې وفرمايل شوه(.

ذعلب يماني وپوښتل: ای اميرالمؤمنين! آيا تا خپل رب ليدلی؟ امام وفرمايل: ايا هغه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

به ولمانځم چې نه يې وينم؟ هغه وويل: څنګه يې وينې؟ امام وفرمايل: سترګې هغه په ښکاره نه شي ليدلای، خو زړونه يې د ربښتيني ايمان په وسيله درک کوي. الله هر څه ته نږدې دی، خو داسې نه چې ورسره نښتی وي؛ له هر څه لرې دی، خو داسې نه چې تر يې جلا وي؛ وينا کوي، خو د فکر او سوچ په وسيله نه؛ اراده کوي، خو د خواهش له مخې نه؛ پيدا کوي، خو په لاس او پښو نه؛ لطيف دی، خو پټ نه دی؛ لوی دی، خو په ظلم نه؛ ليدونکی دی، خو د ظاهري سترګو په شان نه؛ مهربان دی، خو د کمزورۍ له امله نه. مخونه د هغه د عظمت په وړاندې خاورې ته لوېږي، او زړونه د هغه له وېرې بې قراره کېږي.

۱۸۰ ـ د خپلو يارانو غندنه او د کوفيانو د فکري کمزورۍ علت

)په ۳۸ هجري کال کې، د مصر د مرستې لپاره د محمد بن ابی بکر د ملاتړ په اړه، د خپلو يارانو په نکوهش کې وفرمايل(.

الله ستايم پر هغه څه چې غوښتل يې او پر هغه څه چې مقرر کړي يې دي، او د دې لپاره يې هم ستايم چې ما يې ستاسې د کوفيانو سره ازمويلی يم. ای خلکو! کله چې امر درته وکړم، اطاعت نه کوئ، او کله چې مو راوبولم، ځواب نه راکوئ. کله چې مهلت درکړم، په بېهوده کارونو بوخت شئ، او د جګړې پر مهال سست او کمزوري ياست. که خلک د خپل امام شاوخوا راټول شي، طعنه پرې وهئ، او که د ستونزې د حل لپاره مو راوغواړم، ځان شاته کوئ. دښمنانو مو پلار مړ شه! د بريا لپاره د څه انتظار کوئ؟ ولې د خپل حق د اخيستو لپاره جهاد نه کوئ؟ آيا د مرګ انتظار کوئ، که د ذلت؟ په الله قسم، که زما مرګ راورسېږي ـ او خامخا به راورسېږي ـ نو زما او ستاسې ترمنځ به جدايي وشي، په داسې حال کې چې زه له ستاسې له ملګرتيا ستړی يم او ستاسې حضور راته بېګټې دی. الله دې درته خير درکړي! ايا داسې دين نشته چې تاسې سره راټول کړي؟ ايا داسې غيرت نشته چې تاسې د دښمن پر ضد جګړې ته چمتو کړي؟ عجيبه دا ده چې معاويه بد خلک راوبولي، او هغوی پرته له دې چې څه تمه ولري، ورپسې روان شي؛ خو زه تاسې د حق مرستې ته رابولم، په داسې حال کې چې تاسې د اسلام پاتې شوني او د پخوانيو مسلمانانو يادګار ياست، بيا هم له ما څخه خپرېږئ او اختلاف کوئ. نه زما له امره راضي کېږئ، او نه دومره غوسه کېږئ چې زما پر ضد يو موټی شئ. اوس تر ټولو خوښ شی چې هيله يې لرم، مرګ دی. د الله کتاب مې در وښود، د استدلال لار مې در زده کړه، هغه څه مې در وښودل چې نه مو پېژندل، او داسې علم مې در وځښلو چې خوند يې نه درته برابرېده. کاش ړوند ليدلی وای، او ويده راويښ شوی وای! په الله قسم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

څومره ناپوه خلک دي چې مشر يې معاويه وي او ښوونکی يې د نابغه زوی «عمرو عاص» وي!

۱۸۱ ـ د غولېدلو خلکو غندنه او له خوارجو سره د يوځای کېدونکو نکوهش

)په ۳۸ هجري کال کې، د نهروان د جګړې په درشل کې، امام (ع) يو کس ولېږه څو هغه کوفيان وڅاري چې غوښتل يې د خوارجو له لښکر سره يوځای شي. کله چې راستون شو، امام وپوښتل: «ايا خوندي پاتې شول که وتښتېدل؟» هغه وويل: «وېرېدل او له خوارجو سره يوځای شول.» امام وفرمايل(:

د الله له رحمته دې لرې شي، د ثمود د قوم په شان! پوه شئ، که نيزې ورته برابرې شي او تورې پر سرونو ورولوېږي، نو پر خپل تېر کار به پښېمانه شي. نن شيطان هغوی تفرقې ته رابولي، او سبا به تري بېزاره شي او ځان به تري لرې کړي. همدا شرم ورته بس دی چې له هدايت څخه وتښتېدل، په ګمراهۍ او رندوالي کې ولوېدل، د حق لاره يې بنده کړه او په حيرت او سرګردانۍ کې پاتې شول.

۱۸۲ ـ د الله ستاينه، د خلکو نصيحت او د جګړې ته هڅونه، د شهادت نه لږ مخکې

)نوف بکالي روايت کوي چې امام (ع) په ۴۰ هجري کال کې، د ژوند په وروستيو ورځو کې، په کوفه کې پر يوه ډېره ودرېد، د وړې سخت کميس يې اغوستی و، توره يې د خرما د فايبر په پټې ټرلې وه، او په تندي يې د ډېرو سجدو نښه ښکاره وه، او ويې فرمايل(:

ستاينه د هغه الله لپاره ده چې د مخلوقاتو پای او د کارونو انجام ورته ورګرځي. هغه ستايم د لوی احسان، ښکاره دليل، د ډېر فضل او د هغو نعمتونو لپاره چې پر موږ يې لوروللي دي، داسې ستاينه چې حق يې ادا کړي، شکر يې پوره کړي، موږ د ثواب لوري ته نږدې کړي او د هغه احسان زيات کړي.

له الله مرسته غواړو، د هغه چا په شان چې د هغه فضل ته هيله لري، د هغه د بخښش غوښتونکی وي، د زيان له لرې کولو يې ډاډه وي، د هغه قدرت مني او د هغه پر وينا او فرمان باور لري. پر هغه ايمان لرو، د هغه چا ايمان چې په يقين سره ورته هيله لري، په اخلاص ورته مخ اړوي، په پاک ايمان ورته سر ټيټوي، په يکتايۍ يې اعتراف کوي، په ډېر حمد يې لوی ګڼي او په مينه او هڅه ورته پناه وړي.

الله له چا نه پيدا شوی چې شريک ولري، او زوی نه لري چې وارث شي، زمانه تر هغه مخکې نه ده تېره شوې او کمښت او زياتوالی پکې نشته. د هغه د حکيمانه تدبير او منظم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلقت نښې عقلونو ته ښکاره دي.
د هغه له نښو څخه د آسمانونو پیدا کول دي، بې له ستنې او بې له تکیې. هغوی یې اطاعت ته راوبلل او هغوی بې له ځنډه ومنله. که د آسمانونو اقرار د هغه په ربوبیت نه وای، نو نه به یې د عرش ځای ګرځولي وای، نه د پرښتو استوګنځی او نه به د پاکو ویناوو او نېکو اعمالو د پورته کېدو ځای ګرځېدلی.
ستوري یې د لارې ورکو خلکو لپاره د هدایت نښې وګرځولې، څو په وسیله یې لار ومومي. د شپې تیاره د هغوی رڼا نه شي بندولای او نه د سپوږمۍ ځلا پټولای شي.
پاک دی هغه الله چې د ځمکې په درزونو، د غرونو پر څوکو، د تندر په غږ، د بریښنا په ځلا، د تیز باد په چلېدو، د باران په څاڅکو، د پانو په لوېدو، د وړو مچانو په حرکت او د میندو په رحمونو کې د جنین په وده هېڅ شی تري پټ نه دی.
ستاینه د هغه الله لپاره ده چې تل و، مخکې له دې چې عرش، اسمان، ځمکه، انسان او پېریان پیدا شي. عقلونه یې ذات نه شي درک کولای او فکرونه یې اندازه نه شي ټاکلای. ډېرې ورکړې یې شتمني نه کموي، او د لیدلو لپاره سترګو ته اړتیا نه لري، په ځای کې محدود نه دی، شریک نه لري، او د ازمېښت له لارې نه پیدا کوي. له حواسو نه درک کېږي او له خلکو سره نه پرتله کېږي.
هغه الله چې له موسی (ع) سره یې بې له ژبې او بې له غږې خبرې وکړې او خپلې لویې نښې یې وروښودې. ای هغه څوک چې د خپل رب د وصف هڅه کوې! که ربښتینی یې، نو جبرئیل، میکائیل او د مقربو پرښتو لښکرونه وصف کړه چې د قدس په دربار کې سر ټیټ کړي دي او عقلونه یې د الله په درک کې حیران دي. ته یوازې هغه شی درک کولای شې چې شکل، غږې او ټاکلی عمر ولري. نو له الله پرته بل معبود نشته، هغه چې هره تیاره یې په خپل نور روښانه کړې او هر څه چې د هغه له نوره پرته روښانه وو، تیاره کړي یې دي.
ای د الله بندګانو! تاسې ته د تقوا سپارښتنه کوم، هغه الله چې جامې یې در واغوستلې او د ژوند وسایل یې برابر کړل. که د تل ژوند لاره وای یا له مرګه ټېښته ممکنه وای، نو سلیمان بن داود (ع) به داسې کړي وای، هغه چې د پېریانو او انسانانو پاچاهي ورسره وه، خو کله چې عمر یې پای ته ورسېد، د مرګ غشي پرې ورولوېدل، کورونه یې خالي شول او نور خلک یې وارثان شول.
ای خلکو! په تېرو تاریخونو کې ډېر عبرتونه دي. چېرته دي جباران او د هغوی اولادونه؟ چېرته دي د یمن او حجاز پاچاهان؟ چېرته دي فرعونان او د هغوی زامن؟ چېرته دي د «رس» خلک چې د درختو عبادت یې کاوه او پېغمبران یې ووژل او د ظالمانو لاره یې ژوندۍ کړه؟ چېرته دي هغه چې له لویو لښکرو سره ووتل، ښارونه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړ کړل او خلک يې مات کړل؟
زغره د علم پر تن لري، حکمت يې ورک شی دی، تل يې لټوي. کله چې اسلام کمزوری شي او لکه ستړی اوښ شي، هغه به پټ شي، هغه د الله د حجتونو پاتې شوی او د پيغمبرانو وروستی ځای ناستی دی.
ای خلکو! ما هغه نصيحتونه درته بيان کړل چې پيغمبرانو خپلو امتونو ته کول، او هغه دندې مې ترسره کړې چې د هغوی وصيانو ترسره کولې. تاسې مې په تازيانه ووهل، سمه لاره مو ونه نيوله، په نصيحت مې راوښلل، راټول نه شوئ. ايا انتظار کوئ چې بل مشر راشي او حق درته وښيي؟
پوه شئ! دنيا شا کړه او آخرت مخ ته راغی، نېک بندګان د تل لپاره روان شول، دنيا يې په آخرت بدله کړه. هغه ورونه چې په صفين کې ووژل شول زيان يې ونه کړ، هغوی الله ته ورسېدل او الله هغوی ته امن ورکړ.
چېرته دی عمار؟ چېرته دی د تيهان زوی؟ چېرته دي هغه ملګري چې د حق پر لاره ولاړل؟
(بيا يې ږيره ونيوله او ډېر وژړل:) افسوس پر هغو ورونو چې قرآن يې ولوست، پر هغه يې عمل وکړ، سنت يې ژوندی کړ، بدعت يې مړ کړ، جهاد ته يې لبيک ووايه او پر خپل امام يې باور وکړ.
بيا يې په لوړ غږ وفرمايل: جهاد! جهاد! ای د الله بندګانو! زه نن لښکر تياروم، څوک چې غواړي د الله لوري ته لاړ شي، له موږ سره دې ووځي.
نوف وايي: د حسين (ع) لپاره يې لس زره، د قيس بن سعد لپاره لس زره، د ابوايوب لپاره لس زره او نورو ته هم لښکرونه تيار کړل، او د صفين د تګ نيت و، خو له جمعې مخکې ابن ملجم پرې ګوزار وکړ، لښکر بېرته لاړ، او موږ د هغو پسونو په شان شو چې شپون يې له لاسه ورکړی وي او لېوان له هر لوري ورته خوله پرانيزي.

۱۸۳ ـ د الله ستاينه، د قرآن ارزښت، د خلکو نصيحت او د پرهېزګاری سپارښتنه

ستاينه د هغه الله لپاره ده چې وپېژندل شو، بې له دې چې ولېدل شي، او پيدا يې کړل بې له دې چې ستړيا او زحمت پرې راشي. په خپل قدرت يې مخلوقات پيدا کړل، او په خپل عزت يې سرکښان خپل بندګان کړل، او په خپلې ورکړې يې پر ټولو لويانو برتری وموندله. هماغه الله دی چې دنيا يې د خپلو مخلوقاتو د اوسېدو ځای وګرځوله، او خپل پيغمبران يې د پيريانو او انسانانو د هدايت لپاره راولېږل، څو دنيا خلکو ته هماغسې وروپېژني لکه څنګه چې ده، د دنيا له زيانونو يې ووېروي، او د بېلګو په راوړلو سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنیاپالنې عیبونه ورته څرګند کړي، او هغه څه ورپه یاد کړي چې د عبرت وړ دي، لکه روغتیاوې او ناروغۍ، حلال او حرام، او هغه څه چې الله تعالی د خپلو مطیعو او نافرمانو بندګانو لپاره په جنت او دوزخ کې برابر کړي دي، چې یا د عزت وسیله ده او یا د سپکاوي او غورځېدو. زه الله تعالی هماغسې ستایم لکه څنګه چې ده له خپلو بندګانو غوښتي دي، او هغه د هر څه لپاره اندازه ټاکلې ده، د هرې اندازې لپاره یې موده ټاکلې ده، او د هرې مودې لپاره یې حساب مقرر کړی دی.

قرآن داسې امر کوونکی دی چې له بدۍ منع کوي، داسې چوپ دی چې خبرې کوي، او د الله تعالی حجت دی پر مخلوقاتو. الله تعالی له بندګانو نه د قرآن د عملي کولو ژمنه اخیستې او هغوی یې د هغه د حکمونو پابند کړي دي. د قرآن رڼا یې بشپړه کړه او خپل دین یې په هغه سره کامل کړ، او خپل پیغمبر ﷺ یې هغه وخت له دنیا یووړ چې د قرآن د احکامو له تبلیغه فارغ شوی و. نو الله تعالی هماغسې لوی وګڼئ لکه څنګه چې خپله یې بیان کړي دي. الله تعالی له خپل دین څخه هېڅ شی پټ نه دی ساتلی، او هېڅ داسې څه یې نه دي پرېښي چې یا یې خوښ وي او یا یې پرې غضب وي، مګر دا چې د هغه لپاره یې بنکاره نښه او ټینګه آیه ایښې ده، څو خلک یا ورته راوبولي او یا تري منع شي. نو د الله تعالی رضا او غضب پخوا او اوس یو شان دي.

پوه شئ، الله تعالی به له تاسې هېڅکله په هغه کار نه راضي کېږي چې پر پخوانیو یې پرې غضب کړی و، او په هغه کار به نه غضبېږي چې له پخوانیو پرې راضي و. تاسې پر بنکاره لار روان یئ، او د پخوانیو خبرې تکراروئ. الله تعالی ستاسې د دنیا اړتیاوې بسیا کړې دي، او تاسې یې شکر ته راوبللئ، او خپل یاد یې ستاسې پر ژبو لازم کړ.

الله تعالی تاسې ته د تقوا سپارښتنه کړې ده، او دا یې د خپلې خوښۍ وروستۍ درجه او له بندګانو خپله غوښتنه ګرځولې ده. نو له هغه الله تعالی نه ووېرېږئ چې تاسې یې په وړاندې حاضر یئ، ستاسې واګې د هغه په لاس کې دي، او ستاسې ټول حالات او حرکتونه تر نظر لاندې لري. که څه پټ کړئ، هغه پرې پوهېږي، او که یې بنکاره کړئ، ثبتوي یې. د اعمالو د ثبت لپاره یې لویې پرښتې ګمارلې دي، چې نه حق هېروي او نه باطل لیکي. پوه شئ، څوک چې تقوا خپله کړي او له الله تعالی ووېرېږي، له فتنو ژغورل کېږي، او د هدایت په رڼا له تیارو وځي، او جنت او هغه څه ته رسېږي چې خوښ یې لري، او تل به پکې وي. الله تعالی به هغه د خپل کرامت په کور کې ځای پر ځای کړي، هغه کور چې د الله تعالی ځانګړی دی، چت یې عرش دی، رڼا یې د الله تعالی له جماله ده، مېلمانه یې پرښتې دي، او ملګري یې الهي پیغمبران دي. نو د قیامت پر لور بېړه وکړئ، او له مرګ نه مخکې ځانونه چمتو کړئ، ځکه ناڅاپه د خلکو هیلې پرې کېږي، مرګ یې تر خولې نیسي، او د توبې دروازه تړل کېږي. تاسې نن د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو پر ځای ژوند کوئ چې له تاسې مخکې وو، ناڅاپه ولاړل، او له مرګه وروسته يې د بېرته راګرځېدو غوښتنه وکړه. ای خلکو! تاسې د لارې د مسافرو په شان يئ، چې د کوچ امر درته شوی دی. دنيا ستاسې اصلي کور نه دی، بلکې د توښې راټولولو ځای دی.

پوه شئ، دا نری پوستکی د دوزخ د اور تاب نه لري. نو پر ځان رحم وکړئ. تاسې د دنيا مصيبتونه ليدلي دي. آيا نه مو دي ليدلي چې ستاسې له خپلوانو يو څوک د بدن د يوې اغزې، د پښې د ټپې کېدو، يا د تودو شګو له امله څومره کړېږي؟ نو څنګه به څوک د دوو پوړونو اور ترمنځ، د سرو ډبرو ترڅنګ، د شيطان ملګرې شي او دا به وزغمي؟ آيا پوهيږئ چې کله د دوزخ ساتونکی پر اور غضب وکړي، لمبې پر يو بل راولوېږي او سره وجنګېږي، او کله چې پرې ناري وکړي، د جهنم د دروازو ترمنځ هر لوري ته ژبې وباسي؟ ای بوډا سړي، چې زړښت دې ټوله هستې نيولې ده! ستا حال به څنګه وي هغه وخت چې د اور طوقونه پر غاړو واچول شي، او د اور زنځيرونه لاسونو او غاړو ته ولوېږي، داسې چې د لاسونو غوښې وخوري؟

نو له الله تعالی ووېرېږئ، ای د خلکو ټولی! تر هغه چې روغ ياست، نه ناروغ، او تر هغه چې په پراخې کې ياست، نه په تنګلاسۍ کې. په خپلې ازادۍ کې هڅه وکړئ مخکې له دې چې د امیدونو دروازې وتړل شي. د شپو په تيارو کې په ويښه کېدو او د نس له ډکولو څخه په ځان ساتلو سره اطاعت ته پورته شئ. له خپلو مالونو انفاق وکړئ، له خپلو بدنونو واخلئ او پر خپلو روحونو يې زيات کړئ، او په ورکړه کې بخل مه کوئ، ځکه الله تعالی فرمايلي دي: «که له الله تعالی سره مرسته وکړئ، هغه به تاسې بريالي کړي او ستاسې قدمونه به ټينګ کړي.» او فرمايلي يې دي: «څوک دی چې الله تعالی ته ښه قرض ورکړي، څو الله تعالی يې څو چنده زيات کړي، او د هغه لپاره بې عيبه او پوره اجر وټاکي؟» له تاسې څخه د مرستې غوښتنه د کمزورۍ له امله نه ده، او د قرض غوښتنه د کمښت لپاره نه ده، سره له دې چې د اسمانونو او ځمکې لښکرې ټولې د هغه دي او الله تعالی ځواکمن او حکيم دی، او همدارنګه د اسمانونو او ځمکې خزاينې ټولې د هغه دي او الله تعالی بېنيازه او ستايل شوی دی. بلکې دا هر څه د دې لپاره دي چې تاسې وازمويي چې کوم يو مو په عمل کې غوره ياست. نو نېکو اعمالو ته بېړه وکړئ، څو د الله تعالی له ګاونډيانو سره د هغه په کور کې واوسئ، هغه کسان چې ملګري يې پېغمبران دي، ليدونکي يې پرښتې دي، او دومره عزت ورکول کېږي چې د اور ورو غږ به هم نه اوري، او هېڅ کړاو او تکليف به يې بدنونو ته نه رسېږي. دا د الله تعالی فضل دی، چاته يې چې وغواړي ورکوي، او الله تعالی د لوی فضل څښتن دی. زه هغه څه وايم چې تاسې يې اورئ، او الله تعالی د خپل ځان او ستاسې لپاره غواړم، ځکه هماغه بس دی او هماغه غوره وکيل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸۴ ـ د برج بن مسهر ځواب او د منافق افشا کول

)برج بن مسهر طايي د خوارجو له مشهورو شاعرانو څخه و. هغه په لوړ غږ وويل: «حکم يوازې د الله لپاره دی». امام (ع) په ۳۸ هجري کال کې په کوفه کې د هغه په ځواب کې وفرمايل(:

چوپ شه! الله دې مخ بد کړي، ای د لوبدلي مخکني غابښ په شان سړي! په الله قسم، هغه وخت چې حق ښکاره شو، ته کمزوری وې او ستا غږ ټيټ و، خو کله چې باطل غږ پورته کړ، ته د وزې د ښاخ په شان سر راپورته کړې.

۱۸۵ ـ الله پېژندنه، د پېغمبر ځانګړنې او د مخلوقاتو د پيدايښت عجايب

ستاينه د هغه الله لپاره ده چې پنځه‌ګوني حواس يې درک نه شي کولای، ځايونه يې په ځان کې نه شي نيولای، سترګې يې نه شي لېدلای، او پردې يې نه شي پټولای. د مخلوقاتو په پيدا کېدو سره يې خپل ازلي توب ثابت کړ، او د بېلابېلو موجوداتو په رامنځته کولو سره يې خپل وجود څرګند کړ، او د مخلوقاتو د يو بل ته ورته والي له لارې څرګنده شوه چې الله بې‌ساری دی. الله په خپلو وعدو کې ريښتينی دی، او له دې لوړ دی چې پر بندګانو ظلم وکړي. د مخلوقاتو ترمنځ يې په عدل چلند کړی، او په عادلانه حکم يې امر کړی دی. د شيانو حادث کېدل د هغه د ازلي توب دليل دی، د مخلوقاتو کمزوري د هغه د بې‌ساری قدرت نښه ده، او د مخلوقاتو فنا کېدل د هغه د همېشني والي ګواه ده. الله يو دی، خو د شمېر له مخې نه؛ همېشنی دی، خو د وخت په حساب نه؛ قائم دی، خو د ساتونکي په وسيله نه. عقلونه يې پېژني، خو د حواسو له لارې نه؛ د خلقت نښې پر هغه ګواهي ورکوي، نه د ظاهري حضور له لارې. فکرونه پر ذات يې احاطه نه شي کولای، ځکه هغه د خپل عظمت له آثارو سره پر عقلونو تجلي کړې ده، او دا يې ښکاره کړې چې هغه تصور کېدونکی نه دی، او دا ناتواني يې د فکرونو پر غاړه ايښې ده. د الله لوېي د اوږدوالي او پلنوالی له مخې نه ده، او نه د جسم له سترتيا څخه ده، بلکې د هغه لوېي د مقام، قدرت او واکمنۍ له مخې ده.

زه شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د الله بنده، رسول، غوره شوی پېغمبر او امانتدار دی، درود دې پر هغه او د هغه پر کورنۍ وي. الله هغه په قوي دليلونو، ښکاره بريا او روښانه لارې سره راولېږه. هغه خپل رسالت ښکاره ورساوه، خلک يې سمې لارې ته راوستل، د هدايت نښې يې پورته کړې، د لارې څراغونه يې بل کړل، د اسلام ټرون يې ټينګ کړ، او د ايمان کړۍ يې مضبوطې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که خلک د الله د قدرت په لویوالي او د هغه د نعمتونو په عظمت فکر وکړي، نو سمې لارې ته به راوګرځي او له اوره به ووېرېږي، خو زړونه ناروغ دي او سترګې نیمګړې دي. آیا د الله واړو مخلوقاتو ته نه ګوري چې څنګه یې پیدا کړي، اندامونه یې سم برابر کړي، غوږ او سترګه یې ورکړي، او هډوکي او پوستکی یې په تناسب جوړ کړي؟
مورچه وګورئ، د هغې کوچنی بدن، چې د انسان سترګه او فکر یې د خلقت نرموالی نه شي درک کولای. وګورئ څنګه پر ځمکه ګرځي، د خپل رزق لپاره هڅه کوي، دانې خپل ځالې ته وړي او هلته یې ساتي، د اوړي لپاره د ژمي توښه برابروي، او کله چې ننوځي، ببرته وتل نه هېروي. د هغې رزق تضمین شوی، او د هغې د طبیعت مطابق خواړه پیدا شوي دي. الله تعالی تري نه غافلېږي، او که څه هم د سختې ډبرې په منځ کې وي، بیا هم یې نه هېروي. که د هغې د بدن جوړښت ته فکر وکړي، له هغې له پیدایښته به حیران شي. نو لوی دی هغه الله چې مورچه یې پر خپلو پښو ودروله او بدن یې کلک جوړ کړ، بې له دې چې څوک ورسره مرسته وکړي. که فکر وکړي، پوه به شې چې د مورچې پیدا کوونکی هماغه د خرما د لوېي ونې پیدا کوونکی دی، ځکه د هر مخلوق په جوړښت کې جلا جلا دقت شوی دی. درانه او سپک، لوی او کوچني، قوي او کمزوري، ټول د ژوند په اصل کې یو شان دي، او د آسمان، هوا، باد او اوبو پیدایښت هم یو دی.
نو فکر وکړه په لمر او سپوږمۍ، په ونو او بوټو، په اوبو او ډبرو، د شپې او ورځې په بدلېدو، د سمندرونو په څپو، د غرونو په لوړوالي، د ژبو په اختلاف او د وینا په توپیر کې، چې دا ټول د الله ښکاره نښې دي. نو هلاکت دی هغه چا ته چې خالق ونه مني او مدبر انکار کړي. هغوی ګومان کوي لکه بوټي چې بې له کروندګر وي، او د شکلونو اختلاف بې له جوړوونکي وي. آیا امکان لري چې ودانۍ بې له جوړوونکي وي؟ یا جرم بې له مجرم وي؟
او که غواړې، د ملخ په عجایبو فکر وکړه، الله ورته دوه سره سترګې، د سپوږمۍ په شان حدقې، پټ غوږ، مناسب خوله، قوي حواس، دوه مخکیني غاښونه چې وانښه پرې کوي، او دوه داس ته ورته پښې ورکړي دي. کروندګر تري وېرېږي او د مخنیوي توان یې نه لري، که څه هم ټول سره یو شي. ملخان کروندو ته ننوځي او هر څه خوري، حال دا چې ټول بدن یې د یوې نرۍ ګوتې په اندازه هم نه وي.
نو لوی دی هغه الله چې د آسمان او ځمکې ټول موجودات، خوښه وي که نه، هغه ته سجده کوي، د هغه په وړاندې خضوع کوي، او د اطاعت رسۍ یې پر غاړه لري. هغه د مرغانو په شمېر، د هغوی په ښکو او ساه ګانو پوه دی. ځینې یې د اوبو مرغان، ځینې د وچې مرغان، او د ټولو روزي یې تاکلې ده. دا کارغه دی، هغه باز، دا شترمرغ دی، هغه کوتره، هر یو یې په خپل نوم یاد کړی او رزق یې ورته برابر کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه الله چې درنې وريځې پيدا کوي، پرله‌پسې باران راکوي، د هر ځای باران ټاکي، وچه ځمکه خړوبوي او له وچکالۍ وروسته بوټي راشنه کوي.

۱۸۶ ـ د الله تعالی د سمې پېژندنې، د هغه د قدرت، قیامت او د بیا پیدا کولو د راز بیان

)په اصول کافي، ټوک ۱، مخ ۱۳۱ کې راغلي چې دا وينا په کوفه کې شوې وه، او د توحيد او الله‌پېژندنې په باب داسې علمي بنسټونه پکې دي چې د بلې کومې خطبې په څېر نه موندل کېږي(.

څوک چې الله تعالی ته کيفيت وټاکي، د هغه يووالی يې انکار کړی دی، او څوک چې هغه ته ورته وټاکي، د الله تعالی حقيقت ته نه دی رسېدلی. څوک چې الله تعالی له څه شي سره تشبيه کړي، منزل ته نه دی رسېدلی. څوک چې هغه ته اشاره وکړي، يا يې په وهم کې راولي، الله تعالی يې بې‌نيازه نه دی ګڼلی. هر څه چې ذات يې وپېژندل شي، هغه مخلوق دی، او هر څه چې په هستۍ کې پر بل متکي وي، خالق لري. الله تعالی داسې پيدا کوونکی دی چې وسايلو ته اړتيا نه لري، داسې اندازه نيوونکی دی چې فکر او سوچ ته اړتيا نه لري، او له بل چا د مرستې محتاج نه دی. له زمانو سره نه دی ملګری شوی، او له وسايلو او آلو يې مرسته نه ده اخيستې. د هغه وجود له وخته لوړ دی، د هغه هستي له نيستۍ وړاندې ده، او ازليت يې پيل نه لري. د حواسو په پيدا کولو سره ښکاره شوه چې هغه خپله حواس نه لري، د متضادو شيانو په پيدا کولو سره ثابته شوه چې هغه ضد نه لري، او د شيانو په يو له بله برابرولو او يوځای کولو سره څرګنده شوه چې هغه مثل نه لري. هغه الله تعالی دی چې رڼا يې د تيارو مقابل ودروله، ښکاره يې له پټ سره، وچه يې له لمدې سره، ګرمي يې له يخنۍ سره، او متضاد عناصر يې سره يوځای او منظم کړل، د يو بل خلاف موجوداتو ترمنځ يې يووالی پيدا کړ، لرې يې نږدې کړل او نږدې يې له يو بل څخه جلا کړل. هغه داسې ذات دی چې حد نه لري، او په شمېر نه حسابېږي، ځکه وسايل او آلات د خپل محدودوالي نښه دي او يواځې خپلو ته اشاره کوي. کله چې وايو موجودات له يوه وخته وروسته پيدا شول، نو دا ښيي چې قديم نه دي بلکې حادث دي، او کله چې وايو يو وخت پوره او کامل شول، نو دا ښيي چې په ټولو اړخونو کې کامل نه وو. الله تعالی د موجوداتو په پيدا کولو سره عقلونو ته ځان ښکاره کړ، خو د سترګو له ليدو لوړ او اوچت دی. حرکت او سکون پکې لار نه لري، ځکه همدا هغه دی چې حرکت او سکون يې پيدا کړي دي. نو څنګه کېدای شي هغه څه چې خپله يې پيدا کړي، پر هغه اغېز وکړي؟ يا څنګه به دی له خپلو پيدا کړو اغېزمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي؟ که داسې وای، نو ذات به يې د نورو شيانو په شان بدلېدونکی وای، او اصل هستي به يې تجزيه کېدله، نو بيا به ازلي نه وای. او که فرضاً ده ته پيل تصور شي، نو پای به هم ولري، او همدا پيل او انجام د نقص، کمزورۍ او مخلوقوالي ښکاره دليل دی، او بيا به بل خالق ته اړتيا ولري. نو بيا به د ټولو کايناتو خالق نه وي، او د الله تعالی له هغو صفاتو به ووځي چې هېڅ شی يې کولای، او نه فنا، بدلون او پټوالی يې راځي. الله تعالی زوی نه لري چې بيا د بل چا زوی وي، او نه زيږېدلی چې په حدودو کې راګير شي، او هغه له دې ډېر لوړ دی چې ښځې ولري يا د اولادونو له لارې محدود شي. فکرونه هغه ته نه رسېږي چې اندازه ورته وټاکي، او تېز ذهنونه يې نه شي درک کولای چې ښه ورته تصور کړي. حواس له احساس کولو يې عاجز دي، لاسونه يې له لمس کولو ناتوان دي، بدلون او اوښتون پکې لار نه لري، د زمانې تېرېدل اغېز پرې نه کوي، نه شپه او نه ورځ هغه زوړوي، نه رڼا او نه تياره پکې اثر کوي. الله تعالی د غړو، اندامونو، اجزاوو، اعراضو، بدلونونو او ټوټه‌والي په وسيله نه توصيف کېږي. د هغه لپاره اندازه او پای نشته، نه نيستي لري او نه انجام. هېڅ شی هغه په ځان کې نه شي نيولای چې پاس او ښکته يې کړي، او نه څه هغه وړي چې سم يا کوږ يې وساتي. هغه نه د شيانو دننه دی او نه تري بهر. خبرې کوي، خو په ژبه، کام او خوله نه؛ اوري، خو د غوږ له سوري او د اورېدلو له آلې نه؛ وينا کوي، خو د الفاظو په کارولو نه؛ ساتي، خو د حافظې په زحمت نه؛ غواړي، خو په سوچ او ارمان نه؛ خوښوي او راضي کېږي، خو د زړه د نرموالي له مخې نه؛ بد ګڼي او غضب کوي، خو د درد او اندېښنې له مخې نه. هر څه ته چې اراده وکړي، ورته وايي: «وشه»، نو هغه پيدا شي، نه په داسې غږ چې غوږونو ته ورسېږي او نه په داسې نارې چې واورېدل شي، بلکې د الله تعالی وينا هماغه کار دی چې پيدا کوي يې. تر هغه مخکې هېڅ شی نه و، که نه بل الله به و. نه ويل کېدای شي چې «الله نه و، بيا پيدا شو»، ځکه بيا به د مخلوقاتو صفات ولري، او نه ويل کېدای شي چې «له مخلوقاتو جلا او وړاندې لوړ دی» په داسې معنا چې خالق او مخلوق سره يو شان وګرځي. هغه مخلوقات بې له دې پيدا کړل چې د بل چا له نقشې او بېلګې استفاده وکړي، او د شيانو په پيدا کولو کې يې له هېڅا مرسته وانخيسته. ځمکه يې پيدا کړه او ودروله يې، بې له دې چې ستړې يې کړي، او په حرکت او بې‌قرارۍ کې يې توازن ورکړ، بې له ستنو يې راپورته کړه، بې له تکياوو يې لوړه کړه، له کږوالي، لوېدو او چاودېدو يې وساتله. د ځمکې مېخونه يې کلک کړل، غرونه يې تينګ کړل، چينې يې جاري کړې او درې يې پيدا کړې. څه چې يې جوړ کړل، کمزوري نه شول، او څه چې يې ځواکمن کړل، بې‌وسه نه شول. الله تعالی پر ټولو مخلوقاتو د خپل قدرت او سترتيا له مخې غالب دی، او د خپل علم له مخې د ټولو د باطن او درون نه خبر دی، او په خپل عزت او جلال له هر څه لوړ دی. هېڅ شی يې له حکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغړونه نه شي کولای، هېڅوک ورسره دومره زور نه لري چې پرې بریالی شي، هېڅ تېز منډه وهونکی تري تښتېدای نه شي چې پرې وړاندې شي، او هېڅ پانګوال ته اړتیا نه لري چې روزي ورکړي. ټول مخلوقات د هغه په وړاندې عاجز دي او د هغه د سترتیا په وړاندې سپک او خوار دي. له واکمنۍ او قدرت څخه یې بل لوري ته د تېښتې لار نشته چې څوک د هغه له ګټې او زیان څخه خوندي شي. نه یې سیال شته، نه یې مثل شته. هماغه دی چې مخلوقات له پیدا کېدو وروسته فنا کوي، داسې چې ګواکې هېڅ نه وو. او د نړۍ له پیدا کېدو وروسته یې له منځه وړل د لومړي ځل له پیدا کولو نه زیات عجیب نه دي. دا ځکه ناشوني نه ده، ځکه چې د ټولې نړۍ ټول ژوندي موجودات، له مرغانو او څارویو نیولې، هغه چې په آغل کې دي او هغه چې په دښتو کې څري، له ټولو نسلونو او ډولونو سره، د ناپوه او هوښیار انسانانو په ګډون، راټول شي څو یوازې یو مچ پیدا کړي، د هغه په پیدا کولو به ونه توانېږي، او نه به یې د پیدا کېدو لار وپېژني. عقلونه به یې حیران او ستړي شي، ځواکونه به یې کمزوري شي، او په ماتې او ناتوانۍ به اعتراف وکړي، او دا به ومني چې نه یو مچ پیدا کولای شي او نه یې نابودولای شي. او کله چې نړۍ له منځه ولاړه شي، یوازې الله تعالی پاتې کېږي، یوازې هماغه، بې له دې چې بل څوک ورسره وي، لکه د پیدایښت نه مخکې چې هېڅ شی ورسره نه و. نه وخت وي او نه ځای، نه مهلت وي او نه کلونه او ساعتونه، او یوازې الله تعالی، یو او قهار، پاتې وي چې د هر څه ورستنېدنه هم هغه ته ده. مخلوقات لکه څنګه چې د پیدا کېدو پر وخت واک نه درلود، د فنا کېدو پر وخت هم د مخالفت توان نه لري، ځکه که دوی د بقا توان لرلای، نو پاتې به وو. د موجوداتو پیدا کول الله تعالی نه ستړی کړی، نه په خلقت کې پرې کمزوري راغلې ده. مخلوقات یې د خپلې پاچاهۍ د ټینګښت لپاره نه دي پیدا کړي، نه د کمښت او نشتوالي له وېرې، نه د سیال پر وړاندې د مرستې لپاره، نه د دښمن له برید څخه د ځان ساتلو لپاره، نه د واک اوږدولو لپاره، او نه د شریک او مقابل د ماتولو لپاره. بیا وروسته یې ټول مخلوقات نابودوي، نه د هغوی له تدبیره د ستړیا له امله، نه د آرام لپاره، نه د درونډ بار له امله، او نه د اوږدې ملالتیا له امله، بلکې الله تعالی یې په خپل لطف اداره کوي، په خپل امر یې پر ځای ساتي او په خپل قدرت یې کلکوي. بیا یې ېېرته راژوندي کوي، نه د دې لپاره چې تري مرسته واخلي، نه د یوازېتوب له منځه وړلو لپاره، نه د تجربې د ترلاسه کولو لپاره، او نه له فقر څخه شتمنۍ یا له ذلت څخه عزت ته د رسېدو لپاره.

۱۸۷ ـ له راتلونکو پېښو خبر ورکول او د مشرتابه د اطاعت اړتیا

)دا وینا له نهروان جګړې وروسته، په ۳۸ هجري کال کې، په کوفه کې شوې ده(.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوه شئ! هغه کسان چې زما مور او پلار دې پرې قربان وي، په آسمانونو کې مشهور او پر ځمکه ګمنام دي. ای خلکو! د خوشحالۍ د ورځې له تېرېدو، د اړیکو له پرې کېدو، او د کم‌عقلو خلکو له واکمنېدو څخه ځانونه تیار وساتئ. دا به داسې زمانه وي چې د توري ګوزار به پر مؤمن د حلال مال تر پیدا کولو اسانه وي. هغه وخت به داسې وي چې اخیستونکی به تر ورکوونکي ډېر اجر اخلي، او بې له شرابو به مست کېږئ، د نعمتونو له ډېرېدو سره به بې له جبره قسمونه خورئ، او بې له اړتیا به دروغ وایئ. هماغه وخت به بلاوې تاسې داسې وچیچي لکه پالان چې د اوښ په شا زخم جوړ کړي. آه! دا غم به څومره اوږد وي او د خلاصون هیله به څومره لرې وي! ای خلکو! د ګناهونو درانه بارونه له خپلو اوږو لرې کړئ، او خپل امام یوازې مه پرېږدئ، که نه وروسته به پښېمانه کېږئ. ځانونه په هغه فتنه کې مه غورځوئ چې خپله مو ورته اور بل کړی دی. خپله لاره ونیسئ او له هغې لارې لرې شئ چې فتنې ته رسوي. زما په ځان قسم، په دې فتنو کې به مؤمن هلاک شي، خو دروغجن اسلام‌نمایان به خوندي پاتې شي. پوه شئ، زه ستاسې په منځ کې لکه یو ځلېدونکی څراغ یم په تیاره کې، هر څوک چې ورته مخه کړي، له رڼا یې ګټه اخلي. ای خلکو! زما خبرې واورئ او ښه یې وساتئ، د زړونو غوږونه مو پرانیزئ څو زما خبرې درک کړئ.

۱۸۸ ـ د تقوا سپارښتنه او د مرګ د یاد ارزښت

ای خلکو! تاسې ته د تقوا، د نعمتونو پر وړاندې د ډېر شکر، د الله تعالی د ورکړو، او د هغو احسانونو سپارښتنه کوم چې تاسې ته رسېدلي دي. څومره نعمتونه یې درکړي دي او څومره رحمتونه یې درته برابر کړي دي. تاسې خپلې نیمګړتیاوې ښکاره کړې، او هغه پټې کړې؛ تاسې ځانونه د هغه د عذاب وړ وګرځول، او هغه مهلت درکړ. ای خلکو! تاسې ته د مرګ د یادولو سپارښتنه کوم، له مرګه لږ مه غافلېږئ. څنګه مرګ هېروئ په داسې حال کې چې هغه تاسې نه هېروي؟ او څنګه اوږدې هیلې ترئ، په داسې حال کې چې هغه درته مهلت نه درکوي؟ د پخوانیو خلکو مرګونه تاسې ته د عبرت لپاره بس دي. هغوی خپلو قبرونو ته یوړل شول، بې له دې چې پر سپرلي سپاره وي، او قبرونو ته ښکته کړل شول، بې له دې چې خپله ښکته شي. داسې هېر شول لکه هیڅکله چې د دې دنیا اوسېدونکي نه وو، او آخرت یې تلنی کور و. له هغه ځایه چې خپل وطن یې ګڼه، ووتل، او په هغه ځای کې آرام شول چې تري به وېرېدل. له هغو شیانو ببل شول چې پرې بوخت وو، او هغه ځای یې چې اصلي انجام یې و، ضایع کړ. اوس نه دا توان لري چې له بدو کارونو لاس واخلي، او نه دا توان لري چې پر خپلو نېکو کارونو نور ښه کارونه ورزیات کړي. له دنیا سره یې الفت وکړ، دنیا یې وغولول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې يې باور وکړ، او بيا يې مغلوب کړل. الله دې پر تاسې رحم وکړي! نو د هغه کورونو د آبادولو لپاره بيړه وکړئ چې تاسې ورته د آبادولو امر شوی دی، او د الله تعالی نعمتونه د اطاعت او عبادت په وسيله بشپړ کړئ، او له نافرمانۍ ځان وساتئ، ځکه سبا نن ته ډېر نږدې دی. آه! ساعتونه په ورځو کې، ورځې په مياشتو کې، مياشتې په کلونو کې، او کلونه د انسان په عمر کې څومره ژر تېرېږي!

۱۸۹ ـ ايمان، هجرت او د ربښتيني مهاجر پېژندنه

)دا وينا، چې په ۳۸ هجري کال کې د کوفې په جومات کې شوې وه، په ډېر سند او مدارک سره روايت شوې ده(.

ايمان دوه ډوله دی: يو داسې ايمان چې په زړه کې ټينګ او ثابت وي، او بل داسې ايمان چې د سينو او زړونو ترمنځ ناپايدار وي، تر هغه وخته چې ټاکلی انجام يې راورسېږي. که له چا څخه بيزاره ياست، نو هماغسې يې پرېږدئ تر څو مرګ يې راورسي، ځکه د مرګ پر وخت د بيزارۍ اصلي وخت وي. هجرت هماغسې پر خپل لومړني ارزښت پاتې دی. الله تعالی ته د ځمکې د خلکو ايمان ته اړتيا نشته، که پټ يې وساتي او که ښکاره يې کړي. د مهاجر نوم پر هغه چا نه شي اېښودل کېدای مګر هغه څوک چې د الله تعالی حجت پر ځمکه وپېژني. هر څوک چې د الله تعالی حجت وپېژني او د هغه په امامت اعتراف وکړي، هماغه مهاجر دی. او د دين مستضعف هغه څوک نه شي بلل کېدای چې حجت پرې بشپړ شوی وي، غوږ يې اورېدلی وي او زړه يې درک کړی وي، نو هغه بيا معذور نه دی. زمور کار، يعنې زمور ولايت، د رسول الله ﷺ د اهلبيتو کار، ډېر درومند او زغمل يې سخت دي، او يوازې هغه باايمانه او ازمويل شوی مؤمن يې د منلو توان لري چې الله تعالی يې ايمان په زړه کې ټينګ کړی وي. زمور حديث يوازې امانتداري سينې او زغم لرونکي عقلونه منلی شي. ای خلکو! له ما نه پوښتنه وکړئ مخکې له دې چې نور مې ونه مومئ، ځکه زه د آسمانونو لارې د ځمکې تر لارو ښه پېژنم. وپوښتئ مخکې له دې چې فتنې د بېمالکه اوښ په شان وخوځېږي، خپله مهار تر پښو لاندې کړي او خلک وځپي او وځوروي، او عقلونه سرګردان کړي.

۱۹۰ ـ د تقوا سپارښتنه، د مرګ يادونه او په کړاوونو کې ټينګ پاتې کېدل

)دا وينا په کوفه کې، د خوارجو په اړه شوې ده(.

زه د الله تعالی د نعمتونو پر وړاندې د هغه شکر ادا کوم، او د الهي حقونو د ادا کولو لپاره له هغه مرسته غواړم، هغه الله تعالی چې لښکر يې ځواکمن، او مرتبه يې ډېره لوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده. او شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی. هغه خلک د الله تعالی اطاعت ته راوبلل، او د الله تعالی له دښمنانو سره یې د هغه د دین په لاره کې جګړه وکړه او مات یې کړل. د دښمنانو یوځای کېدل او دا چې هغه یې دروغجن باله، هېڅکله یې د حق له بلنې راو نه ګرځاوه، او د هغوی هڅې د رسالت د رڼا په مړه کولو کې بې پایلې شوې. نو تقوا او د الله تعالی وېره خپله کړئ، ځکه د تقوا رسۍ ټینګه ده، منګولې یې کلکې دي، او لوړ څوکی یې ډاډمن پناهځای دی. له مرګ مخکې ځانونه د هغه د پېښو لپاره چمتو کړئ، او تر دې وړاندې چې مرګ دربانديِ راورسي، د ملاقات لپاره لازم توښه برابره کړئ، ځکه مرګ د ژوند پای او قیامت وروستی تمځای دی. مرګ د هوښیارانو لپاره نصیحت او د ناپوهانو لپاره د عبرت وسیله ده. تاسې د مرګ له راتلو وړاندې د قبرونو له تنګوالي، د غم او خپګان له سختی، د قیامت له وېرې، د هډوکو له ماتېدو، د غوړونو له کاڼه کېدو، د لحد له تیارو، د راتلونکي له وحشت، د قبر له تنګسیا او له ډبرو او خاورو لاندې له پټولو څه پوهېږئ؟ نو ای د الله تعالی بندګانو! له الله تعالی ووېرېږئ، ځکه دنیا په خپل ټاکلي قانون تېرېږي. تاسې له قیامت سره ټرلي یاست. داسې ښکاري لکه د قیامت نښې ښکاره شوې وي، تاسې یې په خپل لوري درولي یاست، خپل درانه بارونه یې دربانديِ ایښي دي، او د خلکو تړاو یې له دنیا سره پرې کړی دی، او ټول یې د دې ګرمې غېږې نه را ایستلي دي. داسې به وي لکه دنیا چې یوازې یوه ورځ وه او تېره شوه، یا لکه یوه میاشت وه او پای ته ورسېده. د دنیا تازه شیان زاړه شول، او چاغان یې نری شول، بیا به ټولو ته یو تنګ ځای وي، له سترو سختیو سره، او داسې اور ته به ورننوځي چې سپرغۍ یې شنېدلې وي، لمبې یې لوړې وي، غږ یې وېرونکی وي، زور یې سخت وي، رڼا یې توده او سوزوونکې وي، مړېدل یې ناشونې وي، لمبې یې په شور وي، وېره یې سخته وي، ژوروالی یې ناپېژندل شوی وي، چاپېریال یې تور او تریخ وي، دیګونه یې په جوش وي او حالتونه یې سخت وېرونکي وي. او په دې منځ کې به متقیان ډله ډله جنت ته بیول کېږي. هغوی به له عذاب خوندي وي، له ملامتیِ ازاد وي، له اوره لیرې وي، د الله تعالی د امن په کورونو کې به د خپل ځای په اړه خوښ وي. په دنیا کې به یې کړنې پاکې وې، سترګې به یې اوښلن وې، شپې به یې د خشوع او استغفار له امله د ورځې په شان وې، او ورځې به یې د ګناه له وېرې د شپې په شان. نو الله تعالی به جنت د هغوی وروستی کور وګرځوي، او ښه بدله به ورکړي، ځکه هغوی د دغو نعمتونو وړ وو، او د تلپاتې پاچاهۍ او همېشنیو نعمتونو لایقان شول. ای د الله تعالی بندګانو! هغه څه وساتئ چې بریالیو په ساتلو سره پرې نېکمرغي موندلې ده، او بدمرغو د ضایع کولو له امله زیان لیدلی دی. مخکې له دې چې مرګ دربانديِ راشي، په نېکو عملونو ځانونه چمتو کړئ، ځکه تاسې د خپلو عملونو په بدل کې راګیر یاست، او د هغو کارونو په بدله به درکول کېږي چې مخکې مو کړي دي. ناڅاپه به مرګ راورسي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بيا نه ښېرته تګ شته او نه د تېروتنو ښښنه غوښتل کېدای شي. الله تعالی دې موږ او تاسې په خپله او د خپل رسول ﷺ په لاره ټينګ وساتي، او د خپل رحمت په فضل دې زموږ او ستاسې ګناهونه وبښي. ای سرتېرو! پر خپلو ځايونو کلک ودرېږئ، د بلاوو او ستونزو پر وړاندې ټينګ پاتې شئ، خپلې تورې او لاسونه د خپلو ژبو په واک کې مه ورکوئ، او په هغه څه کې بېړه مه کوئ چې الله تعالی په کې بېړه لازمه نه ده ګرځولې، ځکه له تاسې څخه هر څوک چې په خپل بستر کې د الله تعالی، د هغه د رسول ﷺ او د رسول ﷺ د اهل بيتو په معرفت مړ شي، شهيد به وي، او اجر به يې پر الله تعالی وي. او د هغو نېکو اعمالو ثواب به هم وړي چې نيت يې کړی و، او د هغه نيت به د تورې را ايستلو ثواب ولري. بېشکه هر څه ته يو ټاکلی وخت او يو معلوم انجام شته.

۱۹۱ ـ له دنيا څخه وېرول او د تقوا پايله

ستاينه هغه الله تعالی لره ده چې ستاينه يې د مخلوقاتو په منځ کې ښکاره ده، لښکر يې بريالي دی، او سترتيا يې لوړه او بې پايه ده. زه د هغه پرلەپسې نعمتونه او ستر احسانونه ستايم. هغه الله تعالی چې زغم يې لوی، ښښنه يې پراخه ده، په خپل حکم کې عادل دی، او له تېر او راتلونکي خبر دی. هغه نړۍ په خپل علم پيدا کړه، او موجودات يې په خپل امر پيدا کړل، بې له دې چې له چا يې پيروي کړې وي، يا يې له چا زده کړه کړې وي، يا يې د بل حکيم له نقشې ګټه اخيستې وي. په پيدا کولو کې يې نه تېروتنه کړې او نه يې له کومې ډلې سره مشوره کړې ده. زه شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی، هغه مهال يې ولېږه چې خلک د ناپوهۍ په کندو کې لوېدلي وو، په حيرت او سرګردانۍ کې اوسېدل، هلاکت يې کشاوه، او ګمراهي د هغوی پر زړونو قلف وهلی و. ای د الله تعالی بندګانو! زه تاسې ته د تقوا سپارښتنه کوم، ځکه دا پر تاسې د الله تعالی حق دی، او ستاسې لپاره هم د الله تعالی پر وړاندې حق پيدا کوي. له الله تعالی نه د تقوا لپاره مرسته وغواړئ، او د هغه د امرونو د ادا کولو لپاره له تقوا مرسته واخلئ، ځکه تقوا نن د بلاوو سپر دی او سبا جنت ته د رسېدو لار ده. د تقوا لاره روښانه ده، تلونکی يې ګټه‌من دی، او امانتدار يې الله تعالی دی چې ساتنه به يې کوي. تقوا ځان د پخوانيو او اوسنيو امتونو پر وړاندې وړاندې کړی، او راتلونکو ته به هم وړاندې کېږي، ځکه د قيامت په ورځ به هر څوک ورته اړ وي، هغه مهال چې الله تعالی ټول مخلوقات راټول کړي، ښېرته به له هغوی خپل ورکړي شيان واخلي، او د ټولو نعمتونو حساب به ترې غواړي. نو څومره لږ دي هغه کسان چې تقوا يې غوره کړې او حق يې په سمه توګه ادا کړی دی. هو، متقيان لږ دي، او الله تعالی د همدې په هکله ويلي دي: «زما شکر ايستونکي بندګان لږ دي». نو د تقوا بلنې ته د زړه غوږونه خلاص کړئ، د ترلاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو لپاره يې هڅه وکړئ، تقوا د هغه څه بدله وګرځوئ چې له لاسه مو ورکړي، او د هر مخالفت پر ځای يې وټاکئ. د تقوا په برکت خپل خوب بيداري ته واړوئ، خپلې ورځې په هماغه تېرې کړئ، خپل زړونه پرې ژوندي کړئ، او خپلې ګناهونه پرې ووينځئ. د روح او نفس ناروغۍ پرې علاج کړئ، او د آخرت د سفر لپاره ځانونه تيار کړئ. له هغو کسانو عبرت واخلئ چې تقوا يې ضايع کړه، او داسې مه کېږئ چې نور تري عبرت اخلي. پوه شئ! تقوا وساتئ، او خپل ځانونه هم په تقوا وساتئ. د دنيا پر وړاندې ځانونه مه ورکوئ، او آخرت ته مينه‌من اوسئ. هغه څوک چې تقوا لوړ کړ، تاسې يې مه سپکوئ، او هغه څوک چې دنيا يې عزتمند کړی، تاسې يې مه لويوئ. د دنيا ځلېدونکي بربښنا دې تاسې نه ړندوي، د دنيا ستايونکي خبرې مه اورئ، د دنيا بلونکي ته ځواب مه ورکوئ، او د دنيا له ځلا نه رڼا مه غواړئ، او د دې له قيمتي متاعو مه غولېږئ. د حرامې دنيا برق بې نوره دی، خبرې يې دروغ دي، مالونه يې لوټ کېږي، او توکي يې تالان کېږي. پوه شئ! حرامه دنيا د يوې هرزه فريبکارې ښځې په شان ده چې وفا نه کوي، د يو سرکښ سپور په شان ده چې مهار نه مني، دروغجنه او خاين ده، ناسپاسه ده، دښمنه او دوکه‌کاره ده، شاته کوونکې او سرګردانه ده، حالتونه يې اوړېدونکي دي، عزت يې ذلت دی، جديت يې لوبې دي، او لوړوالی يې سقوط دی. دا د جګړې، غلا، تباهۍ، هلاکت او بې‌ثباتۍ کور دی. لارې يې حېران کوونکې، د تېښتې ځايونه يې ورک، او غوښتنې يې ناامېد کوونکې دي. پناه ځايونه يې انسان مرګ ته سپاري، او له خپلو کورونو يې راوباسي، تدبيرونه يې ماتوي. نجات موندلی هم ټپي وي، يا ټپي سړی ټوټه ټوټه وي، ځينې بې‌سرونه وي، ځينې په خپلو وينو کې لوټلي وي، ځينې غاښونه چيچي، ځينې له ارمانه لاسونه مښي، ځينې پر لاسونو سر ايښی فکر کوي، ځينې پر خپلو تېروتنو افسوس کوي، او ځينې له ارادې لاس اخلي، ځکه د تېښتې لار بنده شوې وي، دنيا هغوی ناڅاپه نيولي وي، او کار له کاره تېر شوی وي، او قيمتي عمر ضايع شوی وي. هيهات! تېر تېر شول، او هر څه څنګه چې الله تعالی غوښتل، پای ته ورسېدل. نه آسمان پر هغوی وژړل او نه ځمکه، او هېڅ مهلت ور نه کړل شو.

۱۹۲ ـ د قاصعه خطبه؛ د شيطان د تکبر غندنه، او خلکو ته د کبر او جاهلي اخلاقو څخه خبرداری

)دا خطبه «قاصعه» بلل شوې، يعنې سپکوونکې، ځکه پکې د جاهليت ارزښتونه سپک او خوار شوي، او دا د امام له تر ټولو اوږدو ويناوو څخه ده، چې په ۴۰ هجري کال کې، په داسې حال کې چې پر آس سپور و، شوې ده(.

ستاينه هغه الله تعالی لره ده چې د عزت او لويۍ جامه يې پر ځان اغوستې ده، او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه يې د ځان لپاره غوره کړي او له نورو مخلوقاتو يې منع کړي دي. دا يې د ځان او نورو ترمنځ پوله وګرځوله، او د خپلې کبريا او عظمت لپاره يې ځانګړي کړل، او هر هغه څوک يې لعنت کړ چې د عزت او لويۍ په غوښتنه کې له هغه سره مقابله کوي. له همدې امله يې خپل نړۍ فرښتې وازمويلې، څو عاجزان له متکبرانو جلا کړي. سره له دې چې هغه د زړونو له پټو او نهان رازونو خبر و، بيا يې فرښتو ته وفرمايل: «زه له خټو يو بشر پيدا کوم، نو کله چې يې جوړ کړم او خپل روح پکې پو کړم، نو ورته سجده وکړئ». ټولې فرښتې سجده ته ولوېدې، مګر ابليس، چې کبر او غرور يې ونيو. شيطان د آدم عليه السلام پر وړاندې د خپل اصل له امله فخر وکړ، او ويې ويل: زه له اوره يم او هغه له خټو دی. نو شيطان د الله تعالى دښمن، د متعصبينو مشر، او د متکبرانو سرلاری شو. هماغه و چې د تعصب بنسټ يې کېښود، د کبريا جامه يې واغوسته، او د تواضع لباس يې له ځانه وغورځاوه. ايا نه وينئ چې الله تعالى د ده د ځانلويۍ له امله هغه سپک کړ، او د لوړپروازۍ له امله يې ذليل کړ؟ په دنيا کې يې رټلی او شړلی وګرځاوه، او د قيامت لپاره يې ورته دوزخ تيار کړ. که الله تعالى غوښتل، نو آدم عليه السلام به يې له داسې نوره پيدا کړی و چې سترګې يې حيراني کړې وای، او داسې ښکلا به يې ورکړې وه چې عقلونه يې مات کړي وای، او داسې خوشبويي به يې ورکړې وه چې حواس يې ځان ته مايل کړي وای. که داسې شوی وای، نو ټولو به ورته سرونه ټيټ کړي وای، او د فرښتو د ازمايښت سجده به ډېره اسانه وه. خو الله تعالى خپل بندګان په هغو چارو ازمويي چې د حقيقت ټول رازونه يې نه پېژني، څو پاک او ناپاک سره جلا شي، کبر له زړونو وباسي او ځانلويي تري لرې کړي. نو له هغه څه عبرت واخلئ چې الله تعالى له ابليس سره وکړل، ځکه ده د خپل تکبر له امله د زرګونو کلونو عبادت له منځه يووړ. شپږ زره کاله يې عبادت وکړ، چې نه ده څرګنده د دنيا کلونه وو او که د آخرت، خو يوه شيبه کبر ټول ختم کړل. نو له ابليس وروسته به څوک څنګه د هماغه ناروغۍ په درلودلو خوندي پاتې شي؟ هېڅکله نه. الله تعالى هېڅ انسان د داسې کار له امله جنت ته نه ننباسي چې د هماغه کار له امله يې فرښته محرومه کړې وي. د الله تعالى حکم په ځمکه او آسمان کې يو دی، او د الله تعالى او مخلوق ترمنځ داسې کومه ځانګړې دوستي نشته چې هغه څه حلال کړي چې الله تعالى پر ټولو حرام کړي دي. ای د الله تعالى بندګانو! د الله تعالى له دښمن، شيطان، ځانونه وساتئ، هسې نه تاسې هم د هغه په ناروغۍ اخته کړي، خپل غږ درباندې واچوي، او د خپلو پياده او سپرو لښکرو په وسيله پر تاسې برید وکړي. زما په ځان قسم! هغه ستاسې د ښکار لپاره د خطر غشی په کمان کې ايښی، تر خپله وسه يې کش کړی، او له ډېر نږدې ځايه يې تاسې په نښه کړي ياست. همدا هغه دی چې وويل: «پروردګاره! څنګه چې دې زه ليرې کړم، همداسې به زه د دوی په سترګو کې دنيا ښکلې کړم، او ټول به ګمراه کړم». خو دا يې بې‌نښه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې‌اساسه خبره وه، که څه هم د خودخواهۍ اولادونو، د تعصب ورونړو، او د جهالت او ځان‌لویۍ سپرو هغه ربنتونی وباله. ستاسې سرکښان یې مطیع شول، طمع یې په تاسې کې بریالۍ شوه، او حکومت یې درباندې ټینګ شو. په خپلو لښکرو یې پر تاسې برید وکړ، ذلت ته یې وغورځولئ، او وینې، ټپونه، سترګې، ستونې او مغزونه یې تړې واخیستل، څو مو داسې اور ته ورسوي چې له پخوا ورته تیار شوی و. نو شیطان ستاسې د دین لپاره تر هر دښمن خطرناک دی. د هغه پر ضد خپل قهر وکاروئ، او اړیکه ورسره پرې کړئ. زما په ځان قسم! هغه ستاسې د اصل او نسب سپکاوی کړی، او په هر لور یې درباندې کمین نیولی. نه په چل یې له ځانه شړلی شئ او نه په سوګندونو. ځکه د هغه کمین تنګ، ذلت‌ورونکی، مرګونی او له بلاوو ډک دی. نو د تعصب اورونه او د جاهلیت کینې په خپلو زړونو کې مړه کړئ، ځکه کبر او خودغرضي د مؤمن په زړه کې د شیطان له ناروغیو، غرور، وسوسو او فریبونو څخه ده. د تواضع تاجونه پر سر کړئ، د تکبر زنځیرونه له غاړو وغورځوئ، او عاجزي د ځان او شیطان ترمنځ سپر وګرځوئ. ځکه شیطان له هرې ډلې پیاده او سپاره عسکر لري. د قابیل په شان مه کیږئ، چې بې له حقه یې پر خپل ورور کبر وکړ. الله تعالی هغه ته برتري نه وه ورکړې، خو ده ځان غوره ګانړه، او حسد یې په دښمنۍ واړاوه. تعصب یې د کینې اور روښانه کړ، او شیطان د کبر باد پرې وچلاوه، تر دې چې پښېمانه شو، او الله تعالی د ټولو قاتلانو تر قیامته د ګناه بار پر ده واچاوه. پوه شئ! تاسې په سرکښۍ او ظلم کې افراط کړی دی، د الله تعالی پر وړاندې مو په ځمکه فساد جوړ کړی، او ښکاره مو له بندګانو سره جګړه پیل کړې ده. له کبر، ځان‌پسندۍ او جاهلي فخر څخه ځانونه وساتئ، ځکه دا د بغض ځای، د کینې ځاله، او د شیطاني وسوسو د راټوکېدو مرکز دی. همدغې ناروغۍ پخواني امتونه وغولول، څو د جهالت په تیارو کې ولوېدل او د هلاکت کندې ته وغورځېدل، او شیطان په آسانۍ هلته یوړل. هر هغه څوک چې له زړه او نفسه لوړ شو، د همدې کبر له لارې سقوط کوي. د قومونو حالتونه وڅېړئ؛ که څوک بې دلیله تعصب کوي، نو یا د ناپوهانو د غولولو لپاره یې کوي، یا د احمقانو د قانع کولو لپاره. پرته له دې، بل تعصب بې‌ریښي دی. شیطان یوازې د خپل اصل له امله پر آدم علیه السلام تعصب وکړ، او شتمنو خلکو د مال او اولاد په دلیل ځانونه غوره وګڼل. که تعصب کوئ، نو د ښو اخلاقو، نېکو عملونو، بردبارۍ، وفادارۍ، مېلمه‌پالنې، انصاف، ظلم نه کولو، حق ته د غاړه ایښودلو، او د ښو خویونو لپاره تعصب وکړئ؛ هماغه خویونه چې د عربو مشران او نیکان په کې تر یو بل مخکې کېدل. له پخوانیو خلکو عبرت واخلئ، چې کله یو موټی وو، زړونه یې یو وو، لاسونه یې یو بل ته ورکول، نیتونه یې سره نږدې وو، او یو له بل سره یې ملاتړ کاوه، نو واکمن او عزتمندان شول. خو کله چې سره جلا شول، مینه یې له منځه ولاړه، خبرې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړونه يې بېلېدل، الله تعالى د کرامت جامه ورنه وايسته، او نعمتونه يې تري واخيستل. د اسماعيل، اسحاق او يعقوب عليهم السلام د اولادونو احوال وګورئ، هغه وخت چې پاچاهانو به هغوى له خپلو سيمو شړل، وچو دښتو او بادونو ډکو ځايونو ته به يې استول، نه يې حقه بلنه لرله او نه خوندي سيورى. خو کله چې رسول الله ﷺ راغى، او الله تعالى د هغه په برکت د وحدت نعمت ورکړ، هغوى ته يې عزت، امن، واکمني او کرامت ورکړ. نو اوس چې مو بيا د اطاعت له کړى لاس اخيستى، او د جاهليت ارزښتونه مو راژوندي کړي دي، نو د الله تعالى هغه کلک نظام مو مات کړى دى چې د امت د يووالي لپاره يې ورکړى و. پوه شئ! که له اسلامه پرته بل څه ته پناه يوسئ، کافران به درسره وجنګېږي، او بيا به نه جبرئيل وي، نه ميکائيل، نه مهاجر او نه انصار، بلکې يوازې توره او جګړه به وي. د قرآن د مثالونو او پخوانيو عذابونو له احوالو ځانونه خبر کړئ، او د الله تعالى له عذابه ځانونه خوندي کړئ. الله تعالى تاسې د بېځايه نهى او امر له پرېښودو مه هېروئ، ځکه پخواني قومونه هم د همدې له امله له رحمته محروم شول. پوه شئ! تاسې د اسلام اړيکې پرې کړې، حدود مو ضايع کړل، او احکام مو هېر کړل. الله تعالى ماته امر کړى چې له ناکثينو، قاسطينو او مارقينو سره وجنګېږم. له ناکثينو سره مې وجنګېدم، له قاسطينو سره مې جهاد وکړ، او مارقين مې سپک او ذليل کړل. اوس يې يواځې لږ شمېر پاتې دي، او که الله تعالى ماته مهلت راکړي، يو بل برېد به پرې وکړم. زه له ماشومتوبه د عربو مشران نسکور کړي، او د ربيعه او مضر اتلان مې مات کړي دي. تاسې پوهېږئ چې له رسول الله ﷺ سره زما نږدېوالى او ځانګړى مقام څه و. هغه به زه په خپله خونه کښولم، په غېږ کې به يې نيولم، په خپل بستر کې به يې راسره ويده کولم، خپل بدن به يې زما بدن ته رانږدې کاوه، او زه به يې له پاک بوى نه خوند اخستم. هېڅکله يې زما په وينا کې دروغ او په عمل کې تېروتنه ونه موندله. له هماغه وخته چې رسول الله ﷺ له شېدو بېل شو، الله تعالى جبرئيل عليه السلام ورسره وټاکه چې شپه او ورځ د کمال، راستى او ښو اخلاقو لارې وروښيي. او زه به تل ورسره وم، لکه بچى له مور سره. هره ورځ به يې د اخلاقو نوى باب راته ښووه او امر به يې کاوه چې پيروي يې وکړم. هغه به هر کال څو مياشتې په غار حراء کې تېراوې، يوازې زه به يې ليدم، او بل څوک به يې نه ليد. په هغه وخت کې په هېڅ کور کې اسلام نه و، مګر د رسول الله ﷺ په کور کې چې خديجه رضى الله عنها هم پکې وه، او زه دريم وم. د وحى او رسالت رڼا مې ليدله، او د نبوت بوى مې حس کاوه. کله چې وحى نازلېده، ما د شيطان ناله واورېده. ما وپوښتل: اى د الله تعالى رسوله! دا د چا ناله ده؟ ويې فرمايل: دا شيطان دى، چې له عبادته مأيوس شوى. او راته ويې فرمايل: «علي! هغه څه ته ګورې چې زه يې وينم، او هغه څه اورې چې زه يې اورم، مګر ته نبي نه يې، بلکې زما وزير يې، او پر خير يې». زه له رسول الله ﷺ سره وم کله چې د قريشو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشران راغلل او ويې ويل: «اى محمده! تا داسې دعوه وکړه چې نه دې پلرونو کړې او نه ستا د کورنۍ چا. مور له تا يوه نښه غواړو، که دې راوښوده، نو پوه به شو چې ته د الله تعالى رسول يې، او که نه، نو ته جادوګر او دروغجن يې». رسول الله ﷺ وفرمايل: «څه غواړئ؟» هغوى وويل: «دې ونې ته امر وکړه چې له ريښو راووځي او ستا مخې ته ودرېږي». رسول الله ﷺ وفرمايل: «الله تعالى پر هر څه قادر دى. که دا کار وشي، ايمان راوړئ؟» ويې ويل: هو. بيا يې وفرمايل: «زه پوهيږم چې تاسې به خير ته نه راګرځئ، په تاسې کې به څوک وي چې د بدر په ځاه کې به ولوېږي، او څوک به وي چې د احزاب جګړه به رامنځته کړي». بيا يې ونې ته اشاره وکړه او وفرمايل: «اى ونه! که پر الله تعالى او د قيامت پر ورځ ايمان لرې، او پوهيږې چې زه د الله تعالى رسول يم، نو له ريښو سره راووزه او زما مخې ته ودرېږه». زما په ځان قسم، ونې له ريښو سره راووتله، په قوي غږ او خوځښت سره رامخته شوه، ځينې ځانګې يې د رسول الله ﷺ پر سر او ځينې پر ما راغلې، او زه د هغه ښې لورې ته ولاړ وم. کله چې قريشو دا وليدل، په تکبر يې وويل: «امر وکړه چې نيمه دې راشي او نيمه دې پر ځاى پاتې شي». رسول الله ﷺ امر وکړ، هماغسې وشول. بيا يې وويل: «امر وکړه چې بېرته سره يوځاى شي». رسول الله ﷺ امر وکړ، او ونې بېرته خپل حالت ته ورغله. زه وم چې ومې ويل: لا اله الا الله، اى د الله تعالى رسوله! زه لومړى څوک يم چې پر تا ايمان راوړم، او لومړى څوک يم چې اقرار کوم دا ونه د الله تعالى په امر د ستا د نبوت د رښتينولې لپاره راغله. خو د قريشو مشران ټولو وويل: «دا جادوګر دى، دروغجن دى، او ډېر ماهر جادو لري». او بيا يې وويل: «ستا نبوت به څوک ومني بې له عليه؟» او زه له هغو کسانو يم چې د الله تعالى په لاره کې د چا له ملامتۍ نه وېرېږم، څېرې يې د رښتينو مؤمنانو دي، خبرې يې د نېکانو خبرې دي، شپه په عبادت تېروي او ورځ رڼا کوي، قرآن ته پناه وړي، د الله تعالى او د هغه د رسول ﷺ سنت راژوندي کوي، نه کبر لري، نه پر چا ځان لوړ ګڼي، نه خيانت کوي او نه په ځمکه فساد جوړوي. زړونه يې په جنت کې وي او بدنونه يې په نېکو عملونو بوخت وي.

۱۹۳ ـ د پرهيزګارانو وصف

)ويل شوي چې د امام □ يو پرهيزګار ملګري، چې هَمّام نومېده، وويل: اى اميرالمؤمنين! پرهيزګاران داسې راته بيان کړه لکه زه يې چې په خپلو سترګو وينم. امام □ لږ تم شو او ويې فرمايل: «اى همامه! له الله تعالى ووېرېږه او نېکي کوه، ځکه الله تعالى له پرهيزګارانو او نېکانو سره دى». خو هَمّام لاس وانخيست او ټينګار يې وکړ، تر دې چې امام □ د پرهيزګارانو د صفتونو بيانولو پرېکړه وکړه. نو الله تعالى يې وستايه، پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل پيغمبر يې درود ووايه، او ويې فرمايل(:
د الله تعالى له ستاينې وروسته! بېشكه الله تعالى مخلوقات داسې پيدا كړل چې نه يې د هغوى اطاعت ته اړتيا لرله او نه يې د هغوى له نافرمانۍ څه زيان رسېده، ځكه نه د ګناهكارانو ګناه الله تعالى ته ضرر رسوي او نه د مؤمنانو اطاعت هغه ته ګټه رسوي. د بندګانو روزي يې ووېشله او هر يو يې په خپل ځاى كې كېښود. خو پرهيزګاران! هغوى په دنيا كې د غوره فضيلتونو خاوندان دي، خبرې يې رښتينې وي، جامې يې منځلارې وي، او تګ يې په عاجزۍ او تواضع وي. خپلې سترګې له هغه څه پټوي چې الله تعالى حرام كړي دي، او خپل غوږونه د ګټور علم لپاره ځانګړي كوي. د سختۍ او پراخۍ په وخت كې يې حالت يو شان وي. كه هغه مرګ نه واى چې الله تعالى ورته ټاكلى، نو د جنت د شوق او د دوزخ د عذاب د وېرې له امله به يې ارواح د سترګې د رپ هومره هم په بدنونو كې نه تم كېدلې. الله تعالى د دوى په زړونو كې ډېر لوى دى او نور هر څه ورته واړه دي. جنت يې داسې ګڼلى لكه په خپلو سترګو يې چې ليدلى وي او په نعمتونو كې يې ژوند كوي، او دوزخ يې داسې باوري كړى لكه ليدلى يې وي او په عذاب كې يې ايسار وي. د پرهيزګارانو زړونه غمجن وي، خلك يې له آزار څخه خوندي وي، بدنونه يې نرى وي، غوښتنې يې لږې وي، نفسونه يې پاك او لمنې يې سپېڅلې وي. په دې لنډه دنيا كې يې صبر كړى، څو د قيامت ابدي هوساينه تر لاسه كړي؛ دا يو ډېر ګټور تجارت دى چې الله تعالى ورته برابر كړى دى. دنيا غوښتل چې دوى وغولوي، خو دوى يې اراده ونه كړه. غوښتل يې چې بنديان يې كړي، خو دوى په خپل ځان وركولو سره ځانونه تري ازاد كړل. پرهيزګاران د شپې ولاړ وي، لمونځ كوي، قرآن په ټوټو ټوټو او له فكر او تدبر سره لولي، په قرآن خپل زړونه غمجنوي او د خپلو دردونو درمل پكې پيدا كوي. كله چې داسې آيت ته ورسېږي چې پكې زېرى وي، په شوق او تمه ورته مخه كړي، او د زړه په شوق پكې ورګوري، او داسې ګومان كوي چې د جنت نعمتونه يې د سترګو مخې ته دي. او كله چې داسې آيت ته ورسېږي چې د الله تعالى وېره پكې وي، د زړه غوږ ورته نيسي، او داسې ګڼي لكه د دوزخ د لمبو غږ يې په غوږونو كې انګېږي. نو ملاوې د ركوع په شان ټيټوي، تندۍ، لاسونه او پښې پر ځمكه ږدي، او له الله تعالى نه د دوزخ له اوره د خلاصون غوښتنه كوي. پرهيزګاران د ورځې پوهان، زغم لرونكي، نېك عمله او باتقوا خلك وي. د الله تعالى وېره يې داسې نرى كړي لكه تراشل شوى غشى. څوك چې ورته ګوري، ګومان كوي ناروغان دي، حال دا چې ناروغان نه وي، او وايي: خلك په غلطه دي! په داسې حال كې چې د دوى ظاهري وارخطايي د يوه ستر امر نښه وي. د خپلو كمو اعمالو څخه نه خوښېږي، او ډېر اعمال هم ډېر نه ګڼي. خپل نفس ملامتوي او له خپلو كړنو وېره لري. كله چې څوك يې وستايي، له هغو خبرو وېرېږي چې د ده په باب ويل شوي دي او وايي: «زه خپل ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر نورو ښه پېژنم، او الله تعالی مې له ما هم ښه پېژني. بار الها! ما په هغو خبرو مه نیسه چې دوی یې وایي، او ما تر هغه غوره وګرځوه چې دوی یې وایي، او هغه ګناهونه مې وبخښه چې دوی تریې خبر نه دي». د پرهیزګار له نښو څخه یوه دا ده چې ته به یې داسې وینې: په دین کې قوي، نرم خویه او لراندی وي، یقیني ایمان لري، د علم په زده کړه کې حریص وي، له علم سره زغمناک وي، په شتمنۍ کې منځلارۍ وي، په عبادت کې عاجز وي، په فقر کې ښایسته وي، په سختیو کې زغمناک وي، د حلال رزق په لټه کې وي، د هدایت په لاره خوښ وي، او له طمعې ځان ساتي. نېک اعمال کوي، خو بیا هم وېره لري. ورځ په شکر تیروي، او شپه د الله تعالی په یاد سبا کوي. ویده کېږي خو وېرېدلی وي، او راپاڅي خو خوشحال وي؛ وېره یې له دې وي چې غافل نه شي، او خوشحالي یې د الله تعالی له فضل او رحمته وي چې ورسېدلی وي. که نفس یې په هغه څه کې اطاعت ونه کړي چې پرې سخت وي، نو له هغه څه یې محروموي چې خوښوي یې. د ده د سترګو رڼا په هغه څه کې ده چې همېشني دي، او هغه څه پرېږدي چې پاتې کېدونکي نه دي. زغم له علم سره ګډوي، او خبره له عمل سره نښلوي. ته به یې وینې چې هیله یې لنډه، لغزش یې لږ، زړه یې عاجز، نفس یې قانع، خواږه یې لږ، کار یې اسانه، دین یې ساتل شوی، شهوت یې مړ، او غوسه یې ټکول شوې ده. خلک یې له خیر نه هیله لري، او له شره یې خوندي وي. که د غافلانو په منځ کې وي، نوم یې د ذاکرانو په ډله کې لیکل کېږي، او که د ذاکرانو په منځ کې وي، د غافلانو له ډلې نه شمېرل کېږي. پر چا چې ظلم وکړي، ښېنه یې کوي، چا چې تریې محروم کړي، هغه ته ښېنه کوي، له هغه چا سره اړیکه ټینګوي چې ورسره یې پرې کړې وي، له بدو خبرو لرې وي، وینا یې نرمه وي، بدۍ یې پټې وي، نېکۍ یې ښکاره وي. خیر یې ټولو ته رسېږي، او آزار یې هېچا ته نه رسېږي. په سختیو کې آرام وي، په ناخوالو کې زغمناک وي، او په خوشحالۍ کې شکر باسي. پر دښمن ظلم نه کوي، او د مینې له امله ګناه ته نه لوېږي. مخکې له دې چې نور پرې شاهدي ورکړي، خپله په حق اعتراف کوي. امانت نه ضایع کوي، او هغه څه نه هېروي چې وریاد کړل شي. خلک په بدو لقبونو نه بولي، ګاونډی نه ځوروي، د نورو په مصیبت نه خوشحالېږي، په باطل کار کې نه ننوځي، او د حق له پولې نه اوړي. که چوپ وي، چوپتیا یې نه غمجنوي، او که وخاندي، قهقهه نه کوي. که پرې ظلم وشي، صبر کوي، تر دې چې الله تعالی یې بدل واخلي. خپل نفس یې د خپل لاس له امله په زحمت کې وي، خو خلک د ده له لاسه په آرام کې وي. د آخرت لپاره ځان ستړی کوي، خو خلکو ته هوساینه رسوي. له خلکو لیرې والی یې د زهد او پارسایۍ له امله وي، او نږدېوالی یې د نرموالي او مهربانۍ له امله. لیرېوالی یې د تکبر او ځانلویۍ له کبله نه وي، او نږدېوالی یې د چل او دوکې لپاره نه وي. (کله چې د امام خبره دې ځای ته ورسېده، همّام یوه سخته چیغه وکړه او ساه یې ورکړه. امام □

(c) ketabton.com: The Digital Library

وفرمایل:) په الله تعالی قسم، زه له همدې پېښې پر همّام وېره لرله. بیا یې وفرمایل: ایا ځرګند نصیحتونه له هغو سره همداسې چلند کوي چې د منلو وړتیا ولري؟ یو کس وویل: ولې له تا سره داسې ونه شول؟ امام وفرمایل: افسوس پر تا! هر مرګ ته ټاکلی وخت شته چې نه ترې مخکې کېږي، او ځانګړی سبب لري چې نه ترې اوړي. چوپ شه او دا ډول خبرې بیا مه کوه، ځکه شیطان دا ستا پر ژبه جاري کړې ده.

۱۹۴ ـ د منافقانو وصف

)له شرح خویی نه داسې څرګندېږي چې دا وینا په کوفه کې شوې ده(.
مور د الله تعالی ستاینه پر هغه توفیق کوو چې د خپل اطاعت لپاره یې راکړ، او دا چې له نافرمانۍ یې بند کړو، او له هغه غواړو چې خپل نعمت راته بشپړ کړي او زمور لاسونه له خپلې ټینګې رسۍ سره وټړي. او شاهدي ورکوو چې محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی، هغه چې د حق د رضا په لاره کې د هر ډول سختۍ او کړاوونو جامونه وځښل. داسې مهال و چې خپلوانو یې ورسره دوه مخي او دښمني کوله، او پردیانو یې پر ضد کینه او دښمني یوځای کړې وه. عربان د رسول الله ﷺ پر ضد بېمهاره راپاڅېدل، پر اسونو یې تازیانې وهلې او له هر لورې راټولېدل، او له تر ټولو لرې او هېر شوو سیمو څخه یې خپله دښمني راوړله. ای د الله تعالی بندګانو! زه تاسې د الله تعالی له وېرې سره سپارم، او له منافقانو مو وېرووم، ځکه هغوی هم پخپله ګمراه دي او نور هم ګمراه کوي، پخپله خطاکار دي او خلک هم خطا ته رابولي. هغوی په بېلابېلو رنګونو راڅرګندېږي، له رنګارنګو چلونو ګټه اخلي، د تاسې د ماتولو لپاره له هر پناهځای کار اخلي، او په هر کمین کې تاسې ته ناست وي. زړونه یې ناروغ دي، خو ظاهر یې ښایسته وي. په پټه لارې وهي، او له کږو لارو تګ کوي. ښه یې د دوا په شان وي، خبره یې د علاج په شان وي، خو کړنې یې داسې درد وي چې دوا نه لري. د خلکو پر هوسایني حسد کوي، د خلکو پر بلاوو زیاتوي، او هیلهمن خلک ناامیده کوي. په هره لاره کې یې یو وژل شوی، په هر زړه کې یې یو لاره، او پر هر غم یې اوښکې دي. یو د بل ستاینه په پور ورکوي، او بدله غواړي. که څه وغواړي، ډېر ټینګار کوي، او که وغندل شي، پرده څیري کوي. که حکم وکړي، له پولې اوړي. د هر حق پر وړاندې یې باطل، د هر دلیل پر وړاندې یې شبهه، د هر ژوندي پر وړاندې یې قاتل، د هرې دروازې لپاره یې کیلي، او د هرې شپې لپاره یې څراغ برابر کړی دی. د ناامیدۍ په ښودلو سره خپلو هیلو ته رسېدل غواړي، خپل بازار ګرموي، او خپل توکي پلوري. خبرې کوي خو خلک په شک او تېروتنه کې اچوي، صفتونه کوي خو غولوي، په پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې لاره اسانه ښيي خو بيا يې په سختو تنګيو کې بندوي. هغوی د شيطان ملګري او د جهنم لمبې دي. «همغوی د شيطان ډله ده، او پوه شئ چې د شيطان ډله تاوانيان دي».

۱۹۵ ـ د الله تعالی له وېرې او د قيامت د ياد سپارښتنه

)د اصول کافي د څرګندونو له مخې، دا وينا په کوفه کې شوې ده(.
ستاينه د هغه الله تعالی لايقه ده چې د خپل قدرت، لويوالي او عظمت نښې يې داسې څرګندې کړې دي چې سترګې يې د قدرت له حيرانتيا هک پک کړې دي، او لوړې اندېښنې يې د هغه د صفاتو له حقيقت پېژندلو عاجزې کړې دي. او زه شاهدي ورکوم چې له الله تعالی پرته بل معبود نشته، داسې شاهدي چې له ايمان، يقين، اخلاص او سم اقرار څخه راتوکېدلې وي. او شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی. الله تعالی خپل پيغمبر هغه وخت راولېږه چې د هدايت نښې هېرې شوې وې او د دين لارې ورانې شوې وې. هغه حق ښکاره کړ، خلکو ته يې نصيحت وکړ، ټول يې د ژغورنې لارې ته وبلل او منځلاريتوب ته يې امر وکړ، د الله تعالی درود دې پر هغه او د هغه پر کورنۍ وي. او پوه شئ ای د الله تعالی بندګانو! چې الله تعالی تاسې ببځايه نه دي پيدا کړي او بې سرپرسته يې نه ياست پرې ايستي. هغه پر تاسې د خپلو نعمتونو اندازه پېژني او د خپلو نېکيو کچه درته معلومه لري. نو له الله تعالی نه بريا او کاميابي وغواړئ، له هغه نه غوښتنه وکړئ او د هغه فضل وغواړئ، ځکه د هغه او ستاسې ترمنځ نه پرده شته او نه ترلې دروازه. الله تعالی په هر ځای، هره شېبه او هر وخت له ټولو انسانانو او پېريانو سره دی. ډېر ورکول د هغه له شتمنۍ نه کموي، او بخښش يې په خزانو کې کموالی نه راولي، نه غوښتونکي يې پانګه ختمولی شي او نه اخيستونکي يې زېرمه پای ته رسولی شي. يو څوک د هغه د بل چا پر احسان خنډ نه شي کېدای، يو غږ يې له بل غږ نه نه اړوي، د يوه چا بخښش بل نعمت اخيستل نه بندوي، او غوسه يې رحمت نه منع کوي، او رحمت يې له عذابه نه غافلوي. پټوالی يې د ښکاره والي مانع نه دی، او ښکاره والی يې هغه له پټېدو نه نه راګرځوي. نږدې هم دی او لرې هم، لوړمرتبه هم دی او نږدې هم، ښکاره پټ هم دی او پټ ښکاره هم. ټولو ته بدله ورکوونکی دی، خو خپله بدله نه ورکول کېږي. موجودات يې د فکر او اندېښنې په وسيله نه دي پيدا کړي، او له هغوی يې د سترېا او زحمت لپاره مرسته نه ده غوښتې.
ای د الله تعالی بندګانو! زه تاسې تقوا ته رابولم، ځکه هماغه ستاسې د کنټرول وسيله او د ټينګېدو لامل ده. نو د تقوا رسۍ ونيسئ او د هغې حقيقتونو ته پناه يوسئ، څو تاسې د آرامۍ ځايونو، پراخو هستوګنځايونو، خوندي پناهځايونو او د عزت کورونو ته ورسوي، په هغه ورځ چې سترګې خېرې شي، هر څه د انسان په نظر تياره شي، او د اوښانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

رمي، شتمنۍ او ډېر مالونه هېر شي. ځکه د قيامت په ورځ به په صور کې داسې پوکی وشي چې زړونه به ودرېږي، ژبې به ودرېږي، لوړ غرونه او کلک کانې به وغورځي، او سختې برخې به داسې نرمې شي لکه سراب، غرونه به له ځمکې سره برابر شي، داسې چې نه به ژوروالی پاتې وي او نه لوړوالی. نو په هغه وخت کې به نه شفيع وي چې شفاعت وکړي، نه دوست وي چې ګټه ورسوي، او نه به عذر غوښتنه څه ګټه ولري.

۱۹۶ ـ له غفلت څخه خبرداری

الله تعالی خپل پيغمبر ﷺ هغه وخت راولېږه چې نه د دين کومه نښه ولاړه وه، نه د هدايت کوم څراغ بل و، او نه د حق کومه روښانه لار څرګنده وه. ای د الله تعالی بندګانو! زه تاسې د الله تعالی له وېرې سره سپارم او له دنياپالنې مو وېروم، ځکه دنيا د نه پاتې کېدو کور او د سختيو او کړاوونو ځای دی. د دنيا اوسېدونکي د تللو په حال کې دي او د اقامت کوونکي يې د بېلتون لپاره تياکل شوي دي. دنيا خلک داسې لړزوي لکه طوفاني کښتۍ چې په سمندر کې واوړي؛ ځينې يې د اوبو په منځ کې مړه شي، او ځينې نور د څپو پر سر ځانونه وژغوري، بادونه يې دېخوا او هغېخوا وړي او هر لوري ته يې چې وغواړي رسوي. نو هغه څوک چې په اوبو کې مړ شي نه راايستل کېږي، او هغه چې ژغورل شوی وي هم مرګ ته روان وي. ای د الله تعالی بندګانو! اوس پوه شئ چې ژبې ازادې دي، بدنونه روغ دي، غړي او جوارح چمتو دي، د بېرته راګرځېدو لار شته، او فرصت ډېر دی، مخکې له دې چې وخت له لاسه ووځي او مرګ راورسي. نو د مرګ راتګ حتمي وبولئ او د هغه راتلو ته په انتظار مه ناست کېږئ.

۱۹۷ ـ د امير المؤمنين فضيلتونه

)دا وينا په کوفه کې د هغه د واکمنۍ په دوره کې شوې ده(.

د محمد ﷺ ياران او ملګري، چې د هغه د رازونو ساتونکي دي، نښه پوهېږي چې ما هېڅکله، حتی د يوې شېبې لپاره هم، د الله تعالی او د هغه د رسول له امره سرغړونه نه ده کړې، بلکې ما په هغو ځايونو کې د خپل ځان په بيه د رسول الله ﷺ مرسته کړې ده چې اتلانو پکې قدمونه لړزېدل او خلک به تښتېدل، او دغه مېړانه الله تعالی راکړې وه. رسول الله ﷺ په داسې حال کې وفات شو چې سر يې زما پر سينه ايښی و، او روح يې زما په لاس کې ووت، ما هغه پر خپل مخ راکښ. د رسول الله ﷺ غسل ما ورکړ، او فرښتو راسره مرسته کوله، داسې شکارېدل لکه د کور دروازې او دېوالونه چې فرياد

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهي. ځينې فرښتې به راکښته کېدې او ځينې به ښېرته اسمان ته ختلې. زما غوږونه د هغو فرښتو له ورو ورو غږونو ډک وو چې پر هغه به يې لمونځ کاوه، تر هغه چې مور هغه په خپلې خونې کې خاورو ته وسپاره. نو د هغه په ژوند او د مرګ په شېبو کې تر ما بل ځوک ځوک تري نږدې او ورې و؟ نو ای خلکو! په روښانه زړه حرکت وکړئ او خپل نيت د دښمن پر وړاندې په جهاد کې سم کړئ. قسم په هغه الله تعالی چې له هغه پرته بل معبود نشته، زه پر روښانه حق روان يم، او زما دښمنان د باطل پر ژورو درو ولاړ دي. زه هغه څه وايم چې تاسې يې اورئ، او د ځان او ستاسې لپاره له الله تعالی نه بښنه غواړم.

۱۹۸ ـ د الله تعالی علم، د اسلام ځانګړتيا، او د پيغمبر د بعثت بيان

الله تعالی د غرونو او دښتو د وحشي حيواناتو له نعرې، د بندګانو له پټو ګناهونو، د ژورو سمندرونو د کبانو له تګ راتګ، او د تندو بادونو له املې د اوبو له ټکر څخه خبر دی. او شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د الله تعالی برګزيده، د وحي استازی، او د هغه د رحمت رسول دی. د الله تعالی له ستاينې وروسته! زه تاسې د الله تعالی له وېرې سره سپارم، هغه الله تعالی چې ستاسې پيدا کول يې پيل کړل او ښېرته ورګرځېدل مو هم د هغه لوري ته دي. هماغه چې ستاسې هيلې يې پوره کړې، او ستاسې د هيلو پای ته رسېدل هم ده ته دي. ستاسې سمه لار هم ده ته پای مومي، او د وېرې او وحشت پر مهال هغه ستاسې پناهځای دی. بېشکه تقوا د زړونو د ناروغيو دوا، د زړونو رڼا، د بدنونو د دردونو شفا، د روح زخمونو مرهم، د نفسونو د ککړتيا پاکوونکې، د سترګو د تيارو رڼا، د ناارامۍ پر مهال ډاډ، او د تيارو د لرې کولو څراغ دی. نو د الله تعالی اطاعت د خپل باطن جامه وګرځوئ، نه يوازې د ظاهر جامه، او د زړه له کومې اطاعت وکړئ، څو د بدن له غږو سره مو ګډ شي، او په ټولو چارو مو واکمن شي. د الله تعالی اطاعت د ژوند د اوبو د سرچينې، د غوښتنو د قبول شفيع، د وېرې د ورځې پناه، د قبرونو روښانوونکی څراغ، د برزخ د اوږدو وحشتونو آراموونکی، او د ژوند د سختو شېبو د نجات لاره وګرځوئ. ځکه د الله تعالی اطاعت له هلاکوونکو پېښو او له هغو وېروونکو ځايونو څخه ژغورنه ده چې تاسې يې انتظار باسئ، او د لمبو له تاوده اوره ساتنه ده. ځوک چې تقوا غوره کړي، سختی تري لرې شي، ترخې چارې ورته خوږې شي، د ستونزو بار سپک شي، ستونزمن او ستړي کوونکي تکليفونه اسانه شي، له لاسه وتلی عزت به پرې ښېرته راشي لکه د باران څاڅکي، بند شوی رحمت به ښېرته وبهېږي، او کمو شويو برکتونو ته به زياتوالی ورشي. نو له هغه الله تعالی ووېرېږئ چې په نصيحت يې تاسې ته ډېره ګټه دررسولې ده، د خپل رسول په رسالت يې ښه نصيحت درته کړی، او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو نعمتونو يې پر تاسې منت اېښی دی. ځانونه د الله تعالی عبادت ته عاجز کړئ او د اطاعت حق يې په ځای کړئ. ببشکه اسلام هغه دين دی چې الله تعالی د ځان لپاره غوره کړی، د لطف په سترګه يې روزلی، او تر ټولو غوره مخلوق يې د هغه د رسولو لپاره ټاکلی دی. د اسلام بنسټونه يې پر خپلې مينې ټينګ کړي، او په عزت يې نور دينونه سپک کړي دي. د اسلام په لوړولو يې د نورو امتونو ارزښت راکم کړ، او په درناوي يې دښمنان ذليل کړل، او په مرسته يې کلک مخالفان مات کړل. په پياوړي کولو يې د ګمراهۍ ستنې ورماتې کړې، او تږي يې د اسلام له خوږو اوبو خړوب کړل، او د هغه حوضونه يې له اوبو ډک کړل. الله تعالی اسلام داسې ټينګ کړی چې اړيکې يې نه شلېږي، کړۍ يې نه جلا کېږي، ستنې يې نه نړېږي، بنسټونه يې زوال نه مومي، ونه يې له جړې نه ايستل کېږي، وخت يې نه پای ته رسېږي، احکام يې نه زاړه کېږي، ځانګې يې نه پرې کېږي، لارې يې نه تنګېږي او نه خرابېږي، او تګ پکې ستونزمن نه دی. په رښا کې يې تياره نه ننوځي، په نېغه لار کې يې کروالی نه راځي، ستنې يې نه کږېږي، او لارې يې له سختۍ پاکې دي. په ځراغونو کې يې خاموشي نشته او په خوږوالي کې يې ترخوالی نه راځي. اسلام ټينګې ستنې دي چې الله تعالی يې بنسټونه په حق کې ټينګ کړي، چينه ده چې اوبه يې په جوش دي، ځراغ دی چې لمبې يې رڼې دي، نښه ده چې د حق غوښتونکي پرې لار مومي، بيرغ دی چې د حق پلوه کسان پرې پېژندل کېږي، او حوض دی چې ورننوتونکي پرې مړېږي. الله تعالی خپل ستر رضا په اسلام کې اېښی دی، او د دين تر ټولو لوړې ستنې او د اطاعت تر ټولو جګ سرونه يې په اسلام کې ځای پر ځای کړي دي. اسلام د الله تعالی په نزد ټينګې ستنې، جګ تعمير، روښانه لار، رون لمبه، قوي برهان، لوړ نښه او نه ماتېدونکی ځواک دی. نو اسلام لوی وبولئ، پيروي يې وکړئ، حق يې ادا کړئ او په خپل مناسب ځای کې يې کېږدئ. بيا الله تعالی محمد ﷺ هغه مهال راولېږه چې دنيا د پای پراوونو ته رسېدلې وه، د آخرت نښې نږدې شوې وې، ښکلا يې تياره شوې وه، او خپل اوسېدونکي يې پورته کړي وو. ځايونه يې ناهمواره شوي وو، له منځه تلو ته چمتو وه، د پای وخت يې رانږدې شوی و، نښې يې راڅرګندې شوې وې، موجودات يې د مرګ پر غاړه وو، د ژوند کړۍ يې پرې شوې وې، اسباب يې ګډوډ شوي وو، بيرغونه يې زاړه شوي وو، پردې يې شلېدلې وې او عمرونه يې لنډ شوي وو. په داسې وخت کې الله تعالی خپل پيغمبر ﷺ د رسالت څرګندوونکي، د امت د عزت سرچينه، د حقيقت تږو ته د پسرلي باران، د مسلمانانو د لوړتيا وسيله او د يارانو د شرف نښه وګرځاوه. بيا يې قرآن وربانده نازل کړ، قرآن داسې رڼا ده چې نه مړه کېږي، داسې ځراغ دی چې ځلا يې نه ختمېږي، داسې سمندر دی چې ژوروالی يې نه درک کېږي، داسې لار ده چې تلونکی پکې نه بېلارې کېږي، داسې لمبه ده چې رڼا يې نه تياره کېږي، داسې بېلوونکی دی چې برهان يې نه مړېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې ودانۍ ده چې ستنې يې نه غورځي، داسې شفا ده چې وېرونکې ناروغۍ له منځه وړي، داسې ځواک دی چې ملاتړي يې نه ماتېږي، او داسې حق دی چې ياران يې نه مغلوبېږي. قرآن د ايمان معدن او اصل دی، د پوهې چينې او د علومو سمندرونه دي، د عدالت سرچينه او د عدل روان سيند دی، د اسلام بنسټونه او ټينګې ستنې دي، د حقيقت خوږې اوبه او د هغه ځمکې دي. داسې سمندر دی چې تږي يې اوبه نه شي خلاصولی، او داسې چينه ده چې اوبه يې نه کميږي. داسې ځای دی چې هر څومره تږي اوبه واخيستل شي، نه کميږي، داسې هستوګنځی دی چې مسافر يې نه هېروي، داسې نښې دي چې د حق لارويان تږي نه غافلېږي، او داسې غرونه دي چې خلک تږي نه تېرېږي. الله تعالی قرآن د عالمانو د علمي تندې ماتونکی، د فقيهانو د زړونو د پسرلي باران، او د صالحانو لپاره پراخه او سمه لار ګرځولی دی. قرآن داسې دوا ده چې له هغې سره ناروغي نه پاتې کېږي، داسې رڼا ده چې له هغې سره تيارې نه وي، داسې رسۍ ده چې تارونه يې کلک دي، داسې پناه ده چې څوکه يې لوړه ده، او داسې عزت دی د هغه چا لپاره چې قرآن غوره کړي. د هغه چا لپاره د امن ځای دی چې ورننوځي، د هغه چا لپاره لارښوونکی دی چې پيروي يې وکړي، د هغه چا لپاره د وظيفې وسيله ده چې د خپل ژوند طرز يې وګرځوي، د هغه چا لپاره برهان دی چې پرې خبرې کوي، د هغه چا لپاره شاهد دی چې پرې له دښمن سره استدلال کوي، د هغه چا لپاره د بريا لامل دی چې په قرآن استدلال کوي، د هغه چا لپاره د نجات وسيله ده چې ساتنه يې کوي او عمل پرې کوي، د هغه چا لپاره لارښود دی چې کار پرې کوي، د هغه چا لپاره د هدايت نښه ده چې پکې فکر کوي، د هغه چا لپاره سپر دی چې ځان پرې ساتي، د هغه چا لپاره علم دی چې حفظ يې کوي، د هغه چا لپاره حديث دی چې روايت يې کوي، او د هغه چا لپاره حکم دی چې پرې قضاوت کوي.

۱۹۹ ـ د لمانځه، زکات او د امانت د ادا کولو ثمره

)دا وينا د يوې جګړې له مخه شوې ده(.

امام به تل خپلو يارانو ته سپارښتنه کوله: ای خلکو! لمونځ پر غاړه واخلئ، هغه وساتئ، ډېر لمونځ وکړئ، او د لمانځه په وسيله الله ته نږدې شئ. «بېشکه لمونځ پر مؤمنانو په ټاکلو وختونو کې فرض شوی دی.» ايا د دوزخيانو ځواب نه اورئ، هغه وخت چې له هغوی وپوښتل شول: څه شی تاسې جهنم ته بوتلل؟ هغوی وويل: «مور له لمونځ کوونکو نه وو.» بېشکه لمونځ ګناهونه داسې غورځوي لکه د مني پاڼې، او د ګناهونو زنځيرونه له غاړو خلاصوي. رسول الله ﷺ لمونځ هغه تودو اوبو ته ورته بللی چې د يوه سړي د کور پر دروازه بهېږي، که هغه هره ورځ پکې پنځه ځله ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومينځي، هېڅ چټلي به پر بدن يې پاتې نه شي. بېشکه د مؤمنانو له ډلې هغو کسانو د لمانځه حق پېژندلی و، چې نه د دنيا ښکلاوې له لمانځه راوګرځول او نه مال او اولادونه، چې د سترګو يخوالی دي، د لمانځه خنډ شول. الله تعالی فرمايي: «هغسې سړي دي چې سوداګري او پېر و پلور يې د الله له ياد، لمانځه درولو او زکات ورکولو نه نه بوختوي.» رسول الله ﷺ له دې سره سره چې د جنت زېرى ورکړل شوى و، په لمانځه کې يې ځان ستړى کاوه، ځکه الله تعالی ورته وفرمايل: «خپلې کورنۍ ته د لمانځه امر وکړه او پر هغه صبر وکړه.» نو رسول الله ﷺ به تل خپله کورنۍ لمانځه ته رابلله او خپله به هم پر لمانځه ټينګ ولاړ و. بېشکه د زکات ورکول او د لمانځه قائمول الله ته د مسلمان د نږدېوالي وسيله ده. ځوک چې زکات په خوښ زړه ورکړي، د هغه د ګناهونو کفاره ګرځي او له جهنمه د ساتنې سبب کېږي. نو نه دې هغه څه ته په حسرت ګوري چې ورکړي يې دي، او نه دې د زکات په ورکولو افسوس کوي. ځکه ځوک چې زکات په مينه نه ورکوي او د ورکړي په بدل کې د لا ښه تمه ولري، هغه د رسول الله ﷺ له سنتو ناخبره دى، اجر يې لږ، عمل يې تباه او تل به پښېمانه وي. د الله له بلې واجبونو څخه يو د امانت ادا کول دي. ځوک چې امانت ادا نه کړي، هغه تاواني دى. الهي امانت پر لوړ اسمانونو، پراخې ځمکې او ولاړو غرونو وړاندې شو، چې تر هغوى لوى، لوړ او پراخ بل څه نه وو موندل شوي، خو هغوى له منلو انکار وکړ. که کوم څه د خپل اوږد، پلن، زور او لوړوالي له امله د امانت له منلو د ځان ساتلو حق درلود، هماغوى وو، خو هغوى د الله له عذابه ووپرېدل او د امانت د درنو پايلو پوهه يې لرله، هغه څه چې تر هغوى کمزوري موجود، يعنې انسان، نه پوهېده، او الله فرمايي: «بېشکه انسان ډېر ظالم او ناپوه دى.» بېشکه له الله تعالی نه پټ نه دي هغه څه چې بندګان يې د شپې او ورځې کوي، هغه د هغوى پر عملونو پوره خبر دى او په خپل علم يې پرې احاطه کړې ده. ستاسې غړي د هغه شاهدان دي، ستاسې اندامونه د هغه لښکر دى، ستاسې روحونه د هغه جاسوسان دي او ستاسې پټې ناستې ورته ښکاره دي.

۲۰۰ ـ د معاويه د دروغجن سياست په اړه

)دا وينا له صفين جګړې وروسته، په ۳۸ هجري کال کې، په کوفه کې شوې ده(.
قسم پر الله! معاويه له ما ډېر سياستوال نه دى، خو معاويه مکار او جنايتکار دى. که چل او دوکه بد کار نه واى، زه به تر ټولو ډېر ځيرک وم، خو هره دوکه ګناه ده، او هره ګناه د کفر او انکار يوه ښه ده. «د قيامت په ورځ به د هر مکار په لاس کې يو بيرغ وي چې په هغه به پېژندل کېږي.» قسم پر الله! زه به د دوکې په وسيله غافل نه شم او نه به د سختو حالاتو په فشار کې کمزورى کېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰۱ ـ د حق د روښانې لارې مزل

)دا وينا د کوفې د جومات پر منبر شوې ده(.
ای خلکو! د حق په سمه لاره کې د لږو لارويانو له لږوالي مه وېرېږئ، ځکه ډېرى خلک د داسې دسترخوان شاوخوا راټول شوي چې مړښت يې لنډ او لوږه يې اوږده ده.
ای خلکو! د ټولنې ټول کسان په رضا او غضب کې شريک وي. د ثمود اوښى يو تن پښه غوڅه کړه، خو عذاب ټول قوم ونيو، ځکه ټولو پرې خوښي ښوولې وه. الله تعالى فرمايي: «هغوى اوښى حلاله کړه، بيا پښېمانه شول.» د هغوى ځمکې داسې چيغه کړه او پرېوتې لکه ګرمه اوسپنه چې په نرمه ځمکه کې ښخه شي. ای خلکو! څوک چې پر روښانه لار ولاړ شي، اوبو ته رسيږي، او څوک چې له سمې لارې واوړي، په سرګردانۍ کې پاتې کيږي.

۲۰۲ ـ د امت له لوري پر رسول الله ﷺ د شوي ظلم په اړه شکايت، د حضرت بي بي فاطمې زهرا سلام الله عليها د دفن پر مهال

سلام دې پر تا وي، ای د الله رسوله ﷺ! زما له خوا او ستا د لور له خوا درباندې سلام، هغه چې اوس ستا په څنګ کې راکوزه شوې او ژر درورسېده. ای د الله رسوله! د فاطمې په بيلتون سره زما صبر کم شوى او د ځان ساتلو توان رانه تللى دى، خو ما چې ستا د فراق لويه سخته ليدلې او د ستا د مصيبت دروند بار مې زغملى دى، نو صبر راته شونى دى. زه هغه وم چې تا مې په خپلو لاسونو قبر ته کښته کړې، او ستا پاک روح زما د سينې او غاړې ترمنځ پورته شو. «نو بېشکه موږ د الله يو او بېرته هم هغه ته ورګرځېدونکي يو.» هغه امانت چې تا راته سپارلى و، بېرته واخيستل شو او خپل خاوند ته ورسېد. له دې وروسته به زما غم تلپاتې وي او شپې به مې بې خوبۍ وي، تر هغې ورځې چې الله ماته ستا د اوسېدو کور غوره کړي. ډېر ژر به ستا لور درته خبر درکړي چې ستا امت څنګه پر هغې په ظلم کې سره يو شو. له فاطمې نه وپوښته او زموږ له غمجنو حالاتو ځان خبر کړه، حال دا چې لا ډېر وخت نه دى تېر شوى او ستا ياد هم نه دى هېر شوى. زما سلام دې پر تاسې دواړو وي، د داسې وداع کوونکي سلام چې نه د ناخوښۍ او نه د ستړيا له امله سلام پرېږدي. که ستا له څنګ نه بېرته ګرځم، له ستړيا نه دى، او که ستا د قبر ترڅنګ کښېنم، دا د هغه څه په اړه د بدګومانۍ له امله نه دي چې الله صبرکوونکو ته ژمنه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰۳ ـ د آخرت پلوی ته د یارانو هڅونه

ای خلکو! دنیا د تېرېدو کور دی او آخرت تلپاتې کور دی. نو له خپل دې تېرېدونکي ځایه د خپل تلپاتې کور لپاره توښه واخلئ، او د هغه چا پر وړاندې چې ستاسې پر رازونو خبر دی، خپلې پردې مه څیروئ. مخکې له دې چې بدنونه مو له دنیا ووتل، زړونه مو تري وباسئ. تاسې په دنیا کې ازمویل شوي یاست، او د دنیا لپاره نه، بلکې د بلې نړۍ لپاره پیدا شوي یاست. کله چې څوک مړ شي، خلک وایي: څه یې پرېښودل؟ خو فرښتې وایي: څه یې مخکې ولېږل؟ الله دې ستاسې پلرونه وښني، له خپل ماله یوه برخه مخکې ولېږئ، څو له الله سره درته پاتې شي، او ټول یې وارثانو ته مه پرېږدئ، چې حساب یې ستاسې پر غاړه وي.

۲۰۴ ـ یارانو ته د وروستي سفر لپاره د چمتووالي نصیحت

)امام به تل خپلو یارانو ته داسې نصیحت کاوه(:
چمتو شئ، الله دې پر تاسې رحم وکړي، ځکه د کوچ نعره پورته شوې ده. له دنیا سره تړاو کم کړئ او په ښې توښې سره آخرت ته ور وګرځئ، ځکه ستاسې مخې ته یو سخت او ستونزمن غاښی او وېرووونکي تمځایونه دي چې هلته به کوزېږئ او تم به شئ. پوه شئ چې د مرګ کتنې تاسې ته ډېرې نږدې شوې دي، او ګواکي خپلې منګولې یې ستاسې په وجود کې ښخې کړې دي. د دنیا سختو کارونو مرګ درنه هېر کړی او درنو بلاوو تري غافل کړي یاست، نو له دنیا سره خپل تړاو پرې کړئ او له تقوا نه مرسته واخلئ.

۲۰۵ ـ د ناکثینو له مشرانو، طلحه او زبیر، سره پرېکنده چلند

)طلحه او زبیر، له دې وروسته چې له امام سره یې بیعت کړی و، اعتراض وکړ چې ولې یې د هېواد په چارو کې ورسره مشوره نه ده کړې او له هغوی یې مرسته نه ده غوښتې. امام وفرمایل(:
تاسې پر لږ څه غوسه شوئ او ډېرې نېکۍ مو هېرې کړې. آیا ما ستاسې کوم حق بند کړی دی؟ یا کومه برخه مې د ځان لپاره اخیستې او پر تاسې مې ظلم کړی دی؟ یا کومه د حق دعوه زما مخې ته راوړل شوې وه چې زه پکې کمزوری شوی یم؟ او یا مې د الله کوم حکم نه و پېژندلی او د هغې لارې مې خطا کړې وه؟ قسم پر الله! ما نه خلافت ته مینه لرله او نه پر تاسې واکمنۍ ته لېوالتیا ښودلې وه، بلکې تاسې ما ورته راوبللم او پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما مو وتاړه. هغه ورځ چې خلافت ماته راغی، ما قرآن ته وکتل، هر څه چې پکې امر شوي وو او هر هغه څه چې پکې حکم شوی و، ما تعقیب کړل، او د رسول الله ﷺ په لاره او سنتو پسې ولاړم. نو په دې کې ستاسې او د نورو نظر ته اړتیا نه لرم. تر اوسه داسې څه نه دي پېښ شوي چې زه یې حکم ونه پېژنم او ستاسې او نورو مسلمانانو مشورې ته اړ شم. که داسې څه وای، ما به نه له تاسې او نه له نورو مخ اړاوه. او ستاسې اعتراض چې ولې مې له ټولو سره برابر چلند وکړ، دا هغه طریقه نه وه چې ما په خپل نظر یا د زړه په غوښتنه غوره کړې وي، بلکې ما او تاسې دا چلند د رسول الله ﷺ له ښوونې زده کړی دی، چې هغه کوم حکم راوړی و او څنګه یې عملي کړی و. نو په هغه وېش کې چې الله امر پرې کړی، زه ستاسې اړتیا نه لرم. قسم پر الله! نه تاسې او نه نور کوم داسې حق لرئ چې زما پر وړاندې د اعتراض ژبه خلاصه کړئ. الله دې زموږ او ستاسې زړونه د حق پر لور هدایت کړي او صبر او استقامت دې راپه برخه کړي.

بیا یې وفرمایل: الله دې پر هغه چا رحم وکړي چې حق وویني او مرسته یې وکړي، یا ظلم وویني او له منځه یې یوسي، او حق مرسته کړي څو خپل خاوند ته ورسېږي.

۲۰۶ ـ په جګړه کې اخلاق او د شامیانو له ښکنځلو منع

)امام د صفین په جګړه کې واورېدل چې یاران یې شامیانو ته ښکنځل کوي، نو ویې فرمایل(:

زه نه خوښوم چې تاسې ښکنځل کوونکي واوسئ، خو که مو د هغوی کړنې بیانولې او د هغوی حالتونه مو یادول، نو دا به د حق خبرې ته نږدې او د عذر له پلوه غوره وو. ښه به دا وه چې د ښکنځلو پر ځای مو ویلي وای: خدایا! زموږ او د هغوی وینې وساته، زموږ او د هغوی ترمنځ سوله راوله، او هغوی له ګمراهۍ نه سمې لارې ته راواړوه، څو ناپوهان حق وپېژني، او هغه کسان چې له حق سره جګړه کوي، پښېمانه شي او حق ته راوګرځي.

۲۰۷ ـ د امامت د ساتنې لپاره د امام حسن له جګړې ته د تلو مخنیوی

)د صفین د جګړې په یوه ورځ امام حسن ولیدل چې د دښمن د لښکر پر لور په چټکۍ روان دی، نو ویې فرمایل(:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځوان ونيسئ، څو زما ملا رانه ماته نه کړي، ځکه زه نه غواړم حسن او حسين مرګ ته ورسيږي، هسې نه د هغوی په مرګ سره د رسول الله ﷺ نسل پرې شي.

۲۰۸ ـ د حکميت په قضيه کې د کوفيانو د نافرمانۍ غندنه

)کله چې د حکميت په اړه ياران راپاڅېدل، امام وفرمايل(:
ای خلکو! زما کار له تاسي سره تل زما د خوښې مطابق روان و، تر هغه چې جګړې تاسي کمزوري کړل. پر الله قسم! که جګړې ستاسي له منځه ځينې واخيستل او ځينې يې پرېښودل، نو ستاسي دښمنانو ته هم تر دې سختې کوبونکې وې. زه پرون ستاسي امير او قوماندان وم، خو نن ماته امرونه کېږي. پرون زه منع کوونکی وم، خو نن زه منع کېږم. تاسي ژوندي پاتې کېدل خوښوئ، او زه نه شم کولای تاسي پر داسې لاره مجبور کړم چې تاسي يې نه خوښوئ.

۲۰۹ ـ علاء بن زياد ته سپارښتنه، چې څنګه له دنيا نه سمه ګټه واخلي

)له بصرې جګړې وروسته امام د خپل يوه يار علاء بن زياد کور ته ورغی. کله يې چې د هغه ډېر لوی او ښايسته کور وليد، ويې فرمايل(:
له دې دومره پراخ کور سره په دنيا کې څه کوې، حال دا چې په آخرت کې ورته ډېر اړتيا لرې؟ هو، که وغواړې، له همدې کور سره آخرت ته هم رسېدای شې؛ په دې پراخ کور کې مېلمانه ومنې، له خپلوانو سره د نېکۍ اړيکې وساتې، او هغه حقونه چې ستا پر غاړه دي، اهل حق ته يې وسپاري؛ نو بيا به له همدې پراخ کور سره آخرت هم درته حاصل شي.
علاء وويل: زه له خپل ورور عاصم بن زياد نه ستا حضور ته شکايت کوم. امام وفرمايل: څه ورپېښ شوي؟ علاء وويل: عبا يې اغوستې او له دنيا نه يې ځان ګوښه کړی دی. امام وفرمايل: را يې ولئ. کله چې راغی، امام ورته وفرمايل: ای د ځان دښمنه! ته د شيطان په دام کې لوېدلی يې. آيا پر خپلې ښځې او اولاد رحم نه کوې؟ ته داسې انګېره چې الله پاک خپل پاک نعمتونه حلال کړي، خو نه غواړي چې ته ترې ګټه واخلې؟ ته د الله په نزد تر دې ډېر کوچنی يې چې داسې چلند درسره وکړي.
عاصم وويل: ای اميرالمؤمنين! نو بيا ولې ته پخپله دا خشن لباس او دا سخت خوراک غوره کوې؟ امام وفرمايل: پر تا افسوس! زه ستا په شان نه يم. الله تعالی پر حق امامانو دا واجب کړي چې ځانونه د بېوزلو خلکو له حال سره برابر وساتي، څو د فقير فقر هغه طغيان ته و نه هڅوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۱۰ ـ له رسول الله ﷺ نه د راغلو حديثونو ډولونه او د حديث راويان

)يو چا د هغو بدعتي او بېلابېلو حديثونو په اړه وپوښتل چې په خلکو کې خپاره وو. امام وفرمايل(:

هغه حديثونه چې د خلکو په لاس کې دي، په هغوی کې حق هم شته او باطل هم، ربښتيا هم شته او دروغ هم، ناسخ هم شته او منسوخ هم، عام هم شته او خاص هم، محکم هم شته او متشابه هم، او داسې روايتونه هم شته چې سم ساتل شوي او داسې هم چې په ګومان نقل شوي دي. د رسول الله ﷺ په زمانه کې دومره دروغ پر هغه وتړل شول چې هغه ودرېد او خطبه يې وکړه او ويې فرمايل: «چا چې په قصدي ډول پر ما دروغ وتړل، هغه دې خپل ځای په اور کې ونيسي».

هغه کسان چې حديث نقلوي، څلور ډوله دي، پنځم نه لري:

لومړی هغه منافق دی چې د ايمان څرګندونه کوي او د اسلام نقاب پر مخ لري، نه له ګناه وېرېږي او نه ترې ځان ساتي، او په قصدي ډول رسول الله ﷺ ته دروغ منسوبوي. که خلک پوهېدل چې هغه منافق دروغجن دی، له هغه به يې نه منل او خبره به يې نه تصديقول؛ خو د ناپوهۍ له امله وايي: هغه د رسول الله له اصحابو څخه دی، رسول الله ﷺ يې ليدلی، حديث يې ترې اورېدلی او ترې اخيستی، نو ځکه يې خبره مني. حال دا چې الله د منافقانو په اړه دومره خبرتيا درکړې چې اړينه وه او د هغوی صفت يې درته بيان کړی دی. هغوی له رسول الله ﷺ وروسته پاتې شول او د ګمراهۍ مشرانو او د اور بلونکو کسانو ته په دروغو او تهمتونو ورنږدې شول، بيا هغو کسانو ورته واک او حکومت ورکړ، او د خلکو پر غاړو سپاره شول، او د هغوی په وسيله يې دنيا ترلاسه کړه. په ربښتيا خلک له واکمنانو او دنيا سره وي، مګر هغه څوک چې الله يې وساتي، او دا همدا لومړی ډول دی.

دوهم هغه څوک دی چې له رسول الله ﷺ نه يې يو څه په غلط فهمۍ اورېدلي، خو خبره يې سمه نه ده ساتلې. په وهم کې څه اخيستي، خو قصداً دروغ نه وايي. څه چې ورسره دي، روايت کوي او پرې عمل کوي او وايي: ما دا له رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي. که مسلمانان پوه شي چې ده تېروتنه کړې او خبره يې ناسمه درک کړې، نه به يې منله، او که خپله پوه شي چې تېروتنه يې کړې، هغه به پرېږدي.

درېيم هغه څوک دی چې له رسول الله ﷺ نه يې اورېدلي چې پر څه يې امر کړی و، خو وروسته يې ترې منع کړې وه او دی پرې نه پوهېږي، يا يې اورېدلي چې له څه يې منع کړې وه، خو وروسته يې امر پرې کړی و، او دی پرې نه پوهېږي. نو منسوخ يې ساتلی، خو ناسخ نه پېژني. که پوه شي چې روايت يې منسوخ دی، هغه به پرېږدي، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مسلمانان هم پوه شي چې دا منسوخ دی، هغوی به هم پرېږدي.
څلورم هغه څوک دی چې نه پر الله دروغ تړي او نه پر رسول الله ﷺ. له دروغو د الله د وېرې او د رسول الله ﷺ د حرمت د ساتنې له امله نفرت لري. په هغه څه کې چې له رسول الله ﷺ نه يې اوربدلي، خطا شوی نه دی، بلکې په ټولو اړخونو يې سم ساتلي دي، او څه چې يې اوربدلي هماغسي بې له کمښت او زياتښت نه نقلوي. ناسخ يې پېژندلی او پرې عمل يې کړی، منسوخ يې درک کړی او پرېښی يې دی، خاص او عام، محکم او متشابه يې پېژندلي، او هر يو يې په خپل ځای ايښی دی.
ځينې خبرې د رسول الله ﷺ له خولې داسې وې چې دوه معناوې يې لرلې، يوه عامه او يوه ځانګړې. که څوک يې اوربدل، خو د الله او د هغه د رسول مقصد يې نه پوهېده، نو په خپلې خوښې يې تفسير کاوه، بې له دې چې پوه شي ولې او د څه لپاره ويل شوي دي. د رسول الله ﷺ ټول اصحاب داسې نه وو چې ترې پوښتنه وکړي او د خبرې حقيقي معنا ترې وغواړي، تر دې چې ځينې به خوشحالېدل که کوم بيدیا مېشتی عرب يا بل پوښتونکی راشي او څه وپوښتي چې هغوی يې ځواب واوري. خو ما چې هر څه ذهن ته راتلل، پوښتل مې او ساتل مې. نو همدا د خلکو تر منځ د روايتونو د اختلاف او د حديث د نقل د توپير علتونه دي.

۲۱۱ ـ د مخلوقاتو د پيدايښت حيرانوونکې نښې

د الله د قدرت او عظمت له نښو او د هغه د صنعت له حيرانوونکو باريکيو څخه دا ده چې له خوځنده بحر او له ماتېدونکو پرلهپسې څپو نه يې وچه ځمکه پيدا کړه، هغه يې طبقو طبقو وويشله، بيا يې طبقې سره بېلې کړې او اوه اسمانونه يې جوړ کړل چې د هغه په امر ودرېدل او په ټاکلي انداز کې ټينګ شول. ځمکه يې پيدا کړه او يوه شنه روانه سمندر يې پر اوږو بار کړه. ځمکه د الله د امر پر وړاندې خاضعه ده او د هغه د کبريا پر وړاندې تسليمه ده، او رواني اوبه د هغه له وېرې ودرېدې. بيا يې ډبرې، غونډۍ او ستر غرونه پيدا کړل، هغوی يې په خپلو ځايونو کې ټينګ کړل او په خپلو قرارګاوو کې يې درول. غرونه يې په فضا کې پورته کړل او ريښې يې په اوبو کې ښخې کړې، غرونه يې له هموارو او ټيټو ځايونو نه راپورته کړل او ورو ورو يې لوړ کړل، ريښې يې د ځمکې په تل کې ټينګې کړې. څوکې يې آسمان ته جګې کړې او سرونه يې اوږده کړل، څو د ځمکې لپاره تکيه او د هغې ميخونه شي. بيا ځمکه له خپلو سختو خوځښتونو وروسته ارامه شوه، څو خپل اوسېدونکي ونه لړزوي او هغه څه چې پر شا يې دي، راونه غورځوي او له ځايه يې ونه خوځوي. نو پاک او منزّه دی هغه الله چې ځمکه يې د دومره ناارامو څپو په منځ کې ودروله، او له لندبل وروسته يې وچه کړه او د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخلوقاتو د ژوند ځای يې وګرځوله، او د هغوی لپاره يې لکه بستر هواره کړه، پر داسې ستر او ولاړ بحر باندې چې نه بهيږي، يوازې تيز بادونه يې ښوروي او له بارانه ډکې ورېځې يې خوځوي. او په دې حيرانوونکو چارو کې د هغه چا لپاره د عبرت درس دی چې له الله وېرېږي.

۲۱۲ ـ د شاميانو پر ضد د جګړې لپاره د خلکو بسيج

خدايا! ستا هر هغه بنده چې زمور عادلانه، له ظلم لرې، او د دين او دنيا لپاره اصلاح کوونکې خبره واوري، خو له اورېدو وروسته يې غاړه وغړوي، ستا له مرستې ډډه وکړي او ستا د دين په درنښت کې سستي وکړي، مور تا پرې شاهد نيسو. ای هغه خدايه چې له ټولو ستر شاهدانو څخه يې! او ټول هغه مخلوقات چې تا په اسمانونو او ځمکه کې ځايولي دي، مور هغوی هم پر هغه شاهدان غواړو، حال دا چې ته د هغه له مرستې بې نيازه يې، او هغه به د خپلو ګناهونو په سزا اخته کوې.

۲۱۳ ـ د الله تعالی او د رسول الله ﷺ وصف

ستاينه هغه الله لره ده چې د مخلوقاتو له ورته والي څخه لوړ او د ستايونکو له بيان نه اوچت دی. د خپل حيرانوونکي تدبير له لارې د هر بينا پر وړاندې څرګند دی، او د خپل عظمت له املـه د هر ژور فکر لرونکي له انده پټ دی. هغه پوه دی، خو پوهه يې له کوم ځای نه اخيستل شوې نه ده، نه په زياتېدو کې ده او نه يې له چا زده کړې. هغه د ټول خلقت نظام سنبالوونکی دی، بې له دې چې فکر يا دروني اند ته اړتيا ولري. هغه خدای چې تيارو نه دی پټ کړی او له رڼاوو يې روښانتيا نه ده اخيستې، شپه يې نه پټوي او ورځ پرې نه راځي، نه يې ليد له سترګو دی او نه يې علم له خبرونو او اطلاع څخه. (د دې وينا يوه برخه د رسول الله ﷺ په اړه ده.) الله خپل رسول ﷺ د اسلام له رڼا سره راولېږه او په غوره کولو کې يې پر ټولو مقدم کړ. د هغه په بعثت سره يې درزونه ډک کړل، غالب زورواکي يې مات کړل، سختۍ يې آسانې کړې او ناهمواری يې هوارې کړې، تر دې چې ګمراهي يې له ښې او چپ لوري خپره کړه او له منځه يې يووړه.

۲۱۴ ـ پيغمبر پېژندنه او د الهي عالمانو ارزښت

زه شاهدي ورکوم چې الله عادل، دادګر او د حق او باطل بېلوونکی دی، او شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د هغه بنده، استازی او د مخلوقاتو سردار دی. کله چې الله مخلوقات په دوو ډلو وويشل، هغه يې په غوره ډله کې ځای پر ځای کړ. په کورنۍ کې يې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زناکار و او نه بدکاره خلک. پوه شئ! الله د ښو کارونو لپاره ځانګړي کسان، د حق لپاره ټینګې ستنې، او د اطاعت لپاره ساتونکي ټاکلي دي. هر ګام چې د اطاعت پر لور اوچتوئ، د الله له لوري مرستندوی درسره وي چې ژبې د هغوی په مټ خبرې کوي او زړونه د هغوی په مرسته ټینګیږي. دوی د مرستې غوښتونکي لپاره مرستندویان او د شفا غوښتونکي لپاره شفا دي.

پوه شئ! داسې بندګان شته چې د الله علم ساتي او له منځه یې نه وړي، د الهي پوهې چینې خوټوي. د الله په دوستۍ سره له یو بل سره ټرلي دي، یو د بل لیدنه کوي، د محبت جامونه یو بل ته ورکوي او د الهي علم له چینې خړوبیږي. شک پکې لار نه مومي او یو د بل غیبت نه کوي. د هغوی فطرت او اخلاق پر همدې ځانګړتیاوو ولاړ دي او اړیکې یې هم پر همدې بنسټ ټینګې دي. دوی د پاکو تخمونو په څېر دي چې له خلکو غوره شوي وي، د کرلو لپاره انتخاب شي او نور پرېښودل شي. په پرلهپسې ازموینو سره خالص شوي او په بیا بیا پاکېدو سره تصفیه شوي دي.

نو انسان باید نصیحت ومني، له قیامته مخکې متقي وي، د دنیا لنډ ژوند ته وګوري، څو دا یې له غوره منزل سره بدل شي، او د هغه ځای لپاره چې ور روانیږي او د بلې نړۍ د پېژندلو لپاره هلې ځلې وکړي. خوشا د هغه چا په حال چې سالم زړه ولري، د هدایت کوونکي الله اطاعت وکړي، له ګمراه کوونکي شیطانه ځان لیرې وساتي، د الهي لارښوونکو په هدایت سره د سلامتۍ لارې ته ورسیږي، او د خپل هادي اطاعت ته غاړه کیږدي، او د نجات لارې ته مخکې له دې چې دروازې وتړل شي او اسباب پرې شي، بیړه وکړي؛ د توبې دروازه خلاصه کړي او ګناهونه له منځه یوسي. نو داسې څوک په حقه لاره درېدلی او سمې لارې ته هدایت شوی دی.

۲۱۵ ـ ستاینه او دعا

)امام به تل په دې کلماتو سره الله رابللو(:

ستاینه هغه الله لره ده چې سهار یې راوړ، بې له دې چې مړ یا ناروغ شوی وم، نه یې زما په رګونو کې کوم درد پرېښود او نه یې د بدو کارونو په بدترینه سزا راونیولم، نه بې اولاده او بې کورنۍ شوم او نه د الله له دینه واوښتم، نه مې پروردګار انکار کړی، نه مې ایمان بدل شوی، نه مې عقل ګډوډ شوی او نه د پخوانیو امتونو په عذاب اخته شوی یم. په داسې حال کې سهار ته ورسېدم چې یو بې اختیاره بنده یم او پر خپل نفس ظالم یم. خدایا! هماغه ته یې چې پر ما حکم کوې، حال دا چې زه عذر نه لرم، او د هغه څه د برابرولو توان نه لرم چې ته یې راکوې، او د ځان د ساتلو وس نه لرم، مګر دا چې ته مې وساتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایا! تاته پناه دروړم له دې چې ستا د بې‌نیازۍ په سیوري کې غریب شم، یا ستا د هدایت په رڼا کې ګمراه شم، یا ستا د قدرت په سیوري کې پر ما ظلم وشي، او یا ذلیل شم، حال دا چې ټول کار ستا په لاس کې دی. خدایا! زما روح هغه لومړنی ارزښتمن نعمت وګرځوه چې له ما یې اخلې، او زما له امانتونو نه هغه لومړی امانت وګرځوه چې بېرته یې اخلې. خدایا! مونږ تاته پناه راوړو له دې چې ستا له فرمانه ووځو، یا ستا له دینه واوړو، یا پر مونږ د نفسونو پرلەپسې هوسونه راکوز شي، څو د هغه هدایت له منلو غاړه وغړوو چې ستا له لورې راکړل شوی دی.

۲۱۶ ـ د رهبر او د خلکو متقابل حقوق او د هغوی ترمنځ سالمې اړیکې

)دا د امام له ویناوو څخه ده چې د صفّین په صحرا کې شوې ده(.

د الله له ستاینې وروسته! الله تعالی زما لپاره پر تاسې د حکومت د سرپرستۍ له امله حق ټاکلی، او ستاسې لپاره یې هم زما په شان حق مقرر کړی دی. حق تر دې ډېر پراخ دی چې ټول بیان شي، خو د عمل پر مهال تر ټولو تنګ او سخت وي. که حق د چا په ګټه جاري شي، نو یوه ورځ به د هغه په زیان هم وکارول شي، او که د چا په زیان جاري شي، یوه ورځ به یې په ګټه هم وي. که داسې وای چې حق یوازې د چا په ګټه وي او زیان ونه لري، نو دا یوازې د الله تعالی لپاره دی، نه د نورو مخلوقاتو لپاره؛ ځکه الله پر بندګانو قدرت لري او پر ټولو موجوداتو عادل دی چې حکم یې پرې چلېږي. خو الله تعالی خپل حق پر بندګانو د خپل اطاعت په بڼه ګرځولی او د اطاعت بدله یې دوه برابره کړې ده، د خپلې مهربانۍ او پراخ فضل له امله چې بندګانو ته یې ورکوي.

نو الله تعالی ځینې خپل حقوق د خلکو پر ځینو نورو واجب کړل او دا حقوق یې یو د بل پر وړاندې ودرول، داسې چې یو حق بل حق واجبوي، او پر هېڅا حق نه لازمېږي مګر دا چې د هغه په شان حق پرې لازم شي. او د الهي حقوقو له ډلې تر ټولو ستر حق د رهبر حق پر خلکو او د خلکو حق پر رهبر دی؛ دا هغه واجب حق دی چې الله تعالی پر دواړو لازم کړی، او د ملت او رهبر د اړیکې د ټینګښت او د دین د عزت سبب یې ګرځولی دی. رعیت نه سمېږي مګر دا چې واکمنان سم شي، او واکمنان نه سمېږي مګر دا چې رعیت سم وي. کله چې خلک د رهبر حق ادا کړي او رهبر د خلکو حق ورکړي، نو حق په ټولنه کې عزت پیدا کوي، د دین لارې ښکاره کېږي، د عدالت نښې ټینګېږي، او د رسول الله ﷺ سنت ژوندی پاتې کېږي. په دې سره زمانه سمه شي، خلک د حکومت په دوام هیلەمند شي او دښمن له خپلو هیلو ناامیده شي.

خو که خلک پر حکومت غالب شي، یا واکمن پر رعیت ظلم وکړي، نو یووالی له منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځي، د ظلم نښې ښکاره کېږي، په دين کې دوکې ډېرېږي، د رسول الله ﷺ پراخ سنت پرېښودل کېږي، د نفس غوښتنې زياتېږي، د دين احکام پرېښودل کېږي او د زړونو ناروغۍ ډېرېږي. خلک به نه اندېښمن کېږي که لوی حق هېر شي يا خطرناک باطل خپور شي. په داسې وخت کې نېکان خوارېږي او بدکاران ځواکمن کېږي، او د الله عذاب پر بندګانو سخت او دروند وي.

نو پر تاسې لازم دي چې يو بل ته نصيحت وکړئ او په ښه کار کې سره مرسته وکړئ. رښتيا ده چې هېڅوک نشي کولای د الله د اطاعت حق لکه څنګه چې بايد ادا کړي، که څه هم د هغه د رضا په لټه کې ډېر کوښښ وکړي، خو بايد هر څوک د خپل توان په اندازه الهي حقوق مراعات کړي. له الهي واجباتو څخه دا هم دي چې خلک يو بل ته د توان په اندازه نصيحت وکړي، حق قائم کړي او يو بل سره مرسته وکړي. هېڅوک که څه هم د حق په نزد لوړ مقام ولري او په دين کې ارزښتمن وي، له دې بېنيازه نه دی چې څوک يې د حق په ادا کولو کې مرسته وکړي، او هېڅوک که څه هم د خلکو په نظر خوار وي، دومره کوچنی نه دی چې د حق په ادا کولو کې مرسته ونه شي کولای.

)بيا د امام يو يار پورته شو او اوږده ستاينه يې وکړه او د اطاعت اعلان يې وکړ. امام وفرمايل(:

هغه څوک چې د الله عظمت يې په زړه کې لوی وي او مقام يې په نظر کې لوړ وي، د هغه لپاره پکار ده چې له الله پرته هر څه کوچني وبولي. او تر هغه ډېر سزاوار هغه څوک دی چې د الله نعمتونه ډېر لري او د هغه پر احسان ناست دی، ځکه هر څومره چې د الله نعمت پر چا زيات شي، هماغومره پرې الهي حقوق ډېرېږي.

ای خلکو! د صالحانو په نزد د واکمن تر ټولو بد حالت دا دی چې ګومان وشي هغه د ستايني مينه‌وال دی او حکومت يې پر کبر او ځانخوښۍ ولاړ دی. زه نه خوښوم چې ستاسې په ذهن کې دا تېر شي چې زه د ستايني مينه‌وال يم او د هغې اوربدل غواړم. د الله شکر دی چې داسې نه يم، او که د ستايني مينه مې لرله، د الله د عظمت او کبريا له امله به مې پرېښوده، ځکه دا يوازې الله ته ښايي.

کله ناکله خلک د چا ستاينه د هغه د کار له امله روا بولي، خو زه له تاسې غواړم چې ما په ښکلو خبرو مه ستايئ، څو هغه دندې چې د الله او ستاسې پر وړاندې لرم، ترسره کړم او پاتې حقوق ادا کړم. له ما سره داسې خبرې مه کوئ لکه له سرکښو پاچاهانو سره، او داسې مه تېنتئ لکه له غوسه ناکو خلکو، او له ما سره په ظاهرسازۍ چلند مه کوئ. ګومان مه کوئ چې که حق راته ووايئ، راته دروند به وي، يا به وغواړم ځان لوی وښيم؛ ځکه څوک چې د حق اوربدل ورته سخت وي، عمل پرې کول ورته لا سخت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو له حق ویلو او د عدالت په اړه له مشورې کولو ډډه مه کوئ، ځکه زه ځان تر دې لوړ نه ګڼم چې تېروتنه ونه کړم او له هغې خوندي واوسم، مګر دا چې الله مې وساتي. زه او تاسې د یو رب بندګان یو، له هغه پرته بل رب نشته. هغه زمونږ مالک دی او مونږ پر ځان واک نه لرو. هغه مونږ له هغه حالت نه راوویستلو چې پکې وو او هغه څه ته یې بوتلو چې زمونږ صلاح پکې وه؛ د ګمراهۍ پر ځای یې هدایت، او د ړوندتیا پر ځای یې بینایي راکړه.

۲۱۷ ـ له قریشو شکایت

خدایا! پر قریشو او د هغوی پر ملګرو د بریا لپاره له تا مرسته غواړم، ځکه هغوی زما د خپلوانۍ اړیکه پرې کړه، زما کار یې واړاوه، او ټول د هغه حق پر ضد سره یو شول چې زه تر ټولو ډېر مستحق وم. هغوی وویل: که حق درسره وي، نو واخله، او که درنه واخیستل شي، یا صبر وکړه او یا له غم سره مړ شه. ما شاوخوا وکتل، نه مې مرستندوی ولید او نه څوک چې ملاتړ مې وکړي، پرته له خپلې کورنۍ، چې نه مې غوښتل د هغوی ژوند په خطر کې واچوم. نو لکه خار چې په سترګه کې ننوځي، سترګې مې پټې کړې، او لکه هډوکی چې په ستوني کې بند شي، داسې مې د غم تریخ جام وڅښه، او په داسې کار کې مې صبر وکړ چې تر حنظل ډېر تریخ او تر توري د زخم ډېر دردناک و.

۲۱۸ ـ د ناکثینو د خیانت افشا کول چې د جګړې لپاره بصرې ته تللي وو

)د هغو کسانو په اړه چې د جګړې لپاره بصرې ته ولاړل(.
د مسلمانانو پر کارکوونکو او د بیت المال پر خزانه دارانو چې زما تر امر لاندې وو، او د هغه ښار پر خلکو چې ټول پر اطاعت او بیعت سره یو وو، برید وکړ. هغوی یې سره وپاشل، د هغوی ترمنځ یې زما پر ضد اختلاف واچاوه، او پر زما پر شیعیانو یې یرغل وکړ. ځینې یې په دوکه ووژل او ځینو نورو توره راواخیسته او جګړه یې وکړه تر هغه چې په صداقت سره یې له الله سره ملاقات وکړ.

۲۱۹ ـ د جمل د جګړې پر وژل شویو افسوس

)د جمل په جګړه کې، په ۳۶ هجري کال کې، کله چې د طلحې او عبدالرحمن بن عتاب جسد ته ودرېد، ویې فرمایل(:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابومحمد (طلحه) په دې ځای کې غریب پاتې شو! پر الله قسم! ما نه غوښتل چې قریش د ستورو تر اسمان لاندې مړه او پر ځمکه پراته وویني. ما د عبد مناف د اولادونو له وینو خپل حق واخیست، خو د بنی جمح مشران رانه وتښتېدل؛ هغوی د داسې کار لپاره سر راپورته کړ چې د هغوی نه و، او مخکې له دې چې ورسېږي، مات شول.

۲۲۰ ـ د الله تعالی د لارې سالک

هغه خپل عقل ژوندی کړ او خپل نفس یې مړ کړ، تر دې چې بدن یې نرۍ شو او د اخلاقو سختوالی یې په نرمۍ بدل شو. یو روښانه نور ورته وځلېد، لاره یې ورته روښانه کړه او پر سمه لار یې روان کړ، له یوې دروازې نه بلې ته بوتلل شو، تر دې چې د سلامتۍ دروازې او د تلپاتې کور ته ورسېد، هلته یې دواړه پښې په امن ځای کې د ارام بدن سره ټینګې شوې. دا د هغه بدله وه چې زړه یې سم وکاراوه او خپل پروردګار **الله تعالی** یې راضي کړ.

۲۲۱ ـ له غفلت څخه خبرداری، د «أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُر» له تلاوت وروسته

)کله چې امام علیه السلام د تکاثر سورت لومړۍ او دوهمه آیه ولوستله: «ډېرښت غوښتنې تاسې بوخت کړي یاست تر دې چې قبرونو ته ورسېدئ»، نو ویې فرمایل(: حیرانوونکي ده! څومره لرې مقصد، څومره بې خبره لیدونکي، او څومره سخت او مرګونی کار! ګومان یې وکړ چې د مړو ځایونه تش دي، حال دا چې هغوی د عبرت تر ټولو لویه وسیله دي، او خلک د تېر شوو په یاد فخر کوي. آیا د خپلو پلرونو په قبرونو ویاړي؟ یا د هغو په شمېر چې مرګ خوړلي دي؟ آیا غواړي هغه بدنونه ببرته راشي چې پوسېدلي دي او حرکتونه یې په سکون بدل شوي دي؟ هغوی د عبرت لپاره ډېر مناسب دي تر دې چې د فخر وسیله وګرځول شي. که د هغوی حالت ته په تواضع وګوري، دا به تر فخر کولو ډېر عاقلانه وي. خو هغوی په کمزورۍ سترګه ورته ګوري او په ناپوهۍ کې ډوب دي. که د ورانو کورونو او خالي ځمکو پوښتنه وکړي، ځواب به ورکړي: هغوی په ګمراهۍ کې خاورې شول او تاسې بې له پوهې د هغوی لار تعقیب کړه. تاسې د هغوی پر کوپړیو ګرځئ، پر بدنونو یې کښت کوئ، د هغوی پاتې شیان خورئ او د هغوی په ورانو کورونو کې اوسېږئ، او هغه وخت چې د هغوی او ستاسې ترمنځ دی، پر تاسې ژاړي. هغوی تر تاسې مخکې د مرګ کندې ته ولوېدل او د اوبو ځای ته له تاسې مخکې ورسېدل. هغوی د عزت خاوندان وو، یا پاچاهان وو یا سرلوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

رعیت، خو پای کې برزخ ته داخل شول. ځمکې هغوی په ځان کې واخیستل، له بدنونو یې وخوړل او له وینو یې وځښل، او اوس د قبرونو په درزونو کې بې حرکته پټ پراته دي. نه له بدلونونو وېرېږي، نه له زلزلو، نه له سختو چیغو. داسې غاښیان دي چې ځوک یې انتظار نه کوي او داسې حاضر دي چې حضور نه لري. سره یو ځای وو خو جلا شول، یو بل سره مهربان وو خو بېل شول. که یاد یې هېر شو یا کورونه یې چوپ شول، دا د وخت د اوږدوالي له امله نه دي، بلکې د مرګ جام یې وځښنه. خبرې کول یې کول، خو ګونګ شول؛ اوربدل یې کول، خو کانه شول؛ حرکتونه یې په سکون بدل شول، داسې لکه بېهوشه چې پر ځمکه پرېوځي. ګاونډیان دي خو انس نه لري، ملګري دي خو لیدنه نه کوي. د پېژندنې اړیکې پرې شوې او د وروروليۍ سببونه ختم شول. سره راټول دي خو یواځې دي، یو بل ته نږدې دي خو لرې دي. نه د شپې سهار پېژني او نه د ورځې مابنام. کومه شپه یا ورځ چې د مرګ سفر ته ولاړل، هماغه ورته تلپاتې شوه. د هغه نړۍ خطرونه تر هغه ډېر سخت ومونډل چې وېرېدل ترې، او نښې یې تر هغه لوېې وې چې ګومان یې کاوه. د جنت او دوزخ تر اصلي ځای پورې مهلت ورکړل شوی، او د وېرې او هیلې نړۍ ورته برابره شوې. که وغواړي هغه څه بیان کړي چې لیدلي یې دي، ژبه به یې عاجزه شي. که څه هم نښې یې له منځه تللي او خبرونه یې هېر شوي، خو د عبرت سترګې یې ویني او د زړه غوږونه یې اوري، ګواکې په بله ژبه موږ ته وایي: ښکلي مخونه مړه شول، نازولي بدنونه پوسېدل، د زړښت کالي مو اغوستي، د قبر تنګوالي موږ تنګ کړي، وېره مو له یو بل نه میراث اخیستی، د قبرونو کورونه پر موږ ونړېدل، ښکلا مو ختمه شوه او د ځېرو نښې مو بدلې شوې. زموږ اوسېدل په دې وېروونکو کورونو کې اوږده شول، نه له ستونزو خلاص شو او نه له تنګۍ راحت راغی. ای خلکو! که هغوی په فکر کې راولئ، یا پردې لرې شي، وبه وینئ چې حشراتو یې غوږونه خوړلي، سترګې یې له خاورې ډکې شوې، ژبې چې په تېزۍ یې خبرې کولې، پرې شوې، زړونه یې چوپ شوي، بدنونه یې پوسېدلي، او نه د دفاع لاس لري او نه د ژړا زړه. آه! ځمکې څومره عزیز بدنونه وخوړل، هغه چې په نعمتونو کې لوی شوي وو. مرګ ورته ناڅاپه راغی او ناروغۍ پرې راغلې، ډاکترانو ته یې پناه یوړه، خو درمل ګټه ونه کړه، تر دې چې مرګ راغی او د خبرو توان تري واخیستل شو. بېشکه مرګ داسې سختۍ لري چې د دنیا خلک یې نشي درک کولای.

۲۲۲ ـ د ذکر د خلکو صفت، د «رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ...» له تلاوت وروسته

)کله چې امام علیه السلام د نور سورت ۳۶ او ۳۷ آیتونه ولوستل: «هغه سړي چې تجارت او پېر و پلور یې د الله تعالی له یاد، لمانځه او زکات نه نه غافلوي»، نو ویې

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرمايل(:
الله تعالى خپل ياد د زړونو رڼا ګرځولې، څو غوږ له کونړوالي وروسته واوري، سترګه له کمزورۍ وروسته وويني او انسان له دښمنۍ وروسته رام شي. الله تعالى چې نعمتونه يې لوی دي، په هر وخت کې داسې بندګان لرلي چې د هغوی په زړونو کې يې خبرې کولې او په عقلونو کې يې ورسره راز ويلو. هغوی د بيدارۍ په نور سره د هدايت څراغونه بل کړل، د الله تعالى ورځې يې يادولې او خلک يې د هغه له عظمت نه وېرول. هغوی په دښتو کې د الله نښې دي؛ څوک چې منځنۍ لار نيسي ستايي يې او د نجات زيرۍ ورکوي، او څوک چې ښي يا چپ ته اوړي، بد ګڼي او خبرداری ورکوي. هغوی د تيارو څراغونه او د ژورو کندو لارښودان دي. هغوی داسې خلک دي چې د الله ياد يې د دنيا پر ځای غوره کړی، تجارت او راکړه ورکړه يې د الله له ياد نه نه اړوي. په ذکر سره ژوند تېروي او غافلان له عذابه وېر وي. عدالت ته امر کوي او خپله پرې عمل کوي، له بديو منع کوي او ځان ترې ساتي. داسې ژوند کوي لکه دنيا يې پرېښې او آخرت ته تللي وي. داسې دي لکه د برزخ او قيامت حالات وينې. که د ذکر خلک په فکر کې راوړې، وبه وينې چې د خپلو اعمالو ليکونه يې خلاص کړي، د حساب لپاره تيار دي، پر خپلو ګناهونو ژاړي او د الله تعالى نه ښښنه غواړي. هغوی د هدايت نښې او د تيارو څراغونه دي. فرښتې يې چاپېره وي، سکون پرې نازل کېږي، د اسمان دروازې ورته پرانستل کېږي او داسې مقام ورته تيار دی چې الله تعالى پرې راضي دی. هغوی لاسونه پورته کوي او ښښنه غواړي، د الله فضل ته محتاج او د هغه د عظمت اسيران دي. اوږده غمونه يې زړونه زخمي کړي او ډېرې اوښکې يې سترګې سترې کړې دي. لاسونه يې د الله تعالى د اميد ټولو دروازو ته اوږده دي، له هغه نه غواړي چې بخښش يې نه کميږي او غوښتونکي يې نه نااميده کېږي. نو ته د ځان حساب وکړه، ځکه د نورو حساب جلا دی.

۲۲۳ ـ له غرور څخه خبرداری، د «يَا أَيُّهَا الإِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ» له تلاوت وروسته

)کله چې امام عليه السلام د انفطار سورت ۶ آيت ولوست: «ای انسانه! څه شی دې د خپل کريم پروردګار په وړاندې مغرور کړی؟» ويې فرمايل(:
د ګناهکار دليل تر ټولو کمزورۍ دليل دی، او د هغه عذر تر هر غولېدلي کس بې‌اساسه دی، او د هغه خوشحالي د ناپوهۍ له امله ده. ای انسانه! څه شی دې پر ګناه جرأت درکړی او د خپل پروردګار **الله تعالى** په وړاندې دې مغرور کړی يې؟ او ولې دې د خپل هلاکت سره مينه پيدا کړې؟ آيا ستا ناروغي درمل نه لري او ستا خوب بيداري نه لري؟ ولې لکه پر نورو چې رحم کوې، پر ځان رحم نه کوې؟ ډېر ځله يو څوک په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوځنده لمر کې ويني، پر هغه سيوری اچوي، يا ناروغ ويني، پرې زړه سوزي او ژاړي، خو څه شی تا پر خپل درد بېپروا کړی؟ ولې پر خپل حال نه ژاړي، حال دا چې له خپل ځان نه درته هېڅ شی عزيزتر نشته؟ ولې د بلا له راتلو ويره تا د شپې نه راويښوي، حال دا چې ته په ګناه کې ډوب يې او د الهي قهر په منګولو کې بند يې؟ نو د زړه کمزوري په ټينګې ارادې سره درمل کړه، او د سترګو خوب په بيداری لرې کړه، د الله تعالی اطاعت ومنه او د هغه له ياد سره انس ونيسه، او ياد کړه چې ته له الله مخ اړوې خو هغه تا ته مخ کوي، تا ښښې ته رابولي او په خپل کرم دې پټوي، حال دا چې ته له هغه پرې شوی او بل لور ته ګرځېدلی يې.

نو الله تعالی څومره لوی او قوي دی، او ته څومره کمزوری او بېارزښته يې، چې پر نافرمانۍ يې جرأت کوې، حال دا چې ته يې د نعمتونو په سيوري کې ساتلی يې او د رحمت تر پوښ لاندې يې. نه يې خپل احسان درنه بند کړی او نه يې ستا رازونه ښکاره کړي دي. که د الله احسان نه وای، ته به د سترګو په رپ کې هم ژوندی نه وې، حال دا چې يا د هغه په نعمتونو کې ډوب وې، يا يې ستا ګناه پټه کړې وه، يا يې بلا درنه لرې کړې وه. نو څه به وشي که د هغه اطاعت وکړې؟ په الله قسم! که دا چلند د دوو برابرو کسانو ترمنځ وای، ته به لومړی کس وې چې خپل ځان به دې د بد اخلاق او بد عمل په توګه محکوم کاوه. ښښتيا دا ده چې دنيا تا نه ده غولې کړې، بلکې ته پخپله د دنيا په وسيله غولېدلی يې. دنيا درته عبرتونه ښکاره کړي او تا يې برابري ته بللی. دنيا چې ستا په بدن کې درد پيدا کوي او ستا ځواک کموي، تر دې ډېر ښښتينې ده چې تا ته دروغ ووايي يا دې مغرور کړي. څو ځله دې د دنيا نصيحت کوونکی دروغجن بللی او ښښتينی دې دروغجن ګڼلی! که دنيا د ورانو ښارونو او نړېدلو کورونو له لارې وپېژني، نو هغه به مهربانه نصيحت کوونکې ومومي، چې لکه يو خواخوږی دوست ستا له تباهۍ وېرېږي. دنيا د هغه لپاره ښه ځای دی چې هغه تلپاتې ونه ګڼي، او د هغه لپاره ښه کور دی چې هغه خپل وطن ونه ګرځوي. نېکمرغه کسان هغه دي چې د دنيا له حرامو ځان ساتي. کله چې ځمکه ولړزېږي، د قيامت ښښې رابښکاره شي، هر پيرو به له خپل دين سره يو ځای شي، هر عبادت کوونکی به خپل معبود ته ورسېږي او هر اطاعت کوونکی به خپل مشر ته ورشي. په هغه ورځ به هېڅ سترګه د عدالت خلاف ونه پرانستل شي او هېڅ قدم به د حق خلاف ونه ايښودل شي. ډېر دليلونه به باطل شي او ډېر عذرونه به ونه منل شي. نو داسې عذر ولټوه چې ومنل شي او داسې دليل پيدا کړه چې ټينګ وي، له فاني دنيا نه د تلپاتې آخرت لپاره توښه واخله او د آخرت سفر ته ځان چمتو کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۲۴ ـ له ظلم څخه پرهېز او د امام علیه السلام زهد

)دا وینا په کوفه کې د امام علیه السلام د خلافت په زمانه کې شوې ده(.
پر الله قسم! که ټوله شپه د سعدان پر اغزو تېره کړم، یا په زنځیرونو تړلی له دې خوا هغې خوا ته کش کړل شم، دا راته تر دې غوره ده چې د قیامت په ورځ له الله تعالی او **رسول الله** ﷺ سره داسې ووینم چې پر کوم بنده مې ظلم کړی وي یا مې له بیت المال نه څه غصب کړي وي. څنګه پر بل ظلم وکړم د داسې نفس لپاره چې د زړښت او پوسېدو پر لور روان دی او اوږد وخت به په خاورو کې پروت وي؟ پر الله قسم! خپل ورور عقیل مې ولید چې ډېر ببوزلی شوی و او له ما یې غوښتنه کوله چې د بیت المال یو من غنم ورکړم. د هغه ماشومان مې ولیدل چې له لوږې وېښتان ګډوډ او رنګونه یې بدل شوي وو. ډېر ځل یې غوښتنه تکرار کړه. ما یو ځل اوسپنه په اور کې سره کړه او د هغه بدن ته مې نږدې کړه، هغه د درد له امله چیغه کړه. ما ورته وویل: ای عقیله! پر تا دې ژاړي ژړونکي، ته د هغه اوسپنې له تودوخې نه چیغې وهې چې انسان تاوده کړي، خو ما د هغه اور پر لور رابولې چې الله تعالی په خپل غضب بل کړی؟ ته له لږ اور نه نالېږې، زه د جهنم له اور نه ونه نالېږم؟
له دې نه عجیبه دا چې یوه شپه یو سړی راغی، په پټه یې د حلوا ډک لوښی راوړ. داسې مې ترې کرکه راغله لکه د مار له زهر سره ګډ شوی وي. ما ورته وویل: دا ډالۍ ده که زکات یا صدقه؟ ځکه دا دواړه پر موږ اهل بیت د **رسول الله** ﷺ حرام دي. ویې ویل: نه زکات دی نه صدقه، بلکې ډالۍ ده. ما وویل: ستا مور دې پر تا وژاړي! آیا د دین له لارې راغلی یې چې ما وغولوې؟ پر الله قسم! که اوه اقلیمونه او د اسمانونو لاندې هر څه راکړل شي چې د الله تعالی نافرماني وکړم او د یوې مېږي د خولې نه د وربشې پوستکی په ظلم واخلم، دا کار به ونه کړم. ستاسې دا دنیا زما په نزد د ملخ د خولې له ژول شوي پانې هم سپکه ده.

۲۲۵ ـ په اقتصادي ستونزو کې له الله تعالی نه دعا

خدایا! زما آبرو په بېنیازۍ وساته او په فقر مې مه رسوا کوه، داسې نه شي چې ستا له بندګانو نه روزي وغواړم او له بدکارانو وښنه وغواړم. ما ته توفیق راکړه چې د هغه چا ستاینه وکړم چې ماته یې څه راکړي، او د هغه له بد ویلو مې وساته چې څه یې را څخه بند کړي، حال دا چې د هر ورکړې او بندېدو اختیار ستا په لاس کې دی، او ته پر هر څه قادر یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۲۶ ـ د دنیا پېژندنه او له دنیا نه عبرت اخیستل

دنیا داسې کور دی چې له بلاوو ډک دی او په دوکو پېژندل کېږي. نه حال یې ثابت دی او نه خلک پکې په امن دي. بدلونونه لري او وختونه یې رنګ بدلوي. ژوند پکې د ملامتۍ وړ دی او امنیت پکې له منځه تللی. د دنیا خلک د بلاوو هدف دي، په غشو یې وهي او په مرګ یې له منځه وړي.
ای د الله بندګانو! پوه شئ چې تاسې او هغه کسان چې په دنیا کې ژوند کوي، پر هماغه لاره روان یاست چې مخکینیو خلکو وهلې. هغوی تر تاسې اوږد عمر درلود، کورونه یې اباد وو او نښې یې ډېرې وې، خو ناڅاپه غږونه یې چوپ شول، بدنونه یې پوسېدل، کورونه یې خالي شول او نښې یې ورک شوې. لوړ مانۍ او نرم بسترونه یې په خټو او ډبرو بدل شول. قبرونه یې نږدې دي خو اوسېدونکي یې یو له بله لرې دي. په وېرووونکې دښته کې پراته دي، نه له خپل وطن سره انس لري او نه له ګاونډي سره اړیکه. تاسې به هم هماغه لاره ځئ او هماغو قبرونو ته به سپارل کېږئ. نو څنګه به یاست کله چې عمر پای ته ورسېږي او مړي له قبرونو راووځي؟ «هغه ورځ چې هر څوک به په خپلو اعمالو وازمویل شي او د الله تعالی لور ته به راوګرځول شي، او دروغ به ورته هېڅ ګټه ونه رسوي».

۲۲۷ ـ د امام علیه السلام له دعاوو څخه یوه دعا

خدایا! ته له هر چا نه خپلو دوستانو ته نږدې یې، او د توکل کوونکو اړتیاوې پوره کوې. ته د هغوی له پټو رازونو خبر یې او د زړونو له حاله یې باخبر یې. که یوازیتوب هغوی ووېروي، ستا یاد یې آرامولي، او که مصیبت پرې راشي، تا ته پناه راوړي، ځکه پوهېږي چې د ټولو چارو واک ستا په لاس کې دی. خدایا! که زه د غوښتلو لاره ورکه کړم، ته مې د اصلاح لارې ته برابر کړه او زما نفس هغه څه ته هدایت کړه چې زما د نجات سبب وي، ځکه دا ستا له هدایت نه لرې نه دي. خدایا! ما په خپل فضل ومنه او په خپل عدل راسره چلند مه کوه.

۲۲۸ ـ د سلمان فارسي رضی الله عنه ځانګړتیاوې

الله تعالی دې هغه ته په هغه ازموینه کې ښه بدله ورکړي، کږې لارې یې سمې کړې، ناروغۍ یې درمل کړې، د **رسول الله** ﷺ سنت یې ژوندی وساته او فتنې یې شا ته پرېښودې. په پاک لمن او لږ عیب له دنیا ولاړ. د دنیا نېکۍ یې واخیستې او له بدیو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاص شو. د خپل پروردګار **الله تعالى** حق يې ادا کړ او د هغه له عذابه لکه څنګه چې بايد وپرېږده. هغه ولاړ او خلک يې ګډوډ پرېښودل، نه ګمراه خپله لار پېژني او نه هدايت شوی په يقين رسېږي.

۲۲۹ ـ د امام عليه السلام سره د خلکو د بيعت ورځ

تاسې به زما لاس د بيعت لپاره خلاصاوه او ما به ترلو، تاسې به هغه ځان ته راکشاوه او ما به راګرځاوه. بيا داسې راپرېوتئ لکه تږي اوښان چې د اوبو پر لور ورځي، تر دې چې د بوټ تسمه مې وشلېده، عبا مې له اوږې ولوېده او کمزوري خلک تر پښو لاندې شول. خلک د بيعت په ورځ دومره خوشحال وو چې ماشومان خوشحال وو، زاړه د لړزېدلو سره راغلل، ناروغان د خپلو خپلوانو پر اوږو راوړل شول او ځواني نجونې بې نقابه راووته.

۲۳۰ ـ د تقوا سپارښتنه او د زاهدانو وصف

بېشکه د **الله تعالى** وېره د هر ترلې ور کلی ده، د قيامت زېرمه ده، له هر ډول بندګۍ ازادي ده او له هر هلاکت څخه نجات دی. د تقوا په برکت هڅاند بريالي کېږي، له ګناه وپرېدونکي ژغورل کېږي او انسان خپلې هيلې تر لاسه کولای شي. ای خلکو! نېک عمل وکړئ، ځکه نېک عمل د **الله تعالى** لوري ته پورته کېږي، توبه ګټه کوي، دعا قبلېږي، سکون شته او د فرښتو قلمونه روان دي.
نېکو کارونو ته بېړه وکړئ، مخکې له دې چې عمر مو پای ته ورسېږي، يا ناروغي درته خنډ شي، يا د مرګ غشی مو هدف وګرځوي. مرګ د خوندونو ورانوونکی، د نفساني غوښتنو توروونکی او د ارمانونو ختموونکی دی. مرګ داسې لېدونکی دی چې خوښ نه دی، داسې سيال دی چې نه ماتېږي او داسې دښمن دی چې غچ يې نه هېرېږي. اوس يې لا هم خپلې پرې ستاسې پر لاسونو او پښو اچولې، سختۍ يې راچاپېرې کړې او غشي يې درته نيولي دي. زور يې سخت، دښمني يې پرلهپسې او ويشت يې بېخطا دی. ډېر ژر به د مرګ سيوري، د هغه دردونه، د ساه ايستلو تياره، د مرګ بېهوشي، د روح د وتلو کړاو، د سترګو تورواليو او د دنيا د پرېښودو ترخه خاطرې درباندې راشي. کېدای شي ناڅاپه مرګ راشي، خبرې مو چوپې کړي، ټولنه مو خپره کړي، نښې مو ورکې کړي او کورونه مو تش کړي، او وارثان مو راپورته شي چې مالونه مو ووېشي؛ هغه خپلوان چې د مرګ پر وخت ګټه نه شي رسولای، يا غمجن نږدې کسان چې مرګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شي ايساروﻻی، يا ملامتونکي چې درپسې ژړا نه کوي.
نو پر تاسو لازمه ده هڅه، چمتووالی او د آخرت د توښې راټولول، تر څو چې په دنيا کې ژوند لرئ. دنيا دې نه غولوي، لکه څنګه چې پخواني خلک او تېر امتونه يې وغولول. هغوی د دنيا شيدې وڅښلې، په غفلت کې ولوېدل، فرصتونه يې ضايع کړل او تازه نعمتونه يې زاړه کړل، بيا کورونه يې قبرونه شول او شتمنۍ يې د نورو ميراث شوې. اوس نه خپل نړدې پېژني، نه د ژړا کوونکو پروا کوي او نه د چا بلنه مني.
ای خلکو! له حرامې دنيا ځان وساتئ، ځکه دنيا دوکه کوونکې، فريبکاره او چلبازه ده. څه ورکوي خو ېبرته يې اخلي، څه پټوي خو بيا يې بربنډوي. راحت يې نه پاتېږي، سختۍ يې نه ختمېږي او بلاوې يې دوام لري. زاهدان هم د دنيا له خلکو دي، خو دنياپرستان نه دي. په دنيا کې ژوند کوي، خو د دنياپرستانو په څېر نه چټلېږي. په بصيرت عمل کوي او د بديو په پرېښودو کې له نورو مخکې وي. د هغوی بدنونه داسې په هڅه کې وي لکه د آخرت خلک چې د دنيا په منځ کې وي. دوی ويني چې اهل دنيا د بدنونو مرګ لوی ګڼي، خو دوی د ژوندیو زړونو مرګ تر هغه هم لوی بولي.

۲۳۱ ـ په «ذي قار» کې د رسول الله ﷺ د ځانګړنو بيان

)دا وينا په ۳۶ هجري کې د بصرې پر لور د حرکت پر مهال، په «ذي قار» سيمه کې شوې ده(.
رسول الله ﷺ هغه څه چې ورباندې نازل شوي وو څرګند کړل او د خپل پروردګار پيغام يې ورسوه. هغه ټولنيز درزونه د يووالي په وسيله روغ کړل او واټنونه يې سره ونښلول، وروسته له هغه چې د دښمنۍ او کينې اورونه په زړونو کې بل شوي وو، نو د خپلوانو تر منځ يې يووالی ټينګ کړ.

۲۳۲ ـ د بيت المال د لګښت په باب احتياط، د عبدالله بن زمعه د غوښتنې په ځواب کې

)عبدالله بن زمعه د امام عليه السلام له يارانو و، هغه د مال غوښتنه وکړه، نو امام عليه السلام وفرمايل(:
دا مالونه چې ته يې ويني، نه زما دي او نه ستا، بلکې د مسلمانانو ګډه غنيمت ده چې په خپلو تورو يې ګټلې ده. که ته په جهاد کې ورسره شريک وای، ستا برخه به هم د دوی د برخې په شان وه، او که نه، نو د هغوی د لاس ګټلې روزي به د نورو خوراک نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۳۳ ـ د اهل بيتو فصاحت او بلاغت، او د انساني ټولنې د سقوط لاملونه

)کله چې «جعدة بن هبيره» د امام عليه السلام په حضور کې و نه توانېد چې خبرې وکړي، امام عليه السلام وفرمايل(:
پوه شئ چې ژبه د انسان يوه ټوټه ده، که چمتو نه وي خبرې نه کوي، او که چمتو شي، خبرې ته مهلت نه ورکوي. بېشکه مور د وينا اميران يو، د خبرو ونه په مور کې ريښه نيولې او ځانګې يې پر مور سيوری اچولی دی.
الله تعالی دې پر تاسو رحم وکړي، پوه شئ چې تاسې په داسې زمانه کې ياست چې د حق ويونکی پکې کم دی، ژبه له ربښتيا ويلو بېوسه ده او د حق غوښتونکي بېارزښته دي. خلک په ګناه اخته او په جوړجاړي سره يو شوي دي. ځوانان يې بداخلاقه، مشران يې ګناهکار، عالمان يې دوهمخي او خپلوان يې ګټهغوښتونکي دي. نه واړه د مشرانو درناوی کوي او نه شتمن د بېوزلو لاس نيسي.

۲۳۴ ـ د انسانانو تر منځ د توپيرونو علتونه

)له امام عليه السلام څخه د خلکو د تفاوت علت وپوښتل شو، نو ويې فرمايل(:
د انسانانو تر منځ د توپيرونو علت د هغوی د خټې او طبيعت بېلابېلتيا ده، ځکه انسانان په پيل کې له مالګيني او خوږې، سختې او نرمې خاورې جوړ شوي دي. نو خلک د خپلو خاورو د نږدېوالي له امله يو بل ته نږدې دي، او د لرېوالي له امله سره بېلابېل دي. يو ښکلی دی خو کمعقله، بل لوړ قد لري خو کم همته دی، يو بدرنګ دی خو نېک عمله، بل لنډ قد لري خو ښه فکر لري، يو پاکسرشته دی خو بداخلاقه، بل ښه زړه لري خو فکري ګډوډي لري، او بل ويناوال او د زړه پوه دی.

۲۳۵ ـ د رسول الله ﷺ په ويرکې، د غسل پر مهال

)د **رسول الله** ﷺ د غسل پر وخت امام عليه السلام وفرمايل(:
زما پلار او مور دې پر تا قربان وي، ای **رسول الله** ﷺ !ستا په وفات سره هغه لړۍ پرې شوه چې د نورو په مرګ سره نه پرېکېده؛ د نبوت، وحې او آسماني خبرونو لړۍ. ستا مصيبت داسې دی چې نور مصيبتځپلي يې صبر ته اړ کړل او ټول خلک يې په غم کې برابر کړل. که تا د صبر امر نه وای کړی او له بېتابۍ دې نه وای منع کړي، نو دومره به مې ژړل چې اوښکې به مې ختمې شوې وې، دا درد به تل له ما سره پاتې و او دا غم به مې همېشه په زړه کې و، خو ستا د مصيبت پر وړاندې دا هم ډېر لږ دي. څه وکړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ژوند ببرته راګرځېدلی شي او نه مرګ ایسارېدلی شي. زما پلار او مور دې پر تا قربان وي! مور د خپل پروردګار **الله تعالی** په حضور کې یاد کړه او په خپل خاطر کې مو وساته.

۲۳۶ ـ د هجرت ستونزې او له رسول الله ﷺ سره یوځای کېدل

)د هجرت او له **رسول الله** ﷺ سره د یوځای کېدو په اړه فرمایي(:
ما خپل ځان په هماغه لاره کې واچاوه چې **رسول الله** ﷺ پرې تللی و، او هر ځای به مې د هغه پوښتنه کوله تر دې چې د «عرج» سیمې ته ورسېدم.
)دا جمله د اوږدې وینا برخه ده. د «فَاطَأْتُ ذِكْرَهُ» معنا دا ده چې د **رسول الله** ﷺ د حرکت خبر به له پیل نه تر پایه راته رسېده، او امام علیه السلام دا معنا په کنایه او د فصاحت په لوړه کچه بیان کړې ده(.

۲۳۷ ـ خلکو ته د نېکو کارونو سپارښتنه

تر څو چې ژوندي او روغ یاست، نېک عمل وکړئ، ځکه د اعمالو لیکونه خلاص دي، د توبې لاره چمتو ده، او **الله تعالی** تښتېدلي ببرته رابولي او بدکاران د راستنېدو هیله لري. عمل وکړئ مخکې له دې چې د عمل څراغ مړ شي، فرصت پای ته ورسېږي، اجل راورسي، د توبې دروازه وتړل شي او فرښتې اسمان ته پورته شي.
نو هر انسان باید د خپل ځان لپاره د ژوند له ورځو نه د مرګ وروسته ورځو ته، له فاني دنیا نه د تلپاتې آخرت ته، او له دې تېرېدونکې لارې نه د جاودان ژوند لپاره توښه برابره کړي. انسان باید له **الله تعالی** وېرېږي، ځکه تر مرګه پورې مهلت ورکړل شوی او د نېک عمل فرصت شته. انسان باید خپل نفس مهار کړي، له سرکښۍ او ګناهونو یې وګرځوي او د اطاعت پر لور یې راکاږي.

۲۳۸ ـ د شامیانو وصف او د حکم د ټاکلو غندنه

)د عراق او شام د دوو حکمونو په اړه او د کوفیانو د ملامتولو په وخت کې فرمایي(:
شامیان سخت زړي او تیت خلک دي، سپک غلامان دي چې له هر ځایه راټول شوي او له بېلابېلو ډلو جوړ شوي دي. هغوی داسې خلک وو چې باید دین زده کړي، روزنه ورکړل شي، علم زده کړي، تجربه ترلاسه کړي، سرپرست ولري او سم کار ته وهڅول

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. هغوی نه له مهاجرینو دي، نه له انصارو او نه له هغو کسانو څخه چې خپل کورونه يې د مهاجرینو لپاره چمتو کړل او له زړه يې ایمان راوړ.
خبر اوسئ! شامیانو د حکم په ټاکلو کې هغه څوک وټاکه چې دوی ته تر ټولو خوښ و، خو تاسي هغه وټاکه چې تر ټولو ډېر مو نه خوښاوه. ستاسي کار له عبدالله بن قیس سره دی، هغه چې ویل يې: «جګړه فتنه ده، د کمان تارونه پرې کړئ او تورې په تېغدان کې کېږدئ». که رښتیا يې ویل، نو ولې بېمجبورۍ جګړې ته راغی؟ او که دروغ يې ویل، نو هغه متهم دی. د حکم لپاره عبدالله بن عباس د عمرو بن عاص پر وړاندې ودروئ، له مناسب فرصت څخه کار واخلئ او د اسلامي هېوادونو لرې پولې وساتئ. آیا نه وینئ چې ستاسي ښارونه د جګړې میدان شوي او کورونه مو د دښمن د غشو هدف ګرځېدلي دي؟

۲۳۹ ـ د اهل بیتو فضیلتونه

)په دې وینا کې د **رسول الله** ﷺ د کورنۍ د مقام په اړه فرمایي(:
د **رسول الله** ﷺ کورنۍ د علم ژوند او د جهل مرګ دی. د هغوی حلم تاسي ته د هغوی له علم نه خبر درکوي، ظاهر يې د باطن له صفا نه، او چوپتیا يې د خبرو له حکمته خبر درکوي. هغوی هېڅکله له حق سره مخالفت نه دی کړی او پکې اختلاف نه لري. هغوی د اسلام ټینګې ستنې او د خلکو پناه دي. حق د هغوی په وسیله خپل ځای ته ستنېږي او باطل له خپل ځایه ایستل کېږي او ریښه يې پرې کېږي.
د **رسول الله** ﷺ اهل بیتو دین هغه شان وپېژاند، زده يې کړ او پرې يې عمل وکړ؛ نه دا چې یوازې يې واورېد او نقل يې کړ، ځکه د علم روایت کوونکي ډېر دي، خو ساتونکي او عمل کوونکي يې لږ دي.

۲۴۰ ـ د عثمان د ناسمو دریځونو غندنه، د ابن عباس په خطاب کې

)په ۳۵ هجري کې، کله چې عثمان کلابند شو، ابن عباس يې ولېږه چې علي علیه السلام له مدینې ووځي(.
ای د عباس زویه! عثمان غواړي ما سرګردان وساتي، کله مې له مدینې وباسي او کله مې ببرته راوغواړي. یو ځل يې پیغام راولېږه چې له مدینې ووځم، بیا يې وویل ببرته راشه، او اوس يې تا رالېږلی چې بیا ووځم. په الله قسم! دومره مې د هغه دفاع وکړه چې وېرېدم ګناهکار نه شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴۱ ـ د جهاد لپاره هڅونه

الله تعالى پر تاسې شکر واجب کړی، د حکومت چارې يې ستاسې په لاس کې درکړي او مناسب فرصت يې درکړی چې د جنت د جايزې لپاره يو له بل سره سيالي وکړئ. نو کمربندونه ټينګ کړئ، د همت لمن وټړئ، ځکه لوړې مرتبې په راحت نه ترلاسه کيږي. ډېر داسې د شپې خوبونه شته چې د ورځې ارادې له منځه وړي، او د هېرېدو تيارې شته چې لوړ همتونه له منځه وړي.

)او د الله درود دې وي پر زموږ پر سردار محمد ﷺ، د الله پر رسول، او پر د هغه پر کورنۍ، چې د هدايت څراغونه او د الله ټينګې رسۍ دي، او پر هغوی دې ډېر سلام وي(.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نهج البلاغه ليکونه يوازې تاريخي اسناد نه دي، بلکې د ژوند لپاره عملي دستور دی. په دې ليکونو کې امام عليه السلام کله خپلو واليانو ته نصيحت کوي، کله خپلو دښمنانو ته دليل وړاندې کوي، او کله عامو خلکو ته د تقوا، عدالت، صبر او حق لاره ښيي. د دې ليکونو ژبه فصيح، معنا يې ژوره او پيغام يې تلپاتي دی، ځکه چې د انسان د فطرت او د ټولنې د اړتياوو سره سمون لري.

په دې ليکونو کې د حکومت چلولو طريقې، د بيت المال ساتنه، د خلکو حقوق، د رهبر او ملت اړيکې، د جګړې اخلاق، د دنيا حقيقت، د آخرت ياد، او د الله تعالی د وېرې ارزښت په داسې انداز بيان شوی چې لوستونکی هم فکر ته اړ باسي او هم زړه ته تاثير رسوي.

د نهج البلاغه ليکونه د علم، حکمت، تقوا او عدالت يو روښانه مشعل دی، چې هر څوک يې ولولي، کولی شي د ژوند په لاره کې سم جهت وموميي. دا ليکونه مونږ ته ښيي چې ريښتينی رهبر هغه دی چې د حق پيرو وي، او ريښتينی انسان هغه دی چې د الله تعالی د رضا لپاره ژوند وکړي.

له همدې امله، د نهج البلاغه ليکونه يوازې د تېر تاريخ خبرې نه دي، بلکې د هر وخت او هر نسل لپاره د هدايت، بيداری او اصلاح پيغام دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ ـ د ناکثينو د رسوا کولو او د کوفي خلکو د جهاد لپاره بلنه

)د کوفي خلکو ته ليک، کله چې امام علي عليه السلام په ۳۶ هجري کې له مديني څخه بصري ته روان و. دا ليک امام حسن عليه السلام او عمار ياسر رضی الله عنه کوفي ته يووړ(.
د الله له بنده، علي اميرالمؤمنين عليه السلام څخه، د کوفي خلکو ته، چې په انصارو کې لوړ مقام لري او په عربو کې دروند ځای لري.
د پروردګار له ستاينې وروسته! زه تاسو د عثمان د کارونو داسې خبروم لکه چې په خپلو سترګو مو ليدلي وي. خلکو پر عثمان نيوکې وکړې، او زه د مهاجرينو له منځه يوازينی کس وم چې هغه مې د خلکو د رضا کولو ته اړاوه او تر ټولو لږ مې پرې ملامتي کوله. خو طلحه او زبير تر ټولو اسانه کار دا وباله چې پر هغه يرغل وکړي، هغه تنګ کړي او کمزوری يې کړي. عايشه رضی الله عنها هم ناڅاپه پر هغه سخته شوه، نو يو شمېر خلک تنګ شول او هغه يې وواژه، وروسته خلکو بې له جبر او اکراه زما سره بيعت وکړ. پوه شئ چې مديني خلک له ځانه وشړل او خلک هم د فتنې د ختمولو لپاره تري لرې شول. د پېښو ديګ په جوش راغی او فتنه پر خپلو پښو ودرېده. نو د خپل قومندان پر لور بېړه وکړئ او د دښمن پر ضد جهاد کې يو له بل مخکې شئ، د الله تعالی په خوښه.

۲ ـ د بصري له جګړې وروسته د کوفي د مجاهدانو مننه

)د کوفي خلکو ته ليک، د بصري د پاڅون له ماتې وروسته، په رجب ۳۶ هجري کې، چې کوفيانو پکې مهم رول درلود(.
الله تعالی دې تاسو د کوفي خلکو ته د رسول الله ﷺ د اهل بيتو له لوري غوره بدله درکړي، هغه بدله چې الله تعالی خپلو فرمانبردارو او د نعمت شکرکوونکو بندګانو ته ورکوي. ځکه چې تاسو زمور بلنه واورېده او اطاعت مو وکړ، جګړې ته راوبلل شوئ او چمتو شوئ.

۳ ـ له حرامې دنيا څخه خبرداری

)امام علي عليه السلام ته خبر ورکړل شو چې شريح بن حارث، چې د امام قاضي و، په اتيا دينارو کور اخيستی. امام هغه راوغوښت او ويې فرمايل(:
ما ته خبر راورسېد چې تا په اتيا دينارو کور اخيستی، سند دې ورته ليکلی او شاهدان دې پرې لاسليک کړي دي.
شريح وويل: هو، ای اميرالمؤمنين عليه السلام!
امام عليه السلام په غوسه ورته وکتل او ويې فرمايل:
ای شريحه! ډېر ژر به داسې ځوک درپسې راشي چې ستا ليک ته به ونه ګوري او له شاهدانو به دې پوښتنه ونه کړي، تا به له دې کوره وباسي او يوازې به دې قبر ته وسپاري. ای شريحه! فکر وکړه چې دا کور دې د بل په مال يا په حرامو پيسو نه وي اخيستی، ځکه که داسې وي نو د دنيا او آخرت کور به دې له لاسه ورکړی وي. که ته د کور د اخيستو پر وخت ما ته راغلی وای، داسې سند به مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

درته لیکلی وای چې بیا به دې د دې کور په اخیستو زړه نه وای ښه شوی.
هغه سند به داسې وای:
دا هغه کور دی چې یو ذلیل بنده یې له هغه چا اخیستی چې د کوچ لپاره تیار دی، په داسې ښار کې چې د فریب کور بلل کیږي، د هلاک شویو په کوڅه کې، او د تباه شویو په محله کې. دا کور له ځلورو خواوو محدود دی:
یوه خوا یې بلاوو ته رسیږي،
بله خوا یې مصیبتونو ته،
درېیمه خوا یې د نفس غوښتنو ته،
او څلورمه خوا یې شیطان ته،
او د کور دروازه د شیطان پر مخ خلاصه ده.
دا کور هغه غولېدلي حریص اخیستی چې ډېر ژر به له دنیا ووځي، په داسې بیه چې هغه یې له عزت او قناعت څخه راوایست او د دنیا ذلت ته یې واچوه. د دې معاملې هر عیب د هغه پر غاړه دی چې د پاچاهانو بدنونه یې خاوري کړل، د زورورو ساه یې واخیسته او د فرعونانو، قیصرانو او تبعانو سلطنتونه یې ختم کړل. هغوی چې مالونه یې راټول کړل، مانۍ یې جوړې کړې، زینتونه یې وکړل او فکر یې کاوه چې دا به خپلو اولادونو ته پرېږدي، ټول به د حساب او جزا ځای ته بوتلل شي، او کله چې وروستۍ فیصله وشي، نو ګناهکاران به تاوان ووینې. دا حقیقت عقل منې، کله چې د نفس له بند څخه خلاص شي او له دنیاپالنې روغ پاتې شي.

۴ ـ د کار کوونکو د ټاکلو طریقه

)په ۳۶ هجري کې یو نظامي قومندان ته لیک(.
که د اسلام دښمنان د اطاعت سیوري ته راستانه شي، همدا هغه څه دي چې مور یې غواړو. خو که سرغړونه او بېلتون ته ولاړ شي، نو د فرمانبردارو په مرسته له مخالفانو سره وجنګېږه، او له هغو کسانو مرسته واخله چې ستا اطاعت کوي، د هغو پر ضد چې ستا له مرستې انکار کوي. ځکه هغه څوک چې له جګړې کرکه لري، غوره ده چې ګډون پکې ونه کړي، او د هغه نه ګډون د هغه له مجبوري مرستې څخه ښه دی.

۵ ـ د بیت المال د ناسم استعمال څخه خبرداری

)اشعث بن قیس ته لیک، چې د آذربایجان والي و. دا لیک د جمل له جګړې وروسته، په شعبان ۳۶ هجري کې له کوفې څخه ولیکل شو(.
ستا لپاره د حکومت منصب د روزۍ وسیله نه ده، بلکې دا ستا پر غاړه امانت دی. ته باید د خپل قومندان او امام اطاعت وکړې. ته حق نه لرې چې پر رعیت ظلم وکړې او بې له اجازې مهم کار ترسره کړې. ستا په لاس کې د الله تعالی له مالونو څخه مال دی، او ته یې خزانه دار یې تر څو یې ما ته وسپاري. هیله لرم چې زه به تا ته تر ټولو بد حاکم نه یم. والسلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ ـ د امام علیه السلام د حکومت د مشروعیت بیان

)معاویه ته د امام علي علیه السلام لیک، چې د جمل له جګړې وروسته په ۳۶ هجري کې د جریر بن عبدالله رضی الله عنه په وسیله ولیږل شو(.
هغو کسانو زما سره بیعت کړی چې له ابوبکر، عمر او عثمان رضی الله عنهم سره یې هم په همدې شرطونو بیعت کړی و. نو څوک چې په بیعت کې حاضر وي، حق نه لري بل خلیفه وټاکي، او څوک چې غایب وي، حق نه لري د خلکو بیعت رد کړي. د مسلمانانو شورا د مهاجرینو او انصارو حق دی، که هغوی پر یو کس راټول شي او هغه خپل امام وبولي، نو د الله تعالی رضا هم په هغه کې ده. که څوک د هغوی کار بد وګڼي یا بدعت پیدا کړي، هغه به د مشروع بیعت لوري ته بېرته راوګرځول شي، او که سرغړونه وکړي، ورسره به جګړه کیږي، ځکه چې د مسلمانانو له لارې وتلی، او الله تعالی به یې په خپل ګمراهۍ کې پرېږدي.
په خپل ځان قسم، ای معاویه! که له نفساني خواهشونو لرې او د عقل په سترګه وګورې، نو پوه به شې چې زه د عثمان له وینې تر ټولو پاک یم، او ته پوهیږې چې زه له دې کاره لرې وم، مګر دا چې ته په خیانت تور ولګوې او ښکاره حق پټ کړې. والسلام.

۷ ـ د معاویه پټه څېره څرګندول

)د صفین د جګړې په وروستیو کې، په ۳۸ هجري کې، د معاویه د لیک په ځواب کې(.
په نوم د الله تعالی او درود! ستا نصیحت ډک لیک راته راورسېد، داسې لیک چې خبرې یې سره تړلې او ښکلې شوې وې، خو ته هغه په خپل ګمراهۍ ښکلی کړی او په خپل بد فکر لاسلیک کړی دی. دا د داسې سړي لیک دی چې نه خپله پوهه لري چې لارښود یې شي، او نه داسې رهبر لري چې هدایت یې کړي، بلکې د خپلو خواهشونو پیروي کوي، ګمراهي یې مهار نیولی او بېځایه خبرې کوي او سرګردانه ګرځي.
بیعت له امام سره یو ځل وي، بیا کتنه پکې نشته، او هېڅوک حق نه لري چې له سره یې پیل کړي. څوک چې له دې عمومي بیعت څخه مخ واړوي، عیبلټوونکی بلل کیږي، او څوک چې پکې شک وکړي، منافق دی.

۸ ـ د معاویه د بیعت لپاره ټینګار

)جریر بن عبدالله بجلي ته لیک، چې د امام علي علیه السلام استازی معاویه ته و، په ۳۶ هجري کې(.
په نوم د الله تعالی او درود! کله چې دا لیک درته ورسېږي، معاویه دې مجبور کړه چې خپله خبره وروستۍ کړي او پرېکنده دریځ غوره کړي. له هغه سره کلک چلند وکړه، بیا یې پرېږده چې یا جګړه ومني، داسې جګړه چې خلک له کورونو وباسي، او یا داسې تسلیم شي چې سپکاوی پکې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که جګړه يې غوره کړه، نو د هغه د امان ليک وغورځوه، او که سوله يې وغوښته، نو له هغه بيعت واخله.

۹ ـ د قريشو د دښمنيو بيان او د رسول الله ﷺ استقامت، او د معاويه رسوا کول

)معاويه ته ليک، په ۳۶ هجري کې، چې ابو مسلم يوړ(.
زمور خپلوانو له قريشو غوښتل چې زمور رسول الله ﷺ ووژني او زمور ريښه وباسي. هغوی د دې لپاره هر ډول فکرونه وکړل او هر ډول ظلم يې پر مور وکړ، له مور يې ارام ژوند واخيست، مور يې له وېرې او خطر سره مخ کړل، او اړ يې کړو چې سختي لارې ونيسو، او د جګړې اور يې را بل کړ. خو الله تعالى غوښتل چې مور د دين ساتونکي واوسو او د هغوی شر له دين څخه لرې وساتو. زمور مؤمن به د ثواب هيله لرله، او زمور کافر به د خپل قوم دفاع کوله، خو نور قريشيان چې ايمان يې راوړ او زمور له ټبره نه وو، د خپلو ټرونونو او قومونو په وسيله خوندي وو.
رسول الله ﷺ به چې کله جګړه سخته شوه، خپل اهل بيت به يې مخکې لېږل، تر څو د خپلو اصحابو ساتنه وکړي، لکه عبيده بن حارث په بدر کې، حمزه په احد کې، او جعفر په موته کې شهيد شول.
داسې کسان هم وو چې که غوښتل مې نومونه يې يادولى شوم، هغوی غوښتل شهيدان شي، خو تقدير داسې و چې ژوندي پاتې شي.
د زماني عجيبه کار دى چې ما د هغه چا سره برابر بولي چې نه زما په شان مخکې مسلمان شوى، نه زما په شان هجرت لري. داسې څوک نه پېژنم چې دا دعوه وکړي، مګر داسې څوک چې نه زه هغه پېژنم او نه ګومان کوم چې الله تعالى يې وپېژني.
ته له ما غوښتنه کړې چې د عثمان قاتلان در وسپارم، ما فکر وکړ، خو ومې ليدل چې نه يې تا ته سپارلى شم او نه بل ته. په خپل ځان قسم! که له ګمراهۍ او تفرقې لاس وانخلوې، ډېر ژر به هغوی ووينې چې تا لټوي، بې له دې چې ته د هغوی په لټه کې شې. والسلام.

۱۰ ـ د معاويه رسوا کول او د هغه د جګړې ګوابښ ته ځواب

)بل ليک معاويه ته، په صفين کې، د جګړې له پيل مخکې، په ۳۶ هجري کې(.
څه به کوې هغه وخت چې ستا رنګين لباسونه لرې شي، هغه لباسونه چې د دنيا په ښکلاوو سينګار شوي؟ دنيا تا په خپلو خوندونو غولى کړى، تا يې ځان ته بللى او ته يې منلى يې، امر يې درکړى او اطاعت دې کړى. ډېر ژر به تا داسې ميدان ته راولي چې هېڅ ډال به دې ونه ژغوري.
ای معاويه! له دې کاره لاس واخله، د حساب لپاره ځان تيار کړه، او د هغو پېښو انتظار وباسه چې درته را رواني دي. د ګمراهانو خبرې مه اوره، که نه نو پوه شه چې ته په غفلت کې يې. ته داسې نازولى شوى يې چې شيطان پر تا واکمن شوى او لکه وينه په بدن کې درباندې ګرځي.
ای معاويه! له کله نه تاسو د امت مشران شوي ياست؟ نه د دين روښانه سابقه لرئ او نه د کورنۍ لوړ شرف.
ته ما جګړې ته رابولې، که رښتيا وايې، خلک پرېږده او له ما سره يوازې وجنګېږه، تر څو معلومه شي چې د چا زړه ړوند دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ابوالحسن يم، د بدر په ورځ مي ستا نيکه، تره او ورور وژلي، او هماغه توره اوس هم راسره ده. نه مي په دين کې بدعت راوستی او نه مي نوی پيغمبر ټاکلی، زه په هماغه سمه لار ولاړ يم چې تاسو پرېښوده. ته وايي د عثمان د وينې بدل غواړې، حال دا چې ته پوهيږې هغه چا وژلی. که ريښتيا وايي، له هماغو څخه يې وغواړه.

زه وينم چې ته به په جګړه کې داسې نالېږې لکه دروند بار وړونکی اوښ، او ستا لښکر به د تورو له پرله‌پسې ګوزارونو وروسته ما د الله کتاب ته رابولي، حال دا چې ستا لښکر کافر او بيعت ماتوونکي دي.

۱۱ ـ د دښمن پر لور تلونکو پوځيانو ته د احتياط سپارښتنه

)د امام علي عليه السلام لارښوونه هغه لښکر ته چې د زياد بن نضر حارثي او شريح بن هاني په مشرۍ د شام او معاويه پر لور ولېږل شو(.

کله چې له دښمن سره مخامخ شئ، يا هغوی درته راورسېږي، نو خپل لښکر پر لوړو ځايونو، د غرونو په لمنو، يا د سيندونو تر منځ ځای پر ځای کړئ، تر څو دا ستاسو لپاره پناه او د دښمن د برېد مخنيوی وي. جګړه له يوه يا دوو لورو پيل کړئ، او د غرونو پر سرونو او د غونډيو پر لوړو ځارونکي وټاکئ، هسې نه چې دښمن له هغه ځايه چې وبرېږئ، يا له هغه ځايه چې ويره نه لرئ، ناڅاپه برېد وکړي.

پوه شئ چې د پوځ مخکښان د ټول لښکر سترګې دي، او ځارونکي د مخکښانو ساتونکي دي. له تفرقې ځان وساتئ، هر چېرته چې کوزېږئ، يو ځای کوزې شئ، او هر کله چې کوچ کوئ، ټول په ګډه کوچ وکړئ. کله چې شپه درباندې خپره شي، نيزه‌وال د لښکر شاوخوا ودرولئ، او ډېر مه ويده کېږئ، مګر لږ، لکه څوک چې اوبه په خوله کې تاو کړي او ببرته يې تو کړي.

۱۲ ـ د مخکښ پوځ لپاره نظامي احتياطونه

)معقل بن قيس رياحي ته پوځي لارښوونه، چې له دري زره سرتېرو سره د امام علي عليه السلام د پوځ د مخکښ په توګه شام ته روان شو(.

له الله تعالی ووېرېږه، ځکه چې خامخا به ورسره مخ کېږې او پای کې به د هغه حضور ته ورشې. له هغه چا پرته چې درسره جګړه کوي، له بل سره جګړه مه کوه. پوځ د سهار په يخو وختونو او د مازيګر پر مهال وخوځوه، او په ګرمه هوا کې ورته استراحت ورکړه، او په لاره کې بېړه مه کوه. د شپې په پيل کې حرکت مه کوه، ځکه الله تعالی شپه د آرام لپاره ګرځولې ده، نه د کوچ لپاره. نو شپه د استراحت لپاره وکاروه او سپرلی هم آرام پرېږده. کله چې سحر شي او د سهار رڼا ښکاره شي، د الله تعالی د برکت په نوم حرکت وکړه.

هر کله چې دښمن ووينې، د خپل لښکر په منځ کې ودرېږه، نه داسې ډېر ورنږدې شه چې د جګړې غوښتونکي ښکاره شي، او نه دومره لرې ودرېږه چې خلک ګومان وکړي ته له جګړې وېرېږې، تر څو زما امر در ورسېږي. د هغوی کينه دې دې ته اړ نه کړي چې مخکې له دې چې هغوی هدايت ته راوبولې او د عذر لاره پرې بنده کړي، جګړه پيل کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳ ـ په پوځ کې د سلسله مراتب ساتل

)د امام علي عليه السلام لارښوونه زياد بن نضر او شريح بن هاني ته(.
ما مالک اشتر بن حارث پر تاسو او پر هغه پوځ چې ستاسو تر امر لاندې دی، قومندان ټاکلی دی. د هغه خبرې واورئ او اطاعت يې وکړئ، هغه د ځان لپاره د زغرې او ډال په څېر ونيسئ، ځکه مالک نه سستي کوي او نه تېروتنه. نه هلته چې بېړه پکار وي سستي کوي، او نه هلته چې سستي غوره وي بېړه کوي.

۱۴ ـ د جګړې نه پيلول او د جګړې اخلاقي أصول

)د صفين په جګړه کې د دښمن له مخامخ کېدو مخکې د امام علي عليه السلام امر(.
له دښمن سره جګړه مه پيلوئ تر څو هغوی پيل نه کړي، ځکه بحمد الله حق له تاسو سره دی، او دا چې تاسو جګړه نه پيلوئ تر څو هغوی پيل کړي، دا ستاسو پر حقانيت بله دليل دی. که د الله په اجازه مات شول او وتښتېدل، هغه څوک مه وژنئ چې شا ګرځوي، او هغه ته زيان مه رسوئ چې د دفاع توان نه لري، او ټپيان مه وژنئ.
ښځې مه ځوروئ، که څه هم تاسو ته بد ووايي يا ستاسو مشرانو ته سپکاوی وکړي، ځکه هغوی د بدن او عقل له پلوه کمزورې دي. موږ ته امر شوی و چې حتی د شرک په زمانه کې هم ښځو ته لاس مه ورکوئ، او که په جاهليت کې يو سړي په ښځه برېد کاوه، هغه او د هغه اولاد به ملامت کېدل.

۱۵ ـ د جګړې دعا

)د امام علي عليه السلام دعا د جګړې په ميدان کې(.
ای الله تعالی! زړونه تا ته متوجه دي، غاړې ستا پر لور غځېدلې دي، سترګې ستا دربار ته کتل کوي، ګامونه ستا په لاره کې روان دي، او بدنونه ستا په خدمت کې کمزورې شوي دي.
ای الله تعالی! پټې دښمنۍ ښکاره شوې او د کينو ديګونه په جوش دي.
ای الله تعالی! موږ تا ته شکايت کوو چې رسول الله ﷺ زموږ په منځ کې نشته، زموږ دښمنان ډېر شوي او زموږ غوښتنې ګډې وډې شوې دي.
»ای زموږ پروردګاره! زموږ او زموږ د دښمنانو تر منځ په حقه فيصله وکړه، ځکه ته تر ټولو غوره قاضي يې«.

۱۶ ـ د جګړې په پيل کې د نظامي تکتيکونو بنووونه

)د امام علي عليه السلام لارښوونه د صفين په ميدان کې د جګړې د پيل پر مهال، کال ۳۷ هجري(
شاتګونه چې د بل برېد مقدمه وي، او درېدل چې ورپسې حمله راځي، تاسو اندېښمن نه کړي. د تورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حق ادا کړئ، او د دښمن شا خاوري ته وسپارئ، او د نيزو د ښخولو او د تورو د کلکو ګوزارونو لپاره ځان چمتو کړئ. خپل غږونه په سينه کې وساتئ، ځکه دا کار د کمزورۍ په له منځه وړلو کې لوی اثر لري.
قسم په هغه الله تعالی چې دانه يې وځېره او مخلوقات يې پيدا کړل! هغوی اسلام ونه مانه، بلکې په ظاهر تسليم شول، خپل کفر يې پټ وساته، او کله چې يې مرسته کوونکي پيدا کړل، هغه يې ښکاره کړ.

۱۷ ـ د بني اميه د څېرې افشا کول او د اهل بيتو ځانګړنې بيانول

)د معاويه په ځواب کې ليک، د صفين په دښته کې، د صفر مياشت، کال ۳۷ هجري(
ای معاويه! دا چې ته غواړې شام درته وسپارم، زه هغه څه چې پرون مې درنه منع کړي وو، نن به درته ورنه کړم.
او دا چې تا وويل: جګړې عرب له منځه يووړل مګر لږ پاتې شول، پوه شه هغه څوک چې پر حق وو، ځای يې جنت دی، او څوک چې پر باطل وو، ځای يې اور دی.
او دا چې تا د جګړې او مجاهدينو په شمېر کې د برابرۍ دعوه کړې ده، پوه شه چې ستا وده په شک کې زما د يقين درجې ته نه رسېږي، او د شام خلک د دنيا لپاره تر هغو زيات حريص نه دي لکه د عراق خلک چې د آخرت لپاره دي.
او دا چې تا وويل مور ټول د عبد مناف اولاد يو، هو همداسې ده، خو ستاسې نيکه «اميه» زمور د نيکه «هاشم» په شان نه دی، او «حرب» د «عبدالمطلب» په شان نه دی، او «ابوسفيان» د «ابوطالب» په شان نه دی. ازاد شوي اسيران د مهاجرينو په شان نه دي، حلال زاده د حرام زاده په شان نه وي، د حق والا د باطل له وال سره نه پرتله کېږي، او مؤمن د مفسد په شان نه وي.
او څومره بد دي هغه کسان چې د خپلو پلرونو پيروي کوي چې د اور لور ته روان شوي دي.
له دې ټولو وروسته، د نبوت فضيلت زمور په لاس کې دی، چې مور پرې عزتمندان خوار او خوار کسان عزتمند کړل. کله چې الله تعالی عربان دلې دلې اسلام ته داخل کړل، ځينې په خوښه او ځينې په زور، تاسې د ابوسفيان کورنۍ يا د دنيا لپاره يا د وېرې له امله اسلام ته داخل شوئ، په داسې حال کې چې لومړني مسلمانان مخکې تللي وو او لومړني مهاجرين خپل مقام ته ورسېدل.
نو ای معاويه! شيطان له ځان څخه مه خوشاله کوه، او هغه ته پر خپل نفس لار مه ورکوئ. والسلام.

۱۸ ـ د بصرې د حالاتو په اړه خبرداری

)عبدالله بن عباس ته ليک، د بصرې والي، د جمل له جګړې وروسته، کال ۳۶ هجري(
پوه شه چې بصره نن د شيطان ځای او د فتنو کرونده ده. له خلکو سره په نېکۍ چلند وکړه، او د وېرې غوټه د هغوی له زړونو خلاصه کړه. ما ته ستا د بد چلند او د «بني تميم» له قبيلې سره د سختۍ خبر راورسېد.
بني تميم زړور خلک دي، هر کله چې يو اتل يې لاړ شي بل يې ځای نيسي، او په جګړه کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

جاهليت او اسلام کي هيڅا پرې سبقت نه دی کړی. هغوی زمونږ خپلوان دي، له هغوی سره اړيکه ساتل ثواب لري او پرېکول يې عذاب لري، نو له هغوی سره نرمي وکړه.
ای ابوالعباس! هيله ده الله تعالی هغه څه وښني چې ستا له لاس او ژبې ښه يا بد صادرېږي، ځکه زه او ته په دې کارونو کي شريک يو. هڅه وکړه چې زما ښه ګومان پر تا ټينګ پاتې شي او نظر مې بدل نه شي. والسلام.

۱۹ ـ له خلکو سره د بد چلند په اړه خبرداری

)عمر بن ابي سلمه ارحبي ته ليک، چې د فارس والي و(
د الله تعالی په نوم، وروسته له سلامه:
ستاسې د حکومت د سيمې دهقانانو ستا له سختۍ، ظلم، سپکاوي او سنګدلي شکايت کړی دی. ما د هغوی په اړه فکر وکړ، نه مې هغوی د نږدې کېدو وړ وبلل، ځکه مشرکان دي، او نه د سختۍ او ظلم وړ دي، ځکه له مونږ سره تړون لري.
نو په چلند کي نرمي او سختي يو ځای وکاروه، داسې رفتار کوه چې هم پکې شدت وي او هم نرمښت، او په نږدې کولو او لرې کولو کي اعتدال وساته.

۲۰ ـ د بيت المال له خيانت څخه خبرداری

)زياد بن ابيه ته ليک، چې د بصرې د والي مرستيال و(
په الله تعالی قسم خورم! که ماته خبر راورسيږي چې د مسلمانانو په مال کي دې خيانت کړی، که لږ وي که ډېر، داسې به درسره سخت چلند وکړم چې بې برخې، بې وسه، خوار او سرګردان به شې، او د خپل کور د لګښت توان به هم ونه لري. والسلام.

۲۱ ـ د ميانه‌روی سپارښتنه

)زياد ته بل ليک، کال ۳۶ هجري(
ای زياد! له اسراف څخه ځان وساته، او ميانه‌روي غوره کړه. له نن څخه د سبا لپاره فکر وکړه، او د دنيا له مال څخه يوازې د اړتيا په اندازه وساته، او زيات د آخرت د اړتيا لپاره مخکې ولېږه.
ايا ته هيله لرې چې الله تعالی به د عاجزانو ثواب درکړي، حال دا چې ته له متکبرانو څخه يې؟ او آيا طمع لرې چې د انفاق کوونکو اجر به تر لاسه کړې، حال دا چې ته په نعمتونو کي ژوند کوې او بې وزلي او کونډې له همدغو نعمتونو محروموې؟
بېشکه انسان ته د هغه څه بدله ورکول کېږي چې مخکې يې لېږلي او د الله تعالی په نزد يې ذخيره کړي وي. والسلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۲ ـ د آخرت غوښتنې سپارښتنه

)عبدالله بن عباس ته ليک، د بصرې والي، کال ۳۶ هجري(
د الله تعالى له ياد وروسته، سلام! انسان کله په داسې څه خوشحالېږي چې هېڅکله به ترې جدا نه شي، او کله د داسې څه له لاسه ورکولو غم کوي چې هېڅکله به يې تر لاسه نه کړي.
اى ابن عباس! ستا خوشحالي دې په هغه څه وي چې په آخرت کې درته ګټه رسوي، او ستا غم دې د هغه څه لپاره وي چې د آخرت له لاسه وځي.
هغه څه چې له دنيا څخه لاس ته راوړې، تا دې ډېر خوشحال نه کړي، او هغه څه چې له دنيا څخه دې له لاسه ورکړي، پرې ډېر مه ژاړه. خپل همت د مرګ وروسته نړۍ ته واړوه.

۲۳ ـ د امام علي عليه السلام وروستۍ وصيت، لږ مخکې له شهادته

)د رمضان مياشت، کال ۴۰ هجري(
زما وصيت تاسو ته دا دى چې له الله تعالى سره شرک مه کوئ، او د محمد رسول الله ﷺ سنت مه ضايع کوئ. دا دوه ستنې د دين ټينګې وساتئ، او دا دوه څراغونه بل وساتئ، نو بيا به هېڅ ملامتي پر تاسو نه وي.
زه پرون له تاسو سره وم، نن ستاسو لپاره د عبرت سبب يم، او سبا به له تاسو جدا شم. که ژوندى پاتې شوم، د خپل وينې اختيار له ما سره دى، او که مړ شوم، مرګ زما وعده ده. که وبښم، دا زما لپاره د الله تعالى ته نږدې کېدل دي او ستاسو لپاره نېکي ده، نو وبښئ: «آيا نه خوښوئ چې الله تعالى تاسو وبښي؟»
په الله تعالى قسم! له مرګ سره داسې څه نه دي راغلي چې زه ترې ناخوښه شم، بلکې زه د هغه چا په څېر يم چې په شپه کې د اوبو لټون کوي او ناڅاپه يې پيدا کړي، يا څوک چې خپله ورکه شوې شى وموميِ. او هغه څه چې د الله تعالى په نزد دي، د نېکانو لپاره غوره دي.

۲۴ ـ د شخصي مال په اړه وصيت او د بيت المال په مصرف کې د اعتدال سپارښتنه

)له صفين وروسته، ۲۰ جمادى الاولى، کال ۳۷ هجري(
دا هغه وصيت دى چې د الله بنده، علي بن ابي طالب عليه السلام، اميرالمؤمنين، د خپلو مالونو په اړه د الله تعالى د رضا لپاره کړى دى، تر څو الله تعالى هغه په دې سره جنت ته داخل کړي او آرام ورکړي.
د دې مال سرپرستي زما د زوى حسن بن علي عليه السلام پر غاړه ده، هغه به ترې په حقه توګه مصرف کوي او انفاق به ترې کوي. که حسن ته څه پېښه وشوه او حسين ژوندى و، نو تر هغه وروسته به حسين بن علي عليه السلام سرپرست وي.
د فاطمې زامن له دې مال څخه هماغه برخه لري لکه د علي نور زامن. ما دا سرپرستي د فاطمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زامنو ته وسپارله، تر څو د الله تعالی رضا، د رسول الله ﷺ نږدېوالی، او د هغه د قرابت احترام وساتل شي.
شرط دا دی چې اصل مال به نه پلورل کېږي، یوازې له حاصل او عاید څخه به مصرف کېږي، او د خرما وني به نه خرڅېږي، تر څو دا ځمکه ټول د خرما په ونو پوښلې وي.
هغه مېرمني چې زما له کنیزانو څخه دي، که اولاد ولري یا حامله وي، اولاد به د هغې وي، او که اولاد یې مړ شي، نو هغه به ازاده وي.

۲۵ ـ د مالي کارکوونکو اخلاقي اصول او د بیت المال د راټولولو طریقه

)د مالیاتو راټولوونکو ته لاربښوونه، کال ۳۶ هجري(
د هغه الله تعالی څخه ووېرېږئ چې یو دی او شریک نه لري. د لارې پر سر هېڅ مسلمان مه وېرَوئ، او د زور له لارې د هغه له ځمکې مه تېرېږئ، او له الهي حق څخه زیات مه اخلئ.
کله چې یوې آبادۍ ته ورسېږئ، د اوبو تر څنګ کوز شئ، د خلکو کورونو ته مه ننوځئ، بیا په آرامۍ او وقار د هغوی لور ته لاړ شئ، سلام ورکړئ او په سلام او مهربانۍ کې کمښت مه کوئ.
بیا ورویاست:
»ای د الله بندګانو! زه د الله تعالی د ولي او د هغه د استازي له لورې راغلی یم، تر څو د الله حق چې ستاسو په مال کې دی واخلم، آیا ستاسو په مال کې داسې حق شته چې ورکړئ؟«
که څوک ووایي نه، بیا ورته مه ورځئ. که څوک ووایي هو، نو ورسره لاړ شئ، پرته له دې چې وېرول، ګواښل یا زور ورباندې وکړئ.
که زر او سپین زر درکړي، وا یې خله، او که څاروي لري، بې اجازې مه ورننوځئ، ځکه دېر مال د هغه دی.
کله چې دننه شوې، د زوروالو په شان چلند مه کوه، حیوان مه وېرَوئ، او څښتن مه خفه کوه.
حیوانات دوه برخې کړه، مالک ته اجازه ورکړه چې خپله یوه برخه وټاکي، بیا پاتې هم همداسې وویشه تر څو د الله تعالی حق پاتې شي.
زوړ، مات، ناروغ او عیب لرونکی حیوان د زکات په توګه مه اخله، او مال هغه چا ته مه سپاره چې امانتدار نه وي.
څاروي داسې چلوونکي ته وسپاره چې مهربان او امانتدار وي، نه سختي کوي او نه حیوان ستړی کوي.
هغو ته وصیت وکړه چې:
اوښ له بچي مه جلا کوئ، شیدې یې تر حده مه دوښئ، په سپرېدو کې عدالت کوئ، ستړي او زخمي حیوان ته پام کوئ، او هغوی د اوبو او وابنو لور ته بوځئ.
تر څو د الله تعالی په اجازه مور ته راورسېږي، روغ او چاغ، نه ستړي، تر څو یې د قرآن او د رسول الله ﷺ د سنت له مخې ووېشو. ان شاءالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۶ ـ د مالي کارکوونکو اصلاح او د امانتداری اړتيا

)د مالياتو ځينو مأمورانو ته ليک، چې په ۳۶ هجري کال کې د اصفهان د والي مخنف بن سليم لپاره ولېږل شو(

هغه ته د الله تعالی د وېرې سپارښتنه کوم، په پټو رازونو او پټو عملونو کې، هلته چې له الله تعالی پرته بل شاهد نشته. سپارښتنه کوم چې په ظاهر کې د الله تعالی اطاعت او په خلوت کې نافرماني ونه کړي، او دا چې ښکاره او پټ، وينا او عمل يې يو شان وي. الهي امانت ادا کړي او عبادت په اخلاص سره ترسره کړي.

هغه ته سپارښتنه کوم چې له خلکو سره توندخويي ونه کړي، دروغ ورته ونه وايي، او د دې لپاره چې پر هغوی حاکم دی، بې اعتنايي ورسره ونه کړي، ځکه خلک د دين وروڼه او د الهي حقونو په ترلاسه کولو کې مرسته کوونکي دي.

پوه شه! په دې زکات کې چې ته يې راټولوې، ستا لپاره ټاکلي برخه شته، او څرګند حق لري، او له مسکينانو او کمزورو سره شريک يې. لکه څنګه چې مور ستا حق درکوو، ته هم د هغوی د حقونو ادا کولو ته وفادار اوسه. که داسې ونه کړې، د قيامت په ورځ به تر ټولو ډېر دښمنان ولري، او افسوس د هغه چا لپاره چې د الله تعالی په وړاندې به فقيران، مسکينان، سوال کوونکي، محرومان، پوروړي، تاواني او مسافر د هغه دښمنان وي او شکايت تري وکړي.

هغه څوک چې الهي امانت سپک وبولي او خيانت وکړي، نه ځان پاک ساتي او نه دين، او په دنيا کې د ذلت دروازې پر ځان پرانيزي، او په آخرت کې به تر ټولو ډېر خوار او رسوا وي. تر ټولو لوی خيانت د امت سره خيانت دی، او تر ټولو رسوا کوونکي دوکه له امام سره دوکه ده. والسلام.

۲۷ ـ د مديرانو اخلاق، د پرهيزکارانو صفتونه، او د منافقانو له خطره خبرداری

)محمد بن ابي بکر ته ليک، کله چې هغه د ۳۷ هجري کال په پيل کې د مصر والي وټاکل شو(

له خلکو سره متواضع اوسه، نرمخويه او مهربان اوسه، خوشرو او موسکی اوسه. په خپلو کتنو، نيمه کتنو او نظر اچولو کې عدالت وساته، تر څو زورور په ظلم کې طمع ونه کړي، او کمزوري ستا له عدالته ناميده نه شي، ځکه الله تعالی له خپلو بندګانو د کوچنيو او لويو، ښکاره او پټو کارونو پوښتنه کوي. که سزا درکړي، تاسو د هغې څخه زيات مستحق ياست، او که وبښي، دا د هغه له کرم څخه دی.

پوه شئ ای د الله بندګانو! پرهيزکاران له دې لنډمهالي دنيا په سلامت تېر شول او تلپاتي آخرت يې واخيست. له دنيادارانو سره يې په دنيا کې برخه واخيسته، خو د دنيا خلک په آخرت کې د هغوی شريک نه شول. پرهيزکاران د دنيا په غوره کورونو کې اوسېدل، ښه خواړه يې وخوړل، او هغه خوندونه يې وڅکل چې نور خلک يې هم څکي، خو بيا يې له دې دنيا څخه د ډېرې توښې او ګټورې سودا سره آخرت ته سفر وکړ.

دوی د حرامو په پرېښودو کې د تقوا خوند وڅکلو، او يقين يې درلود چې د قيامت په ورځ به د الله تعالی ګاونډيان وي، داسې ځای چې هر څه وغواړي ورکول کېږي او هر ډول نعمت به ورته حاضر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي.
اى د الله بندګانو! له مرګ او د هغه له نړدې کېدو ووېرېږئ، او د مرګ لپاره ځان چمتو کړئ، ځکه مرګ ستر کار او درونده حالت دى، يا داسې خير دى چې وروسته يې شر نشته، او يا داسې شر دى چې وروسته يې خير نشته.
نو څوک د جنت لپاره کار کوونکى له جنت څخه نړدې دى، او څوک د اور لپاره کار کوونکى له اور څخه نړدې دى؟ تاسو ټول د مرګ ښکار ياست، که ودرېږئ نيسي مو، او که وتښتئ درپسې راځي. مرګ له سيوري څخه هم درته نړدې دى، د مرګ نښه پر تندي ليکل شوې ده، او دنيا ستاسو تر شا تاوېږي.
له داسې اوره ووېرېږئ چې تلپاتې ژوروالى لري، سخت تود دى او عذاب يې نو په نو راځي، داسې ځاى چې نه رحمت شته، نه خبرې اوربدل کېږي او نه غم پاى لري.
که کولى شئ، د الله تعالى وېره زياته او پر الله تعالى ښه ګومان هم قوي کړئ، دواړه سره يو ځاى کړئ، ځکه د بنده ښه ګومان د الله تعالى سره بايد د هغه د وېرې په اندازه وي، او څوک چې پر الله تعالى ډېر ښه ګومان لري، بايد تر ټولو زيات له هغه ووېرېږي.
اى محمد بن ابي بکر! پوه شه چې ما ته د مصر د لوى لښکر مشري درسپارلې ده، نو پر تا لازم ده چې د نفس د غوښتنو مخالفت وکړې او له خپل دين څخه دفاع وکړې، که څه هم د عمر لږ وخت درته پاتې وي.
د خلکو د رضا لپاره الله تعالى مه په قهر کوه، ځکه د الله رضا د هر څه بديل دى، خو هېڅ شى د الله د رضا بديل نه شي کېداى.
لمونځ په خپل وخت ادا کړه، نه دا چې د فارغېدو پر وخت يې مخکې کړې او نه دا چې د کار پر مهال يې وځنډوې، پوه شه چې ستا ټول کارونه د لمانځه تابع دي.
هدايت کوونکى امام او ګمراه مشر يو شان نه دي، لکه څنګه چې د رسول الله ﷺ ملګري او د هغه دښمنان برابر نه دي.
رسول الله ﷺ ماته وفرمايل:
»زه پر دې امت نه له مؤمنه وېرېږم او نه له مشرکه، ځکه مؤمن ايمان ساتي او مشرک الله تعالى د خپل شرک له امله هلاکوي، خو زه پر تاسو له هغه منافقه وېرېږم چې دوه مخى زړه او پوهه ژبه لري، خبرې يې ښې وي خو عمل يې بد وي«.

۲۸ ـ د معاويه د دروغجنو ادعاوو افشا کول او د بني هاشم د فضيلتونو بيان

)د معاويه د ليک ځواب، چې د امام علي عليه السلام له غوره ليکونو څخه دى، او د جمل له جګړې وروسته په ۳۶ هجري کال کې ليکل شوى دى(.
د الله په نامه او درود سره! ستاسې ليک راورسېد، په هغه کې مو ليکلي وو چې الله تعالى محمد ﷺ د خپل دين لپاره غوره کړ او د خپلو يارانو په وسيله يې تائيد کړ. ربښتيا هم زمانه ستا له خوا موږ ته څومره حيرانوونکې خبرې رابښيي! ته غواړې موږ له هغه څه خبر کړې چې الله تعالى موږ ته راعطا کړي دي، او د رسول الله ﷺ د وجود له نعمت څخه مو خبر کړې؟ ستا مثال د هغه چا په شان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی چې د هجر د خرماوو ډکې سیمې ته خرما وړي، یا خپل استاد سیالۍ ته رابولي! او ته دا هم ګومان کوې چې په اسلام کې تر ټولو غوره انسان فلانی او فلانی کس دی؟ داسې خبرې دې رااخیستې دي چې که ربښتیا هم وي، له تا سره یې ټراو نشته، او که دروغ هم وي، بیا هم تا پورې اړه نه لري. ته له غوره او کم غوره، سیاستوال او بې سیاسته، څه کار لرې؟ آزاد کړل شوي اسیران او د هغوی اولادونه د لومړنیو مهاجرینو د فضیلتونو، د درجو د ترتیب او د مقامونو د پېژندلو څه اهلیت لري؟ هېڅکله نه! ته خپل ځان په داسې څه کې داخل کړې چې ورسره بیګانه یې. خبره دې تر دې ځایه رسولې چې محکوم دې ځان حاکم بولي!

ای سړیه! ولې په خپل ځای نه کښې؟ ولې خپلې نیمګړتیاوې نه راپه یادوې؟ او ولې خپل هغه شاته پاتې مقام ته نه ستنېږې؟ په اسلام کې د کمزورو برترې او د بریالیو بریا له تا سره څه ټراو لري؟ ته لا هم د ګمراهۍ په دښته کې سرګردان یې او له سمې لارې اوښتی یې.

هغه څه چې وایم، د دې لپاره نه دي چې تا خبر کړم، بلکې د الله تعالی د نعمتونو د یادولو لپاره یې وایم. ایا نه وینې چې له مهاجرینو او انصارو څخه یوه ډله د الله په لار کې شهیدان شول، او هر یو یې خپل فضیلت درلود؟ خو کله چې زموږ شهید حضرت حمزه علیه السلام د شهادت جام وڅښه، هغه ته سیدالشهداء وویل شول، او رسول الله ﷺ د هغه پر جنازه اویا تکبیرونه وویل. او ځینو کسانو په جهاد کې لاسونه له لاسه ورکړل، هر یو یې خپل فضیلت درلود، خو کله چې زموږ له یو تن څخه لاس پرې شو، هغه ته طیّار وویل شو، ځکه په جنت کې به په دوو وزرو الوزي! که الله تعالی له ځان ستایلو نه وای منع کړي، ما به داسې ډېر فضیلتونه یاد کړي وو چې د مؤمنانو زړونه پرې خبر دي او د اورېدونکو غوږونه ورسره اشنا دي.

ای معاویه! دا ادعاوې پرېږده، ستا غشی خطا تللی دی. موږ د خپل رب له لورې روزل شوي یو، او خلک زموږ له لارې روزل شوي دي. دا چې موږ له تاسې سره د خپلوانۍ اړیکه ټینګه کړې، زموږ له تېره مو ښځې واخیستې او موږ هم ستاسې له تېره ښځې واخیستې، او تاسې سره مو برابرې کړې، خو دا زموږ پخوانی عزت او فضیلت نه شي ترې اخیستلای.

تاسې څنګه له موږ سره برابرېدای شئ، حال دا چې رسول الله ﷺ له موږ څخه دی، او دروغجن رسوا له تاسې څخه؛ حمزه، د الله زمری، له موږ څخه دی، او ابوسفیان له تاسې څخه؛ د جنت د ځوانانو دوه سرداران له موږ څخه دي، او د اور ماشومان له تاسې څخه؛ د نړۍ غوره ښځه له موږ څخه ده، او د دوزخیانو د لرګیو وړونکې ښځه له تاسې څخه. زموږ فضیلتونه دومره ډېر دي، او ستاسې رسوایي دومره څرګنده ده.

زموږ اسلام ټولو اورېدلی، او زموږ شرافت ټولو لیدلی دی. د الله کتاب موږ ته هغه څه راکړي چې نورو ته نه دي رسېدلي، لکه چې الله تعالی فرمایي: «او خپلوان د الله په کتاب کې یو تر بل زیات حق لرونکي دي.» او هم فرمایي: «ابراهیم ته ډېر نږدې هغه کسان دي چې د هغه پیروي یې کړې ده، او دا پېغمبر او هغه کسان چې ایمان یې راوړی، او الله د مؤمنانو ولي دی.» نو موږ یو ځل د رسول الله ﷺ د خپلوانو په توګه، او بل ځل د الله د اطاعت له امله، تر ټولو ډېر د خلافت مستحق یو.

کله چې په سقیفه کې مهاجرینو له انصارو سره اختلاف درلود، یوازې یې د رسول الله ﷺ د خپلوانۍ په یادولو بریا ومونډله. که دا دلیل د برترۍ وي، نو حق زموږ دی، نه ستاسې. او که بل دلیل یې درلود، نو بیا د انصارو دعوه پر خپل ځای پاتې ده.

ای معاویه! ته ګومان کوې چې ما پر ټولو خلفاوو حسد کړی او د ټولو پر ضد مې پاڅون کړی؟ که دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرض هم ومنو، بيا هم تا ته زيان نه دی رسېدلی چې له تا بخښنه وغواړم.
»دا هغه شکايتونه دي چې ننګ يې پر تا نه راځي«.
او دا دې ويلي وو چې زه دې د اوښ په شان مهار کړی وم او د بيعت لپاره به مې کشولم. په الله قسم! ته غوښتل چې ملامتي وکړي، خو ستاينه دې وکړه؛ غوښتل دې چې رسوا مې کړي، خو ځان دې رسوا کړ. مسلمان ته څه زيان رسېږي که مظلوم شي، تر هغه چې په خپل دين کې شکمن نه وي او په خپل يقين کې متزلزل نه وي؟ دا دليل مې آن د بل چا لپاره هم راوړ، تر څو پند تري واخلي، او خبره مې همدومره را لنډه کړه لکه څومره چې زړه ته راغله.
بيا دې زما او عثمان د اړيکې خبره راواخيسته، حال دا چې ته پخپله د هغه له خپلوانو څخه يې، نو ته بايد ځواب ورکړې. ووايه، زمور له منځه د عثمان پر وړاندې د چا دښمني ډېره وه او چا يې د قاتلانو لپاره زمينه برابره کړه؟ هغه چا چې له ده سره يې مرسته وکړه او ورته يې وويل په خپل ځای کښئ او د خلکو چارو ته ورسېږئ؟ او که هغه چا چې مرسته تري وغوښته او ويې نه کړه، او انتظار يې وايست تر څو ووژل شي؟
نه، هېڅکله نه! په الله قسم چې «الله هغه کسان پېژني چې خلک له جګړې منع کوي، او خپلو ورونو ته وايي: راشئ زمور خواته، او دوی له لږ وخت پرته جګړې ته نه حاضرېږي«.
زه دا دعوه نه کوم چې ما د عثمان په بدعتونو کې پرې نيوکه نه ده کړې؛ ما پرې اعتراض کاوه او له دې کاره عذر نه غواړم. که زما ګناه د هغه لاربښوونه او نصيحت وي، نو ډېر داسې کسان شته چې ملامت شي، حال دا چې بې ګناه وي.
»ډېر نصيحت کوونکي وي چې په نصيحت کې پرې تهمت لګېږي«.
»ما اراده نه درلوده مګر تر خپلې وسې پورې اصلاح، او زما توفيق يوازې د الله له لوري دی، پر هغه توکل کوم او هماغه ته ورګرځم«.
تا ليکلي وو چې ستا له خوا ما او زما يارانو ته له تورو پرته بل څه نشته. دا خبره په ژړا کې هم انسان خندوي! ته به کله د عبدالمطلب زامن داسې ليدلي وي چې له دښمنه شا کړي، يا له توري ووېرېږي؟
نو «لږ صبر وکړه تر څو ستا سيال ميدان ته راووځي«.
هغه څوک چې ته يې لټوې، ډېر ژر به تا ومومي، او له هغه څه چې تښتې، په خپل نږدې ځای کې به يې وويني. زه به د مهاجرينو، انصارو او تابعينو له ستر لښکر سره په چټکۍ ستا خوا ته درشم، داسې لښکر چې ګڼه ګوڼه يې سره نښتې وي، او د حرکت پر مهال يې دوړې اسمان توره کړي.
هغوی د شهادت جامې اغوستې، او تر ټولو خوښ ليدنه يې د خپل رب ليدنه ده. له هغوی سره د بدر زامن او د هاشميانو تورې هم دي، چې ته ښه پوهېږي د هغو تېره څنډه دې ستا د ورور، ماما، نيکه او تېر له بدنونو سره څه کړي دي. «او دا عذاب له ظالمانو ډېر لېرې نه دی«.

۲۹ ـ د بصرې خلکو ته خبرداری

)د بصرې خلکو ته ليک، په ۳۸ هجري کال کې، کله چې معاويه په بصره کې د توطيې نيت درلود(.
تاسو د خپلې بيعت ماتوني او زما پر وړاندې د څرګندې دښمنۍ خبر ياست. له دې ټولو سره سره ما ستاسې جرم وبښه، له تښتېدلو مې توره پورته نه کړه، راتلونکو ته مې هرکلی ووايه، او له ګناهونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مو مې سترګې پټې کړې.
خو که اوس ناوړه کارونه او ناپوهانه فکرونه تاسې بیا زما مخالفت او دښمنۍ ته راکاږي، نو زما لښکر چمتو او په زینو ولاړ دی. که ما یو ځل بیا حرکت ته اړ کړئ، نو داسې حمله به درباندې وکړم چې د جمل جګړه به یې په وړاندې ډېره کوچنۍ ښکاري. سره له دې، زه ستاسې د اطاعت کوونکو ارزښت پېژنم او د نصیحت کوونکو حق درک کوم، او هېڅکله به د یو متهم پر ځای یو نیک سړی ونه نیسم، او هېڅکله به د وفادارو کسانو ټرون مات نه کړم.

۳۰ ـ معاویه ته نصیحت او خبرداری

)بل لیک معاویه ته(
د هغه څه په اړه چې درسره دي، له الله تعالی ووېرېږه، او د الله په هغو حقونو کې فکر وکړه چې پر تا واجب دي، او د هغه څه په پېژندلو کې هڅه وکړه چې په نه پوهېدو کې دې عذر نه منل کېږي.
اطاعت د الله داسې څرګندې نښې، روښانه لارې، او منځنۍ تل خلاصه لاره ده، او پای یې خوښ دی، هوښیاران وربانده رسېږي او فاسدان تري اوړي. څوک چې له دین څخه سر وغړوي، له حقه مخ اړوي او د حیرت په وادۍ کې سرګردانېږي، او الله تعالی نعمت تري اخلي او پر هغه خپل عذاب نازلوي.
ای معاویه! اوس ځان ته راشه او په خپل حال غور وکړه، ځکه الله تعالی ستا د چارو لاره او پای درته روښانه کړی دی، خو ته لا هم د تاوان او کفر خواته روان یې. د نفس غوښتنو بدیو ته درکاږلی یې، او د ګمراهۍ کندې ته یې غورځولی یې، په هلاکت کې دې اچولی یې، او د خلاصون لارې یې درباندې تړلې دي.

۳۱ ـ ځان جوړونه، د زوی روزنه، د دنیاپالو پېژندنه او نور نصیحتونه

)د امام علي علیه السلام لیک خپل زوی امام حسن علیه السلام ته، په ۳۸ هجري کال کې، کله چې له صفین جګړې څخه راستنېده او د «حاضرین» سیمې ته رسېدلی و(.

له هغه پلار څخه چې فاني دی، د زماني تېرېدنه منونکی، ژوند تر شا پرېښی، د دنیا د تېرېدو څخه بېچاره، د دنیا ملامتوونکی، د تېر شویو په استوګنځي کې اوسېدونکی، او د سبا کوچېدونکی؛ هغه زوی ته چې د داسې څه هیله لري چې لاس ته نه راځي، د داسې لارې روان دی چې پای یې نیستي ده، په دنیا کې د ناروغیو هدف، د زماني بندیوان، د مصیبتونو تر برید لاندې، د فریبکاري دنیا سوداګر، د فنا پوراخیستونکی، د مرګ اسیر، د غمونو ملګری، د اندېښنو همنشین، د بلاوو نښه، د خواهشاتو په خاورو کې لوبدلی، او د تېر شویو ځای ناستی دی.

د الله تعالی له ستاینې وروسته! د عمر تېرېدل، د زماني زور، او د آخرت را نږدې کېدل، زه له نورو فکرونو څخه راګرځولی یم او ټول پام مې آخرت ته اړولی دی. خپل ځان ته مې پام شو، له نورو مې مخ واړاوه، نو نظر مې له خلکو واوښت، له خواهشاتو مې ځان راوګرځاوه، او حقیقت مې درته څرګند شو، داسې حقیقت چې په کې ټوکه نشته او دروغ لاره نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ته ته داسي ښکاره شوي لکه زما د وجود ټوته، بلکي ټول وجود مي، داسي چې که تا ته څه ورسېږي، ما ته رسېږي، او که مرګ تا ته راشي، زما ژوند هم ختمېږي. نو ستا کار مې خپل کار وګانه، او دا لیک مې درته ولیکه تر څو د ژوند په سختیو کې درته لارښود وي، که زه ژوندی وم او که نه وم.

زویه! زه تا ته د الله تعالی د وېرې سپارښتنه کوم، چې تل د هغه په فرمان کې اوسې، زړه دې د الله تعالی په یاد ژوندی کړه، او د هغه رسۍ ته ټینګ ونیسه، ځکه له الله تعالی سره اړیکه تر ټولو قوي وسیله ده.

زړه دې په نصیحت ژوندی کړه، نفس دې د حرامو په پرېښودو ووژنه، روح دې په یقین قوي کړه، او په حکمت یې روښانه کړه، د مرګ په یاد یې آرام کړه، د فنا حقیقت ورته وښیه، د دنیا د بدلونونو خبر ورکړه، د شپې او ورځې د ګرځېدو له ناوړه پایلو یې ووېروه.

د پخوانیو تاریخ ورته بیان کړه، د تېر شویو د حالاتو یاد ورته وکړه، د ورانو شوو ښارونو او پاتې نښو ته یې بوځه، فکر دې وکړي چې هغوی څه وکړل، له کوم ځایه لاړل او چېرته ورسېدل؟ له دوستانو جلا شول او د غربت لور ته روان شول. داسي به وي لکه لږ وخت وروسته ته هم له هغوی څخه شي.

نو خپل راتلونکی ځای آباد کړه، آخرت په دنیا مه پلوره، هغه څه مه وایه چې نه یې پوهېږي، او هغه څه مه کوه چې درته لازم نه دي. په داسي لاره مه ځه چې د ګمراهۍ ویره تري لري، ځکه د حیرانۍ پر مهال درېدل تر تباهۍ غوره دي.

په نېکۍ امر کوه او خپله نېک عمل کوه، بد په لاس او ژبه رد کړه، له بدکارانو ځان لري کړه، د الله تعالی په لار کې داسي کوښښ وکړه لکه څنګه چې باید وشي، او د ملامتوونکو ملامتي دې له حقه وانه ړوي.

د حق لپاره په سختیو کې ځان واچوه، د دین په پېژندلو کې بشپړتیا پیدا کړه، ځان د صبر کولو عادت کړه، ځکه د حق په لار کې صبر غوره خوی دی. په ټولو کارونو کې ځان الله تعالی ته وسپاره، ځکه تر ټولو ټینګې پناه ته رسېږي.

په دعا کې اخلاص ولره، ځکه ورکول او نه ورکول د الله تعالی په لاس کې دي، او له هغه ډېر خیر وغواړه. زما وصیت په دقت واوره او تري په اسانه مه تېره کېږه، ځکه غوره خبره هغه ده چې ګټه ولري. پوه شه، هغه علم چې ګټه ونه لري، بې ارزښته دی.

زویه! کله چې مې ولیدل عمر مې تېر شو او ځواک مې کم شو، نو په وصیت کې مې بېړه وکړه، اخلاقي ارزښتونه مې درته بیان کړل، تر دې مخکې چې مرګ راورسي او هغه څه چې په زړه کې لرم درته ونه وایم، او مخکې له دې چې دنیا ستا زړه بوخت کړي، ځکه د ځوان زړه مثال د نا کرل شوي ځمکې دی، هر تخم چې پکې وکرل شي، راشنه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ستا په روزنه کې مې بېړه وکړه، تر دې مخکې چې زړه دې سخت شي او عقل دې په نورو شیانو بوخت شي، تر څو ته هغه څه ته ورسېږې چې تجربه لرونکو د زحمت په بدل کې ترلاسه کړي دي، او ته له ازمایښت بېنیازه شې.

که څه هم ما د پخوانیو په اندازه ژوند نه دی کړی، خو د هغوی په کارونو مې فکر کړی، د هغوی تاریخ مې لوستی، او د هغوی په نښو مې ګرځېدلی، تر دې چې داسې شوم لکه له هغوی څخه یو.

زویه! تر ټولو زیات هغه څه خوښوم چې ته د الله تعالی وېره ولرې، واجبات ادا کړې، او د خپلو نیکونو او صالحانو لاره تعقیب کړې.

پوه شه، که الله تعالی شریک درلودای، د هغه پېغمبران به هم درته راغلي وای، او ته به د هغه نښې لیدلې وای، خو الله تعالی یو دی، لکه څنګه چې یې ځان بیان کړی.

نو کله چې دا حقیقت وپېژنې، داسې عمل وکړه لکه څنګه چې ستا په شان بنده ته ښایي، ځکه انسان کمزوری دی، ځواک یې لږ دی، او الله تعالی یوازې نېکۍ ته امر کوي او له بدۍ منع کوي.

زویه! ما تا د دنیا له حالاتو خبر کړ، او د آخرت له نعمتونو مې هم خبر کړې، مثالونه مې درته راوړل تر څو پند واخلې.

د دنیا مثال د هغو مسافرو دی چې له سخت ځایه د آرام ځای ته روان وي، ستونزې زغمي تر څو امن ځای ته ورسېږي.
او د دنیاپالو مثال د هغو کسانو دی چې له نعمتونو ډک ځای پرېږدي او وچې دښتې ته ځي.

نو ځان د نورو لپاره میزان وګرځوه، هغه څه چې ځان ته خوښوي، نورو ته هم خوښ کړه، او هغه څه چې ځان ته نه خوښوي، نورو ته هم مه خوښوه.

ظلم مه کوه، لکه څنګه چې نه غواړې پر تا وشي، نېکي کوه لکه څنګه چې غواړې درسره وشي.
غرور د عقل آفت دی.

په ژوند کې کوښښ وکړه، خو یوازې د دنیا لپاره مه زېرمه کوه.
کله چې سمې لارې ته ورسېدې، د الله تعالی پر وړاندې ډېر عاجز اوسه.

پوه شه، اوږده او سخته لار درته مخکې ده، بې له توښې او صبره نه شي وهل کېدای.
که کوم مسکین وویني چې ستا توښه آخرت ته وړي، مرسته ورسره وکړه، ځکه کېدای شي هلته ورته اړتیا ولرې.

مرګ وروسته ببرته راتګ نشته، نو مخکې له رسېدو ځان چمتو کړه.

پوه شه، هغه الله تعالی چې د اسمانونو او ځمکې خزینې ورسره دي، تا ته یې د دعا اجازه درکړې، او د قبول ژمنه یې کړې.ستاسې او هغه تر منځ هېڅ پرده نشته.که ګناه وکړې، د توبې دروازه بنده نه ده.
یو ګناه یوه حسابوي، او یوه نېکي لس.نو حاجت له هغه وغواړه، راز ورته ووایه، غم ورته بیان کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه یوازې هغه مرسته کولای شي.او له هغه داسې څه وغواړه چې بل څوک یې نه شي درکولای: اوږد عمر، روغ بدن، پراخ رزق، او د آخرت بریا.او خپل لاس دې هم ستا په واک کې درکړی، چې تا ته یې د دعا اجازه درکړې ده؛ نو هر وخت چې وغواړې، په دعا سره د الله ﷻ د نعمتونو دروازې پرانستلای شي، څو د الهي رحمت باران درباندې وورېږي. هېڅکله د دعا د قبلېدو له ځنډه مه ناهیلي کېږه؛ ځکه الهي ښښنه د نیت په اندازه وي. کله کله د دعا په قبلېدو کې ځنډ راځي، څو د غوښتونکي اجر زیات او د هیلهمن ثواب بشپړ شي. کله داسې هم کېږي چې ته یو څه غواړې، خو ځواب نه درکول کېږي؛ ځکه ژر به یا په ټاکلي وخت کې له هغه څه نه غوره درکړل شي، یا ښایي د هماغه څه نه د غوره شي د درکولو لپاره ستا دعا ونه منل شي، ځکه ډېرې داسې غوښتنې شته چې که پوره شي، ستا د دین د تباهۍ سبب به شي. نو خپلې غوښتنې داسې وګرځوه چې ستا ښکلا او عزت خوندي کړي او له تا څخه رنځ او سختي لرې کړي؛ ځکه نه د دنیا مال ستا لپاره تلپاتې دی او نه ته د دنیا د مال لپاره پاتې کېدونکی یې.

زویه! پوه شه چې ته د آخرت لپاره پیدا شوی یې، نه د دنیا لپاره؛ د دنیا پرېښودو لپاره، نه پکې د تل پاتې کېدو لپاره؛ د مرګ لپاره، نه په دنیا کې د همېشني ژوند لپاره. هره شېبه ممکن له دنیا کوچ وکړې او آخرت ته داخل شي. ته د هغه مرګ ښکار یې چې تېښتېدونکی تري نه خلاصیږي، او چې هر څوک ولټوي، ور رسېږي او بالاخره یې نیسي. نو له مرګه وډار شه، هسې نه داسې مهال دې راونیسي چې ته په ګناه کې بوخت وې یا د توبې نیت دې درلود، خو مرګ دې مهلت در نه کړي او ستا او توبې ترمنځ واټن واچوي؛ ځکه په هغه صورت کې به تا خپل ځان تباه کړی وي.

زویه! مرګ ډېر یادوه، او هغه څه هم یادوه چې ورته روان یې او له مرګ وروسته به پکې ورننوزې، څو د مرګ د لیدو پر مهال له هر اړخه چمتو اوسې، خپل قوت زیات کړې او ملا دې وتړې، څو مرګ ناڅاپه درباندې رانشي او تا مغلوب نه کړي.

هسې نه د دنیاپالو ډېره مینه له دنیا سره، او د هغوی حریصانه یرغل پر دنیا تا وغولوي؛ ځکه الله ﷻ تا د دنیا له حاله خبر کړی دی، او دنیا هم خپل حقیقت درته څرګند کړی او د زمانې له بدرنګیو یې پرده پورته کړې ده. دنیاپالان لکه داړونکي سپي دي چې په غپا او حمله د ښکار د توټه کولو لپاره منډې وهي، ځینې پر ځینو نورو ورټوپ کوي، زورور یې کمزورې خوري او لوی یې واړه له منځه وړي. یا لکه اوښان دي چې ځینې یې تړل شوي وي او ځینې نور خوشې شوي وي، لار یې ورکه کړې وي او په ناپېژندو لارو کې روان وي، د آفتونو په ډک ناو کې او په داسې شګو کې راګیر وي چې حرکت پکې په سختۍ کېږي. نه شپون لري چې چاري یې سمبالې کړي او نه چران ورسره شته چې څرځای ته یې بوځي. دنیا هغوی د ړندوالي پر لور بیولي دي، د هدایت له څراغه یې سترګې پټې کړې دي، په بېلارۍ کې سرګردانه او په نعمتونو کې ډوب دي، تر دې چې هماغه نعمتونه یې خپل رب ګرځولي دي. هم دنیا ورسره لوبې کړې دي او هم دوی له دنیا سره بوخت شوي دي، او آخرت یې هېر کړی دی. لږ تم شه، ژر به تیاره لېږي شي؛ ګواکې مسافران منزل ته رسېدلي دي، او هغه څوک چې ګرځندی شي، له کاروان سره به یوځای شي.

زویه! پوه شه چې هغه څوک چې د شپې او ورځې سپورلی ورسره مل وي، تل په حرکت کې وي، که څه هم ځان ساکن ګڼي؛ او همېشه لار وهي، که څه هم په خپل ځای ولاړ او هوسا وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یقین سره پوه شه چې ته به خپلو ټولو هیلو ته ونه رسیږې، او له خپلې ټاکلې مودې ډېر به ژوند ونه کړې، او ته د هغه چا پر لاره روان یې چې له تا مخکې پرې تللي دي. نو د دنیا په ګټلو کې ارام او په لګولو کې یې اعتدال غوره کړه؛ ځکه ډېر ځله د دنیا لپاره بېحده هڅه د مال د لوټېدو سبب ګرځېدلې ده. هر زحمتکښ لازماً خپلې موخې ته نه رسیږي، او هر نرمچاری خامخا محروم نه پاتې کیږي.

خپل نفس له هر ډول ټیټې څخه وساته، که څه هم تا خپلو موخو ته رسوي؛ ځکه د هغه عزت او آبرو بدیل نه شي موندلای چې له لاسه یې ورکوې. د بل چا بنده مه اوسه، حال دا چې الله ﷻ تا آزاد پیدا کړی یې. هغه خیر، خیر نه دی چې بې له شره ترلاسه نه شي، او هغه راحت، راحت نه دی چې د ډېرو سختیو په بیه تر لاسه شي.

له دې وډار شه چې د طمعې سپورلی دې د هلاکت پر لور بوځي. که دې وس وي چې ستا او الله ﷻ ترمنځ د نعمتونو کوم خاوند واسطه نه شي، نو همداسې وکړه؛ ځکه ته خپله روزي تر لاسه کوې او خپله برخه اخلې. هغه لږ څه چې د الله ﷻ له لوري تا ته رسیږي، تر هغه ډېر مال ډېر ارزښتمن او عزتمند دي چې د بندګانو له لاسه یې اخلې، که څه هم په پایله کې هر څه د الله له خوا وي.

هغه څه چې په چوپتیا سره یې له لاسه ورکوې، تر هغه څه اسانه دي چې په خبرو سره یې له لاسه ورکړې؛ ځکه هغه څه چې په مَشک کې وي، د خولې په ټرلو سره ساتل کیږي. زما په نزد، د هغه څه ساتل چې ستا په لاس کې دي، تر دې غوره دي چې له نورو څه وغواړې، او د نهیلۍ تریخوالی تر دې غوره دی چې له خلکو غوښتنه وکړې. له پاکدامنۍ سره مل کسب تر هغه شتمنۍ غوره دی چې په ګناه لاسته راشي.

انسان د خپلو رازونو د پټ ساتلو ډېر وړ دی. ډېر داسې کسان شته چې د ځان پر ضد هڅه کوي. څوک چې ډېرې خبرې کوي، بېهوده خبرې کوي، او څوک چې فکر کوي، پوهیږي. له نېکانو سره نږدې اوسه او د هغوی له ډلې شه، او له بدانو لرې اوسه او له هغوی ځان وساته. تر ټولو بد خواړه حرامه لقمه ده، او تر ټولو بد ظلم پر کمزوري ظلم دی. هلته چې نرمي کمزوري ګټل کیږي، کلک اوسه. ډېر ځله دوا درد زیاتوي، او ناروغي درمل ګرځي. کله ناکله هغه څوک چې د نصیحت وړ نه وي، نصیحت کوي، او نصیحت کوونکی غدار وي.

هېڅکله پر هیلو تکیه مه کوه؛ ځکه هیلې د احمقانو پانګه ده. د عقل ساتنه د تجربو له لارې د پند اخیستل دي، او تر ټولو غوره تجربه هغه ده چې تا ته پند درکړي. مخکې له دې چې فرصت له لاسه ووځي او پښېماني راوړي، له فرصتونو ګټه واخله. هر کوښښکوونکی خپلې موخې ته نه رسیږي، او هر هغه څه چې پټ شي، بېرته نه راګرځي. د تباهۍ له بېلګو څخه دا هم ده چې د آخرت زاد او توښه له منځه یوسي. هر کار پای لري، او ژر به هغه څه در ورسیږي چې درته ټاکل شوي دي. هر سوداګر خپل ځان په خطر کې اچوي. ډېر ځله لږ څه له ډېرو غوره وي. نه د ټیټ انسان په مرسته کې خیر شته او نه د متهم دوست په ملګرتیا کې. تر هغه چې زمانه ستا په واک کې ده، اسانتیا غوره کړه او د لا ډېر تر لاسه کولو لپاره ځان په خطر کې مه اچوه. د دښمنۍ او شخړې پر سپرلي مه سپرېره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دې ورور درنه لرې شي، ته د دوستۍ ټراو وساته. که مخ در واړوي، ته ورسره مهربان اوسه. که بخل وکړي، ته سخاوت کوه. که لرې شي، ته ورنږدې شه. که سختي وکړي، ته نرمي غوره کړه. که ګناه وکړي، عذر يې ومنه، داسې لکه ته چې د هغه بنده يې او هغه دې صاحب‌نعمت وي. خو دا سپارښتنې له نااهلو او ناشايسته کسانو سره مه عملي کوه. د خپل دوست دښمن مه دوستوه، هسې نه له دوست سره دښمني وکړې. د دوست په نصيحت کې کوښښ وکړه، که هغه ته خوږ وي او که ترخه. غوسه تيره کړه؛ ځکه ما له دې نه خوږه ځښاکه نه ده ځښلې او له دې نه غوره پايله مې نه ده ليدلې.

له هغه چا سره چې درسره سختي کوي، نرمي کوه؛ هيله ده چې ژر به درسره نرم شي. له خپل دښمن سره د ښې چلند کوه؛ ځکه دا د دوو برياوو تر ټولو خوږه پايله ده: يا انتقام، يا ښېنه. که دې غوښتل له ورور سره دې اړيکه پرې کړې، نو د بېرته ستنېدو لپاره د دوستۍ يوه دروازه خلاصه پرېږده، څو که يوه ورځ وغواړي در وګرځي، لاره ورته وي. څوک چې پر تا ښه ګمان ولري، تصديق يې کړه، او هېڅکله د خپل ورور حق د هغه دوستۍ په حساب مه ضايع کوه چې درسره يې لري؛ ځکه هغه څوک چې حق يې ته ضايع کوي، ستا ورور نه دی. ستا کورنۍ دې تر ټولو بدمرغه خلک درته نه وي، او له هغه چا سره زړه مه تړه چې تا ته مينه نه لري. هسې نه ستا ورور د دوستۍ د پرې کولو لپاره تر تا قوي دليل ولري، او يا په بدۍ کې تر ستا نېکۍ ډېر عذر وړاندې کړي. د هغه ظلم چې پر تا يې کوي، په خپل نظر کې ډېر لوی مه ګڼئ؛ ځکه هغه په اصل کې د خپل زيان او ستا د ګټې لپاره هڅه کوي. د هغه چا بدله چې تا خوشحاله کوي، بدي نه ده.

زويه! پوه شه چې روزي دوه ډوله ده: يوه هغه چې ته يې لټوې، او بله هغه چې تا لټوي؛ که ته ور ونه رسېږې، هغه خپله در رسېږي. د اړتيا پر مهال فروتني څومره بده ده، او د بې‌نيازۍ پر مهال ظلم څومره بدرنګه دی. ستا برخه له دنيا څخه يوازې هماغه ده چې په هغې سره د آخرت کور سمولای شې. که د هغه څه لپاره خپه کېږې چې له لاسه دې ورکړي، نو د هغه څه لپاره هم اندېښمن اوسه چې هېڅکله دې نه دي تر لاسه کړي. د تېر ژوند له ليدلو او اوربدلو نه، د راتلونکي لپاره استدلال وکړه؛ ځکه حالات او پېښې سره ورته دي. له هغو کسانو مه اوسه چې نصيحت پرې اغېز نه کوي، مګر د ډېرو کړاوونو او ربړونو په بدل کې؛ ځکه عاقل له نصيحت او ادب نه پند اخلي، او حيوانات په وهلو او وهلو سمېږي.

غم او اندېښنه د صبر او يقين په قوت له ځانه لرې کړه. څوک چې اعتدال پرېږدي، له سمې لارې اوړي. ملګرى او همنشين د خپلوانو په شان دى. رښتينى دوست هغه دى چې په پټه د دوستۍ حق وساتي. هواپرستي د ړندوالي په څېر ده. ډېر داسې لرې خلک شته چې له نږدې کسانو نه نږدې وي، او ډېر داسې نږدې کسان شته چې له لرې کسانو نه هم لرې وي. يوازينى هغه څوک دى چې دوست نه لري. څوک چې له حقه تېر شي، ژوند پرې تنګېږي. هر څوک چې خپل قدر وپېژني، عزت يې پاتې کېږي. تر ټولو کلکه وسيله چې پرې منګولې لګولای شي، هغه اړيکه ده چې ستا او ستا د الله ﷻ ترمنځ ده. څوک چې ستا کار ته پام نه کوي، ستا دښمن دى. کله ناکله نهيلي خپله مقصد ته رسېدل وي، هلته چې طمعه د هلاکت لامل وي. هره نيمګړتيا نه بربنډېږي، او هر فرصت نه تر لاسه کېږي. ډېر ځله ليدونکى خطا کوي، او نابينا هدف ته رسېږي. بدۍ وځنډوه؛ ځکه هر وخت دې خوښه شي، ترسره کولای يې شي. له ناپوهه سره پرېکون، له عاقل سره پيوستون دى. څوک چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زماني له چل او فریب نه ځان خوندي وګني، زمانه به ورسره خیانت وکړي، او څوک چې دنیا ستره وګني، دنیا به یې خوار کړي.

له سفر نه وړاندې د سفر له ملګري وپوښته، او له کور اخیستلو نه وړاندې ګاونډی وپېژنه. له سپکو او خندا راوړونکو خبرو ځان وساته، که څه هم د بل چا له خولې یې نقل کوې. د هېواد په چارو کې له ښځو سره له مشورې ډډه وکړه؛ ځکه د هغوی رأیه ژر کمزورې کېږي او پرېکړه یې ناپایدار وي. د حجاب تر شا یې وساته، څو نامحرمان ونه ویني؛ ځکه په پوښښ کې کلکوالی د هغوی د سلامتۍ او ټینګښت سبب دی. د ښځې بهر وتل تر دې دومره بد نه دي لکه نااهل سړي چې هغې ته دننه راشي. که دې وس وي داسې ژوند تنظیم کړې چې بې له تا بل څوک ونه پېژني، نو همداسې وکړه. هغه چارې چې د ښځې له وسه پورته وي، مه ورسپاره؛ ځکه ښځه د پسرلي ګل دی، نه یو سختکوش او خشن پهلوان. د ښځې په درناوي کې زیاتی مه کوه، هسې نه طمعمنه شي او وغواړي د نورو لپاره په ناروا شفاعت وکړي.

له بېځایه غیرته ځان وساته؛ ځکه دا کار نېکه ښځه بدګومانه کوي او پاکدامنه ښځه ناروغزړه کوي. د خپلو خادمانو او کارکوونکو د هر یوه کار مشخص کړه، څو د هماغه کار په اړه مسئول وبلل شي؛ ځکه د کار سمه وېشنه د دې سبب کېږي چې چارې یو بل ته ونه سپاري او په خدمت کې سستي ونه کړي. خپلوان دې ونازوه؛ ځکه هغوی ستا وزرونه دي چې پرې الوزې، ستا ریښې دي چې ببرته ورته ستنېږي، او ستا پیاوړی لاس دی چې پرې حمله کوې. ستا دین او دنیا الله ﷻ ته سپارم، او له الله ﷻ نه تا ته د دنیا او آخرت، اوس او راتلونکي، تر ټولو غوره خیر غواړم. والسلام.

۳۲ .د معاویه د استعماري سیاست افشا

)معاویه ته لیک(

ای معاویه! تا ډېر خلک د هلاکت کندې ته ټېل وهلي دي، او د خپل ګمراهۍ په وسیله دې دوکه کړي دي، او هغوی دې د خپلې ناپوهۍ د سرکښ سمندر په څپو کې ډوب کړي دي؛ داسې چې تیارو هغوی راونیول، او د ډول ډول شبهاتو په څپو کې لاهو شول، له حقې لارې واوښتل، او د خپلو تېرو نیکونو د جاهلیت زمانې ته یې مخه کړه، او د خپلې کورنۍ په جاهلي ځانګړنو یې ویاړ پیل کړ، مګر لږ شمېر پوهان چې خپله لاره یې بدله کړه، او کله چې دې وپېژندل، له تا څخه جلا شول، او ستا له مرستې څخه د الله ﷻ لوري ته وتښتېدل؛ ځکه تا هغوی ډېرې سختې چارې ته اړ کړل، او له سمې لارې دې منحرف کړل.

ای معاویه! په خپلو چارو کې له الله ﷻ څخه ووېرېږه، او خپل اختیار د شیطان له منګولو وباسه؛ ځکه دنیا له تا پرې کېږي او آخرت درته نږدې شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۳ .د مسخ شوو شامیانو وصف او د مکې والي ته لازمې سپارښتنې

)د مکې والي قُثَم بن عباس، د رسول الله ﷺ د تره زوی، ته لیک؛ په ۳۹ هجري کال کې، کله چې د معاویه عاملانو په مکه کې د دسیسې هوډ درلود(.

د الله ﷻ په نوم، او درود دې وي.
زما جاسوس چې په شام کې دی، ما ته خبر راکړی چې د شام یو شمېر خلک د حج د مراسمو لپاره مکې ته را روان دي؛ داسې خلک چې زړونه يې ړانده، غوږونه يې د حق له اورېدو کاڼه، او سترګې يې نابيناوي دي؛ حق د باطل له لارې لټوي، د الله ﷻ نافرمانۍ په برخه کې د بنده اطاعت کوي، خپل دين د دنيا په بيه پلوري، او دنيا د نېکانو او پرهېزګارانو د تلپاتې کور په بيه اخلي؛ حال دا چې په نېکيو کې اجر يوازې عمل کوونکي ته رسېږي، او په بديو کې سزا يوازې بدکار وينې.

نو ته په خپلو چارو کې هوښيار، تېنګ او کلک اوسه؛ د عقل او خير نصيحت کوونکی، د حکومت پيرو، او د خپل امام، امام علي عليه السلام، فرمانبردار اوسه. هسې نه داسې کار وکړې چې بيا عذر غوښتلو ته اړ شې. نه د نعمت پر مهال بېځايه خوشحالېږه، او نه د ستونزو پر مهال کمزورۍ کېږه.
والسلام.

---

۳۴ .له ګوښه شوي والي سره د زړه سواندۍ طرز، او د مالک اشتر د ځانګړنو بيان

)وروسته له هغه چې محمد بن أبي بکر په ۳۸ هجري کال کې له مصره ګوښه شو او مالک اشتر رحمه الله والي وټاکل شو؛ د محمد بن أبي بکر د ډاډ لپاره ليک(.

د الله ﷻ په نوم، او درود دې وي.
ما ته خبر را رسېدلی چې د اشتر د لېږلو له امله، ستا د ولايت سيمې ته، ته خواشينی شوی يې. دا کار مې ستا د سستۍ او بېپروايۍ له امله نه دی کړی، او نه هم دا تمه وه چې له تا نه دې ډېر زيات کوښښ راڅخه پاتې شوی وي؛ بلکې که مې ته د مصر له ولايت څخه لرې کړې، نو په داسې ځای کې مې والي وټاکلې چې اداره يې درته اسانه وي، او حکومت دې پکې ډېر خوښ او مناسب وي.

ما د مصر لپاره داسې سړی والي کړ چې زموږ په حق کې خير غوښتونکی، او زموږ د دښمنانو په وړاندې سخت، کلک او ځپونکی و. الله ﷻ دې پر هغه رحم وکړي؛ د خپل ژوند ورځې يې بشپړې کړې او له مرګ سره مخ شو، په داسې حال کې چې موږ تر ې خوښ وو. الله ﷻ دې خپل رضا هم ورپه برخه کړي، او اجر دې يې څو چنده ورکړي.

نو ته د دښمن پر وړاندې لښکر راوباسه، او په پوره پوهه او بصيرت سره د دښمن لور ته حرکت وکړه، او له هغه چا سره چې جګړه درسره کوي، د مقابلې لپاره چمتو اوسه. خلک د خپل پالونکي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله ﷻ، لوري ته راوبوله، او له الله ﷻ څخه دپر مرسته وغواړه؛ ځکه هغه به دي په سختيو کي بسنه وکړي، او په هغو ستونزو کي چې درباندې راځي، مرسته به درسره وکړي. ان شاء الله.

۳۵ .د محمد بن أبي بكر رحمه الله ځانګړني او د مصر د سقوط علتونه

)عبدالله بن عباس رضي الله عنه ته ليک، د محمد بن أبي بكر د شهادت وروسته، چې په ۳۸ هجري کال کې ليکل شوی(.

د الله ﷻ په نوم، او درود دي وي.
مصر سقوط وکړ، او د هغه والي محمد بن أبي بكر رحمه الله شهيد شو. مونږ هغه د الله ﷻ په وړاندې يو خيرخواه زوی، کوښښ کوونکی کارګزار، تېره توره، او کلک ملاتړکوونکی بولو.

ما تل خلک هڅول چې له هغه سره يوځای شي، او امر مې ورته کاوه چې د دغو ناوړه پېښو له را رسېدو مخکې د هغه مرستې ته ور ودانګي. ما خلک په پټه او ښکاره، له پيل څخه تر پايه، راوبلل؛ خو ځينې په ناخوښۍ راغلل، ځينو دروغجنې پلمې جوړې کړې، او ځينې نور خوار او ذليل پر خپل ځای پاتې شول.

له الله ﷻ څخه غواړم چې ژر مې د دې خلکو له لاسه خلاص کړي. په الله ﷻ قسم! که په جګړه کې له دښمن سره زما د شهادت هيله نه وای، او ځان مې د مرګ لپاره نه وای چمتو کړی، نو خوښ به مې وو چې يوه ورځ هم له دې خلکو سره پاتې نه شم، او هېڅکله يې بيا ونه وينم.

۳۶ .د جګړې لپاره چمتووالی او د امام عليه السلام ټينګ دريځ

)خپل ورور عقيل ته ليک، د ۳۹ هجري کال(

ما د مسلمانانو يو لوی لښکر د هغه پر لور ولېږه (بُسر بن ارطاة چې يمن ته يې يرغل کړی و). کله چې دا خبر هغه ته ورسېد، وتښتېد او بېرته په پښېمانۍ وګرځېد، خو په لاره کې ورسره مخ شول. دا د لمر لوېدو پر مهال وو. لږه شېبه جګړه وشوه، داسې لکه له يوې ګړۍ زياته نه وه، چې هغه بې وسه او په سختۍ سره ځان له جګړې وباسه.

ورورە! قريش پرېږده چې په ګمراهۍ کې منډې وهي، په بېلتون کې سرګردانه وي، او په سرکښۍ او دښمنۍ کې ژوند وکړي. هغوی زما پر ضد داسې سره يو شول لکه له ما مخکې چې د رسول الله ﷺ پر ضد سره يو شوي وو. الله دې قريش د خپلو بديو په سزا ورسوي، هغوی زما د خپلولۍ تړاو پرې کړ، او د مور د زوی (رسول الله ﷺ) حکومت يې رانه واخيست.

خو هغه څه چې د جګړې د دوام په اړه دي وپوښتل او زما نظر دې غوښت، نو زما نظر دا دی چې له پيمان ماتو سره وجنګېږم تر هغه چې له الله ﷻ سره مخ شم. نه د خلکو ډېروالی ما قوي کوي، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه د هغوی ښلتون ما وېروي. هېڅکله داسي ګمان مه کوه چې د خپل پلار زوی به، که خلک يې پرېږدي، ځان خوار او ذليل کړي، يا د ظلم پر وړاندې کمزورى شي، يا خپل اختيار د هر چا لاس ته وسپاري، او يا د هر چا فرمان ومني؛ بلکې زما پرېکړه داسي ده لکه د بني سليم شاعر چې ويلي:

»که رانه وپوښتې چې څنګه يې؟
پوه شه چې زه د زماني د سختيو پر وړاندې صابر يم؛
پر ما دا ګرانه ده چې خلک مې غمجن وويني،
چې دښمن مې ملامت کړي او دوست مې خفه شي«.

۳۷ .د معاويه د دروغو دعوې افشا

)معاويه ته ليک، د صفين له جګړې مخکې، ۳۶ هجري(

الحمد لله.
ای معاويه! ته څومره په بدعتجو هيلو او دوامداري سرګردانۍ پورې تړلى يې! حقايق دې تباه کړي، او هغه ژمنې دې ماتې کړې چې د الله ﷻ غوښتنه او د هغه پر بندګانو حجت وي.

خو د عثمان او د هغه د قاتلانو په اړه ستا ډېرې خبرې دا ځواب لري:
ته عثمان هغه وخت مرسته کاوه چې د بريا هيله دې درلوده،
او کله چې مرسته دې د هغه په ګټه وه، هغه دې يوازې پرېښود.
والسلام.

۳۸ .د مصر سياسي حالت او د مالک اشتر ځانګړنې

)د مصر خلکو ته ليک، ۳۸ هجري، کله چې مالک اشتر يې والي وټاکه(

د الله بنده، علي اميرالمؤمنين، له لوري هغو خلکو ته چې د الله لپاره په قهر شول، هغه مهال چې نورو په ځمکه کې د الله نافرماني وکړه او د هغه حق يې له منځه يووړ، نو ظلم خپل خېمه پر نېک او بد، پر حاضر او مسافر، پر ټولو ودروله؛ نه داسې ښه پاتې شو چې پناه ورته يوړل شي، او نه داسې څوک و چې له بديو يې منع وکړي.

د الله له ستاينې وروسته! ما د الله له بندګانو څخه يو سړی درته لېږلی، چې د وېرو په ورځو کې نه ويده کېږي، او د خطر په شېبو کې له دښمن نه شا نه اړوي. پر بدکارانو له اوره هم تونديدی. هغه مالک بن حارث مذحجي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې له حق سره وي، خبره يې واورئ او اطاعت يې وکړئ. هغه د الله له تورو څخه يوه توره ده، چې نه يې تېزی کميږي او نه يې ګوزار بې اغېزې کېږي. که يې د کوچ امر وکړ، کوچ وکړئ، او که يې د درېدو امر وکړ، ودرېږئ، ځکه هغه نه مخکې ځي، نه شاته کېږي او نه برېد کوي، مګر زما په امر.

ای د مصر خلکو! ما هغه ستاسې لپاره وټاکه، ځکه هغه مې ستاسې لپاره خير غوښتونکی وموند، او د دښمن پر وړاندې يې سختي خوښه شوه.

۳۹ .عمرو بن عاص ته ليک او د هغه د دنياپرستۍ افشا

)عمرو بن عاص ته ليک، ۳۹ هجري، د صفين له جګړې وروسته(

تا خپل دين د هغه چا د دنيا تابع کړی چې ګمراهي يې څرګنده ده، پرده يې څېړې شوې ده، او د هغه ملګرتيا سخاوتمند بدناموي او عزتمند ته د کم‌عقلۍ تور ور اړوي.

ته د هغه پسې روان يې، لکه وړی سپی چې د زمري د ښکار پاتې شوني څاري، د هغه بخښش ته دې سترګې نيولې چې د ښکار پاتې ټوټې درواچوي.

نو خپل دنيا او آخرت دې تباه کړل، حال دا چې که له حق سره يو ځای شوې وای، خپلې موخې ته به رسېدلی وې.

که الله ﷻ ما پر تا او د ابوسفيان پر زوی برلاسی کړي، ستاسې د بديو سزا به درکړم، او که داسې ونه شي او تاسې پاتې شئ، نو هغه څه چې مخې ته لرئ، ستاسې لپاره تر دې هم بد دي.
والسلام.

۴۰ .د يوه کارګزار ملامتول

)يوه والي ته ليک، ۴۰ هجري(

د الله په نوم، او درود.
له تا څخه ماته داسې خبر را رسېدلی چې که هغه رښتيا وي، نو تا خپل رب په قهر کړی، خپل امام دې نافرماني کړی، او په امانت کې دې خيانت کړی دی.

ما ته خبر رسېدلی چې د ځمکو حاصلات دې اخيستي، هر څه چې دې کولی شول ځان ته دې راټول کړي، او هغه څه چې ستا په واک کې وو، په خيانت دې خوړلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ژر تر ژره د مال حساب راته ولیږه، او پوه شه چې د الله حساب تر د خلکو له حسابه سخت دی.
والسلام.

۴۱ .د خاین مدیر غندنه او د بیت المال د ناوړه کارولو نکوهش

)یوه والي ته لیک، ۳۸ یا ۴۰ هجري(

د الله ﷻ په نوم او درود.
ما تا په خپل امانت کې شریک کړی و، او خپل رازدار مې ګرځولی وې، او زما د کورنۍ له کسانو څخه هیڅوک ستا په شان زما د مرستې، امانتداری او وفاداری وړ نه و. خو کله چې دې ولیدل چې پر خپل د تره زوی سخت وخت راغلی، دښمن پرې برید کړی، د مسلمانانو امانت تباه شوی، او امت بېوسه او پرک شو، نو ته له خپل عهد څخه واوښتې او له خپل د تره زوی څخه جلا شوې، لکه نور چې تړې جلا شول. ته هم له نورو سره یو ځای د هغه له مرستې لاس واخیست او له خاینانو سره دې خیانت وکړ؛ نه دې د خپل د تره زوی مرسته وکړه او نه دې امانت وساته.

ګواکې تا د الله ﷻ په لار کې جهاد نه و کړی، او نه دې له خپل رب څخه ښکاره دلیل درلود، بلکې داسې ښکارېده چې د خلکو پر دنیا د برید لپاره دې مکر کاوه او هدف دې دا و چې هغوی وغولوې او د هغوی مالونه تر لاسه کړې.

کله چې دې د خیانت فرصت وموند، په بیړه دې برید وکړ، او د بیت المال مالونه چې د کونډو او یتیمانو برخه وه، دې داسې لوټ کړل لکه وړی لیوه چې زخمي وزه یا مات هډوکی وتښتوي، او هغه دې په ارام زړه حجاز ته ولیږل، بې له دې چې ځان ګناهکار وبولي.

ستا دښمن بېپلاره شي! داسې دې مال وړې لکه د خپل مور او پلار میراث چې وي! سبحان الله! آیا ته پر قیامت ایمان نه لرې؟ او له دقیق حساب څخه نه وېرېږې؟

ای هغه څوک چې زمور په نزد له هوښیارانو شمېرل کېدې! څنګه دې ځان ته دا روا کړه چې هغه څه وخورې او وڅښې چې حرام دي؟ او څنګه د یتیمانو، مسکینانو، مؤمنانو او د الله ﷻ د لارې د مجاهدانو له مال څخه کنیزې اخلې او نکاح کوې؟ حال دا چې دا مال الله ﷻ هغوی ته سپارلی او دا ښارونه یې د هغوی په لاس خوندي کړي دي.

له الله ﷻ ووېرېږه او د هغوی مال ېبرته ورکړه، که داسې ونه کړې او الله ﷻ ما پر تا برلاسی کړ، نو داسې به دې سزا کړم چې د الله ﷻ په وړاندې به زما لپاره عذر وي، او په داسې توره به دې ووهم چې هر څوک مې پرې وهلی، دوزخ ته داخل شوی دی.

په الله ﷻ قسم! که حسن او حسین علیه السلام هم داسې کار کړی وای لکه ته چې دې کړی، له ما به یې هیڅ نرم چلند نه و لیدلی، او تر هغه به مې حق تړې نه و اخیستی او باطل به مې له منځه نه و وړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په رب العالمین قسم! که هغه مال چې تا د مسلمانانو له بیت المال څخه ناحقه اخیستی، زما لپاره هم حلال وای، بیا هم به مې نه خوښول چې زما له مرګ وروسته زما د وارثانو لپاره پاتې شي. نو ځان وساته او فکر وکړه، داسې ګمان وکړه چې د ژوند پای ته رسېدلی یې، تر خاورو لاندې پټ شوی یې، او عملونه دې درته وړاندې شوي دي؛ هلته چې ظالم په حسرت چیغې وهي، او د عمر ضایع کوونکی د ببرته راتګ هیله کوي، خو د خلاصون لار بنده وي.

۴۲ .د عزل او نصب پر مهال د ډاډ ورکولو طریقه

)عمر بن ابی سلمه مخزومي ته لیک، د بحرین والي، ۳۶ هجري(

د الله ﷻ په نوم او درود.
ما نعمان بن عجلان زرقي د بحرین والي وټاکه، بې له دې چې پر تا کومه ملامتي وي، او ته مې له هغه ځایه لرې کړې. په رښتیا چې تر اوسه دې ښه حکومت کړی او امانت دې ادا کړی دی.

نو زموږ لور ته را روان شه، په داسې حال کې چې نه بدګمانه شوی یې، نه ملامت، نه تورن او نه ګناهکار؛ ځکه زه اراده لرم د شام د ظالمانو پر لور حرکت وکړم، او غواړم ته هم له ما سره په دې جګړه کې وي، ځکه ته له هغو زړورو کسانو څخه یې چې د دښمن پر وړاندې او د دین د ستنې د ټینګولو لپاره تري مرسته غواړم. ان شاء الله.

۴۳ .د بیت المال په ساتنه کې سختي او د خاین مدیر د سزا طریقه

)مصقلة بن هبیره شیباني ته لیک، د فارس والي، ۳۸ هجري(

ما ته ستا په اړه داسې راپور را رسېدلی چې که رښتیا وي، نو تا خپل رب په قهر کړی او خپل امام دې نافرماني کړې ده. خبر را رسېدلی چې د مسلمانانو هغه اسونه چې د هغوی په وینو تر لاسه شوي وو، ته خپلو خپلوانو اعرابو ته ورکوې، هغه کسان چې تا یې غوره کړی یې.

په هغه الله ﷻ قسم چې دانه یې وشکوله او مخلوق یې پیدا کړ، که دا خبر رښتیا وي، نو زما په نزد به سپک شي او ستا مقام به راولوېږي. نو د خپل رب حق مه سپکوې، او خپله دنیا د دین په تباه کولو مه آبادوه، ځکه ته به له تاوانکارانو څخه شې.

پوه شه چې هغه مسلمانان چې زما تر لاس لاندې دي او یا ستا تر واک لاندې، د بیت المال په وېش کې برابر حق لري، او ټول باید ما ته راشي او خپله برخه له ما واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۴ .زياد ته خبرداری د معاويه له دسيسې او د ابوسفيان د دعوې رد

)زياد بن ابيه ته ليک، ۳۹ هجري(

ما ته خبر را رسېدلی چې معاويه تا ته ليکلی، تر څو ستا عقل وغورځوي او اراده دې کمزورې کړي. له هغه ووېرېږه، ځکه هغه د شيطان په شان دی، چې له مخې، له شا، له ښي او له چپ انسان ته راځي، څو د غفلت په حالت کې يې ونيسي او عقل تري واخلي.

هو! ابوسفيان د عمر بن خطاب په زمانه کې داسې دعوه وکړه چې بې له فکره وه او د شيطان له وسوسې څخه پيدا شوې وه؛ نه نسب پرې ثابتېږي او نه څوک پرې د ميراث مستحق کېږي. د داسې دعوه کوونکي مثال د پردي اوښ په شان دی چې د اوښانو په رمه کې ور ګډ شي، څو له هغوی سره اوبه وڅښي، خو نور اوښان يې نه مني او له ځانه يې لرې کوي. يا لکه هغه لوښی چې د سپرلۍ له پالان څخه ځوړند وي او هرې خوا ته خوځېږي.

۴۵ .د کارګزارانو لپاره د ساده ژوند اړتيا، د امام عليه السلام زهد، او د حرامې دنيا رد

)د بصرې والي عثمان بن حنيف انصاري ته ليک، ۳۶ هجري(

د الله ﷻ په نوم او درود.
ای د حنيف زويه! ماته خبر را رسېدلی چې د بصرې يو شتمن سړي تا مېلمستيا ته بللی و او ته ژر ورغلی وې. ډول ډول خواړه يې درته تيار کړي وو او پرله پسې يې د خوړو ډکې کاسې درته وړاندې کولې. ما ګمان نه کاوه چې ته به د داسې خلکو بلنه ومنې چې بېوزلي يې په ظلم محروم دي او شتمن يې پر دسترخوان ناست دي. نو وګوره چې چېرته يې او د چا پر دسترخوان ناست يې! هغه خواړه چې د حلال او حرام ترديد پکې لرې، پرېږده، او هغه وخوره چې د پاکوالي او حلالوالي يقين پرې لرې.

پوه شه چې هر پيرو يو امام لري چې د هغه پيروي کوي او د هغه د علم له رڼا څخه رڼا اخلي. پوه شه چې ستاسې امام له خپلې دنيا څخه په دوو زړو جامو او دوو ډوډيو بسنه کړې ده. پوهېږم چې تاسې داسې نه شئ کولی، خو په تقوا، هڅه، پاکدامنۍ او ربښتينولۍ سره زما مرسته وکړئ.

په الله ﷻ قسم! ما ستاسې له دنيا نه نه سره زر راټول کړي او نه سپين زر، او نه مې له غنيمتونو څه ذخيره کړي دي. له خپلو زړو جامو مې نوې جامه نه ده زياته کړې، او د دنيا له ځمکې مې حتی يوه وجب هم نه دی نيولی، او ستاسې دنيا زما په نظر د بلوط د ترخې دانې نه هم ارزښتناکه نه ده.

هو! له هغه څه څخه چې اسمان پرې سيوری اچولی، فدک زمور په لاس کې و، خو يو قوم پرې بخل وکړ او بل قوم تري تېر شو، او غوره قاضي الله ﷻ دی. ما ته له فدک او له نورو څه کار؟ حال دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د انسان سبا ځای قبر دی، داسې ځای چې په تیاره کې د انسان نښې له منځه ځي او خبرونه یې پټېږي. که هر څومره قبر پراخ شي، بیا هم ډبرې او خاوره یې ډکوي.

زه خپل نفس په تقوا روزم، څو د قیامت په ورځ چې تر ټولو وېرونکې ورځ ده، خوندي پاتې شي او د لغزش په ځایونو کې ثابت قدم وي. که مې غوښتلای، کولی مې شول د شاتو له پاکو خوړو، د غنمو له مغزو او د وربشمو له جامو ځان ته خواړه او لباس برابر کړم، خو هېهات! چې نفس پر ما غلبه وکړي او حرص او طمع مې د خوندورو خوړو پر لور بوځي، په داسې حال کې چې کېدای شي په حجاز یا یمامه کې څوک د یوې ډوډۍ موندلو ته هم ونه رسېږي، یا هېڅکله مړ شوی نه وي.

ایا زه مړ ویده شم، حال دا چې زما شاوخوا داسې نسونه وي چې د لوږې له امله شا ته نښتي وي او داسې ځیګرونه وي چې سوځېدلي وي؟
یا داسې واوسم لکه شاعر چې ویلي:
»دا درد دي بس دی چې ته مړ ویده شي،
او ستا شاوخوا وږي نسونه شا ته نښتي وي«.

ایا زه په دې راضي شم چې ما ته امیرالمؤمنین علیه السلام ووایي، خو د خلکو په سختیو کې ورسره شریک نه شم او د ژوند په ستونزو کې یې ببلګه نه شم؟
زه د دې لپاره نه یم پیدا شوی چې خوندور خواړه ما بوخت کړي، لکه څاروی چې ټول فکر یې وابنه وي، یا لکه ازاد څاروی چې یوازې د خپټې ډکول پېژني او له راتلونکې بې خبره وي.

ایا زه بېهوده پیدا شوی یم؟
ایا له ما سره لوبې شوې دي؟
ایا د ګمراهۍ رسۍ په لاس کې واخلم او د سرګردانۍ لاره ونیسم؟

ګواکې له تاسو څخه څوک وایي:
که د ابن ابیطالب خوراک همدومره وي، نو کمزورې شوی او له جګړې پاتې شوی دی.

پوه شئ! د دنیې وني کلکې وي، او د سیند غاړې وني نرمې وي. د دنیې وني چې د باران په اوبو لوېږي، لرګي یې سخت او اور یې توند وي.

زه او رسول الله ﷺ د یوې څراغ رڼا یو، یا لکه د یوې مټې دوه برخې یو. په الله ﷻ قسم! که ټول عرب له ما سره په جګړه کې یو شي، زه به شا ونه ګرځوم، او که فرصت وموممه، له ټولو سره به وجنګېږم، او هڅه به وکړم چې ځمکه له دې مسخ شوي سړي (معاویه) او له دې کړاندیشه بدن څخه پاکه کړم، څو خاوره له دانو جلا شي.

ای دنیا! له ما لرې شه، ستا مهار مې پر شا اچولی، له منګولو دې خلاص شوی یم، له دامونو دې ژغورل شوی یم، او له لغزش ځایونو دې لرې شوی یم.

چېرته دي هغه ستر خلک چې ته دې په خپلو لوبو وغولول؟
چېرته دي هغه ملتونه چې ته دې په زرو او زیور وغولول، حال دا چې اوس په قبرونو کې پراته دي او په لحدونو کې پټ دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای دنیا! په الله ﷻ قسم! که ته د لیدلو وړ وای او بنه دې لرلای، نو د الله حدود به مې درباندې جاري کړي وای، ځکه تا بندګان په هیلو وغولول، ملتونه دې هلاک کړل، زورور دې نابود کړل، او په بلاوو دې واچول، داسې چې د خلاصون لار یې نه لري.

خو هېهات! څوک چې ستا په لغزش ځای کې قدم کېږدي، لوېږي؛ څوک چې ستا پر څپو سپور شي، ډوبېږي؛ او څوک چې ستا له دام څخه خلاص شي، بریالی دی. هغه څوک چې له تا روغ تېر شي، پر تنګ ژوند نه خپه کېږي، ځکه دنیا د هغه په نظر د پرون ورځې په شان ده چې تېره شوه.

له سترګو مې لرې شه!
په الله ﷻ قسم! ستا فرمان ته به غاړه کېښږدم، څو ما خوار نه کړې، او مهار به در نه کړم چې هر لور ته مې بوځې.

په الله ﷻ قسم! خپل نفس به داسې وروزم چې که یوه ډوډۍ ومومي خوشحال شي، او د مالګې سره قناعت وکړي، او دومره به وژاړم چې سترګې مې وچې شي.

ایا روا ده چې څاروي ډېر وخوري او ارام ویده شي، او پسونه له څړ وروسته خپل آغل ته ولاړ شي، او علي هم د هغوی په شان وخوري او ویده شي؟
د هغه سترګې دې رنې وي چې له ډېرو کلونو وروسته څاروي او رمې خپل مثال وګرځوي!

خوشبخت هغه څوک دی چې د الله ﷻ واجبات ادا کړي، د الله په لار کې سختۍ وزغمي، د شپې عبادت وکړي، او که خوب پرې غلبه وکړي، پر ځمکه ویده شي او لاس بالښت کړي. هغه د هغو کسانو له ډلې دی چې د قیامت وېرې خوب تري وړی، له بسترونو لرې شوي، شوندې یې د الله په یاد خوځېږي، او په استغفار سره یې ګناهونه پاک شوي دي.
»دوی د الله ګوند دی، او بېشکه د الله ګوند بریالی دی«.

نو له الله ﷻ ووېرېره ای د حنیف زویه!
په خپلو وچو ډوډیو قناعت وکړه، څو له دوزخ څخه خلاص شې.

۴۶ .د والي مسؤلیت او د مدیریت اخلاقي اصول

)یو والي ته لیک، ۳۸ هجري(

د الله ﷻ په نوم او درود! ته له هغو کسانو څخه یې چې زه د دین په مرسته کې پرې تکیه کوم، د ګناهکارانو سرکشي او غرور په وسیله درباندې ماتوم او د اسلامي هېواد سرحدونه چې د دښمن له ګواښ سره مخ دي ستا په وسیله ساتم، نو په ستونزو کې له الله ﷻ مرسته وغواړه او سختي له لږ نرمۍ سره ګډه کړه، هلته چې نرمي غوره وي نرمي وکړه او هلته چې کار پرته له سختۍ نه کېږي سختي وکړه، خپل وزر د رعیت پر سر خپور کړه، له خلکو سره خوش‌اخلاقه او متواضع اوسه، په نظر، اشاره، سلام او چلند کې له ټولو سره یو شان اوسه، تر څو زورور ستا په ظلم طمع ونه کړي او کمزوري ستا له عدالت نه نا امیده نه شي، والسلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۷. اخلاقي وصيتونه او د قصاص عدالت

د امام علي عليه السلام وصيت حسن او حسين عليهما السلام ته، ۴۰ هجري)

تاسي ته د الله ﷻ له وېرې وصيت کوم، د دنيا مينه مه کوئ که څه هم دنيا درپسي راشي او په هغه څه مه خپه کېږئ چې له دنيا څخه له لاسه درځي، حق ووايئ او د الله د اجر لپاره عمل وکړئ او د ظالم دښمن او د مظلوم مرستندوی اوسئ، تاسي، زما ټول اولاد، زما کورنۍ او هر هغه څوک چې دا وصيت ورته رسېږي، د الله له وېرې، د چارو په نظم او د خپل منځ په سوله او اصلاح وصيت کوم، ځکه ما له خپل نيکه رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې ويل يې: «د خلکو ترمنځ اصلاح د لمانځه او روژې نه هم غوره ده»، الله ﷻ ته پام وکړئ د يتيمانو په اړه، هسې نه کله وږي او کله ماړه پاتې شي او حقونه يې ضايع شي، الله ﷻ ته پام وکړئ د ګاونډيانو په اړه ځکه دا د رسول الله ﷺ وصيت دی، هغه تل د ګاونډيانو د حق سپارښتنه کوله تر دې چې مورِ ګمان وکړ چې هغوی ته به د ميراث برخه هم وټاکي، الله ﷻ ته پام وکړئ د قرآن په اړه، هسې نه نور خلک په عمل کې له تاسي مخکې شي، الله ﷻ ته پام وکړئ د لمانځه په اړه ځکه لمونځ د دين ستن ده، الله ﷻ ته پام وکړئ د الله د کور په اړه، تر څو چې ژوندي ياست هغه مه پرېږدئ ځکه که کعبه تشه شي مهلت به درنه واخيستل شي، الله ﷻ ته پام وکړئ د جهاد په اړه، په مال، ځان او ژبه د الله په لار کې جهاد وکړئ، په خپل منځ کې اړيکه وساتئ او يو بل وبښئ، له يو بل مخ مه اړوئ او د دوستۍ اړيکې مه پرېکوئ، امر بالمعروف او نهی عن المنکر مه پرېږدئ که پرې يې ږدئ بد خلک به پر تاسي مسلط شي او بيا چې الله ﷻ ته دعا وکړئ ځواب به درنه ونه شي، ای د عبدالمطلب اولادونو! زما له مرګ وروسته د مسلمانانو په وينو لاس مه لګوئ او مه وايئ چې اميرالمؤمنين عليه السلام ووژل شو، پوه شئ يوازې زما قاتل بايد ووژل شي، که زه د هغه له ضربته مړ شوم يوازې يو ضربه پرې وکړئ او مُثله يې مه کوئ، ما له رسول الله ﷺ واورېدل چې ويې فرمايل: «له مُثله کولو ځان وساتئ که څه هم د لېونې سپي وي.»

۴۸. د انسان د رسوايۍ سببونه او معاويه ته نصيحت

معاويه ته ليک، صفر ۳۸ هجري)

بېشکه ظلم او دروغ انسان په دنيا او آخرت کې رسوا کوي او د عيب لټونکو په وړاندې يې عيب ښکاره کوي، ته پوهېږې چې څه چې له لاسه ولاړ شي بېرته نه راګرځي، يو قوم باطل وغوښت او غوښتل يې د دروغجن تفسير په وسيله د الله حکم بدل کړي خو الله ﷻ هغوی دروغجن وبلل، ای معاويه! له هغې ورځې ووېرېږه چې نيکان خوشحال وي او هغه کسان چې ځان يې شيطان ته سپارلی وي سخت پښېمانه وي، ته مورِ د قرآن حکم ته راوبللو حال دا چې ته د قرآن اهل نه يې او مورِ هم ستا بلنه ونه منله بلکې د قرآن حکم ته مو غاړه کېښوده، والسلام.

۴۹. معاويه ته خبرداری د دنياپرستۍ څخه

بل ليک معاويه ته)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الله ﷻ په نوم او درود! بېشکه دنيا انسان په ځان بوختوي او له نورو شيانو يې غافلوي، دنياپال له دنيا څخه څه نه ترلاسه کوي مګر دا چې د حرص يو بل دروازه ورته پرانستل شي او د مينې اور يې نور هم تود شي، هغه څوک چې حرامه دنيا ترلاسه کړي په ترلاسه شوي بسنه نه کوي او تل د هغه څه په فکر کې وي چې لا يې نه دي موندلي، خو پای يې دا دی له راتولو شوو شيانو بېلېدل او د جوړو کړو کارونو ګډوډېدل، که له تېر څخه عبرت واخلي راتلونکی به وساتي، والسلام.

۵۰. د غرور نه ځان ساتل او د مشرانو او پوځ مسؤليتونه

۱. پوځ قومندانانو ته ليک)

د الله د بنده، علي بن ابيطالب اميرالمؤمنين عليه السلام، له خوا د اسلامي پوځ او سرحد ساتونکو ته، د الله ﷻ په نوم او درود! پر واکمن واجب ده چې که مال ترلاسه کړي يا ځانګړی نعمت ورته ورسېږي بدلون پکې رانشي بلکې د الله بندګانو ته نور هم نږدې شي او له خپلو وروڼو سره زيات مهربان شي، پوه شئ ستاسو حق پر ما دا دی چې له جګړې پرته بل هېڅ راز له تاسو پټ نه کړم او له شرعي حکم پرته هېڅ کار بې له مشورې ونه کړم او ستاسو حق په ټاکلي وخت درکړم او له ټولو سره يو شان چلند وکړم، که زه دا مسؤليتونه ادا کړم نو پر الله ﷻ لازم دي چې پر تاسو خپل نعمتونه زيات کړي او پر تاسو زما اطاعت واجب دی او له امر څخه سرغړونه مه کوئ او د حق په کار کې سستي مه کوئ، که داسې ونه کړئ نو تر ټولو بد انسان زما په نزد کېږه لاره تلونکی دی چې سخت به يې سزا کړم او د تېښتې لار به ونه لري، نو د خپلو قومندانانو امرونه واخلئ او له هغوی اطاعت وکړئ په هغه څه کې چې الله ﷻ ستاسو چارې سموي، والسلام.

۵۱. د بيت المال او خراج راټولولو ارزښت او د اقتصادي کارګزارانو اخلاق

۱. بيت المال کارکوونکو ته ليک)

د الله د بنده علي اميرالمؤمنين عليه السلام له خوا د مالياتو راټولونکو ته. د الله ﷻ په نوم او درود، هغه څوک چې د قيامت له ورځې ونه وېرېږي، له مخکې به زاد او توښه ونه لېږي، پوه شئ هغه مسؤليت چې تاسې ته سپارل شوی لږ دی خو اجر يې ډېر دی، که د هغه څه لپاره چې الله ﷻ تري منع کړي ده لکه ظلم او دښمني سزا نه وای، نو د ثواب لپاره د هغه پرېښودل هم عذر نه درلود، له خلکو سره په خپلو اړيکو کې انصاف وکړئ او د هغوی د ارتياوو په پوره کولو کې زغم ولرئ، تاسې د خلکو خزانچيان ياست، د ملت استازي ياست او د امامانو استازي ياست، هېڅکله څوک له خپلې اړتيا مه منع کوئ او له روا غوښتنې يې مه محروموئ، د مالياتو د اخيستلو لپاره د خلکو د اوړي او ژمي جامې مه پلورئ، نه د سپرلۍ حيوان او نه د کار بنده، د يوې درهم لپاره څوک په کوړه مه وهئ، د چا مال ته لاس مه غځوئ، که هغه لمونځ کوونکی وي يا غير مسلمان چې د اسلام تر پناه لاندې وي، مګر هغه اسب يا وسله چې د مسلمانانو پر ضد کارول کېږي، ځکه مسلمان ته جايز نه ده چې هغه د اسلام د دښمن په لاس کې پرېږدي تر څو د اسلام له لښکره قوي شي، د خپل نفس نصيحت مه پرېږدئ، له پوځ سره په ښه چلند، د رعيت په مرسته او د الله د دين په پياوړتيا کې غفلت مه کوئ، هغه څه چې د الله په لار کې پر تاسو واجب دي ترسره يې کړئ، الله ﷻ له موږ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو غوښتي چې په شکر کې کوښښ وکړو او په ټول توان د هغه مرسته وکړو، او هیڅ ځواک نشته مګر د الله له لوري.

۵۲ .د بنارونو امیرانو ته د پنځه وخته لمونځونو د وختونو یادونه

)والیانو ته لیک د لمانځه د وختونو په اړه(

د الله ﷺ په نوم او درود، د ماسپښین لمونځ له خلکو سره هغه وخت وکړئ چې لمر د لوېدیځ پر لور واوړي او سیوری د وزو د آغل د دېوال په اندازه شي، د مازیګر لمونځ هغه وخت وکړئ چې لمر لا سپین او روښانه وي او د ورځې دومره برخه پاتې وي چې تر لمر لوېدو پورې دوه فرسخه لاړ ووهل شي، د ماښام لمونځ هغه وخت وکړئ چې روژه دار روژه ماته کړي او حاجي له عرفات څخه منی ته روان شي، د ماخستن لمونځ هغه وخت وکړئ چې شفق پټ شي او د شپې درېیمه برخه تېره شي، د سهار لمونځ هغه وخت وکړئ چې سړی د خپل ملګري مخ وپېژني، او جماعت د خلکو د کمزورۍ په اندازه وکړئ او فتنه مه جوړوئ.

۵۳ -د مالک اشتر ټرون

)مالک اشتر ته لیک، په ۳۸ هجري کال کې، کله چې هغه د مصر والي وټاکل شو، په هغه وخت کې چې د محمد بن ابي بکر حالت کمزورۍ شوی و، او دا له تر ټولو اوږدو لیکونو څخه دی چې د ټولو لیکونو بښکلاوي پکې راغلي دي.(

د مهربان او ښونکي خدای په نامه، دا د خدای د بنده، علي امیرالمؤمنین، فرمان دی، مالک اشتر د حارث زوی ته، په هغه ټرون کې چې ورسره یې کوي، کله چې هغه د مصر د والي په توګه ټاکي، تر څو د هغه ځای خراج راټول کړي، له دښمنانو سره وجنګېږي، د خلکو چارې سمې کړي، او د مصر بنارونه آباد کړي.

هغه ته د خدای له ویرې امر کوي، او دا چې د خدای اطاعت پر نورو کارونو مقدم کړي، او هغه څه تعقیب کړي چې د خدای په کتاب کې له واجباتو او سنتونو څخه راغلي دي، هغه لاربښوونې چې پرته له پیروي یې څوک نه بریالي کېږي، او پرته له پېژندلو او ساتلو یې څوک مجرم نه ګرځي. هغه ته امر کوي چې د زړه، لاس او ژبې په وسیله د خدای مرسته وکړي، ځکه خدای د هغه د بریا ضمانت کړی چې د هغه مرسته وکړي، او عزت ورکوي هغه ته چې د هغه عزت وکړي. او هغه ته امر کوي چې خپل نفس د خواهشاتو له پیروي وساتي، او د سرغړونې په وخت کې یې مهار کړي، ځکه نفس تل بدۍ ته هڅوي مګر دا چې خدای رحم وکړي.

ای مالک پوه شه! ما ته تا هغو بنارونو ته ولېږه چې تر تا مخکې یا عادل حکومتونو یا ظالم حکومتونو پرې واک چلولی و، او خلک ستا کارونو ته داسې ګوري لکه ته چې د پخوانیو واکمنانو کارونو ته ګوري؛ او ستا په اړه هغه څه وایي چې ته د پخوانیو واکمنانو په اړه وایي، او نېک خلک د خلکو په ژبو د ښو نومونو په وسیله پېژندل کېږي چې خدای د خپلو بندګانو پر ژبو جاري کړي دي.

نو ستا تر ټولو ښه زېرمه باید نېک او سم عملونه وي؛ خپل نفس تر واک لاندې ونیسه، او له هغه څه ځان وساته چې حلال نه دي، ځکه پر نفس بخل کول دا دي چې د هغه څه په اړه انصاف وکړې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښ یا ناخوښ وي.
له خلکو سره مهرباني د خپل زړه لباس وګرځوه، او له ټولو سره دوستي او نرمښت ولره. هېڅکله داسې مه اوسه لکه یو ښکارکوونکی حیوان چې د خلکو خوړل غنیمت ګڼي؛ ځکه خلک دوه ډلې دي: یا ستا د دین ورونه دي، یا ستا په څېر د پیدایښت له مخې انسانان دي. که له هغوی خطا وشي، یا کوم علت پرې راشي، یا په قصد یا بې قصدې تېروتنه وکړي، نو وبخښه یې او ورسره اساني وکړه، لکه ته چې غواړې خدای درته بخښنه وکړي او اساني درسره وکړي. ته پر هغوی لوړ یې، ستا امام پر تا لوړ دی، او خدای تر هغه هم لوړ دی چې تا یې د مصر والي ټاکلی، او د خلکو چارې یې تا ته سپارلې دي، او هغوی یې ستا د ازموینې وسیله ګرځولي دي.
له خدای سره مه جګړه کوه، ځکه د هغه له عذابه خلاصون نشته، او له بخښنې او رحم څخه یې بې نیازه کېدای نه شې. د بخښنې په وخت پښېمانه مه کېږه، او د سزا ورکولو په وخت خوشحال مه کېږه، او هغه قهر ته مه بېړه کوه چې تري خلاصېدای شې. خلکو ته مه وایه: ما ته امر شوی او زه هم امر کوم، نو اطاعت باید وشي؛ ځکه دا ډول ځان لوي ګڼل زړه فاسدوي، دین کمزورې کوي، او نعمتونه له منځه وړي. که د مقام او قدرت له امله تکبر درپیدا شو، نو د خدای د حکومت لویوالی وګوره چې ستا له حکومته لوړ دی، دا به ستا سرغړونه ماته کړي، تېزي به دې کمه کړي، او عقل به دې خپل ځای ته را وګرځوي.
ځان وساته چې ځان د خدای په څېر لوی وبولې، یا د الهي عظمت په شان ځان وګڼې، ځکه خدای هر سرغړونکی خواروي، او هر ځان خوښوونکی بې ارزښته کوي. له خدای سره، له خلکو سره، له نړۍ خپلوانو سره، او له هغو کسانو سره چې د خپل رعیت څخه یې خوښوي، انصاف کوه، ځکه که داسې ونه کړې ظلم به دې کړی وي، او څوک چې د خدای پر بندګانو ظلم وکړي، خدای به د بندګانو پر ځای د هغه دښمن شي، او چې خدای د چا دښمن شي دلیل یې نه مني، ځکه له خدای سره جګړه کوي تر هغه چې بېرته را وګرځي یا توبه وباسي، او هېڅ شی د ظلم په شان د خدای نعمت نه بدلوي او سزا نه رانړۍ کوي، ځکه خدای د مظلوم دعا اوري او د ظالمانو په کمین کې دی.
ستا په نزد تر ټولو خوښ کار باید هغه وي چې په حق کې منځنی، په عدالت کې عام، او د خلکو د رضا په جلبولو کې پراخ وي، ځکه د خلکو عمومي قهر د ځانګړو کسانو رضا له منځه وړي، خو د ځانګړو کسانو قهر د خلکو په رضا بې اثر کېږي. د ټولنې خاص خلک تل پر حکومت دروند بار وي، ځکه په سختۍ کې مرسته یې کمه وي، په عدالت کې تر ټولو زیات ناراضه وي، په غوښتنو کې ډېر ټینګ وي، په نعمت کې لږ شکر باسي، د غوښتنې په رد کې ناوخته عذر مني، او د ستونزو پر وړاندې کم زغم لري. حال دا چې د دین ټینګي ستنې، د مسلمانانو ځواکمنې ټولنې، او د دفاعي ځواک زېرمې عام خلک دي، نو باید ستا مینه او پاملرنه له هغوی سره وي.
له رعیت څخه هغه کسان چې د خلکو عیبونه ډېر لټوي، له ځانه لرې کړه او بد یې وګڼه، ځکه خلک عیبونه لري او د امت مشر تر ټولو زیات د هغو د پټولو مستحق دی، نو هغه څه مه څرګندوه چې له تا پټ دي، او هغه څه پټ کړه چې ښکاره دي، ځکه د پټو شیانو حکم د خدای په لاس کې دی، نو تر هغه چې توان لرې بدې پټې کړه، تر څو خدای هم ستا هغه څه پټ کړي چې غواړې پټ پاتې شي.
د خلکو د هر ډول کینې غوټه خلاصه کړه، د هر ډول دښمنۍ رشته پرې کړه، او له هغه څه ځان لرې وساته چې روښانه نه وي. د بدغوښتونکي خبره ژر مه منله، ځکه بدغوښتونکی که څه هم د نصیحت کوونکي په څېر ښکاري، خو خائن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بخیل په مشوره کې مه شاملوه، ځکه تا له نېکۍ منع کوي او له فقره دې وېرېږي. بزدل په مشوره کې مه شاملوه، ځکه ستا اراده کمزورې کوي. حریص په مشوره کې مه شاملوه، ځکه حرص درته د ظلم په نښه ښکلی کوي. بخل، ویره او حرص بېلابېل خویونه دي چې ریښه یې پر خدای بدګماني ده.

تر ټولو بد وزیر هغه دی چې تر تا مخکې د بدکارانو وزیر و او د هغوی په ګناهونو کې شریک و، نو داسې کسان خپل محرم مه ګرځوه، ځکه هغوی د ګناهکارانو ملګري او د ظالمانو مرسته کوونکي دي. ته باید داسې بدیل کسان ولرې چې د هغوی د فکر توان ولري خو د هغوی ګناهونه ونه لري، داسې کسان چې ظالم ته یې مرسته نه وي کړې او ګناهکار ته یې په ګناه کې لاس نه وي ورکړی. دا ډول کسان تا ته لږ لګښت لري، مرسته یې ښه ده، مهرباني یې زیاته ده، او له تا پرته له نورو سره یې مینه کمه وي. هغوی خپل نږدې او رازداران وګرځوه، بیا له هغوی څخه هغه کسان غوره کړه چې په حق ویلو کې تر ټولو روښانه وي، او په هغه څه کې دې مرسته ونه کړي چې خدای یې د خپلو دوستانو لپاره نه خوښوي، که څه هم ستا خوښ وي یا نه وي.

تر څو توان لري له پرهېزګارانو او ربښتینو سره ملګرتیا وکړه، او هغوی داسې وروزه چې ډېر ستاینه دې ونه کړي، او د هغو کارونو لپاره دې ونه هڅوي چې تا نه دي کړي، ځکه زیاته ستاینه ځان خوښي پیدا کوي او انسان سرغړونې ته اړ باسي.

هېڅکله نېک او بد ستا په نظر یو شان نه وي، ځکه نېک خلک له نېکۍ زړه توري کېږي او بد خلک بدۍ ته هڅول کېږي، نو هر یو ته د هغه د عمل له مخې بدله ورکړه.

پوه شه ای مالک! د رعیت د اعتماد د جلبولو لپاره تر ټولو ښه وسیله د خلکو سره نېکي، د مالیاتو کمول، او د خلکو نه اړ کول دي چې هغه څه وکړي چې نه یې خوښوي؛ نو په دې لار کې دومره هڅه وکړه تر څو د خلکو پر وفادارۍ خوشبین شې، ځکه دا خوشبیني د اوږدو ستونزو ستړیا له منځه وړي. له هغه چا سره چې ډېره نېکي دې کړې ډېر خوشبین اوسه، او له هغه چا سره چې بد چلند دې ورسره کړی بدګمان اوسه.

هغه ښه دودونه چې د دې امت نېکانو پرې عمل کړی او د اسلام ملت ورسره ټرلی او خلک پرې اصلاح شوي دي مه ماتوئ، او داسې دود مه جوړوه چې د پخوانیو ښو سنتونو تاوان شي، ځکه ثواب د هغه چا دی چې سنت یې راوړی او ګناه ستا ده که هغه مات کړې.

له عالمانو سره ډېرې خبرې کوه، او له حکیمانو سره ډېر بحث کوه، ځکه دا د ښارونو د ابادۍ او د نظم د ټینګېدو سبب ګرځي.

ای مالک پوه شه! خلک بېلابېلې ډلې دي چې د هرې اصلاح د بلې پرته ممکنه نه ده، او هېڅ ډله له بلې بې نیازه نه ده. له دې طبقو څخه د خدای لښکر، لیکوال، قاضیان، د عدالت مامورین، جزیه ورکوونکي، مالیات ورکوونکي، سوداګر، صنعتکاران، او د ټولنې کمزورې خلک دي چې اړ او مسکین دي، او د هر یوه لپاره خدای برخه ټاکلې ده.

لښکر د خدای په امر د خلکو پناه ده، د واکمنانو زینت، د دین عزت، او د امن وسیله ده. د خلکو چارې له لښکر پرته نه سمېږي، او لښکر د مالیاتو پرته نه ټینګېږي.

بیا لښکر او خلک د قاضیانو، مامورینو او لیکوالانو پرته نه شي پاتې کېدای، او هغوی د سوداګرو او صنعتکارانو پرته نه شي پاتې کېدای، او بیا د کمزورو او اړمنو طبقه ده چې مرسته یې لازم ده.

د هرې طبقې لپاره پر والي حق شته، او والي نه شي بریالی کېدای مګر دا چې ډېر کوشش وکړي، له خدای مرسته وغواړي، او د حق ادا کولو ته ځان چمتو کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوځ لپاره داسې قوماندان وټاکه چې د خدای، پیغمبر او امام لپاره تر ټولو خیرخواه وي، پاک لمن وي، صبر یې ډېر وي، ژر نه غصه کېږي، عذر مني، پر کمزورو رحم کوي، او له زورورو سره په قوت چلند کوي.

له اصیلو کورنیو سره نږدې اړیکي وساته، ځکه هغوی شجاع، سخي او باعزته وي.

د هغوی کارونو ته داسې پام کوه لکه مهربان پلار چې د خپل زوی ساتنه کوي.

تر ټولو غوره قوماندان هغه دی چې پر سرتېرو ډېر لګښت وکړي، تر څو هغوی په جګړه کې یوازې د دښمن پر وړاندې فکر وکړي.

ستاسو مهرباني د سرتېرو زړونه درسره تړي، او د واکمن د سترګو رڼا دا ده چې عدالت ټینګ شي او خلک له مشر سره مینه ولري، او دا مینه یوازې د پاک زړونو له لارې پیدا کېږي، او هغه وخت پیدا کېږي چې حکومت د خلکو پر اوږو دروند بار ونه کړي او د واکمنې اوږدوالی خلکو ته دروند نه وي.نو د سرتېرو هیلې پوره کړه، تل یې ستاینه کوه، او هغه مهم کارونه چې ترسره کړي یې دي، یادوه، ځکه د هغوی د ارزښتمنو کارونو یادونه زړور کسان هڅوي، او ډارن خلک هڅو ته رابولي، ان شاءالله.

او د یوې کره ارزونې له مخې د هر یوه زحمت او کړاو وپېژنه، او هېڅکله د یو چا هڅه او زحمت د بل چا په حساب مه اچوه، او د هغه د خدمت ارزښت کم مه شمېره، تر دې چې د چا شرافت او لوړې سبب نه شي چې کوچنی کار یې لوی وبولې، یا د چا ګمنامي سبب نه شي چې لوی کار یې کوچنی وګڼې. هغه ستونزې چې د لښکریانو د احکامو په اړه درته پیدا کېږي، او هغه چارې چې درته شبهه ناکې شي، خدای او د خدای رسول ته یې ور وګرځوه، ځکه خدای د هغو خلکو لپاره چې غواړي هدایت یې کړي فرمایلي دي: «ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی، د خدای، د رسول، او د هغو امامانو اطاعت وکړئ چې له تاسو څخه دي، او که په څه شي کې مو شخړه وکړه، هغه خدای او رسول ته ور وګرځوئ.«

نو یو شي خدای ته ورګرځول یعنې پر قرآن عمل کول دي، او رسول ته یې ورګرځول یعنې د هغه پر سنتو عمل کول دي چې د یووالي سبب دي، نه د تفرقې.

بیا له خلکو څخه د قضاوت لپاره تر ټولو غوره کس وټاکه، هغه کسان چې ډېر مراجعین یې نه ستړي کوي، او د مخالفانو شخړې یې نه غصه کوي، پر خپلې تېروتنې ټینګار نه کوي، او حق ته له پوهېدو وروسته بېرته ګرځېدل ورته سخت نه وي؛ له زړه یې تمه ایستلې وي، د مطالبو په پېژندنه کې په لږ تحقیق بسنه نه کوي، په شبهاتو کې تر ټولو ډېر احتیاط کوي، د دلیل په موندلو کې تر ټولو ډېر ټینګ وي، د شکایت کوونکو پرله پسې راتګ نه ستړی کوي، د حقایقو په څرګندولو کې تر ټولو ډېر زغم لري، او کله چې حق څرګند شي د شخړې په پرېکړه کې تر ټولو پرېکنده وي، هغه څوک چې ډېره ستاینه یې نه غولوي، او غوړه ژبې یې له لارې نه اړوي، او دا ډول کسان ډېر لږ دي!

له قاضي تر ټاکلو وروسته، د هغه په قضاوتونو کې ډېر غور وکړه، او دومره ورکړه چې اړتیاوې یې پوره شي او خلکو ته اړ نه شي، او د مقام او منزلت له پلوه دومره یې درومند کړه چې ستا نږدې کسان پر هغه د نفوذ طمع ونه کړي، تر څو ستا په وړاندې د هغوی له دسیسو خوندي وي.

په هغو لارښوونو کې چې ما درکړې دي ښه فکر وکړه، ځکه دا دین د بدکارانو په لاس کې بندي شوی و، هغوی د دین په نامه د نفس غوښتنې تعقیبولې او خپله دنیا یې تر لاسه کوله.

بیا د خپلو کارکوونکو چارو ته وګوره، او له ازموینې وروسته یې پر دندو وګومارې، او د شخصي

(c) ketabton.com: The Digital Library

میل او بې مشورې له مخې يې بېلابېلو چارو ته مه ټاکه، ځکه دا يو ډول ظلم او خيانت دی. دولتي مامورين له هغو خلکو څخه غوره کړه چې تجربه لرونکي، باحيا، د پاکې او پرهېزګارۍ کورنۍ څخه وي، او په اسلام کې روښانه مخينه ولري، ځکه د هغوی اخلاق لوړ، ابرو يې خوندي، طمع يې لږه، او راتلونکې ته يې فکر زيات وي. بيا پراخه روزي ورکړه، ځکه په کافي حقونو اخيستلو سره به د ځان په اصلاح کې ډېرې هڅې وکړي، او د بيت المال مالونو ته به لاس ونه وړي، او دا به پر هغوی بشپړ حجت وي که ستا امر ونه مني يا ستا په امانت کې خيانت وکړي.

بيا د خپلو مامورينو چلند وڅېړه، او پر هغوی ربښتيني او وفادار جاسوسان وټاکه، ځکه ستا پټه څارنه او پلټنه به د هغوی د امانتدارۍ او له رعيت سره د مهربانۍ سبب شي.

او له خپلو نږدې همکارانو سخت څارنه وکړه، او که يو تن يې خيانت وکړي، او ستا د جاسوسانو راپور هم دا خيانت تائيد کړي، نو په همدې اندازه شاهدي بس وګڼه، هغه په دورو ووهه، هغه مالونه چې په لاس کې يې دي بېرته تر ې واخله، بيا يې سپک کړه، خائن يې وبولې، او د بدنامۍ طوق يې پر غاړه واچوه.

ماليات او بيت المال داسې وڅېړه چې د ماليات ورکوونکو مصلحت پکې وي، ځکه د مالياتو او ماليات ورکوونکو ښه والی د ټولنې د نورو قشرونو د چارو د سمون لامل دی، او تر څو د ماليات ورکوونکو چارې سمې نه شي، د نورو چارو نظم هم نه راځي، ځکه ټول خلک د مالياتو او ماليات ورکوونکو له برکته ژوند کوي.

ستا هڅه بايد د ځمکې په آبادولو کې تر مالياتو راټولولو زياته وي، ځکه ماليات يوازې د آبادۍ له لارې تر لاسه کېږي، او هغه څوک چې وغواړي بې له آبادۍ ماليات راټول کړي، ښارونه به وران کړي، د خدای بندګان به له منځه يوسي، او حکومت به يې يوازې لږ وخت پاتې شي.

که خلکو د مالياتو له درونديوالي، د افت له رسېدو، د چينو د اوبو له وچېدو، د باران له کموالي، د سېلابونو له امله د ځمکې له خرابېدو، يا د وچکالۍ له کبله شکايت وکړ، نو په مالياتو کې دومره تخفيف ورکړه چې چارې يې سمې شي، او هېڅکله دې په خراج کې تخفيف اندېښمن نه کړي، ځکه دا يو ډول زېرمه ده چې ستا د ښارونو په آبادۍ او ستا د ولايتونو په سينګار کې رول لري، او رعيت به دې ستايي، او ته به د خلکو تر منځ د عدالت له خپرېدو خوښ شي، او د هغوی پر زياتېدونکي ځواک به تکيه وکړي، د هغه څه له کبله چې ورسره دې زېرمه کړي او ورکړي يې دي، او د خلکو تر منځ د عدالت په خپرولو او له رعيت سره د مهربانۍ له امله به پر هغوی ډاډمن شي، بيا که په راتلونکي کې کوم کار مخې ته راشي او د هغوی پر غاړه يې واچوي، په خوښۍ به يې ومني، ځکه عمران او آبادي د خلکو د زغم توان زياتوي.

په ربښتيا د ځمکې وراني د کروندګرو د بېوزلۍ له امله وي، او د کروندګرو بېوزلي د هغو واکمنانو د مالونو لوټلو له امله وي چې د خپل حکومت پر راتلونکي باور نه لري، او د پخوانيو له تاريخه عبرت نه اخلي.

بيا د ليکوالانو او منشيانو چارو ته په سمه توګه پام وکړه، او خپلې چارې تر ټولو غوره کسانو ته وسپاره، او محرمانه ليکونه، چې ستا تګلارې او رازونه پکې وي، له ليکوالانو څخه هغه چاته ځانګړي کړه چې تر نورو ډېر صالح وي، هغه چې درناوی يې سرغړونې او تېرې ته وانه ړوي، تر دې چې د نورو په حضور کې له تا سره مخالفت ونه کړي، او ستا ته د مامورينو د ليکونو په رسولو يا هغوی ته د ستا د ځوابونو په لېږلو کې لنډون ونه کړي، او په هغه څه کې چې ستا لپاره يې اخلي يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا له خوا یې هغوی ته سپارې هېرونکی نه وي. او د هېڅ ټرون په تنظیم کې سستي ونه کړي، او د هغه ټرون په ماتولو کې چې ستا په زیان وي کمزوري ونه کړي، او خپل مقام او ارزښت وپېژني، ځکه څوک چې د خپل قدر په پېژندلو عاجز وي، د نورو د قدر په پېژندلو کې لا ډېر ناپوه وي.

هېڅکله د لیکوالانو او منشیانو په ټاکنه کې پر خپلې ځیرکتیا، باور او خوش باوري تکیه مه کوه، ځکه هوښیار کسان په ظاهرسازۍ او ښه خدمت سره د واکمنانو پام ځان ته رااړوي، خو د دې ظاهرسازۍ تر شا نه خیرخواهي وي او نه امانتداري. بلکې هغوی د هغو خدمتونو له مخې وازمویه چې د وړ او پخوانیو واکمنانو لپاره یې ترسره کړي دي. پر هغو کاتبانو او لیکوالانو باور وکړه چې د خلکو تر منځ یې ښه آثار پرې ایښي وي او په امانتدارۍ کې تر ټولو ډېر مشهور وي، ځکه دا سمه ټاکنه د خدای او د هغو خلکو لپاره چې ته پرې واکمن یې، ستا د خیرخواهۍ نښه ده.

د خپلو هر کار لپاره یو مشر وټاکه، داسې چې د کار لویې پرې غالبه نه شي، او د کارونو ډېروالی یې ستړی نه کړي، او پوه شه چې که ستا د لیکوالانو او منشیانو په چارو کې کومه نیمګړتیا وي او ته ترې ناخبره یې، نو تاوان یې پر تا راګرځي.

بیا زما سپارښتنه د سوداګرو او د صنایعو د خاوندانو په اړه ومنه، او هغوی ته د نېکۍ سپارښتنه وکړه، که هغه سوداګر وي چې په ښار کې اوسي، یا هغه چې تل په سفر او کوچ کې وي، او یا هغه سوداګر چې په بدني ځواک کار کوي، ځکه هغوی د ګټې اصلي سرچینې دي، او د ژوند او هوساینې وسایل برابروي، او د ژوند سامان له لرې او سختو سیمو څخه راوړي، له دښتو، سمندرونو، میدانو او غرونو څخه، له هغو ځایونو چې خلک پکې نه راتولېږي یا هلته د تګ جرئت نه لري. سوداګر آرام خلک دي، له جګړه غوښتنې یې وېره نشته، او سوله غوښتونکي خلک دي چې فتنه نه جوړوي. د هغوی چارو ته پام وکړه، که ستا په ښار کې وي او که په نورو ښارونو کې، د هغو ټکو په پام کې نیولو سره چې درته مې یاد کړل.

دا هم پوه شه چې د سوداګرو تر منځ داسې کسان هم شته چې تنګ نظره، بد معاملې، بخیل او احتکار کوونکي دي، چې یوازې په زوروالۍ خپل ګټې ته ګوري، او مالونه په هره بیه چې وغواړي پلوري، او دا ګټه غوښتنه او ګران پلورنه د ټولې ټولنې لپاره زیانمنه ده او د واکمن لپاره لویه نیمګړتیا ده. نو د احتکار مخه ونیسه، ځکه د خدای رسول ﷺ له هغه څخه منع کړې وه.

پېر او پلور باید په اسلامي ټولنه کې په اسانۍ او د عدالت له معیارونو سره سم ترسره شي، په داسې نرخونو چې نه پلورونکي ته زیان ورسوي او نه پېرودونکي ته. څوک چې ستا له منع وروسته احتکار وکړي، سزا یې ورکړه تر څو د نورو لپاره عبرت شي، خو په سزا کې یې له حده مه اوړه.بیا د خدای لپاره، د خدای لپاره! د ټولنې د ټیټو او بېبرخې طبقو په اړه، هغه کسان چې هېڅ چاره نه لري، چې په هغوی کې معیوبان، اړمن، ګرفتار او دردمندان شامل دي.

په دې بېبرخې طبقه کې ځینې داسې دي چې خپله عفت ساتي، او ځینې نور د سوال لاس غځوي، نو د خدای لپاره د هغه حق ساتونکی اوسه چې خدای د دې طبقې لپاره ټاکلی دی. د بیت المال یوه برخه، او د اسلامي غنیمتي ځمکو د غلو یوه برخه په هر ښار کې د ټیټو طبقو لپاره ځانګړې کړه، ځکه لرې مسلمان ته هم د نږدې مسلمان په شان مساوي برخه شته، او ته د هغه د رعایت مسئول یې. هېڅکله دې د حکومت سرمستي د هغوی له رسېدګۍ راونه ګرځوي، ځکه د ډېرو او مهمو کارونو ترسره کول هېڅکله د کوچنیو مسئولیتونو د پرېښودو عذر نه شي کېدای. تل د هغوی د ستونزو په فکر کې اوسه، او ترې مخ مه اړوه، په ځانګړې توګه د هغو کسانو چارو ته زیات پام وکړه چې د کوچنیوالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

له امله سترګو ته نه ښکاري، نور خلک يې سپک ګڼي، او تا ته لږ لاسرسی لري. د دې ډلې لپاره له خپلو باوري کسانو څخه داسې څوک وټاکه چې له خدايه وېرېدونکی او متواضع وي، تر څو د هغوی شاوخوا پلټنه وکړي او ستونزې يې تا ته راورسوي. بيا د هغوی د ستونزو په حل کې داسې عمل وکړه چې د خدای په وړاندې عذر ولرې، ځکه دا ډله د رعيت له نورو څخه ډېر عدالت ته اړتيا لري، او د هغوی حق داسې ادا کړه چې د خدای په نزد معذور واوسې.

د کوچنيو يتيمانو، او د ډېرو زړو بوډاګانو چې هېڅ چاره نه لري او د سوال لاس نه غځوي، تل پوښتنه او ډاډګېرنه کوه، ځکه دا د واکمنانو پر اوږو دروند مسئوليت دی، که څه هم حق ټول دروند دی، خو خدای يې پر هغو خلکو اسانه کوي چې آخرت غواړي، نفس صبر ته رابولي، او د خپل رب پر وعدو باور لري.

نو د خپل وخت يوه برخه هغو کسانو ته ځانګړې کړه چې تا ته اړتيا لري، تر څو په خپله يې چارو ته رسېدګي وکړې، او په عامه مجلس کې ورسره کښېنه، او د هغه خدای پر وړاندې چې تا يې پيدا کړی متواضع اوسه، او خپل سرتېري، مرستندويان او ساتونکي د هغوی له مخې لرې کړه، تر څو د هغوی ویاند له وېرې پرته درسره خبرې وکړي. ما له رسول الله ﷺ څخه څو څو ځله اورېدلي چې ويل يې: «هغه ملت چې د کمزورو حق له زورورو څخه بې له اضطرابه او بې له پلمې وانه خلي، هېڅکله نه بريالی کېږي».

نو د هغوی تندې خبرې او ناهمواري ويناوې پر ځان وزغمه، او تنګ نظري او ځان لوي ګڼل له ځانه لرې کړه، تر څو خدای د خپل رحمت دروازې درته پرانيزي، او د اطاعت بدله درکړي. هغه څه چې خلکو ته يې ورکوي، درباندې دې خوږ وي، او که له چا څخه څه بندوي، نو له مهربانۍ او ښېنې غوښتنې سره دې وي.

د کارونو يوه برخه داسې ده چې ته يې بايد په خپله ترسره کړې، لکه دولتي مامورينو ته ځواب ورکول، هلته چې ستا منشيان له ځواب ورکولو عاجز وي، او همداراز د خلکو اړتياوې په هماغه ورځ پوره کول چې تا ته يې وړاندې کوي، په هغه وخت کې چې ستا مرستندويان يې له پوره کولو ناتوان وي.

د هرې ورځې کار په هماغه ورځ ترسره کړه، ځکه هره ورځ ځانته ځانګړی کار لري. د شپې او ورځې تر ټولو غوره وختونه او تر ټولو ښه ساعتونه د ځان او خپل خدای لپاره غوره کړه، که څه هم ټول وختونه د خدای لپاره دي، کله چې نيت سم وي او رعيت په هوساينه کې وي.

له هغو کارونو څخه چې خدای ته ځانګړي دي او بايد په اخلاص ترسره شي، د هغو واجباتو ادا کول دي چې يوازې د پروردګار لپاره دي، نو د شپې او ورځې په يوه برخه کې ځان د خدای عبادت ته ځانګړی کړه، او هغه څه چې تا خدای ته نږدې کوي، بې عيبه او بې نقصه يې ترسره کړه، که څه هم ستړی شې.

کله چې خلکو ته په جماعت لمونځ ورکوې، نه دې دومره اوږدوه چې خلک تيت پرک کړي، او نه يې دومره خرابوه چې تباه شي، ځکه په خلکو کې ناروغ يا د ضرورت خاوند هم وي. هغه وخت چې رسول الله ﷺ ما يمن ته استاوه، ما ترې وپوښتل چې له خلکو سره څنګه لمونځ وکړم؟ ويې فرمايل: «د کمزورو د توان تر کچې لمونځ کوه، او پر مؤمنانو مهربان اوسه».

هېڅکله ځان ډېر له خلکو مه پټوه، ځکه د مشرانو پټوالی د تنګ نظرۍ او د ټولنې له چارو د لږ خبرتيا نښه ده. له رعيت څخه پټېدل واکمنان له هغه څه د پوهېدو منع کوي چې پر هغوی پټ دي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی کار کوچنی او کوچنی کار لوی ښکاري، ښکلی بد او بد ښکلی ښکاري، او باطل د حق لباس اغوندي.

ښځکه واکمن نه پوهيږي چې خلک څه ترې پټوي، او حق داسې نښه نه لري چې په وسيله يې رښتيا له درواغو جلا شي، او ته په هر حال له دوو کسانو څخه يو يې: يا دې ځان د حق په لار کې قربانی ته چمتو کړی، نو په دې صورت کې د هغه واجب حق له ادا کولو يا د هغه ښه کار له ترسره کولو ويره نه لري، نو بيا ولې ځان پټوې؟ يا بخيل او تنګ نظره سړی يې، چې په دې حالت کې خلک چې تا ووينې، له غوښتنې ناهيلې شي او شا به وګرځوي. حال دا چې د خلکو ډېرې ارتياوې ستا لپاره درومند بار نه لري، هغوی يا له ظلم شکايت لري، يا عدالت غواړي، يا په پېر او پلور کې انصاف غواړي.

ښځکه واکمنان داسې خاص خلک او نږدې کسان لري چې ځان غوښتونکي او لوټمار وي او په معاملو کې انصاف نه کوي. د هغوی د ظلم ريښه د وسايلو په پرېکولو سره وچه کړه، او خپلو نږدې کسانو او خپلوانو ته هېڅ ځمکه مه سپاره، او داسې ورسره چلند مه کوه چې د هغوی په ګټه داسې ټرون وشي چې خلکو ته زيان ورسوي، لکه د کروندو خړوبول يا ګډه کرنه، چې لګښتونه يې پر نورو واچوي؛ په دې صورت کې ګټه يې د هغوی وي، او عيب او شرم به يې په دنيا او آخرت کې ستا پر غاړه وي.

حق د حق خاوند ته ورکړه، هر څوک چې وي، نږدې وي يا لرې، او په دې کار کې صبر وکړه، او دا صبر د خدای لپاره حساب کړه، که څه هم د حق پلي کول ستا نږدې کسانو ته ستونزې جوړې کړي، د قيامت په ياد يې دروندوالی پر ځان اسانه کړه، ځکه د هغه زغم ستايل شوی دی.

او کله چې رعيت پر تا بدګمان شي، نو خپله عذر په ښکاره ورسره شريک کړه او په دې کار سره يې له بدګمانۍ وژغوره، ځکه دا کار ستا د نفس د روزنې لپاره رياضت دی، او له رعيت سره مهرباني ده، او دا ستا ښېنه غوښتنه هغوی حق ته رابولي.

هېڅکله د دښمن د سولې وړانديز چې د خدای رضا پکې وي، مه ردوه، ځکه په سوله کې د جنګياليو راحت، ستا د فکر آرامي، او د هېواد امنيت خوندي کېږي. خو خبردار! خبردار! له خپل دښمن څخه د سولې وروسته، ځکه کله کله دښمن نږدې کېږي تر څو ناڅاپه برید وکړي، نو لرليد لرونکی اوسه، او خپل حسن ظن متهم کړه، يعنې د دښمن په اړه بدګمان اوسه.

که ستا او دښمن تر منځ کوم ټرون وشي، يا دې هغه ته پناه ورکړه، نو پر خپل عهد وفادار اوسه، او د هغه څه امانت وساته چې پر غاړه دې اخيستې دي، او خپل ځان د خپل ټرون سپر وګرځوه، ځکه د الهي واجباتو له منځه هېڅ شی د وفای په شان نه دی، هغه څه چې د نړۍ ټول خلک، سره له دې چې په افکارو او غوښتنو کې اختلاف لري، پرې يوه خوله دي. تر دې چې مشرکين هم له مسلمانانو سره د جاهليت په وخت کې پر خپلو عهدونو ولاړ وو، ځکه هغوی د عهد ماتولو بدې پايلې ازمېلې وې.

نو هېڅکله عهد مه ماتوئ، په خپل ټرون کې خيانت مه کوه، او دښمن مه غولوه، ځکه له بدکاره ناپوه پرته بل څوک پر خدای داسې جرئت نه کوي.

خدای هغه عهد او پيمان چې د هغه په نوم جوړېږي، د خپل رحمت په وسيله د بندګانو د آرامۍ وسيله او د پناه غوښتونکو لپاره خوندي پناهځای ګرځولی دی، تر څو ټول خلک د هغه خوندي حريم ته مخه کړي. نو په عهد او پيمان کې فساد، خيانت او دوکه هېڅ لاره نه لري. داسې ټرون مه لاسليکوې چې پکې د مکارۍ او دوکې لارې وي، او کله چې دې په ټينګښت او دقت سره ټرون جوړ کړ، بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلمه ټول پرېږده. هسې نه د ټرون ستونزې چې ستا پر غاړه دي او خدای درسپارلي دي، تا د عهد ماتولو ته اړ کړي، ځکه په ټرونونو کې ستا صبر چې په راتلونکي کې د بریا هیله ورسره وي، تر هغه عهد ماتولو غوره دی چې له سزا یې وېرېږي، او په دنیا او آخرت کې یې ځواب نه شي ویلای.
له ویني تویولو ځان وساته، او له ناحقه ویني تویولو ووېرېږه، ځکه هېڅ شی د ناحقه ویني په شان الهي سزا نه رانږدې کوي، مجازات نه غټوي، د نعمتونو نابودي نه چټکوي، او د حکومت زوال نه رانږدې کوي. او د قیامت په ورځ به الله تعالی د بندګانو تر اعمالو مخکې د ناحقه تویې شوې ویني په اړه فیصله وکړي. نو خپله واکمني د حرامې ویني په تویولو مه پیاوړې کوه، ځکه ناحقه وینه د حکومت بنسټونه کمزوري او سپکوي، ببخ یې راباسي او بل ته یې سپاري. او ته به نه زما په وړاندې او نه د خدای په وړاندې په ناحقه وینه کې کوم عذر ولرې، ځکه سزا یې قصاص دی او تر تېښته نشته. که په تېروتنه دې د چا وینه توې کړه، یا دې په قمچین، توره، یا لاس تېری وکړ، چې کله یوه څېړه هم د چا د وژلو سبب کېږي، نو لا نور خو پرېږده، نو د قدرت غرور دې د مقتول وارثانو ته د دیې له ورکولو راونه ګرځوي.
هېڅکله په ځان مینه مه اخته کېږه، او پر خپلو ښو کارونو مه ډاډمن کېږه، او د ستاینې خوښوونکی مه اوسه، ځکه دا ټول د شیطان له غوره فرصتونو څخه دي چې پر تا یرغل وکړي، او د نېکانو ښه کارونه له منځه یوسي.
هېڅکله پر خلکو د خپلو خدمتونو منت مه ږده، او هغه څه چې دې کړي دي لوی مه ګڼه، او خلکو ته وعده مه ورکوه بیا دې مخالفت مه کوه. منت اېښودل د نېکۍ ثواب له منځه وړي، کار لوی ګڼل د حق رڼا مړه کوي، او د وعدې مخالفت د خدای او خلکو قهر راپاروي، لکه څنګه چې لوی خدای فرمایلي دي: «د خدای په نزد لویه کرکه دا ده چې ووایئ او عمل ونه کړئ».
هېڅکله په هغه کار کې چې وخت یې نه وي راغلی بېړه مه کوه، او نه په هغه کار کې چې وخت یې راغلی سستي وکړه، او نه په هغه څه کې چې حقیقت یې روښانه نه وي شخړه وکړه، او نه په هغو څرګندو چارو کې لنډون وکړه. هڅه وکړه چې هر کار په خپل ځای او خپل وخت کې ترسره کړې.
هېڅکله په هغه څه کې چې له خلکو سره پکې برابر یې، امتیاز مه غواړه، او له هغو چارو څخه چې ټولو ته څرګندې دي غافل مه اوسه، ځکه ته د هغو په اړه د خلکو په وړاندې مسئول یې، او ډېر ژر به له کارونو پرده پورته شي، او د مظلوم بدل به درڅخه واخیستل شي.
د غرور باد، د قهر راپارېدنه، د لاس تېری، او د ژبې تېزي تر خپل کنټرول لاندې راوله، او په بېړنۍ نه کولو او د قهر په تېرولو سره ځان آرام کړه، تر څو دې غصه کمه شي او پر نفس واک وموميِ. او ته به تر هغه پر خپل نفس مسلط نه شې، څو چې د قیامت او خدای ته د بېرته ورتګ یاد دې ډېر نه وي.
پر تا لازمه ده چې تل د پخوانیو عادلانه حکومتونو، د تېر وخت ارزښتمنو سنتونو، د پخوانیو ښو طریقو، د رسول الله ﷺ آثارو، او هغو واجباتو یاد تازه وساتې چې د خدای په کتاب کې دي، او له هغه څه پیروي وکړې چې مونږ پرې عمل کړی دی، او د دې عهدنامې د فرمانونو په پیروي کې چې ما درته لیکلي ده او پرې مې حجت پر تا بشپړ کړی، هڅه وکړه، تر څو که نفس دې سرغړونه وکړه او پر تا غالب شو، زما پر وړاندې عذر ونه لرې.
له لوی خدایه، د هغه په پراخه رحمت او برتر ځواک سره چې د ټولو غوښتنو د پوره کولو توان لري، دا غواړو چې ما او تا ته په هغه څه کې توفیق راکړي چې د هغه د رضا سبب ګرځي، تر څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه او د هغه د مخلوق په نزد روښانه عذر ولرو، د بندګانو له ستاينې برخمن شو، په ښارونو کې ښه نوم راته پاتې شي، ټولو نعمتونو او کرامتونو ته ورسېږو، او زمونږ د ژوند پای په شهادت او بريا تمامه کړي، ځکه بېشکه مونږ ټول هغه ته بېرته ورګرځو.
پر رسول الله ﷺ او د هغه پر پاک او سپېڅلي اهل بيتو دي درود او تلپاتي درودونه وي. په درود سره.

۵۴ -د خلکو د بيعت ځانګړنې له امام سره او د طلحې او زبير د ادعاوو ځواب

)طلحه او زبير ته ليک، چې ابو جعفر اسکافي په کتاب «مقامات» کې د اميرالمؤمنين د فضايلو په برخه کې راوړی، چې په ۳۶ هجري کال کې ليکل شوی او د عمران بن حصين له لارې لېږل شوی و.(
له حمد او درود وروسته! تاسې پوهېږئ ـ که څه هم پټوئ يې ـ چې ما د حکومت لپاره د خلکو پسې نه و تللی، تر دې چې هغوی زما لور ته راغلل، او ما د بيعت ژمنه نه وه کړې تر دې چې هغوی راسره بيعت وکړ. او تاسې دواړه له هغو کسانو څخه وئ چې ما ته مو بلنه راکړه او بيعت مو وکړ. د خلکو عمومي بيعت له ما سره نه د کوم غالب ځواک له وېرې و او نه د دنيا د مال د ترلاسه کولو لپاره. که تاسې دواړو په خپله خوښه او انتخاب بيعت کړی وي، نو تر دې چې ناوخته نه ده بېرته وګرځئ او د خدای په وړاندې توبه وباسئ. او که په زړه کې مو په ناخوښۍ بيعت کړی وي، نو دا تاسې وئ چې ما ته مو پر ځان د واک لار پرانيستله، اطاعت مو ښکاره او نافرماني مو پټه وساتله. په خپل ځان قسم! تاسې له نورو مهاجرينو ډېر د دې وړ نه ياست چې خپل نظر پټ کړئ او پټکاري وکړئ. که د بيعت په پيل کې مو ځان څنګ ته کړی وای (او بيعت مو نه وای کړی) نو دا به اسانه وه تر دې چې بيعت وکړئ او بيا په پلمه تري سر وغړوئ. تاسې ګومان کوئ چې زه د عثمان قاتل يم؛ راځئ چې د مدينې له خلکو څخه يو څوک زمونږ تر منځ قاضي شي، هغه کسان چې نه زما ملاتړ کړی او نه ستاسو مرسته، بيا دې هر څوک د هغې پېښې د خپلې وندې په اندازه مسئوليت ومني. ای دوو سپينږيرو! له هغه څه بېرته وګرځئ چې په فکر کې مو دي، ځکه اوس ستاسو تر ټولو لويه ستونزه رسوايي ده، مخکې له دې چې رسوايي او د خدای د غضب اور درباندې راولوېږي. په درود.

۵۵ -د ازموينو فلسفه او معاويه ته نصيحت

)معاويه ته ليک چې په ۳۷ هجري کال کې د صفين له جګړې مخکې ليکل شوی.(
له حمد او درود وروسته! بېشکه الله تعالی دنيا د آخرت لپاره پيدا کړې او خلک يې په دنيا کې د ازمويني لپاره ايښي دي، تر څو څرګنده شي چې څوک ډېر نېک عمل کوي. مونږ د دنيا لپاره نه يو پيدا شوي، او يوازې د دنيا لپاره د هڅې امر نه دی راته شوی، بلکې مونږ دنيا ته راغلي يو تر څو پکې وازمويل شو. الله زه ستا په وسيله ازمويلی يم او ته يې زما په وسيله ازمويلی يې، او زمونږ يو يې پر بل حجت ګرځولی دی. ته د قرآن په دروغجن تفسير دنيا ته مخه کړې ده، او له ما داسې څه غواړې چې نه مې لاس او نه مې ژبه پرې ککړه شوې ده (د عثمان قتل). ته او د شام خلک دا دروغ جوړ کړل او پر ما مو تهمت ولګاوه، تر څو ستاسو پوهان ناپوهان راوپاروي، او ولاړ کسان مو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضد زما کمزوري خلک راوهڅوي. معاويه! له خدايه وېرېږه، او له هغه شيطان سره وجنګېږه چې ستا واګې يې نيولې دي، او آخرت ته راوګرځه چې زما او ستا لاره ده، او له خدايه ووېرېږه چې دېر ژر به په سخت عذاب ستا ريښه وباسي او نسل به دې له منځه يوسي. زه پر خدای قسم خورم، داسې قسم چې وفا به پرې کوم، که وخت مونږ دواړه سره مخامخ کړي، نو ستا پر وړاندې به همداسې ودرېږم: «تر څو خدای زمونږ تر منځ فيصله وکړي، او هغه تر ټولو ښه فيصله کوونکی دی.»

۵۶ -د قوماندان اخلاق

)د لښکر قوماندان شريح بن هاني ته ليک، چې په ۳۶ هجري کال کې يې د شام پر لور ولېږه.(
په هر سهار او مابنام له خدايه وېرېږه، او د دنيا له دوکې پر خپل نفس ووېرېږه، او هېڅکله له دنيا ځان خوندي مه ګڼه. پوه شه که ته د هغو شيانو په وړاندې چې خوښوې يې، يا هغه چې نه دې خوښېږي، خپل نفس ونه ساتې، نو هوسونه به دې دېرو زيانونو ته کش کړي. نو خپل نفس ونيسه، ساتنه يې وکړه، او د قهر په وخت کې پر نفس حاکم او ماتونکی اوسه.

۵۷ -د جهاد لپاره د خلکو د راټولولو طريقه

)د کوفې خلکو ته ليک، په ۳۶ هجري کال کې، د مدينې څخه بصرې ته د حرکت پر مهال.(
له حمد او درود وروسته! زه له خپل ځای، مدينې څخه راووتم، يا ظالم يم يا مظلوم، يا ما سرغړونه کړې ده يا زما له امره سرغړونه شوې ده. زه خدای په ياد راولم هغه چا ته چې دا ليک ورسېږي، چې زما پر لور حرکت وکړي. که يې زه نېک وګڼلم، مرسته دې راسره وکړي، او که ګناهکار وم، حق ته دې را وګرځوي.

۵۸ -د يووالي عوامل او د مسلمانانو تر منځ د جګړې د پيدا کېدو سببونه

)لرې ښارونو ته ليک، د صفين د پېښو د روښانه کولو لپاره(
د کار پيل داسې و چې مونږ د شام له خلکو سره مخامخ شو، چې په ظاهر کې زمونږ رب يو، زمونږ پېغمبر يو، او زمونږ د اسلام بلنه يوه وه، او په خدای ايمان او د هغه د رسول تصديق کې له مونږ څخه هېڅوک پر بل برتري نه لرله، او مونږ يووالی درلود، پرته له د عثمان د وينې له مسئلې، چې مونږ تري بېبرخه يو. نو مونږ هغوی ته وويل: راځئ د جګړې اور مړ کړو او خلک آرام کړو، بيا د حل او درملنې لارې ولټوو، تر څو د مسلمانانو کار ټينګ شي او يووالي ته ورسېږي، او مونږ د عدالت د پلي کولو لپاره ځواکمن شو. خو د شام خلکو وويل: «له جګړې پرته بله لاره نشته.» نو هغوی له حق وړاندېز څخه مخ واړاوه، جګړه پيل شوه، دوام يې وموند، او اور يې بل شو. کله چې د جګړې غاښونه پر مونږ او هغوی ولګېدل، او پنجې يې سختې شوې، نو زمونږ بلنې (سولې او خبرو) ته يې غاړه کېښوده، او هغه څه يې ومنل چې مونږ وربلل. مونږ هم د هغوی غوښتنې ته ځواب ورکړ، او هغه څه مو ژر ومنل چې غوښتل يې، تر څو پر هغوی حجت بشپړ کړو او د عذر لاره بنده کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو هغه څوک چې پر خپل تړون ټينګ پاتې شو له هلاکت څخه وژغورل شو، او هغه چې پر لجاجت ټينګ پاتې شو، خداى د ناپوهۍ پرده پر زړه واچوله او د بدمرغۍ بلا يې پر سر وګرځوله.

۵۹ -له نفس غوښتنې څخه ځان ساتل او له دنيا سره د چلند طريقه

)اسود بن قطبه ته ليک، د حلوان د لښکر قوماندان، د سرپل ذهاب د سويل په سيمه کې(
له حمد او درود وروسته! که د واکمن نظر او انديښه بدله شي، نو د عدالت له پلي کولو څخه ډېر منع کېږي. نو بايد د خلکو چارې د حق په اړه ستا په نزد يو شان وي، ځکه په ظلم کې د عدالت بدله نه موندل کېږي. له هغه څه ځان وساته چې د نورو لپاره يې نه خوښوي، او خپل نفس داسې واداره چې د الهي ثواب هيله لرې او د هغه له عذابه وېرېږي، تر څو هغه څه ترسره کړې چې خداى پر تا واجب کړي دي.
پوه شه چې دنيا د ازمويني کور دى، او دنياپال يو ساعت هم پکې آرام نه مومي مګر دا چې د قيامت په ورځ به پرې افسوس کوي، او هېڅ شى به تا له حق څخه بېنيازه نه کړي. او له هغو حقونو څخه چې پر تا دي دا دي چې خپل نفس وساتې، او د خپلې وسې په اندازه د رعيت په چارو کې هڅه وکړې، ځکه هغه څه چې په دې لار کې درته رسېږي تر هغه بدني ځواک غوره دي چې له لاسه يې ورکوې. په درود.

۶۰ -د لښکر د خوځولو طريقه او د لښکر او خلکو د بېنظمۍ مخنيوى

)هغه واليانو ته ليک چې لښکر د هغوى له ښارونو تېرېږي(
د خداى له بنده، علي اميرالمؤمنين، د مالياتو راټولونکو او د هغو ښارونو واليانو ته چې لښکر تري تېرېږي.
له حمد او درود وروسته! ما داسې لښکر درليږلى چې د خداى په خوښه به پر تاسو تېر شي، او هغه څه مې ورته سپارښتنه کړې چې خداى پر هغوى واجب کړي دي، او هغوى ته مې د خلکو له ځورولو او له هر ډول شرارت څخه د ځان ساتلو ټينګار کړى دى. زه ستاسې په وړاندې او د هغه تړون له مخې چې درسره لرم، د لښکرو له دې چې خلکو ته زيان ورسوي بيزار يم، مګر دا چې لوړه سرتېرى مجبور کړي او د هغې د رفع کولو بله لاره ونه لري. نو څوک چې ظلم وکړي سزا ورکړئ، او د خپلو بېفکره کسانو لاسونه د لښکرو له ځورولو او هغوى ته د ستونزو جوړولو څخه لنډ وساتئ، پرته له هغه څه چې ما استثنا کړي دي. زه د لښکر تر شا روان يم، خپل شکايتونه راته ورسوى، او په هغو چارو کې چې لښکر پر تاسو غالب شوى وي او تاسو يې له دفع کولو عاجز ياست، ماته مراجعه وکړئ، چې د خداى په مرسته به يې حل کړم، ان شاء الله.

۶۱ -د مات شوي قوماندان غندنه

)کميل بن زياد نخعي ته ليک، د «هيت» والي ته، د شام د يرغلګرو د مخنيوي په پرېښودو د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملامتول، په ۳۸ هجري کال کې(
له حمد او درود وروسته! د انسان سستي په هغه کار کې چې پر غاړه يې وي، او ټينګار په هغه کار کې چې د هغه له مسئوليت څخه بهر وي، د ښکاره ناتوانی او ورانوونکي اندېښې نښه ده. ستا اقدام د «قرقيسا» د خلکو په لوټلو کې، په داسې حال کې چې هغه پوله دې پرېښوده چې مور تا وربانديې ټاکلی و ـ او هلته څوک نشته چې ساتنه يې وکړي او د دښمن لښکر تري لرې وساتي ـ يوه باطله اندېښه ده. ته هلته داسې پُل ګرځېدلی يې چې دښمنان دې پرې تېرېږي او پر دوستانو دې برید کوي، نه دومره ځواک لرې چې جګړه ورسره وکړې، او نه داسې هيبت چې تري وډار شي، نه پوله ساتلای شي، نه د دښمن ځواک ماتولای شي، نه د خپل ښار د خلکو اړتياوې پوره کولای شي، او نه خپل امام راضي کولای شي.

۶۲ -د فتنو سببونه، د مظلوميت بيان، د دښمن پېژندنه او د امام زړورتيا

)د مصر خلکو ته ليک، چې له مالک اشتر سره په ۳۸ هجري کال کې ولېږل شو(
له حمد او درود وروسته! الله تعالی محمد ﷺ ولېږه تر څو د ټولو نړيوالو لپاره وېرووونکی او د مخکښيو پېغمبرانو تصديق کوونکی وي. کله چې رسول الله ﷺ له دنيا ولاړ، مسلمانان د حکومت په مسئله کې سره په شخړه شول. په خدای قسم! نه مې په فکر کې راتله او نه مې ګومان کاوه چې عرب به خلافت د رسول الله ﷺ له اهل بيتو واړوي، يا به ما له هغه وروسته د حکومت له غاړې کولو منع کړي. يوازې هغه څه زه اندېښمن کړم چې خلک د فلاني پر لور ورغلل او له هغه سره يې بيعت وکړ. ما لاس ونيولو، تر دې چې ومې ليدل يوه ډله له اسلامه واوښته او غوښتل يې د محمد ﷺ دين له منځه يوسي، نو وويرېدم که د اسلام او د هغه د پيروانو مرسته ونه کړم، نو پکې به درز ووينم يا به يې له منځه تلو ته شاهد شم، او دا مصيبت به راته تر دې ډېر سخت وي چې پر تاسو حکومت پرېږدم، ځکه حکومت د دنيا لنډه ګټه ده چې ژر له منځه ځي لکه سراب، يا د وريځو ټوټې چې ژر خپرېږي. نو د دې فتنې او شور په منځ کې پاڅېدم، تر دې چې باطل له منځه ولاړ او دين ټينګ او آرام شو.
(د همدې ليک بله برخه:) په خدای قسم! که يوازې له دښمنانو سره مخ شم، په داسې حال کې چې هغوی ټوله ځمکه ډکه کړې وي، نه به ووېرېږم او نه به شاته شم. زه د هغوی پر ګمراهۍ او پر خپلې هدايت خبر يم، او د خپل رب له لورې په يقين ولاړ يم، او زه د خپل رب د ليدو شوق لرم او د هغه د ثواب هيله کوم. خو اندېښنه مې دا ده چې د دې امت ناپوهان او بدکاران واک ته ورسېږي، بيا د خدای مال په خپلو کې وګرځوي او بندګان يې غلامان کړي، له نېکانو سره جګړه وکړي او له فاسقانو سره يوځای شي، ځکه په هغوی کې داسې څوک شته چې شراب يې څښلي او حد پرې جاري شوی، او داسې څوک هم شته چې اسلام يې نه و منلی خو ناحقه ورته بخششونه ورکړل شوي دي. که دا پېښې نه وای، تاسو مې نه راپارول، نه مې ملامتول، او نه مې د راټولېدو بلنه درکوله، او که مو سرغړونه کوله، پرېښودل به مې.
آيا نه وينئ چې ستاسو سرحدونه نيول کېږي، ښارونه مو فتح کېږي، مالونه مو لوټ کېږي، او ستاسو په ښارونو کې د جګړې اور بل شوی دی؟ د دښمن پر ضد جهاد ته ووځئ، خدای دې درباندې رحم وکړي، په خپلو کورونو کې مه کېنئ، که نه په ظلم به اخته شئ او په سپکاوي به ونيول شئ، او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند تر ټولو ټيټه برخه به ستاسو شي. بېشکه د جګړې ورور ويښتابه او هوښياري ده، هر څوک چې ويده شي، دښمن به يې ويده نه شي. په درود.

۶۳ -د ابو موسی اشعري له فتنه جوړولو څخه منع کول او پر هغه د حجّت تمامول

)د جمل د جګړې په درشل کې، په ۳۶ هجري کال کې خبر راغی چې ابو موسی اشعري د کوفې والي خلک له امام سره له يوځای کېدو منع کوي، نو حضرت دا ليک ورته وليکه(
د خدای له بنده علي اميرالمؤمنين څخه، عبدالله بن قيس (ابو موسی اشعري) ته.
د خدای له ستاينې او درود وروسته! له تا څخه داسې خبره راته رسېدلې چې هم ستا په ګټه ده او هم ستا په زيان. کله چې زما استازی درته ورسېږي، همّت وتړه، د جګړې کمربند کلک کړه، او له خپل پټ ځايه راووځه، که دوه زړه يې نو ځان لرې کړه. په خدای قسم! هر چېرې چې يې، تا به راولي او په خپل حال به دې پرېنږدي، تر څو دې غوښه او هډوکي او وچ او لوند سره ګډ شي، او له حکومت څخه به دې ژر ليرې کړي، داسې چې له مخې به هم وېرېږي لکه له شا چې وېرېږي. د هېواد روانې پېښې هغسې اسانه نه دي لکه ته چې ګومان کوې، بلکې ډېر لوی کار دی چې بايد پر هغه سپور شي، سختۍ يې هواري شي، او د هغه سختې لارې او غرونه ووهل شي. نو خپل فکر په کار واچوه، د خپل کار واګې په لاس کې واخله، او خپله برخه واخله. که زمور ملګرتيا نه خوښوې نو څنګ ته شه، بې له دې چې وستايل شې يا بريالی شې، ځکه ښايي ته ويده اوسې او نور ستا کارونه ترسره کړي، او له تا و نه پوښتل شي چې چېرې يې او چېرې تللی يې. په خدای قسم! دا د حق لاره ده او د حق سړي په لاس ترسره کېږي، او زه پروا نه لرم چې ناخبره خلک څه کوي. په درود.

۶۴ -د بني اميه او بني هاشم تر منځ اختلاف

)معاويه ته د ځواب ليک(
د خدای له ياد او درود وروسته! لکه څنګه چې دې يادونه وکړه، مور او تاسې هم دوستان وو او هم خپلوان، خو پرون زمور او ستاسو تر منځ بېلتون ځکه پيدا شو چې مور ايمان راوړ او تاسې کافر شوئ، او نن مور پر اسلام ټينګ پاتې يو او تاسې ازمويل شوي ياست. ستاسو هغه کسان چې اسلام يې راوړ، په ناخوښۍ يې راوړ، هغه وخت چې د عربو مشران د رسول الله ﷺ پر وړاندې تسليم شول او د هغه په ډله کې داخل شول.
په خپل ليک کې دې ليکلي چې ما طلحه او زبير وژلي، عايشه مې تبعيد کړې، او په کوفه او بصره کې مې ځای نيولی دی، دا کارونه تا پورې اړه نه لري او زه اړ نه يم چې تا ته عذر وړاندې کړم. او دې ليکلي چې د مهاجرينو او انصارو له يوې ډلې سره زما پر ضد جګړې ته راځي، هجرت له هغه ورځې پای ته ورسېد چې ستا ورور «يزيد» د مکې د فتحې په ورځ اسير شو. که له ما سره د ليدو بيره لرې، لږ تم شه، ځکه که زه تا ته راشم دا به ډېر مناسب وي، ځکه خدای زه ستا پر لور لېږلی يم تر څو له تا بدل واخلم، او که ته له ما سره مخ شې نو داسې به وي لکه د اسدي شاعر وينا:

(c) ketabton.com: The Digital Library

»د اوړي توند باد چلیږي او هغوی د شګو او تیږو په منځ کې
په دوړو او ډبرو کې سره ټکوي«.
او زما سره هماغه توره ده چې په بدر کې مې ستا پر نیکه، ماما او ورور وهلې وه. په خدای قسم! زه پوهیږم ته کمعقله او ړوند زړه سړی یې. ستا په اړه غوره دا ده چې وویل شي له زیني پورته شوې چې خطرناک کندې ته دې ورسولې، نه دې ګټه وکړه بلکې تاوان دې وکړ؛ ځکه ته هغه څه لټوې چې ستا نه دي، او په هغه څړځای کې څړې چې ستا نه دی. داسې مقام غواړې چې نه یې وړ یې او نه ستا له شأن سره برابر دی. ستا خبره او عمل څومره سره لیږې دي! او څومره دې د خپلو کافرو ترونو او ماماګانو سره ورته والی دی! بدمرغي او باطل ارمان هغوی دي ته اړ کړل چې د محمد ﷺ نبوت انکار کړي، او لکه څنګه چې پوهیږې په خپلو قبرونو کې ولوټدل، نه یې د مرګ پر وړاندې دفاع وکړه، نه یې د خپل حریم ساتنه وکړه، او نه یې د تورو له ګوزارونو ځان وژغوره، حال دا چې په جګړه کې توري ډبرې وي او سستي پکې ښایي نه.
ته د عثمان د وژونکو په اړه ډبرې خبرې کوې، لومړی لکه نور مسلمانان له ما سره بیعت وکړه، بیا د هغوی په اړه له ما څخه قضاوت وغواړه، تر څو تا او مسلمانان د قرآن حکم ته راوګرځوم. خو هغه څه چې ته یې غواړې داسې دي لکه ماشوم چې له شیدو جلا کوي او په چل یې غولوي. سلام دې وي پر هغو چې د سلام وړ دي.

۶۵ -د معاویه د ګمراهۍ سببونه او د هغه د دروغجنو ادعاوو ځواب

)بل لیک معاویه ته، د نهروان له جګړې وروسته، په ۳۸ هجري کال کې(
د خدای له یاد او درود وروسته! معاویه، وخت راغلی چې له څرګندو حقیقتونو عبرت واخلې. ته د باطلو ادعاوو له لارې د خپلو پلرونو لاره تعقیبوې، ځان دې په دروغو او فریب کې اچولی، او ځان داسې څه ته منسوبوې چې ستا له شأن لوړ دي، او هغه څه ته لاس غځوې چې تړې منع شوی یې او هېڅکله به یې و نه رسیږې. دا هر څه د حق څخه د تېښتې او د هغه څه د انکار لپاره کوې چې ستا له غوښې او وینې څخه هم درته نږدې دي، هغه حقیقتونه چې ستا غوږ اوربدلي او ته پرې خبر یې. ایا د حق له څرګندېدو وروسته پرته له ښکاره ګمراهۍ بل څه پاتې کیږي؟ او د حق له بیان وروسته پرته له خطا بل څه شته؟ له شبهې او د حق له پټولو ځان وساته. فتنو له ډېر وخت راهیسې خپلې توري پردې غوړولې او ډبرې سترګې یې رندې کړې دي.
ستاسې یو لیک راته راورسېد چې له هره اړخه ښایسته و، خو د سولې او دوستۍ نښه پکې نه وه، او له داسې کیسو ډک و چې پکې نه د علم نښه وه او نه د زغم. د دې لیک په لیکلو کې ته د هغه چا په شان یې چې پښه یې په خټو کې بنده شوې وي او په بیابان کې سرګردان ګرځي. داسې مقام غواړې چې ستا له اندازې لوړ دی او هېڅ مرغه تر هغه نه شي رسېدای، او لکه د «عیوق» ستوری درنه لرې دی.
خدای ته پناه وړم چې له ما وروسته د مسلمانانو واک تا ته ورسېږي او د هغه ګټه او تاوان ته غاړه کېږدي، یا زه له تا سره د کوم مسلمان په اړه ټرون یا پیمان لاسلیک کړم. له همدا اوس ځان سم کړه او چاره ولټوه، ځکه که سستي وکړې او د خدای بندګان د تا د ماتولو لپاره راپورته شي، د خلاصون

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازې به دربانديِ وټړل شي، او هغه څه چې نن درنه منل کېږي سبا به درنه ونه منل شي. په درود.

۶۶ -د واقع‌بینۍ اړتیا

)عبدالله بن عباس ته لیک، دا لیک په بل ډول هم روایت شوی دی(
د خدای له یاد او درود وروسته! انسان د هغه شي په تر لاسه کولو خوشحالېږي چې هېڅکله به يې له لاسه ور نه کړي، او د هغه شي لپاره غمجنېږي چې هېڅکله به يې تر لاسه نه کړي؛ نو ستا په نزد په دنیا کې تر ټولو غوره شی دا نه وي چې لذتونو ته ورسېږي یا غچ واخلي، بلکې ستا موخه دې دا وي چې باطل مړ کړي او حق ژوندی کړي. یوازې په هغه توښه خوښ اوسه چې مخکې دې لېږلې ده، او پر هغه څه افسوس وکړه چې شاته پرېږدي، او خپله هڅه او همت د مرګ نه وروسته ژوند لپاره وګرځوه.

۶۷ -د حاجیانو چارو ته د رسېدنې ضرورت او د هغوی د اړتیاوو پوره کول

)قثم بن عباس ته لیک، د مکې ښار والي ته(
د خدای له یاد او درود وروسته! د خلکو لپاره حج پر ځای کړه، او د خدای ورځې ورپه یاد کړه. سهار او ماښام له خلکو سره په عام مجلس کې کښېنه، هغه کسان چې د دین پوښتنې لري په فتواوو ورپوه کړه، ناپوه ته زده کړه ورکړه، او له عالمانو سره خبرې وکړه. له خپلې ژبې پرته بل استازی مه لره، او له خپل مخ پرته بل دربان مه لره، او هېڅ اړمن له خپل ملاقات څخه مه محرومه، ځکه که په پیل کې ستا له دره وشړل شي، که څه هم وروسته يې اړتیا پوره شي بیا به دې ستاینه ونه کړي.
په هغو عامه مالونو کې چې ستا په لاس کې راټول شوي دي فکر وکړه، او هغه خپلو کارکوونکو او شاوخوا وړو ته ورکړه، او هغه مسکینانو او اړمنو ته ورسوه چې ستا مالي مرستې ته ډېر اړ دي، او پاتې مال مور ته راولېږه تر څو د دې سیمې د نورو اړمنو تر منځ ووېشل شي.
د مکې خلکو ته امر وکړه چې د حج په ورځو کې له هېڅ زائر څخه د کور کرایه وانخلي، ځکه الله تعالی فرمایي: «عاکف او بادي په مکه کې یو شان دي.» عاکف د مکې اوسېدونکي دي، او بادي هغه زائران دي چې له نورو ښارونو څخه د حج لپاره راځي. خدای دې ما او تا ته د هغه څه توفیق راکړي چې هغه خوښوي.

۶۸ -د دنیا سره د چلند طریقه

)نامه به سلمان فارسی، قبل از ایام خلافت(
د خدای له یاد او درود وروسته! حرامه دنیا د مار په شان ده، پوست يې نرم او زهر يې وژونکي دي؛ نو د هغې له فریب ورکوونکو ښکلاوو ځان واړوه، ځکه په دې کې به لږ وخت پاتې شې، او د هغې غم له زړه وباسه، ځکه ته د هغې له جلا کېدو او بدلېدو یقین لري. او کله چې له دنیا سره بلد

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، نو لا ډېر ووېرېږه، ځکه دنیاپال چې کله په خوشحالۍ ډاډمن شي، ژر يې په تریخوالي بدلوي، او کله چې ورسره عادت شي او آرام شي، ناڅاپه په وېره اخته کېږي. په درود.

۶۹ -د مؤمنانو صفتونه او د نفس د نېکۍ لپاره کارول

)نامه به حارث همدانی(

د قرآن رسۍ ته کلک ونښله، او له هغه نصیحت واخله، حلال يې حلال او حرام يې حرام وبوله، او هغه حقونه ومنه چې د پخوانیو په ژوند کې وو، او د تېر تاریخ له پېښو عبرت واخله، ځکه د زمانې پېښې یو له بل سره ورته دي، او د دنیا پای د هغې له پیل سره نښلي، او ټولې تېرېدونکي دي.

د خدای نوم لوی وبوله، او بې له حقه خبره مه کوه، مرګ او له مرګ وروسته ژوند ډېر یادوه، هېڅکله د مرګ هیله مه کوه مګر دا چې په شي له ژغورل شوو څخه يې؛ له هغه کاره ځان وساته چې تا خوښوي خو مسلمانان پرې ناخوښه وي. له هر پټ کاره ځان وساته چې د ښکاره کېدو پر وخت ترې شرمېږې، او له هغه کاره لرې اوسه چې که له کوونکي يې پوښتنه وشي انکار وکړي یا عذر وغواړي.

خپل عزت د خلکو د خبرو نښه مه ګرځوه، او هر څه چې واورې هغه مه وایه، ځکه دا د دروغ نښه ده، او هر خبر دروغ مه ګڼه، ځکه دا د ناپوهۍ نښه ده.

غوسه مهار کړه، او د قدرت پر وخت ښښنه وکړه، د قهر پر وخت تواضع وکړه، او د حکومت پر مهال نرم چلند وکړه تر څو ښه پای ولرې. هغه نعمتونه چې خدای درکړي ښه وساته، او هغه نعمتونه چې درسره دي مه تباه کوه، او داسې اوسه چې خدای دې د نعمتونو نښې په تا کې ښکاره وویني.

پوه شه چې تر ټولو غوره مؤمن هغه دی چې خپل ځان، خپل کورنۍ او خپل مال د خدای په لار کې مخکې وړاندې کړي، ځکه هغه څه چې مخکې ولېږي ستا لپاره زېرمه کېږي، او هغه څه چې شاته پرېږدي ګټه يې نورو ته رسېږي.

له ناپوهانو او بدکارانو سره له ملګرتیا ځان وساته، ځکه هر څوک د خپل ملګري په وسیله پېژندل کېږي، او په لویو ښارونو کې اوسېږه ځکه هلته د مسلمانانو ټولنه وي، او له هغو ځایونو ځان وساته چې خلک يې د خدای له یاد څخه غافل وي، یو پر بل ظلم کوي، او د خدای د اطاعت لپاره یو له بل سره مرسته نه کوي.

په هغه څه فکر وکړه چې تا سره مرسته کوي، له عامو لارو او بازارونو کېناستلو ځان وساته، ځکه هلته شیطان حاضر وي او فتنې راپورته کېږي؛ له ځان څخه ټیټو خلکو ته پام کوه، ځکه دا د شکر لاره ده. د جمعې په ورځ له لمانځه مخکې سفر مه کوه، مګر د خدای په لار کې د جهاد لپاره یا داسې کار ته چې پرې مجبور يې.

په ټولو کارونو کې د خدای اطاعت وکړه، ځکه د خدای اطاعت تر هر څه غوره دی. خپل نفس د عبادت پر لور په نرمۍ راکاږه، او ورسره مدارا وکړه، او په زور يې مه مجبوره کوه، او هغه وخت يې عبادت ته بوځه چې فارغ او خوشحال وي، مګر په هغه څه کې چې پر تا واجب دي او باید په خپل وخت ادا شي.

ځان وساته چې مرګ دې راشي په داسې حال کې چې له خپل رب څخه تښتېدلی يې او په دنیا کې ډوب يې. له فاسقانو سره له ناستې ځان وساته، ځکه بدۍ له بدۍ سره یوځای کېږي. خدای لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وبوله، د خدای دوستان دوست وګرځوه، او له قهره ځان وساته، ځکه قهر د شیطان لوی لښکر دی.وسلام!

۷۰ -د تښتېدلو کسانو سره د چلند طریقه

)سهل بن حنیف انصاري ته لیک، د مدیني والي، په ۳۷ هجري کال کې، هغه وخت چې د مدیني یوه ډله خلک وتښتېدل او معاویه ته ورغلل(

د خدای له یاد او درود وروسته! ما ته خبر را رسېدلی چې د مدیني یو شمېر خلک معاویه ته تښتېدلي دي. د هغوی په له لاسه ورکولو او د هغوی د مرستې او ملاتړ په پرې کېدو مه خپه کېږه، ځکه د هغوی تېښته د هغوی د ګمراهۍ لپاره بس ده، او ته د هغوی له ستونزو خلاص شوې. هغوی له حق او هدایت څخه وتښتېدل، او ړندوالي او ناپوهۍ ته ولاړل. هغوی دنیا غوښتونکي دي چې هغې ته یې مخ کړی، او په بېړه د هغې پسې روان دي. عدالت یې وپېژاند، ویې لید، ویې واورېد او په یاد یې وساته، او پوه شول چې زمونږ په نزد ټول خلک په حق کې برابر دي، نو ځکه د انحصار غوښتنې په لور وتښتېدل. د حق له رحمته دې لرې وي او پر هغوی دې لعنت وي.

په خدای قسم! هغوی نه له ظلم څخه وتښتېدل او نه له عدالت سره یوځای شول، مونږ هیله لرو چې خدای په دې پېښه کې سختۍ پر مونږ اسانه کړي او ستونزې راته هواري کړي، ان شاءالله. وسلام.

۷۱ -د یو کارګزار د لېرې کولو سبب او د اقتصادي خیانت غندنه

)منذر بن جارود عبدي ته لیک، چې د خپلې دندې پر مهال یې خیانت کړی و(

د خدای له یاد او درود وروسته! ستا د پلار ورتیا ما پر تا خوښېن کړی وم، او ګومان مې کاوه چې ته هم د هغه په شان یې او د هغه پر لاره روان یې. خو ناڅاپه راته خبر راورسېد چې تا د نفس غوښتنې کې هېڅ کم نه دی کړی، او د آخرت لپاره دې څه نه دي پرېښي، خپله دنیا دې د آخرت په تباه کولو اباده کړې، او د خپلو خپلوانو د پیوستون لپاره دې د خدای له دینه لاس اخیستی دی.

که هغه څه چې راته رسېدلي رښتیا وي، نو ستا د کور اوښ او ستا د بوټ بند هم تر تا ارزښتمن دي. څوک چې ستا په شان وي، نه د سرحد ساتلو وړ دی، نه د کوم کار د ترسره کولو، نه د دې وړ دی چې مقام یې لوړ شي، نه په امانت کې شریک کېدای شي، او نه له خیانته ځان ساتلی شي. نو کله چې دا لیک درته ورسېږي، ما ته راشه، ان شاءالله.

وسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷۲ -انسان او الهي تقدير

)عبدالله بن عباس ته ليک(
د خداى له ياد او درود وروسته! ته به له خپلې نېټې مخکې نه شې تېرېداى، او هغه څه چې ستا روزي نه ده، تا ته به و نه رسېږي. پوه شه چې زمانه دوه ورځې لري: يوه ورځ ستا په ګټه او بله ستا په تاوان. دنيا د بدلون کور دى، هغه څه چې ستا په ګټه دي، که څه هم کمزورى يې، درته به ورسېږي، او هغه څه چې ستا په تاوان دي، که څه هم قوي يې، مخه يې نه شې نيولاى.
وسلام

۷۳ -د معاويه د دروغجن څېرې څرګندول

)معاويه ته ليک(
د خداى له ياد او درود وروسته! که زه ستا پرلهپسې ليکونو ته ځواب درکوم او ستا خبرې اورم، نو خپل نظر کمزورى او خپله ځيرکتيا تېروتنه ګڼم. ته چې تل له ما غوښتنې کوې او ډېر ليکونه لېږې، د هغه چا په شان يې چې په ژور خوب کې وي او دروغجن خوبونه يې ردوي، يا د هغه سرګردان په شان چې ډېر ولاړ نه شي پاتې کېداى او نه پوهېږي چې راتلونکې به يې په ګټه وي که په تاوان. که څه هم ته هماغه سړى نه يې، خو ورته والى ورسره لرې.
په خداى قسم! که د ويني تويولو له ځنډولو ډډه نه واى، نو داسې ګوزار به دې خوړلى واى چې هډوکې به يې مات کړي او غوښه به يې وشلوي. معاويه! پوه شه چې شيطان تا نه پرېږدي چې تر ټولو ښه کار ته مخه کړې او هغه نصيحت واورې چې ستا په ګټه دى.
وسلام

۷۴ -د مسلمانانو د سولې او جوړجاړي بنسټونه

)هغه ټرون چې د «ربيعه» او «يمن» تر منځ د سولې لپاره وليکل شو(
دا هغه ټرون دى چې د يمن او ربيعه خلکو منلى دى، که په ښار کې وي او که په بيابان کې. هغوى د قرآن پيروان دي، د خداى کتاب ته بلنه ورکوي، او د هغه د حکم د پلي کولو امر کوي. څوک چې هغوى د خداى کتاب ته راوبولي، ځواب به ورکوي، نه به د هغه په بدل کې مزد غواړي او نه به بل څه مني، او د هغه چا پر وړاندې به درېږي چې له دې ټرونه سرغړونه وکړي يا يې پرېږدي.
يوه ډله به د بلې ملاتړ کوي، ټول به يو موټى وي، او د ملامتوونکي د ملامتيا، د غوسه ناک د قهر، د چا د سپکاوي يا د کوم قوم د ښکنځلو له امله به دا ټرون نه ماتوي. پر دې ټرون حاضر او غايب، پوه او ناپوه، بردبار او ناپوه ټول ولاړ دي، او د خداى عهد هم پر هغوى لازم شوى دى چې: «د خداى له عهد څخه به پوښتنه کېږي.«
دا ټرون علي بن ابي طالب وليکه.
وسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷۵ -معاويه ته د اطاعت امر

)معاويه ته ليک، د بيعت په لومړيو ورځو کې، ۳۶ هجري کال(
د خداى له بنده علي اميرالمؤمنين څخه معاويه بن ابي سفيان ته.
د خداى له ياد او درود وروسته! ته پوهيږي چې زه ستا په اړه معذور وم، او له هغه څه مي مخ اړولى و چې په مدينه کې تېر شول، تر څو هغه وشول چې کېدل يې لازم وو او مخنيوى يې ممکن نه و. کيسه اوږده ده او خبرې ډېرې دي، تېر شوي تېر شول او راتلونکي مخ ته راغله. ته او ستا ملګري بيعت وکړئ او له خپلو يارانو سره ما ته راشئ.
وسلام

۷۶ -د قوماندان اخلاق

)عبدالله بن عباس ته ليک، کله چې هغه د بصرې والي وټاکه، ۳۶ هجري(
له خلکو سره د ليدو پر مهال، په مجلسونو کې، او د قضاوت په وخت خوشروي اوسه، او له غوسې ځان وساته، ځکه سپکوالى د شيطان له پارونې وي. پوه شه چې هغه څه چې تا خداى ته نږدې کوي له اوره دې لرې کوي، او هغه څه چې تا له خدايه لرې کوي اور ته دې نږدې کوي.
وسلام

۷۷ -د دښمنانو سره د مناظرې طريقه (له خوارجو سره)

)عبدالله بن عباس ته ليک، کله چې هغه د خوارجو سره د خبرو لپاره ولېږه، ۳۸ هجري(
له خوارجو سره د قرآن په اړه جدل مه کوه، ځکه قرآن عمومي معنا لري او بېلابېل تفسيرونه لري، ته به يو څه وايې او هغوى به بل څه. خو د پېغمبر ﷺ د سنتو له مخې ورسره بحث وکړه، ځکه د هغې پر وړاندې د منلو پرته بله لاره نه لري.
وسلام

۷۸ -د ټولنې د سقوط سببونه او د يووالي د ټينګښت هڅه

)د ابو موسى اشعري د ليک ځواب، د حکميت په اړه(
بېشکه ډېر خلک بدل شول او له نېکمرغۍ بېبرخې پاتې شول، دنيا ته يې مخه کړه او د نفس له غوښتنې يې خبرې وکړې. د عراق د خلکو کارونو زه حيران کړى يم، داسې خلک چې ځان خوښې لري په يوه خبره راټول شول. غوښتل مې د هغوى زخم درمل کړم مخکې له دې چې بېدرملنې شي. پوه شه چې د اسلام په امت کې له ما نه بل څوک نشته چې د محمد ﷺ د امت د يووالي او د هغوى د يو بل سره د مينې لپاره تر ما ډېر خواخوږى وي. زه په دې کار کې له خداى څخه ښه اجر او ښه پاى غواړم، او پر هغه ټرون ولاړ يم، که څه هم ته بدل شوى يې او د پخوا په شان نه يې. بدمرغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دی چې له عقل او تجربې بېبرخې شي. زه له هغه چا څخه بیزار یم چې باطل ووایي یا هغه څه خراب کړي چې خدای سم کړي دي. هغه څه پرېږده چې نه یې پوهېږې، ځکه بد خلک به په غلطو خبرو ستا پر لور راشي.
وسلام

۷۹ -د ملتونو د نابودۍ سببونه

)د لښکر قوماندانانو ته لیک، د خلافت له پیل وروسته(
د خدای له یاد او درود وروسته! بېشکه له تاسو مخکې ملتونه هلاک شول، ځکه د خلکو حقونه یې نه ورکول، نو دنیا یې په رشوت تر لاسه کړه، او خلک یې باطل ته بوتلل او هغوی اطاعت وکړ.
وسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

الحمد الله رب العالمين

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library